# پښتنې قبیلې وپیژنئ

## ډاکټر لطیف یاد




**خیبر ویب پاڼه**

www.khyber.org

**د دې کتاب برخې ړومبي وار د بېنوا وېب پاڼې (benawa.com) کښې ښکاره شوي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرليكو نبنې

1 ابد اليان ........ 9
2 ابراهيم خيل ........ 13
3 اپريد ي (افريد ي) ........ 14
4 اتمانخيل ........ 16
5 اتمانزي ........ 18
6 اتوال ........ 18
7 احمد زي ........ 19
8 اڅكزي ........ 20
9 اد ريمزي (عبد الرحيمزي) ........ 23
10 اد وزي ........ 23
11 اد ين خيل ........ 23
12 اسماعيل خيل ........ 24
13 اسحٰق زي ........ 24
14 اكاخيل ........ 26
15 الياس خيل ........ 26
16 امر خيل ........ 26
17 اوريا خيل ........ 27
18 الكوزي ........ 28
19 علي زئي ........ 30
20 اند ړ ........ 32
21 اوركزي ........ 34
22 اورمړ ........ 37
23 بابړ ........ 39
24 بابي (بابياني) ........ 42
25 بړ يڅ ........ 48
26 بنګښ ........ 56

(c) ketabton.com: The Digital Library



27 بنوڅی ........ 61
28 بېټنی ........ 66
29 بابکر خیل ........ 71
30 بختیار ........ 72
31 څمکني ........ 74
32 فر ملي ........ 77
33 پړ به ........ 80
34 پړ انګیان ........ 81
35 پڼي ........ 82
36 پو پلزي ........ 84
37 تر کا ڼي (تر کلا ڼي) ........ 87
38 تره خیل ........ 89
39 تر کی ........ 92
40 ترین ........ 95
41 تڼي ........ 98
42 توخي ........ 101
43 توري ........ 106
44 جبار خېل ........ 108
45 جد ون ........ 111
46 جلال زي ........ 113
47 جلواڼي ........ 114
48 جمریاڼي ........ 116
49 ځائي ........ 118
50 ځد ران ........ 121
51 څولیزي ........ 126
52 څینزي ........ 127
53 حسین خېل ........ 127
54 خبښي، بنخي، خوخي، خابښي خېل، بناخي خېل ........ 128
55 خاکواني ........ 130

(c) ketabton.com: The Digital Library




56 خټک ........................................ 131
57 خد وزي ........................................ 137
58 خد وزي و خرشين ........................................ 138
59 خروټي ........................................ 138
60 خليل ........................................ 145
61 خوږياني ........................................ 147
62 خوند ي ........................................ 150
63 خيسوري ........................................ 151
64 خېشكي ........................................ 151
65 د اؤد زي ........................................ 155
66 د اوي ........................................ 157
67 د رمان ........................................ 159
68 د رې كوټي ........................................ 160
69 د له زاک ........................................ 160
70 د ستو خېل ........................................ 163
71 د وتاني ........................................ 164
72 د وړ ........................................ 166
73 د ولت خېل ........................................ 169
74 د ولت زي ........................................ 172
75 د ينار خېل ........................................ 174
76 رتن زي ........................................ 174
77 رځړ ........................................ 175
78 زاخېل ........................................ 175
79 زموخت، زمښت، زويمشت ........................................ 177
80 زيرک، ځيرک ........................................ 178
81 زېرماني ........................................ 179
82 زېړاني ........................................ 180
83 سافي، ساپي ........................................ 181
84 سالار زي ........................................ 187

(c) ketabton.com: The Digital Library



85 سهاک ..... 189
86 ستانکزي ..... 190
87 ستانيزي ..... 193
88 سبري ..... 193
89 ستوریاني ..... 194
90 سد وزي ..... 196
91 سرکاڼي ..... 198
92 سرواڼي یا شېرواڼي ..... 199
93 سرپپال ..... 202
94 سړبني ..... 204
95 سلطان خېل (غلځي) ..... 205
96 سلطان خېل (نیازي) ..... 206
97 سلېمان خېل ..... 207
98 سنټیا ..... 210
99 سنځر خېل ..... 211
100 سوري ..... 212
101 ساد ات یا سېد ان ..... 219
102 شلماني ..... 228
103 شملزي ..... 232
104 شیتک ..... 233
105 شیراڼي ..... 234
106 شینواري ..... 237
107 طوطا خېل ..... 243
108 علي خېل ..... 244
109 عمر خېل ..... 246
110 عیسی خېل ..... 247
111 غلجي یا غلزي یا غرزي ..... 251
112 غرغښت ..... 254
113 غرشین ..... 255

(c) ketabton.com: The Digital Library



114 غوريا خېل ........ 257
115 کاسي ........ 259
116 کاکاړي ........ 261
117 کاکړ ........ 263
118 قلند ر خېل ........ 271
119 قوال خېل ........ 273
120 کړو خېل ........ 274
121 کرلاڼي ........ 277
122 کسايي ........ 289
123 کوټي ........ 289
124 کورم خېل ........ 290
125 ګاړي ........ 290
126 ګبري ........ 290
127 ګګياڼي ........ 291
128 ګنده پور ........ 294
129 ګوربز ........ 300
130 لالي يا ليلي وزير ........ 303
131 لواڼي ........ 304
132 لودي ........ 306
133 لودين ........ 308
134 ما کو ........ 310
135 ماموند ........ 310
136 محمد زي ........ 313
137 متون ........ 315
138 متي زي ........ 316
139 موشياني ........ 318
140 محسود ........ 319
141 مروت ........ 324
142 مشواڼي ........ 326

(c) ketabton.com: The Digital Library



143 **مقبل** ........ 331
144 **ملا خیل** ........ 331
145 **ملکزی** ........ 332
146 **ملاگوري** ........ 332
147 **مندنړ** ........ 335
148 **مندوخیل** ........ 337
149 **مندوزي** ........ 340
150 **منګل** ........ 340
151 **موسی خیل** ........ 343
152 **مومند** ........ 343
153 **مهمن زي (ممن زي- محمدزي)** ........ 349

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرليک

ګرانو اوښاغلو لوستونکو! پوهيږم چې د پښتني قبيلو د نومونو سره به زموږ ډير ګران هيواد وال اشنا وي، په تيره بيا پښتانه چې په ځانګړي توګه هر يو تن يې د پښتنو په بيلا بيلو قبيلو، خيلونو، ښاخونو و څانګو پوري اړه لري. البته د پښتنو په اړوند ډير شمير ختيځ پيژند ونکو اوپه تيره بيا انګريزي محققينو و څيړونکو ډير پنډ پنډ کتابونه او ډيرې مقالې کښلي د ي چې په هغو کې د پټان د کتاب د ليکوال سر اولف کيرو، د بليو bellew د افغانستان توکمونه کتاب، د مونټ ستوارت الفنستن د کابل سلطنت بيان و په کلکته کې د بريتانيا د هغې ډکشنرۍ نومونه اخيستلای شو چې په ۱۹۱ـ ميلاد ي کال کښې په انګريزي پوځي اډه کې چاپ شوې وه او The Dictionary of Pathan Tribes نوميږي. له بلې خوا په هند کې د انګريزي واکمنۍ د وخت يو شمير مسلمانانو هم د پښتنو په باب غټ غټ کتابونه کښلي د ي چې د ډيټي کمشنر محمد حيات خان حيات افغاني، د شير محمد خان ګنډاپور تواريخ خورشيد جهان و زرد ار خان ناغر صولت افغاني چې د پښتنې قبيلو په اړوند په زړه پوري معلومات پکې راټول شوي ياد ولای شو.

همد اراز زموږ د هيواد ګران افغانستان نامتو پوهانولکه اروابناد علامه عبد الحی حبيبي، اروابناد استاد احمد علي کهزاد، اروابناد علامه رشاد بابا، اروابناد استاد عبد الروف بينوا، اروابناد قيام الد ين خاد م، اروابناد استاد صديق الله رښتين، اروابناد حبيب الله تږی، استاد پوهاند کاکړ، ښاغلي استاد محمد ولي ځلمي، ښاغلي و قد رمن محقق قد رت الله حد اد، ښاغلي پوهاند عبد الرسول امين، اروابناد حکيم تنيوال او اروابناد د وست شينواري د پښتنو د نسب او توکم په باب د قد روړ خد متونه کړي د ي چې د ستايني وړ د ي. پر د ې سر بيره په پښتونخوا کې د اروابناد قاضي عطاؤ الله خان، سيد بهاد رشاه ظفر کاکا خيل او د سهيلي پښتونخوا د مشهور ليکوال پروفيسر ولې محمد خان سيال کاکړ نومونه ياد ولای شو چې د پښتنو پوره او بشپړه پيژند ګلوي يې راته کړې د ه.

په ۱۳٦۷ لمريز کال کې چې ما د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څيړنو په نړيوال مرکز کې د علمي غړي په توګه د ند ه ترسره کوله نو د د غه مرکز له خوا د پښتني قبيلو په نامه پروژه راکړل شوه چې ما د غه د رې کلنه پروژه په ۱۳۷ـ کال کې بشپړه او د چاپ له پاره برابره کړه چې نوموړی کتاب د پښتني قبيلي په نامه په ۱۳۷ـ لمريز کال د کابل په پو هنې مطبعه کې د ٤ــ ټوکو په تيراژ چاپ شو، خو له بد ه مر غه د ۱۳۷۱ کال کې کله چې ټوپکمار د ځواک پر ګد ۍ کښيناستل نو مې وليد ل چې د کابل د د ه افغانانو په يوه د وکان کې د همد ې چاپ شوي کتاب نه د پوړيو کار اخيستل کيد ه، خد ايرو ډير خواشينی شوم. په هماغه کال مې د رې نور کتابونه هم د حيات افغاني، خوشال خټک او د او د ي تاريخ په نامه په اريانا مطبعه کې چاپ شوي وو چې د د غو چاپ شوو کتابونو پته رانه ورکه شوه وروسته مې چې پته ولګوله نو ټوپکمارو د خپلو خوړو د پخولو له پاره د همد ې کتابونو د سوځولو نه ګټه اخيسته، خو د وی د د ې نه څه خبر وو چې هره کرښه يې د زړه په وينو ليکل شوې وه او په شپو شپو به د پرښنا د نشتوالی له کبله به تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهاره د خاورو د تیلو څراغ و ډیوې ته ناست وم. په ۱۳۷۱ کال مې چې حالات ناسم ولیدل او کور مې چور، تالا او وران شو نو د هیواده مهاجر شوم او د ادې د هغې مودې تر اوسه لا هماغسې د خپل ګران هیواده لیرې پروت یم. خوله نیکه مرغه مې د غه ټول یاد شوي کتابونه د انش د خپرېند ویه ټولنې په مرسته له سره بیا چاپ کړل چې د لوې خدای په مرسته مې یو څه روحي ارامتیا تر لاسه کړه.

ګرانو وروڼو د پښتنو د غه قبیلې چې انشاء الله د بینوا د ویب پاڼې په راتلونکو پاڼو کې به یې ولولئ د الفبا په ترتیب به د رته وړاند ې شي د وې ګټې لري. له یوې خوا به د پښتنو د قبیلو له نومونو سره اشنا شو و له بلې خوا که چیرې ما د ځینو قبیلو د خیلونو، ښاخونو و څانګو د نومونو په برخه کې تیر وتنې کړي وي، نو زما نیمګړی کار به بشپړ کړئ چې د ا په خپل ذات کې د پښتنو د نسب د شجرو د بشپړولو په اړوند به ستاسو لوی خد مت وي.

# 1ابد الیان

ابدالیان چه په درانیانو سره هم شهرت لري د افغانستان په تاریخ کښې یو نامتو ټبر دې چه د نامه رېښه ئې د ۴ میلادي شا او خوا کښې سپین پوستي آریایې قبیلې ته: چه اپتل Aptal یا هپتالي نومېږي، رسېږي. د دغې قبیلې په باختر او تخارستان کښې یو غښتلی دولت جوړ کړ او د برتانوي د ایرتالمعارف Encyclopaedia Britannica په استناد مؤرخانو ئې نوم ابدالوي هم راوړی دې.[1] په تاریخونو کښې ئې نوم په بیلا بیلو بڼو هپتل، اؤدل، ابدل، یفتل، او ابدال ضبط دي.

د ابد ال په هکله زیات افسانوي روایتونه هم شته چې د لته به یې راوړل بیځا یه نه وي.روایتونه وایي چې د اسلامي د ورې په تا ریخ کې لو مړنی سړی چې د (ابد ال=اود ل)په نامه یاد شوی د ی د پښتني قبیلو مشهور نیکه د ی چې د خپل نا متو کهو ل سره د سلیمان په غره کې او سید ه.د ی د ترین زوی د شر خبون لمسی او د سړبن کړوسی د ی او د د ه نو م په پښتواد بیاتو او پخوانیو او زړو نسخو کې (اود ل) او د جمع منسوب په بڼه (اود لی=ابد الی) ضبط د ی چې د ٤٤. هجري یا ٤٨١.میلاد ي کلو نو په شا او خوا کې یې پښتانه قبایل پر ځان راټول کړي وو او د د ه له تو کمه ملک سلیمان د عیسی زوی چې په زیرک سره مشهور و پښتني قبیلي د سلیمان له غره نه کند هارته بوتلې ا وهلته یې مېشته کړې او د خپل ژ وند په پای کې یې خپل زوی ملک بارک پر مشری و ټاکه او تر بارک وروسته د زیرک بل زوی ملک پوپل د خپل نفوذ ساحه د اوسني بلو چستان تر شال او ژوبه وغزوله او د ٦٥ کالو تر مشر تو ب وروسته د ۸۹ کلو نو په عمر ومړ.

---

1 عبد الرؤف بېنوا، د افغانستان نو میالي، لو مړی ټوک، ۳۱. مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسې فو لکلوري روايتو نه هم شته چې په پيل کې ابد ال بل نوم د ر لود، خو کله چې د خواجه احمــد لمبــد ال چشتي حضور ته چې د خپل وخت مشهور پير او ستانه و ورغی او د هغه خد مت ته يې ملا وتړله هغه ورتــه د لمبــد ال نوم او لقب ور کړ چې له هغې راهيسې په د غه نوم مشهور او اولاد ه يې د ابد اليانو په نامه ياد ېږي او پښتا نه په خپلې ورځنۍ محاوره کې ابد ال د اود ل په نامه هم ياد وي [2] خو د ا روايت ا فسانوي ار زښت لري.

د اسې روايت هم شته هغه وخت چې د ابد ال د پلار تر ين د مړينې وخت را نيږد ې شو نو ويې غو ښتل چې د خپلو د ريوزامنو يعنې ابد ال، سپين او تور له جملې نه يو تن پر خپل ځای د مشرۍ له پاره و ټاکي چې د تور او سپين د خپگان سره سره يې ابد ال د مشرۍ له پاره مناسب او وړ وباله. پښتانه د تاريخ په رڼاکې اثر ليکلي د ي چې ابد ال يــا اود ل د ٤٢. هجري کلو نو په شا او خوا کې ژوند کاوه.

ويل کيږي چې د ابد ال تر مړينې ور سته ر ځړ د خپلې کورنۍ مشر شواو د ه د خپلو نورو زامنو د جملې نه خپل مشر زوی عيسی په خپل ځای وټاکه.د عيسی د زامنو نه سليمان تر ټو لو پوه او هوښيارو نو ځکه د ی په ځيــرک يا زيرک مشهور شو چې تر اوسه هم پښتانه هو ښيار سړي ته ځيرک وايی، که څه هم عيسی د ميرک په نامه مشر زوی د رلود، خو سليمان يې د هو ښيارۍ په وجه په خپل ځای وټاکه.د زيرک په څلورو زامنو کې مشر بارک نوميد ه چــې پلار يې د ی د کو رنۍ مشر ټا کلی و، خو تر څه مو د ې وروسته مشري د پوپل لا سته ورغله. لوی ابد الي احمد شــاه بابا چې د پو پلزيو د سد وزو په څانگې پورې يې اړه د ر لود ه د ١٧٤٧ ميلاد ي نه تر ١٧٧٣ ميلاد ي پورې يــې يــوه لويه امپراتوري جوړه کړه چې به تا ريخ کې د د رانيانو د امپراتورۍ او يا د Durani Empire په نامه سره شهرت لري.

د رانيان چې د پښتنو د سرېښي پښتنو په ټولنيزې ډلې يا گروپ اړه لري په د وو سترو ښاخونو يعنې ځيرک او پنج پای باند ې ويشل شوي د ي چې بارکزی، اڅکزي، پو پلزي، الکوزي، محمد زي او سد وزي د زيرک څانگې د ي او نورزي، سهاکزي، اليزي، اد وزي او ماکو د پنج پای څا نگې د ي.د ابد اليانو کو رنۍ د ١٧٤٧ميلاد ي نه تر ١٨١٨ ميلاد ي پورې پر افغانستان واکمني کړې چې بيا حکومت بارکزيو او د هغو يوې څا نگې محمد زيو په لاس کې وه. [3]

## 1.1د ود او د ستور

د د رانيو د هرې قبيلې په سرکې يومشر موجود د ی چې کله کله د د غې مشرۍ مو قف په يوې کو رنۍ کــې موروثي پاتي کيږي خوکله کله په د غه برخه کې تغير هم را تلای شي. د د غې قبيلي د ښا خو نو خلک خپلو مشر انــو

2 حيات افغاني، د ډپټي محمد حيات خان، پښتو ژباړه ١٤٢مخ، د د انش د خپر ند ويه ټو لنې چاپ، پېښور، ١٣٨٦ کال

3 پښتانه د تاريخ په رڼاکې، سيد بهاد رشاه ظفر کاکاخيل، ١٩٦٥ د لاهور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پوره او بشپړ د رناوی لري او اکثره لانجې د جر گو او مر کو له لارې چې د ټو لو پښتنو یو منل شـــوی د ود د ی اوارويږد وی اکثرا په جوماتونواوحجرو کې سره را ټو ليږي او د خپلو ستو نزو د اوارولو په اړوند تصميمونه پکې نيسي.د رانيان ميلمه پال خلک د ي. ښا يسته ځيري، د نگ د نگ قد ونه، گرد مخونه او پراخې ټنډې لري.

د رانيان اکثرا په کند هار، هيلمند، ارزگان، فراه، هرات، باد غيس، فارياب، بلخ، کند ز اود هيـــوادپــه نـــورو مختلفو بر خو ا او هم په سهيلي پښتونخوا کې په کو يټه، شال، پشين، لور لايي، زيارت، ژوب او نورو ډيروسيمو کې استوگنه لري.د ايران په ختيځو بر خو کې هم ډير شمير د رانيان چې په پخوا وختو نو کې هلته ليږ د يد لي د ي ميشته د ي.

## 1.2 په ملتان کې ميشته ابد اليان

هغه ابد الي پښتانه چې د کند هار له شا او خوا نه يې مها جر تو نه کړي او په ملتان کې مېشته شـــوي د ي پـــه او سني وخت کې د ملتاني پټانانو يا افغا نا نو په نامه ياد ېږي.په د وی کې هم د نو رو افغانانو په څير زي او خيلو نه شته. په تا ريخ کې ملتان ته د ابد اليانو تگ پوره معلوم نه د ی، خو د ځينو شو اهد و له مخې د اسې اټکل کيد ای شي چـــې د وی به ملتان ته د هند د مغولي واکمن عالمگير اورنگ زيب او شا عالم د وا کمنيو په وختونوکې هلته تللي وي.د اســـي روايت هم په لاس کې لرو چې په ملتان کې د ابد اليانو د ورتلو نه د مخه د ځمند د قبيلې خلک چې هغوی هـم سـړبني پښتانه د ي ميشته وو او کله چې د غه پښتانه ابد اليان ملتان ته وکو چيد ل نو هلته په رنگپور گهريان واله کــې مېشـــته شول چې ډير شميرو يې د سو د اگرۍ له لارې خپله گوزاره تر سر ه کوله او د ابد اليانو هر ښاخ چې پـــه ملتـــان کـــې مېشته وو هر يوه يې ځان ته بيل بيل مشران د ر لود ل.کله چې د ابد اليانو شمېر په ملتان کې زيات شو نـــو د د وی او ځمند پښتنو تر مينځ د کر نيزو مسالو په سر شخړې رامينځ ته شوې او په پای کې د د وی تر مينځ خونـــړۍ جگــړې وشوې چې په نتيجه کې د ځمند پر قبيلې بريالي او هغوی يې له هغې سيمې وشړل.همد راز په د غو جگړو کې د ځمند قبيلې ډير خلک ووژل شول.کله چې د د غو پيښنو خبر د ډيلي مغولي د ربار ته ورسيد نو د ملتان نه يې د ابد اليانو د وتلو فر مان ورکړ.هغه وخت چې ابد اليانو ته د د ې خبرې پته ولگيد ه نو خپل د رې تنه استازي يې د ډيلي مغولـــي د ر بار ته واستول. مغولي د ربار ته د ابد اليانو د پلاوي په رسيد و فر مان معطل شو، خو ابد الي مشران تر بـــل امـــره پورې بند يان شول.

کله چې په د کن کې مر هټه او نورو د مغولي د ربار پر خلاف په بغاوت لاس پورې کړ، نو د ربار له د غو بند يا نو نه غو ښتنه وکړه چې که چيرې د د ې قبيلې خلک د د وی سره د مر هټه وو او نورو با غيانو پر خلاف ورســـره مر سته وکړينو د وی به د غه مشران له بند ه خو شې کړي.د غو مشرانو د خپلې قبيلې د جنگيالو سره د کن ته لاړل او ډېرې تو رې يې ووهلې.مغولي واکمن پرته له د ې چې د وی د ملتان نه ونه شړل، بلکې ډېر خلعتونه، منصبونه او جا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګيرونه يې هم د وی ته ورکړل چې تر اوسه پورې ځينې په ملتان کې مېشته او د ډېرو شتو او جا يد اد ونو څښتنان د ي.

د ملتان په ابد الي وا کمنانو کې نواب مظفر خان ډير مشهور سړی تير شوی د ی چې نو موړی د رنجيت سنګه له خوا چې د لا هور سکه واکمن و په ۱۸۷۵ بکر ما جيتي کا ل [4] کې ووژل شو.سکهانو په ملتان کې ډېر پښتانه له تېغــــه تېر کړل او هغه پښتانه چې د سکهانو د قتل عام نه خو ند ي پاتې شوي وو نو د وی له ملتان نه وليږد يد ل او د نــــواب محمد خان بهاد ر خيل سد وزي سېمو يعني منکيرا او بکهر ته لاړل او کله چې منکيرا هم د رنجيت سنګه د پو ځـــونـــو لاس ته ور غله نو هغوی په د ېره جاتو په تېره بيا په د ېره اسما عيل خان کې مېشته شول.

## 1.3 واکمانان

لاند ې د د رانيو و د د وئي بارکزي څانګې واکمنان نومونه ورکړ شوي د ي:

1. د رانيو د کورنۍ نا متو واکمنان
   1. لوی احمد شاه بابا ۱۷۴۷- ۱۷۷۳
   2. تيمورشاه سد وزی ۱۷۷۳-۱۷۹۳
   3. شاه زمان ۱۷۹۳-۱۸۰۱
   4. شاه محمود ۱۸۰۱-۱۸۰۴
   5. شاه شجاع ۱۸۰۴-۱۸۰۹
   6. شاه محمود د وهم ځل لپاره ۱۸۰۹-۱۸۱۸
2. د رانيانو د بارکزيو د څانګې نا متو واکمنان
   1. امير د وست محمد خان ۱۸۳۴-۱۸۳۹

4 بکرماجيتي سنه چې د هند په نيمه وچه کې بکر مي هم ورته وايي تر عيسوي سنې اوه پنځوس کا له مشره د ه

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. امیر شیر علیخان ۱۸۶۳ -۱۸۶٦
3. محمد افضل خان ۱۸٦۱- ۱۸٦۷
4. محمد اعظم خان ۱۸٦۷
5. امیر محمد یعقوب خان ۱۸۷۹
6. امیر عبد الر حمن خان (ضیا الملت والد ین) ۱۸۸ـ-۱۹ـ۱
7. امیر حبیب الله خان (سراج الملت والد ین)۱۹ـ۱-۱۹۱۹
8. امیر اما ن الله خان ۱۹۱۹-۱۹۲۹
9. محمد ناد ر شاه ۱۹۲۹- ۱۹۳۳
10. محمد ظا هر شاه (المتوکل علی الله) ۱۹۳۳- ۱۹۷۳
11. محمد د او د خان، د افغانستان د جموریت بنسټ ایښند ونکی ۱۹۷۳- ۱۹۷۸
12. حامد کرزی ۲ـ۱ نه تر اوسه پورې

# 2 ابراهیم خیل

زموږ توکم پو هان(نسب پېژند ونکي) ابرا هیم خیل د غلجیو پښتنو د ټولنیز ګروپ او په هغې پورې اړوند ه قبیلې سلیمان خیلو پورې تړي.د ابراهیم خېلو قبېلې خلک د افغانستان په ډېرو ولا یتو نو او له هغې جملې نه د کابـــل ولایت د پغمان په ولسوالۍ، د مید ان او ورد ګو ولایت د مید ان ښار د ابراهیم خیلو په سېمه، د پکتیا ولایت د مرکـــز د ګرد ېز ښار په سهیلي برخه، د لوګر ولایت په بېلا بېلو ولسوالیو، د لغمان ولایت د قر غیو په ولسوالۍاو یو شمیر هم د افغانستان د بلخ، کند ز غزني، زابل او بکتیکا په ولایتونو کې مېشته د ي.د لغمان ولایت د ابراهیم خېلو شمېر د ۱۳٦ـ کا د سر شمېرنې له مخې د ۲ـــتنو په شا اوخواکې ښو د ل شوی وو چې ښایې اوس به یې په شمېر کې ډېروالی راغلـــی وي.د د غې قبېلې یو شمېر د کرنې او ما لد ارۍ په چا رو بوخت د ي او ځینې خلک یې د سود لګـــرۍ او رلکـــړې ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې کا رونه ترسره کوي.د د غې قبیلې یو شمیر په د ولتي چارو بوخت د ي. ابراهیم خیل مېلمه پال پښــــتانه د ي، د د وی حجرې هر وخت د مېلمنو پر مخ پرانېستلې وي.د وی د علم او ښوونې او روزنې سره ډېره مینه لري.

# 3 اپرید ي (افرید ي)

اپرید ي د کر لانې پښتنو یوه ډېره نا متو، لرغونې او غښتلې قبېله د ه چې د عیسی مسیح علیــــه الســــلام.تــــر زېږید و ۵.. کلونه وړاند ې یو نا نې مشهور مؤ رخ هروډوتس چې د پښتنو د څلورو‌قبېلو کومه یاد ونه کړې د ه پـــه هغو کې د یوې قبېلې نوم اپې ریتي یاد شوی د ی چې توکم پو هان یې همد ا اوسني اپرید ي بولي چې د اپــــي ریــــتي کلمه د اپرید ي سره د فقه اللغت پر بنسټ هم مطا بقت مو ند لی شي.(۱)

د پښتني شجره الا نسابو له مخې اپرید ی د برهان زوی د ککي لمسی او د کرلان کړوسی د ی.د اسې ویل کیږي چې په پیل کې د ا پرید ي نوم عثمان و چې د یوې پیښې او واقعې په سبب په اپرېد ي مشهور شو.

اپرید ي په خیبر د رې، کوهاټ او تیراه کې مېشته د ي. د د وی ختېزه پوله د خټکو سره نښتې د ه. سهیل تــــه یې اورکزي او بنګښ او سپین غر، لوید یز ته یې شینواري او شمال ته یې د مومند و سېمه پر ته د ه. په عمومي توګه د اپرېد یو سېمه په څلورو جغرافیایي برخو ویشلې شوې د ه چې د خیبر د ره، د بازار د ره، د اخور د ره او د پېښور او د خیبر د غرونو د لړۍ ترمینځ مید ان نه عبارت د ي. اپرید ي په یوه غرنۍ سېمه کې ژوند کوي چــې‌پــه د وو اد اري واحد ونو کې تنظیمه شوې د ه یعنې د خیبر ایجنســـي چـــې لکـــثریتـــیـــې پښــــتانه د ي او د ۱۹۶۱ میلاد يکـــال د سرشمېرنې له مخې د د وی شمېر (۲۷۵۳۱۲) تنه ښود ل شوی د ی بله د کو هاټ ضلعه چې هلته اد م خیل اپرید ي مېشته د ي او د د وی تخمیني شمېرد ٦.... تنو په شا او خوا کې ښود ل شوی د ی. د اد م خیلو پورې بله اړوند ه څانګه حســــن خیل د ي چې د وی د پېښور په شا او خوا سېمو کې او سېږي چې د ۱۹۶۱ میلاد ي کال د سرشمېرنې له مخې یې شمېر د ۲٤... تنو په شاو خوا کې ښود ل شوی د ی.

اپرید ي ډېر زړور او تو ریالي خلک د ي.د وی هر وخت د ښکیلاکګرو په وړاند ې پراخې مبارزې کړي د ي. د لوی سکند ر نه راواخله، تر مغو لو او انګرېزانو پورې په تا ریخ کې د د وی د مبارزو او کا رنا مو یا د ونه شــوې د ه.اپرید ي غیرتي، میلمه پال او په پښتني رواجونونو او د ود ونو ته پابند خلک د ي.د د وی تر مینــځ د وه‌قـــبیلوي فراکسیو نونه (ګوند ونه)موجود د ي چې د سمل اوګاړي په نامه یاد ېږي.

په اوسني وخت کې د اپرېد و قبېله په اتو مشهورو ښا خو نو باند ې وېشلې شوې د ه چې هر ښاخ‌یـــې ډېـــرې څانګې لري، چې د د غو ښا خونونومونه او د د وی د استو ګنې سېمې په لاند ې ډول د ي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



1. ملک د ین خیل:په مید ان، شلوبر، تند، چوره، کجوری، خیبرد ره اوشډلي کې استوګنه لري۔

2. قنبرخیل:په کا هو د ره، شلوبر، ناوه، برشلوبر، باړه اوکجوری کې مېشته د ي۔

3. کوکي خیل:په د وه توري، تورڅپری، راجګل، مخرنې، لاله چینه او د جمرود نه تر علـــي مســـجد هــپــورې او سیبرې۔

4. زخه خیل:په خیبرد ره، څبري کډو، بازار، الچه، کرمنه، پراګ، بنکو، شنه کمر، توره ویاله، بوکاړ، سنډه پل او شډلي کې استوګنه لري۔

5. سه پای:په باړه، ترخو کڅ، سنډه پل، لګړي او کجوری کې او سیبرې۔

6. کمرخیل:په ګړي، څاوخ، تخته کلي، غلام علي، بغري، وچ پال، چهل ګزي، میرود ره او کمـــزويکـــې اســـتوګنه لري.

7. اکاخیل:په باړه، ګلي خیل، وړان، کجوری او د اکا خیلو په میره کې اوسیبرې۔

8. اد م خیل:په اخورد ره او مید ان کې اوسیبرې۔

د اپرېد ود یوشمېر نو رو څانګو نو مو نه د اد ي:ګلي، زرغون خیل، محمد خیل، تورسپر، فېروز خیل، شېر خان خیل، کمال خیل، باسي خیل، میتاخان خیل، کتیا خیل، زونه خیل، شیخ مل خیل، عبد ل خیل، وند، لنډي خیل، برګټ خیل، د لد ارخیل، ظفري، عبد الرحمن خیل، احمد خیل، نیکي خیل، اورموزخیل، فتح خیل، بهرام ګور، بکهیا، بود یـــا، کمل خیل، سلطان خیل، سکند رخیل، شان خیل، د ولت خیل، عمر خیل، مد ر خیل، میري خیل، ژراکي، شلو بار خیـــــل، زونه خیل، اد یلي خیل، احمد خیل، نصرالد ین، بابکریاونور۔۔۔

د لنډي کوتل، باړه، جمرود اواخورد رې سود اګرېز مرکزونه د اپرېد و په سېمه کې مو قعیت لري اود د ې له پاره چې په تنګود رو او غر نیو سېمو کې استوګنه لري، نو د وی د کر کېلې ځمکې لږې د ي، نو ځکه یې زیات شمېر خلک د کا بل او پېښور تر مینځ د سو د ا ګرۍ په چارو بو خت د ي۔

د پښتونخوا سر ښېره یو شمېر اپرید ي د ا فغا نستان په جلال اباد، کابل ا وکند ز کې هم مېشته د ي۔په د ې ســـر ښېره زیات شمېر اپرید ي د هند و ستان په جنوب د کن، د هریا نا د ایالت په پاني پت، کشمیر، بیهاراود اترا پراد یش په قا یم جنګ کې مېشته د ي۔د هند وستان یو پخوانی جمهور رئیس ډاکټر ذاکر حسین هم د هند د اتر اپراد یش دقـــایـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ اپرېد ی پښتون و. همد اراز په هند وستان کې یو بل ستر شاعر قاسم علیخان اپر بد ي د پښتو ژبې مشهور شا عر تیر شوی د ی چې شعري د یوان یې مو جود د ی.همد اراز د پښتونخوا د اپر ید یو لاند ینې کسان مشهورتاریخي کسان تیر شوي د ي:نواب عظمت خان کوکي خیل شیرخان خیل او د هغه زوی عجب خان اپرید ي چې په کو هاټ کې د انګر یزي ښکېلاکګرو پر خلاف یو ه مبارزه څېره وه.نو موړی د انګرېزانو له لاسه افغانستان ته هجرت وکړ او بیا وروسته په کند وز کې وفات او هوری ښخ شو، چې د د ه د د غوکارنامو په ویاړ په پښتونخوا کې یو پښتو فلم هم جوړ شوی د ی.همد اراز په اپرید و کې بل مشهورتن خاطر اپرېد ی وچې د ٤ بیتو په شاوو خواکې شعرونه لري او د ۳۲ کلو نو په عمر یې له د ې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړید ي.په او سني وخت کې د اپرېد یو مشهور شخصیتونه د اد ي:

1. سلمان حامد اپرېد ی
2. ډاکټر منور خان
3. مشهور قانونپوه او وکیل لطیف اپرېد ی
4. رحمت شاه اپرید ی
5. او د کرکټ مشهور لوبغاری شاهد اپرېد ی

# 4 اتمانخیل

اتمانخیل د پښتونخوا یوه مشهوره قبېله د ه چې د پښتنو په کر لاني ټولنیز ګروپ کې شامل د ي اود وی ته د د وی د پلار اتمان باباد نوم په وجه اتمانخیل وایي.اتمانخیل په یوه وا حد ه سېمه کې استوګنه لري، خو په د رې اد اري وا حد ونو یعنې باجوړ ایجنسی، مو مند و ایجنسی‌اوملکنډ ایجنسی پورې اړه لري.

اتمانخیل د څوارلسمې عیسوي پېړۍ په پیل کې د یوسفزیو قبېلې په ګډون د ټاک او ګو مل د غرونو نه د کابل او ننګر هار له لارې پېښور ته لاړل او له هغه ځایه په د و ابه او اشنغر کې د یوسفزیویو سره یو ځای په غم او ښاد ۍ کې شریک شول.کله چې د د لازاکو، یوسفزیو او نورو قبیلو تر مینځ د لنګر کوټ په میره یا ګړي کپوره کې جګړه پېښه شوه، نو په د غه وخت کې د غه قبیله سره له د ې چې د لازاک د د وی سره د قبیلوي خپلوۍ له کبله نږد ې و د یوسفزیو پر خوا ود ریدل او په د ې تو ګه یې د لازاکو ته ماتې ورکړه، خو یوسفزیو د د وی سره کومه ښېګڼه و نکړه.وروسته اتمانخیل له هغه ځا یه تېراه ته ولېږد بد ل او کله یې چې له هغه ځایه هم لاسونه لنډ شول نو بیا د اړنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهرنگ سېمې ته لاړل چې لا تر او سه هم په همدې سېمې کې مېشته دي.

د اتمانخیلو سېمه په عمومي ډول غرنۍ ده چې د لویو او کو چنیو د رو نه جوړه شوې ده چې واړه(کوچني) سېند ونه یې د سوات په سېند کې چې په د غه سېمه کې د ابزو په سېند مشهور دی توئېږي.د د وی د سېمې شمال ته د باجوړ سېند بهېږي چې تر کلاڼې او اتمانخیل سره جلاکوي. د اتمانخیلو هغه سېمه چې په ملکنډ ایجنسۍ پورې اړه لري د سوات د سیند له خوا خړوبېږي.

د باجوړ او مو مند و ایجنسۍ پورې اړوند اتمانخیل په عمو مي توګه د کرنې او مالد ارۍ په چاروبوخت دي چې د شمو زیو، علیزیو، ماند ل او اصېل ښا خونه یې په با جوړ ایجنسي او د میا، ملا او بوټ کور ښاخونه یې په مومند و ایجنسۍ پورې اړه لري.

اتمانخیل د نورو پښتنو په څېر ډېر غیرتمن او تو ریالي خلک دي او اولسي تړې، نرخونه او څلي یې د باجوړ خلکو ته ورته دي.اتمانخیل په عمومي تو ګه بزګران او ځینې یې په انفرادي توګه په سو د اګرۍ بوخت دي. همد اراز د اتمانخیلو لاسي صنایع په د غه سېمه کې ډېر شهرت لري.لکه چې د مخه وویل شول اتمانخیل په یو ه غرنۍ سېمه کې ژوند کوي چې غرونه یې په ځنګلونو پټ دي.د د وی د مشهورو غر ونو نه یو هم د کیمورغرد ی چې مرکزي برخه یې د اصیلو، علیزو او ماند لو د سیمو تر منځ پرته ده.د د وی په غرونو کې څېړۍ، ګورګورې، بنون او ځنګلي انځرډېر پید ا کیږي.

د اتمانخېلو په جنو بي خو اکې د د بر له لوري د پنج کوړې په نامه یو سېند بهېږي چې د اتمانخیلو سېمې ته د غر شموزو په برخه کې رانننوزي او د د وی ډېرې سېمې خړوبوي.همد اراز د غر شموزو د لر غاو نه هم یو سېند را بهېږي چې د پنجکوړې د سېند سره یو ځای کیږي.همد اراز د پو رتنیو یاد و شو سېند ونو سر بېره په اتمانخیلو کې ډېر شمېر رڼې چینې شته چې خلک یې د څښلو د اوبو نه ګټه اخلي.د اتمانخیلو په تند وبي (ابي) ځمکو کې جوار، غنم او اوربشې کرل کیږي او په وچوبو(للمي) ځمکو کې غنم، اوربشي، شړشم، نسک او مشنګ کرل کیږي.د د وی د سېمې صاد رات نسک، شړشم، غوړې او د ود انیو لرګي دي.همد اراز د انګورو، مالټو، الو چو او شفتالو ډېر باغونه هم لري.

د اتمانخیلو مشهور خیلون د اد ي: شموزي، ماند ل، بوټ خیل، اصېل، علیزي، با ئیزي، اسماعیل خیل، سه صد ه، میاملا، کید وخیل، کمپل خیل، سر ني خیل، عمر خیل، خمار خیل، بلو خیل، مامد خیل، عمر خیل او نور. شموزي د اتما نخیلو په شمال ختېز کې کې او سیږي او د باجوړ، سوات او د بر سر ه پو له لري.

1. ماند ل: د اتمانخېلو په شمال لوید یز کې مو قعیت لري او د اسې ویل کیږي چې ماند ل په اصل کې د اتمان با با مشر زوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. بوړ خیل: چې د اتمان خېلو لوید بېز ته موقعیت لري.

3. اصیل:د ا ښاخ هم د اتمانخیلو لوید یځ ته پروت د ی.

4. علیزي:د اتمانخیلو په شمالي برخه کې پروت د ی.

میاګان او ملایان هم د اتمان بابا اولاد ه د ه چې په اتمانخیلو کې په خوره واره ډول سره ا ستو ګنه لري.

د اتمان خیلو مشهورکلي خرکی، میاخان، سنګاو او کوه بر مول د ي.

په هغه سر شمیرنه کې چې په ۱۳٦۱المریز کال په د ې سېمه کې شوې وه د اتمان خېلو ټول شمېر ۱۸٥٦ـ تنه ښود ل شوی و چې له هغې نه ۱۲۹۷ـ تنه په با جوړ، ٤۸ـتنه په مو مند و او ٦۸٦ـ تنه په ملکنډ کې استوګنه لري.کېد ای شي چې اوس په د ې شمېر کې زیاتوالی راغلی وي.

# 5 اتمانزي

که چېرې د اتمانزیو د قبیلې د نسب شجره په غور سره وګورو نو د ا به راته څر ګند ه شي چې د وی سړبني پښتا نه د ي او د مند ړ یو ښا خ ګڼل کیږي.اتمانزي د یوسفزیو د سېمې په ختېزه برخه کې د ابا سین پرغاړه او د مهابن د غره په سهیلي لمنو کې پر اته د ي.ټوپي، میني، کوټه او مر غز د د وی د سېمې مشهورکلي د ي.د اتمانزیو نور خېلونه په لاند ې ډول د ي: ا کازي، کنا زي او علیزي.د سد و اولاد ه که څه هم په اتمانزیو ور ګد یږي، خو ځان ته یې بل نو م غوره کړی د ی.د اتمانزیو د قبیلې د رې واړه ښاخونه د شیخ ملي د ویش له مخې برابرې پلرنۍ برخې لري چې د غه د رې واړه ښا خو نه په برابر ډول خپلې پلرنۍ ځمکې کري او ورنه ګټه اخلي.همد اراز د علي زیو د طاهر خیلي څا نګه ډېره مشهوره او په ګند ګهر نو مي سېمه کې مېشته د ي.د تاریخ حیات ا فغا ني په استناد د وی په هغه وخت کې ۱۲ـ وسله وال کسان د رلود ل.

# 6 اتوال

که چېرې د اتوال د قبیلې د نسب شجره په غور سره و ګورو نو د وی په اصل کې غلجي پښتانه د ي او په لنډ ړو پورې یو تړلی ښاخ د ی چې زیات شمیر یې د زابل ولایت په اړوند و ولسوالیو په تېره بیا د د ای چوپان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسوالۍ کې استوګنه لري او شمېر يې د ۱۳٦کال د مرکزي احصائيې د سرشمېرنې له مخې د ۱۸۵ـ تنو په شا او خوا کې ښودل شوی دی چې ښايي اوس يې شمېر د وه برابره وي.ويل کيږي چې اتوالو په پخو اوختونو کې کوچيانی ژوند درلود.د وی به د مو سی خېلو اندړو سره يو ځای د مني په مو سم کې د ناور او ما لستان له غرونو نه شلګر او قره باغ ته رابښکته کېدل او له دې خا يه به ګند هار ته لېږد بدل، خو اوس د وی زياتره کليوالي ژ وند غوره کړی. اتوال مېلمه پال، د ښد اره او زړور خلک دي.

# 7 احمد زي

احمد زي په ا صل کې غلجي پښتا نه دي او په سليمان خېلو ور ګډ ېږي، خو نن د سليمان خېلو نه د لېږي والي او هم د شمېر ر ډېروالي په و جه د پښتنو ډېره پياوړې او غښتلې قبيله شمېرل کيږي.د غې قبيلې خلک د افغانستان په ډېرو ولايتونو او په تېره بيا په پکتيا، لوګر، ننګرهار، لغمان، مزارشريف، بغلان، هرات، کند ز او فارياب کې هم استوګنه لري.د احمد زيو قبيله د پکتيا د مهمو قبيلو په ډله کې شمېرل کيږي چې زيات شمېر يې د ګرد يز په شما ل ختيز او جنوب کې د رود احمد زي او ميلن په سېمو کې استوګنه لري.د پکتيا و لايت احمد زي د منګلو، تو تا خېلو، خد راڼو، زرمت او لو ګر د ولايت سره پوله لري او د ۱۳٥٤ کال د يوې سروې له مخې د د وی شمېر په پکتيا کې د يو سلو زرو تنو په شا او خو اکې ښودل شوی و.د لوګرولايت احمد زي د د غه ولايت په ځېنو سېمولکه ازره، التمور، سرخاب، ، د اوبازک په د ښته او محمد اغه کې ژوند کوي.

د ننګرهار ولايت احمد زي د د غه ولايت په مر کز جلال اباد، د سره رود ولسوالۍ د احمد زيو په کلي، د چپرهار د ولسوالۍ د د ولت زيو په کلي، د حصارک غلزايي په اولسوالۍ او د کامې په او لسوالۍ کې استوګنه لري.د لغمان ولايت احمد زي د د غه ولايت په مرکزاو هم يو شمېر يې د کابل او لغمان تر مينځ د کابل سيند پر د واړو غارو مېشته دي.

د احمد زيويوه پياوړې ښانګه د موسی خيلو په نامه سره شهرت لري چې اکثره خلک يې کو چيان دي.زه د د ې مقالې ليکوال په ۱۳٥٤ لمرېزکال کې د ميد ان او ورد ګو ولايت د بهسود و د ويمې حصې ولسوالۍ ته تللی وم او هلته مې د احمد زيو کو چيانو په زر ګو نو کيږد ۍ ليد لې وې.، ځکه همد ا احمد زي او نورکو چيان د د وبي په موسم کې ايلبند ونو ته تلل او د د وی د څارويو له پاره د غه سېمه ډېر ښه څړ ځای شمېرل کېد ه.

په پښتنو قبيلو کې تر ټولې هرې قبيلې د احمد زيو د قبيلي خلک په جر ګو کې ښه مهارت لري او د د وی جر ګې د رنې ګڼل کيږي او په پښتنو کې د وی څلي او نر خونه ډېر اهميت لري. په پخوا وختو نو کې به که چېرې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو پښتنو تر مینځ کو مه شخړه او لانجه پیښه شوه نو خلکو به د احمد زیو د قبیلې جر گه ما رانو ته ورتلـــل او د د وی په مر سته او منځګړتوب به یې شخړې او لانجې اوارولې چې بیا به وروسته د واړو خواووته د منلـــو وړ وي او عمل به پرې کېد ه.

احمد زي زړور او په هېواد مین خلک د ي.د انګر یزي ښکیلاکګرو پر خلاف د د وی د غیرت او میړانې نمونې په تاریخ کې ثبتې د ي. د روسي یر غلګرو سره د مبارزې په ترڅ کې هم د وی د مبارزې سنګرونه تاود ه ســـاتلي وو چې زموږ هېواد او تاریخ پرې ویاړي.

د افغانستان پخوانی جمهور رئیس او د وطن ګوند مشر نجیب الله هم د احمد زیو د قبیلې پورې اړه د رلود ه او په اصل کې د پکتیا ولایت د رود احمد زي د میلن د کلي او سید ونکی احمد زی پښتون و. همد اراز په احمد زیـــوکې د جنرال شا هپور ا حمد زي او د مالیې د پخواني وزیرد کتور اشرف غني احمد زي نو مو نه هم یاد ولای شو.

د احمد زیو ځینې څانګې او خېلو نه په لاند ې ډول د ي ;اله د ین خیل، عیسی خیل، یحیی خیل، ځنډي خیل، مو سی خیل، ابرا هیم خیل، معروف خیل، جبار خیل، ستانکزي، عبد الر حیمزي (اد ریمزي)چې د غه څا نګې بیا په لاند نیو کو چنیو ښا خو نو ویشل شوي د یچې الله د ین خیل په با د ین خیلواو کو چي خیلو، عیسی خیل په سا د و خیلو، با زو خیلو، محمد علي خیلو، پا د شاه خیلو، خواجه خیلو، توره خیلو ا و ما نې خیلو با ند ې ویشل شوي د ي

1. همد اراز یحیې خیل: په فتح الله خیلو، سلام خیلو، کامران خیلو، خا نه خیلو، ازک خیلو او فیروزخیلو.
2. ځنډي خیل: په شاه خیلو او خورم خیلو،
3. موسی خیل:په کړو خیلو، پا یند ه خیلو او منصور خیلو.
4. معروف خیل:په با د ین خیلو، شکر خیلو، محمد خیلو، عبد الرحمن خیلو او سر کي خیلو با ند ې ویشل شوي د ي.

# 8 اڅکزي

اڅکزي د پښتنو یوه خورا نامتو، غیرتي، مېلمه پاله او په خپلواکۍ مینه قبیله د ه چې د ګران افغانستان پـــه تـــا ریخ کې و یاړلی نوم لري.زموږپښت پوهان اڅکزي د پښتنو د سړ بن د ګروپ نه شمیري چې په اصـــلـکـــې د رلـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه او د ځیرک د څا نګې پورې تړلي د ي۔ که چیرې د اڅکزیو پښتنو د نسب شجره په غور سره تر ستر ګو تېره کړو په لو مړي سرکې په د و لو یو ښا خو نو ویشل شوي د ي چه ګو جین او با د ین نو میږي۔د ګو جین څانګې په لاند ې ډول د ي :حمید زي، ملي زي، اشیزي، عثمان زي، الیزي، نصرت زي، غني زي، خد رچي زي، صالح زي، متــک زي، اد وزي، ملایزي، سلطانزي، شکرزي، اسحق زي اوګبرزي۔همد اراز د با د ین ښاخ هم په لا ند نیو څا نګو ویشل شوی د ی:کاکوزي، غیبي زي، شمشو زي، پیر علي زي او پا نیزي۔

## 8.1 د اڅکز یو د استو ګنې سیمې

اڅکزي هم په ا فغا نستان کې مېشته د ي او هم په سهیلي پښتونخو ا کې۔هغه ا څکزي چې په ا فغا نستا ن کې ژوند کوي نو د وی د سپین بو لد ک په ولسوالی، ریګ، د کند ها ر د ښار په مرکز او د ډنډ په ولسوالی، د هلمند په ولایــت، ارزګان، هرات، باد غیس او کا بل کې استوګنه لري، خو هغه ا څکزي چې په سهیلي پښتونخواکې اوسي نو زیات شــمېر یې په کو یټه، چمن، کلای عبد الله، ګلستان، کوړک، خواجه عمران افغاني، پښین، توبه، جلګه او زیارت کې استوګنه لري۔ په کند هار پورې اړوند ا څکزي د سپین بو لد ک په ولسوالی، د ریګ په ولسوالی، د د امان په ولســـوالی او د ډنـــډ او پنجوایي په ولسوالیو کې استوګنه لري چې شمیر یې د ریو سوو زرو تنو ته رسیږي۔

د هلمند په ولایت کې مېشته ا څکزي د هلمند ولایت په مرکز لشکر ګاه، د ناد علي په ولسوالی، د ګرمســیر پـــه ولسوالی او د ناوه بارکزا یي په ولسوالیو کې مېشته د ي چې په نو موړي ولایت کې یې شمېر د د یرش زر و تنوپـــه شا او خواکې اټکل شوی د ی۔

د هرات ولایت اڅکزي د هغه ولایت په مرکز او همد اراز د انجیل، پښتون زر غون، ګلران او د غو ریانـــوپـــه ولسوالیو کې مېشته د ي چې شمېر یې په نو موړي ولایت کې د شلو زرو تنو په شا او خواکې ښو د ل شوی د ی۔

د ارزګان ولایت ا څکزي د هغه ولایت په مرکز تیرین کوټ، د چوره په و لسوالی، د خاص ارزګان په ولسوالی، د ګیزاب په ولسوالی، د کجران په ولسوالی، د د هراود په ولسوالی، د شهید حساس په ولســـوالی (ښـــایي اوس د د ې ولسوالی نو م بل څه وي )او د نیش په ولسوالی کې استوګنه لري او د اڅکز یو ټول شمېر په د غه ولایت کې تقریبا د د وه سوه زرو په شا او خو اکې ښو د ل شوی د ی۔

د باد غیس ولایت ا څکزي د هغه و لایت د بالا مر غاب د ولسوا لی په بیلا بیلو کلیو کې مېشته د ي چې د د وی د سر شمېرنې په برخه کې راسره مؤ ثق معلو مات نشته۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور ا نگرېز مؤرخ مو نټ ستوارټ الفنستن په خپل نامتو اثر(د کابل سلطنت بیان )کې لیکلي د ي :" اڅکزي اکثره کروند ګر او پووند ه د ي که څه هم یوه اند از ه ځمکې لري، خو د خپل ژ وند له پاره په ځمکو اتکا نه لــــري.د د وی څاروي د خو اجه عمران په غرونو او د توبې په هسکه سېمه کې سا تل کیږي، په د اسې حال کې چې او ښان یـــې د شوراوک په شګلنه سېمه کې پوول کیږي.اڅکزي په د اسې ځمکه پراته د ي چې یا خو لغړ غرونـــه د ي او یـــا ســـپېره ډاګونه او یا هم خا لصې شګې، د د وی د کر نې ځمکې خورا لږې د ي."د کند هار اڅکزي د کر نې پر ته د سو د اګرۍ په چا رو هم بو خت د ي.د د وی یو شمیر خلک کو چیا نې ژوند هم لري.

## 8.2 ښاغلی خلک

اڅکزي د تاریخ په او ږد و کې د ښکېلاکګرو په و ړاند ې ډېرې مېړانې او سر ښند نې هم کړي د ي چې د د وی د غه مبارزې زمو ږ د ویاړلي هېواد ګران افغانستان په تا ریخ کې په زرینو کر ښو ثبتې د ي.

د اڅکزیو په نا متو مبارزینو کې یو هم غازي عبد الله خان ا څکزی و چې د ۱۸۴۱زېږد ېز کال په ملي پا څون کې یې انګریزي ښکېلاکګرو ته مر ګوني ګو زارونه ورکړي د ي چې د د ه په ویا ړلي نو م هر افغان ویاړي.

د اڅکزیو بل نا متو او غیرتي شخصیت غازي مېد اد خان ا څکزی د ی چې د افغان-انګرېز په د ویمه جګړه کې یې د میو ند د فاتح غازي محمد ایوب خان تر څنګ یې د انګرېزانو غو ړونه ښه ورتاو کړید ي او هغوی ته یـــې ښـــه ماتې ورکړېد ه.د غازي مد د خان پلار بد ین خان او نېکه یې ګل محمد خان هم مېړني خلک تېر شـــوید ي.همـــد اراز د اروخان ا څکزی هم د اڅکزیو یو ډېر معزز او د د رناوي وړ مشر تیر شوید ی.

په سهېلي پښتونخواکې د اڅکزیو په ملي مبارزینو کې د خان شهید عبد الصمد خان و یاړلې مبارزې د پښتنو د مبارزو په تا ریخ کې یو ویاړلی باب د ی چې د پښتنو او بلو څو د حقه حقو قو له پاره یې مبا رزې کړې او په پای کې د پاکستاني جرنیلانو له خواپه شهاد ت ورسید چې اوس د د ه زوی محمود خان اڅکزی د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ مشر د پښتنو د حقو قو د تر لاسه کو لو له پاره چې په پاکستان کې تر پنجا بیانو وروروسته د وهمستره اتنیکه ډله د ه، خوله بد ه مرغه له هره پلوه د خپلو حقو قو نه بې برخه او محرومه ساتل شوي د ي د مبارزې بیرغ ر پا ند ه سا تلی او د خپل شهید پلار و یاړلې لاره تعقیبوي.همد ا را ز په ا څکزیو کې د خان محمد ایوب خان اڅکزي مبارزې، د اڅکزیـــو د مشهور و علمي شخصیتونو هر یوه شاعر اولیکو ال ملا عبد الر حیم اشیزی او هم د اروابناد محمد علم بڅرکي نو مو نه نه یو ازې د اڅکزیو ویاړونه د ي، بلکې د د ې هیواد هر افغان پر ي ویا ړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 9 اد ريمزي (عبد الرحيمزي)

که چيرې د اد ريمزيو د نسب شجره په غور سره تر څېړنې لاندې ونيسو نو جو ته به شي چې د وی غلجـــي پښتانه دي يعني د د غې قبېلې خلک د غلجيو پښتنو يو ښاخ دی چې زيات شمېر خلک يې د لوګر ولايت په بېلا بيلو ولسواليو کې استوګنه لري.يو شمېر اد ريمزي د لغمان ولايت د قرغيو په اولسوالي اود عزيزخان کڅ په سـپـمه کـې مېشته دي.

اد ريمزي خورا زړور، توريالي او ميړني خلک دي.د روسي ير غلګرو او تيري کوونکو پــر خلاف يـې د مبارزې سنګرونه تاوده ساتلي وو. د اد ريمزيو قبيلي يو شمېر خلک کو چيانی ژوند هم لري.د د غې قبيلې يو شمير خلک د سو داګرۍ او راکړې ورکړې کارونه هم سر ته رسوي. د اد ريمزيو د قبېلې په نا متو مشرانو کې يو هم عبـــد الملک خان عبد الرحيمزی و چې د افغانستان د ټولواک اعليحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍ په وخت کې د افغانــســتان د ما ليې وزير تير شوی دی.

# 10 اد وزي

اد وزي د پښتنو د سړبني په ټولنيزې ډلې پورې يوه اړوند ه قبېله د ه چې د پنج پای څانګې پورې اره لري.د د غې قبېلې شمېر پنځه زره کو رنۍ ښود ل شوي دي، خو د شوروي مشهور اتنو ګرافر ستا نيشفسکي د اتنـــو ګـــر افيکو معلو ما تو له مخې د شلمې پېړۍ په نيمايي کې د د وی شمېر ۱۳ زره تنه ښود ل شوی دی چې زياتره يې د کند هار د معروف په اولسوالۍ، د اوروزګان ولايت د د هراود په اولسوالۍ او همد اراز د هلمند ولايت د ګر مســير پـــه او لسوالۍ کې مېشته دي.

# 11 اد ين خيل

اد ين خيل په اصل کې غلجي پښتانه دي او په سليمان خيلو پښتنو چې يوه خورا غښتلي قبېله د ه ور ګډ بېري. د د غې قبيلې اکثره خلک د پکتيکا په مرکز شرنه او د پکتيا ولايت د زرملې په اولسوالۍ کې چې په زرمت ســره هـــم مشهوره د ه استوګنه لري.د د غې قبېلې يو شمېر خلک د غزني ولايت د ګېرو په او لسوالۍ کې هم استوګنه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 12 اسماعیل خیل

اسماعیل خیل په اصل کې د کر لاڼې پښتنو په ټولنیزې ډلې پورې یوه اړونده قبیله ده چې د خوست په ولایت کې د شمل سیند په جنوبي کنډو مند وزیو ته نږدې مېشته دي.د مند وزیو د قبېلې لوید بز ته ځدران او جنوب ته یې د تنیو قبېله پر ته ده.د مند وزیو د قبېلې په ختېز او د شمل سیند په شمالي څنډو کې هم اسما عیل خیل استوګنه لري.د ۱۳۶ـ کال د مرکزي احصائیې د سر شمېرنې له مخې د دوی شمېر ۱۶ـــ تنه ښودل شوید ي، چې ښا یې اوس به یې شمېر دوه برابره وي.

اسماعیل خیل اکثره د کرنې په چارو بوخت دي، یوشمیر خلک یې د ولتي د ندې هم سر ته رسوي.د دوی یو شمېر په عربي هیواد ونولکه سعودي عر بستان او کویټ او یو شمیر یې هم د خلیج په هېواد ونو لکه متحده

عربي امارات، قطر، دوبی، شارجه، ابو ظبي او د خلیج په نورو ښارونو کې په مزد ورۍ او غرېبۍ بوخت دي.

# 13 اسحٰق زي

اسحق زي چې د ساکزیو په نامه سره هم شهرت لري د پښتنو د سړ بن په ټو لنېز ګروپ کې یوه ډېره مشهوره قبیله ده چې خلک یې هم په کلیوالي تو ګه ژوند کوي او هم یې یو شمېر کو چیاني ژوند لري.د تاریخ حیات افغاني لیکوال ډیپټي محمد حیات خان په خپل د غه نا متو اثر کې چې د افغانستان د بیلا بېلو قو مونو او په عمده تو ګه یې د پښتنو قو مونو او قبېلوپه اړوند یې کښلی دی د اسحق زیو یا ساکز یو پښتنو په باب د اسې وایې:" ساکزي د کند هار لو ید یز خواته په شګلنه سیمه کې د ارغند اب د سیند پر غاړه د بست تر کلا پورې او همد اراز څو سیمې یې د چکه علا قې په ښکتنۍ برخه کې د هیلمند سین په ختېزه غا ړه کې پر تې دي.ځینې ځمکه وال خلک یې په ګر مسیر، فراه، شین ډنډ، لاش وجوین، د هرات جنوب لو ید یز، د سیستان په شمال او ځینې یې هم په هرات کې مېشته دي.همد ا راز د ساکزیو د قبیلې پورې اړونده د وې معتبرې کورنۍ د یاد ولو وړ دي چې یوه یې د سر د ار سالو خان کو رنۍ چې د لاش و جو ین په سیمه د د رناوي او واک خاوند ه ده او بله یې د ګر مسېر د کلای خا نشین په سېمه کې د رئیس سردار مد د خان کو رنۍ ده چې په د غې کو رنۍ کې موسی ډونګی یو مشهور سړی تېر شوید ی.[5,6]

---

5 تاریخ حیات افغاني، ډیپټي محمد حیات خان، پښتو ژباړه، ۱۵۹ مخ، د د انش خپر ند ویې ټولنې چاپ، پېښور ۲ـ۷ کال

6 پښتني قبیلې، د کتور لطیف یاد، د ربم چاپ، د انش خپرند ویه ټولنه، ۱۶-۱۷ مخونه، ۲ـ۷کال، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 13.1 اسحٰق زو ولايتونه

په اوسني وخت کې اسحق زي يا سا کزي پښتانه د افغانستان په لاند نيو ولايتونو کې مېشته د ي:

1. د کند هار په ولايت کې: اسحق زي د کند هار ولايت په مرکز، د ميوند په ولسو الۍ، د پنجوايي په ولســـوالۍ، د ارغند اب په ولسوالۍ او د معروف په ولسوالۍ کې مېشته د ي چې په د غه ولايت کې د د وی تخميني شـــمېر د سلو زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی.

2. د هلمند په ولايت کې: د هلمند په ولايت کې هم يو زيات شمېر ساکزي اوسيږي.په د غه ولايت کې د وی د هلمند په مرکز لشکر گاه، د کجکي په ولسوالۍ، د ريگستان په ولسوالۍ، د خانشين په ولسوالۍ، د نوزاد په ولســـوالۍ او د نهر سراج په ولسوالۍ کې استوګنه لري چې په نو موړي ولايت کې د د وی ټول شمېر څه د پاسه سل زره تنه ښو د ل شويد ي

3. د فراه په ولايت کې: د فراه ولايت په مرکز او د لاش و جوين په ولسوالۍ کې هم زيات شمېر اسحق زي يا ســـا کزي مېشته د ي چې په نو موړي ولايت کې د د وی شمېر پنځوس زره تنه ښود ل شويد ي

4. د هرات په ولايت کې: په هرات کې د ساکزيو شمېر د هېواد د ټو لو ولايتو نو په پر تله ډېر د ی.په د غه ولايت کې ساکزي د انجيل، شين ډنډ، پښتون زر غون، ګلران، کشک، غوريان او کهسان په او لسو اليو کې مېشته د ي چې د هرات په ولايت کې د سا کزيو مجمو عي شمېر تر يو سلو پنځوس زرو تنو زيات ښود ل شوی د ي

5. د باد غيس په ولايت کې: په د غه ولايت کې ساکزي د مر غاب او غورماچ په ولسواليو کې مېشته د ي

6. په فارياب ولايت کې: د فارياب په ولا يت کې او په تېره بيا د پښتون کوټ په اولسوالۍ کــې ســـاکزي پښـــتانه اوسي. زه د د ې مقالې ليکوال کله چې په ۱۳۵۷ کال ميمني ته تللی وم نو ما د ميمني د لويد ېزېـــه پنځـــه کيلـــو مترۍ کې يو شمېر کو چيان ولېد ل چې په کېږ د يو کې او سيد ل او ځانونه يې اسحق زي بلل

7. د جو زجان په ولايت کې: په د غه ولايت کې هم د اسحق زيو يو شمير کو رنۍ مېشته د ي

8. د بلخ په ولايت کې: د بلخ په ولايت کې هم يو زيا ت شمېر سا کزي استوګنه لري چې د حيات افغاني مؤلـــف د د وی شمېر په ۱۸٦۵ عيسوي کال کې چې له نن نه ۱٤۳ کلونه پخوا کيږي د د وی شمېر د بلخ په ولايت کې تر زرو کو رنيو زيات او په ټول افغانستان کې تر يولس زره کو رنيو نه زيات ښود لی د ی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 14 اکاخیل

اکاخیل په اصل کې غلجي پښتانه د ي چې د سلیمان خیلو یو ښاخ ګڼل کیږي چې زیاتره یې په پوونـــد ه ډول ژوند کوي او ځانته کو مه ځانګړې سیمه نه لري.د وی اکثره په کېږد یو کې ژوند کوي او د ټغرو، کیږ د یو او جو الو نو په او بد لو کې ښه مهارت لري.د تا ر یخ حیات ا فغا ني د لیکوال ډیپټي محمد حیا ت خان په قول د اکا خیلو یو شمیر د غزني و لایت په مقر کې هم ا ستو ګنه لري [7]. یو شمیر اکا خیل په ا فغا نستان باند ې د شوروي تر یر غل وروسته له هیواد ه ولیږ د ید ل او پاکستان ته کډ وال شول چې د هغه هېواد په مختلفو ښارو نو لکه پېښور او کر اچۍ کې استوګنه لري. اکا خېل زیارکښه خلک د ي، ځیني خلک یې د سو د اګر یو په کا رونو بو خت د ي.د ا کا خیلو ځو انان په ا تڼ کې ډېر تکړه د ي او د خو ښیو او خو شالیو او ود ونو کې د د وی ځو انان چې ښا یسته او ږد ې ځنـــې لـــري په خپلـــو ماهرانه اتڼو نو سره محفلونه تاود ه ساتي.

د روسي نامتو اتنو ګرافر د اتنو ګر افیکو څېړ نو له مخې د اکا خیلو شمېر د شلمې زېږ دېـــزې پېـــړۍ پـــه نیمایې کې د ۳۵ زره کو رنیو په شا او خوا کې ښود ل شوی د ی.

# 15 الیاس خیل

الیاس خیل په ا صل کې غلجي پښتا نه د ي.د د وی یو شمېر کو چیان او هم یو شمېر خلک یې د ځمکو خا وـــند ان د ي چې اکثره یې د کابل او ننګر هار تر مینځ واد ي کې د کابل سین په د واړو غا ړو کې ژ وند کوي، خو د د وی د شمېر په اړوند ز ما سره بشپړ معلو ما ت نشته.

# 16 امر خیل

امر خیل په ا صل کې غلجي پښتانه د ي او په سلیمان خیلو ور ګډ یږي. د ا سي ر وایتو نه مو جود د ي چـــې د امر خیلو د قبیلې مشر نېکه امر بابا نو مېد ه چې زیار ت یې د ننګرهار په سیمه کې د ی.امر خیل د ننګر هار، میـــد ان، لغمان، پکتیکا او جوزجان په و لا یتو نو کې مېشته د ي. د مید ا ن و لایت ا مر خیل د د غه و لایت د نرخ د اولسوالۍ او چا ر یکه په سېمو کې استوګنه لري او په د غه ولایت کې د وی په لا ند نیو خیلو نو ویشل شوي د ي: یار خان خیل، الله

---

7 حیات ا فغاني، محمد حیات خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وش خیل، یو سفزي، ممي خیل، غو نډا خیل او بو ړ خیل۔ همد اراز یو شمېر امر خیل د ننګر هار و لایــت د ســر ه رود د ولسو الۍ د پېټاوي امر خیل په کلي کې چې د ننګر هار و لایت د د رونتهی بند ته نږد ې مو قعیت لر ي او ســیږ ي.همد ا راز د ننګر هار ولایت د چپر هار د او لسو الۍ د سپین جو مات او سنګینه په سیمه کې هم د ا مر خیلو قبیلې یو شمېر کو رنۍ مېشته د ي.یو شمېر امر خیل د با میانو په ولایت کې هم او سیږي, خو هغو ی کو چیا نې ژ وندلــر ي۔ د جوز جان په و لایت کې د وی د اقچې په او لسو ا لۍ کې مېشته د ي۔ د ۱۳۶ـ کال د مرکزي احصا ئیې د سر شــمېرنې لــه مخې د مید ان په و لا یت کې د امر خیلو شمېر ۱۲ـــ تنه، د ننګر هار ولایت د امر خیلو شمېر ٤٨٤٢ تنه او د لغمان و لایت د امر خیلو شمېر ۲۱۸۸ تنه ښو د ل شوي وو، چې ښا یې د ا شمېر اوس د وه ګونې وې۔

امر خیل مېلمه پا لونکي، غیرتي او د علم سره ډېره مینه لري.په د وی کې یو زیات شمېر ښوونکي، اســتاد ان، اکاد میک او پو هان او نظامي منصبد اران شته۔ د مید ان ولایت په امر خیلو کې د اعلیحضرت محمد ظــاهــر شــاه د وا کمنۍ په و خت کې په ولسي جرګې کې د مید ا ن ولا یت د خلکو استازی ار وابناد حفیظ الله خان امر خیل مشهور ]قو مي مشر تیر شوی د ی۔ همد اراز د هغه زوی خد ای بخښلی سر محقق عزیزالله امر خیل د ا فغا نستان د علو مو د اکا ډیمۍ د ژ بو او اد بیا تو د مرکز علمي غړی و چې په پښتو فولکلور کې یې د ستاینې وړ علمي خد متو نه سر ته رسولي د ي۔

# 17 اوریا خیل

اور یا خیل هم په اصل کې غلجي پښتا نه د ي چې د د غې قبیلې زیات شمېر خلک د کابل و لایت د پغمان پـــه او لسوالۍ کې استوګنه لري او په نو موړې ولسوالۍ کې د د وی مشهور کلی او سېمه د خالد ار یو په نامه سره یاد ېــږي۔ یو شمېر اوریا خیل د کابل د لوید یځ په للند ر او یو شمېر هم د مید ان په و لایت کې استوګنه لري۔

یو شمېر اور یا خیل د پکتیا ولایت د زرمت(زرملې) په اولسوالۍ کې هم مېشته د ي۔ د لغمان ولایت اوریا خیــل د لغمان ولایت په مرکز مهترلام او د غه ولایت د قر غیو په او لسوالۍ کې استوګنه لري چې د ۱۳۶ـ لمریز کال د هغې سر شمېرنې له مخې چې د مرکزي ا حصا ئیې له خوا تر سره شوې وه د لغمان په ولایت کې د د وی شمېر ۱۲۱۸۸ تنه ښود ل شوی د ی چې ښایې په د غه و لایت کې او س د د وی شمیر د وه چند ه وي.همد اراز یو شمېر اوریا خیل د کابل و لایت د قره باغ په اولسوالۍ کې هم مېشته د ي۔

اوریا خیل میلمه پالو نکي، زړور، غیرتي او په خپلواکۍ مین خلک د ي۔ د روسي تیري کوونکو په وړانــد ې یې د غیرت او مېړنتوب کارنامې ز موږ د ویاړلي هېواد ګران افغانستان د تاریخ ځلاند ه بابو نه د ي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 18 الکوزي

الکوزي د پښتنو يوه تا ريخي او لر غونې قبيله د ه چې په زړو او پخو انيو تاريخي يو ناني متو نو کـــې د د وی سېمه د اراکو زيا په نامه سره ياد يږي چي د الکوزي د نامه سره يې ور ته والی د امکان نه ليرې خبره ـنـــه د ه پــه پښتو ، فارسي، اردو او انگر يزي تا ريخي کتا بو نولکه: تا ريخ حيات ا فغاني، تواريخ خو رشيد جهان، پښتانه د تا ريـــخ په رڼاکې، د پښتنو تاريخ، صولت ا فغاني، د سر او لف کيرو د پټان او د بليو د پټان په ډکشنرۍ او په تيره بيا د پښتنو په شجرو کې الکوزي سړبني پښتانه گڼل شوي د ي چې د زيرک زوی او د ابد ال لمسی د ی او پوپل، بارک، اڅـــک او مو سی يې ورونه د ي چې بيا الکوزي په ډېرو نورو ښا خو نو او څا نگو ويشل شوي د ي چې مشهور ښا خو نه يې په لا ند ې ډول د ي :

صفوزي، شکر زي، اپل يا اپو زي، سر کا ڼي، زکوزي، ميلازي، يعقوب زي، د ولتزي، ابراهيمزي، مـــو ســـی زي، عمر زي، خانخيل، اکا خيل، سيد خيل، پروټ، زنگي، بو ستان زي، نسوزي،پـــانيزي،کـــو ټـــي زي، خـــالوزي، باروزي، نکروزي، بيان زي، فيرو زي، جيلاني زي، خد ايد د خيل، راموزي، اولالگي خيل.

## 18.1 الکوزو ولايتونه

الکوزي د افغانستان په لا ند نيو ولايتو نو کې مېشته د ي:

1. د کند هار په ولايت کې: د الکو زيو د قبيلي خلک د کند هار ولايت په مرکز ، د ار غند اب، خاکريز، ار غســـتان، معروف، ميوند او پنجو ايي په او لسو اليو کې مېشته د ي چې د ۱۳٦ـ کال د مرکزي اد ارې د سر شـــمېرنې لـــه مخې په کند هار کې د د وی مجمو عي شمېر د ۸ــــ زرو تنو په شا او خو اکې ښو د ل شوی وو چې ښا يي اوس يې شمېر د وه چند ه وي.
2. د اروزگان په ولايت کې: د ارز گان د و لايت الکوزي د اوروزگان په مرکز تيرين کوټ، د د هراود په ولسوالۍ او د هغه و لايت په ځينو نورو ولسو اليو کې مېشته د ي چې مجمو عي شمېر يې په د غه ولايت کـــې د پنځـــه زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شويد ي.
3. د زابل په ولايت کې: د زابل ولايت الکوزه ولايت د ميزان، ترنک او جلد ک په اولسواليو کې استوگنه لري چې شمېر يې په نو موړي ولايت کې د شلو زرو تنو په شا او خوا کې ښود ل شويد ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. د هلمند په ولايت کې: د هلمند ولايت الکو زي د د غه ولايت په مرکز لشکر گاه او د ناد علي، بغران، زمينــد اور او گر شک او نو زاد په او لسواليو کې مېشته د ي چې مجمو عي شمېر يې په نو مو ړي ولايت کې د ٤___ تنو په شا او خو اکې ښو د ل شوی د ی.

5. د فراه په ولايت کې: د فراه ولايت په بيلا بيلو ولسواليوکې هم الکوزي شته چې شمېر يې د ٧__ تنو پــه شــا او خو ا کې ښو د ل شوی د ی.

6. د هرات په ولايت کې: د هرات ولا يت الکوزي د د غه ولايت د انجيل، گذرې، پښتون زر غون، اوبې، کرخ، زند ه جان، اد رسکن، کهسان او يو شمېر نو رو ولسواليو کې مېشته د ي. په د غه و لايت کې د الکو زيو ټول شمېر د سلو زرو تنو په شا اوخواکې ښود ل شويد ي.

7. د باد غيس په ولايت کې: يو شمېر الکوزي د با د غيس ولايت په بيلا بيلو ولسواليو په تېره بيــا د مرغــاب او غور ماچ په ولسواليو کې هم ميشته د ي. د کو نړ په ولايت کې:

په پور تنيو ولايتونو سر بېره يو شمېر الکوزي په فارياب، جو زجان، سرپل، کند ز او کا بل کې هم مېشــته د ي.

8. د کو نړ په ولايت کې د الکو زيو يو ه څانگه چې د سر کا ڼيو په نامه سره ياد ېږي د د غه ولايت د سر کـــا ڼيو په اولسوالۍ کې مېشته د ي چې د وی په اصل کې د ځينو عو املو له کبله ډېر پخوا له کنــدهــا ره د ې سيمې ته را لېږد يد لي او د لته مېشته شوي د ي چې شمېر يې د شلو زرو تنو په شــا او خـــواکې ښــود ل شويد ي چې زياتره خلک يې د کرنې او سو د اگرۍ په چارو بو خت د ي او د چارتراشو سود لگــري هــم کوي.

9. په سهيلي پښتونخواکې: د سهيلي پښتونخوا په تېره بيا په کوېټه، چمن او د بلو چستان پــه ځينــو نــورو سېمو کې هم الکوزي استوگنه لري.

10. په پښتونخو ا کې: پرد ې سر بېره د پښتونخوا د د و ابې په سېمه کې او د پيښور په شاوخوا کې هــم يــو شمير الکوزي استوگنه لري.

11. په پاکستان کې: د پاکستان د راولپنډۍ د چهچه نومي سېمه کې هم ډېر شمېر الکوزي مېشته د ي چې د سر کا ڼيو په نامه يوه سېمه کې د الکو زيو د نسوزي ښاخ خلک مېشته د ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



12. په جنو بي هند وستان کې: د الکوزيو يو شمېر د جنوبي هند وستان د د کن او حيد ر اباد په سېمه کې هــــم مېشته د ي، خو له بد ه مر غه ځېنو يې خپله خو ږه ژبه پښتو له لاسه ور کړي او په هند ي ژبه ګړيږي.

## 18.2 ښاغلی خلک

الکوزي زړور، غير تي او ميلمه پاله خلک د ي.په علــم اوپـــوهــي ميـــن د ي.د وی د روس د اســتعماري او ښکيلاکګرو ځو اکو نو پر خلاف د خپل هېواد د خپلواکۍ له پا ره ښې توري وهلي د ي.

د الکوزيو په تا ريخي کسانو کې د د غو لاند نيو کسا نو نو مو نه ا خيستلی شو چې ز مو ږ د هيواد په تاريـــخ کې مشهور د ي:

1. عبد الغني خان چې د الکو زيو د زيرازي له څانګې و او د مير ا فغا ن په نامه ياد يد ه

2. د هرات والي يار محمد خان زين الد وله چې د الکوزيو د نسوزي څا نګې نه و او يو ډير با تد بيره شخصـــيت تير شوی د ی

3. د افغانستان د ستر ټولو اک اعليحضر ت احمد شاه بابا مور زر غونه انا چې د الکو ز يو د نسو زي ښاخ‌پـــورې يې اړه د رلود ه

4. مولوي محمد سرور خان و اصف د لو مړني مشر وطه غو ښتو نکو د ټو لنې مشر چې په اصل کې د کند هار د ارغستان د ولسوالۍو او بياور وسته زند اني شو او د کا بل په شير پور کې د خپل ورور سعد الله خــان او د خپل پلار د اکا د زوی عبد القيوم خان سره يو ځای اعد ا م شو

5. بابا عبد العزيز خان الکوزی د مشروطيت د د ويم غو رځنګ غړی و.

# 19 علي زئي

که چيري د اليز يو پښتنو د نسب شجره په غور سره و څيړو نو د وی سړ بني پښتانه او د د رانيو د پنجپای په ښا خ پورې اړه لري چې نورزي، ساکزي، اد وزي او ماکو يې ورونه قبيلي د ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېټي محمد حیات خان د تاریخ حیات ا ففا ني په کتاب کې چې ۱۴۳ کلو نه د مخه یې کښلی د ی د الیزیو پښتنو په اړوند د اسي لیکلي د ي:" الیزي د کند هار په ز مینډ اور کې اوسیږي.د د وی د ود او د ستور د الکوزیو په څیر د ی.د الیزیو او الکوزو تر مینځ پو له د هلمند سین د ی.د د وی سیمه هم د الکو ز یو سېمې ته ورته والی لري، خــو د الکــو زیو زیا تره سېمه د رود ونو په اوبو او د الیزیو سېمه په کا ریزو نو خړ و بیږي."

الیزي(علیزي) زیاتره د کر ني او ما لد اری په چا رو بو خت د ي او خورا غښتلي، غیر تي، میلمه پا لو نکي او د هیواد په خپلواکۍ مین خلک د ي.د افغان-انګریز سره د خپلواکۍ په جګړه کې یې د میړانې او غیرت کار نامې ښــو د لي او د روسي و حشي یر غلګرو سره په مېړ انه جنګید لي د ي.

په او سني وخت کې الیزي په لا ند نیو سیمو کې مېشته د ي:

1. د هلمند په و لایت کې: د هلمند ولایت الیزي د د غه و لایت د ناد علــي، کجکــي، بغــران، موســی کلا، ګرمسیر او نو زاد په ولسوالیو کې مېشته د ي.
2. د کند هار په ولایت کې: د کند هار ولایت الیزي د کند هار ولایت په مرکزاو د د امان، میوند، ار غند اب، معروف او ژیړي په ولسوالیو کې مېشته د ي.
3. د ارزګان په ولایت کې: د ارزګان ولایت الیزي د د غه ولایت په مرکز ترین کوټ او د هراود، ګزاب او شهر ستان په ولسوالیو کې استوګنه لري.
4. د فراه په ولایت کې: د فر اه و لایت الیزي د نو موړي و لایت په مرکز او د با لا بلوک په او لسوالۍ کې مېشته د ي.
5. د هرات په ولایت کې: د هرات د ولایت الیزي د انجیل، ګذرې، کشک، غوریان، زنــد ه جــان، کهســان، پښتون زر غون، اد رسکن او شین ډنډ په ولسوالیو کې مېشته د ي.
6. د با غیس په ولایت کې: د باد غیس و لایت البزي د نو موړي ولایت د مر غاب او غور ما چ ولســوالیو په بېلا بېلو کلیو او با نډو کې مېشته د ي.

پر پورتنیو ولایتونو سر بیره یو شمیر الیزي په فاریاب، جوزجان، سرپل، بلخ او کند ز په و لایتو نوکېهــم استوګنه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. په پښتونخواکې: يوشمير اليزي د پښتونخوا د ټانک او د ير ه اسما عيل خان په سيمه کې استوګنه لري

8. په پاکستان کې: په پاکستان کې اليزي د پنجاب ايالت د راولپنډۍ په اسلامګړ کې چې د حسن ابد ال ختيز لوري ته پرته د ه او همد اراز په ملتان کې استوګنه لري.

د تاريخ حيات افغاني په قول د اسلام ګړ د سيمي د اليزيو د قبيلي مشر محمد شر يف خان و چې د رئيس بر هان په نامه سره هم يا د يد ه چې په نو موړي سيمه کې څو کلي يې د جا ګير په تو ګه تر لاسه کړي وواو د د ه په زامنو کې شير د ل خان، پر د ل خان، سرورخان او حسين خان مشهور کسان تير شويد ي.همد اراز د راولپنډۍ د چهچه په سيمه کې هم ګڼ شمير اليزي استوګنه لري.

په ملتان کې د اليزيو د قبيلي نه نواب فو جد ار خان يو مشهور نواب تير شوی د ی. همد اراز د د ه نيکه خد ايار خان او يو شمير نور اليزي مشران لکه عاشق محمد خان، محمد خان او غلام حسن خان اليزی نامتو خلک تير شويد ي.

9. په ايران کې: يوشميراليزي د ايران په ختيزه برخه کې د قاين په سيمه کې چې د افغانستان پولې ته نږد ې د ی هم استوګنه لري.

10. د هند وستان په د کن کې: د هند وستان په جنوب په تيره بيا په اند را پراد يش کې هم يو شمير اليزي استوګنه لري.

د روسيې د نامتو اتنو ګرافر ستا نيشفسکي په حواله په ټول افغانستان کې د شلمې عيسوي پېړۍ په نيمايي کې د د وی مجمو عي شمير ۳_ زره تنه ښود ل شوی د ی.

# 20 اند ړ

که چيرې د اند ړو د نسب شجره په غور سره و څيړو نو څر ګند ه به شي چې د وی په اصل کې غلجي پښتانه د ي.اند ړ د موسی زوی، د ابراهيم لمسی او د غلجي کړ وسی د ی. د شجرو له مخې يې تر ه کی او سهاک ورونه ګڼل کيږي [8,9].

8 تاريخ حيات ا فغاني، پښتو ژ باړه، ١٣٨٦-٢_٧کال چاپ، د انش خپر ند و يه ټو لنه، پېښور

9 پښتني قبيلې، لطيف ياد، ١٣٨٥، د د انش خپر ند ويه ټو لنه، پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اند ړو شمال ته د غزني مرکز، جنوب ته يې د تر ه کو او سليمان خيلو قبيله، ختيز ته يي زرمت چې زرملــه يې هم بولي، لو يد يز ته يې د هزاره وو قوم او په ضمن کې د کره باغ سيمې سره پو له لري.

د اند ړو د قبيلې بنا خو نه په لاند ې ډول د ي: بازيد خيل، جلال زي اولکڼ خيل چې با زيد خيل بيا په خو اجـــه خيلو، مر جا ن خيلو، پير خيلو، مو سى خيلو او ابر ا هيم زيو، جلال زي په خا ني خيلو، الله يار خيلو او مصري خيلــو او لکڼ خيل د پو مي خيلو او بشال خيلو په څا نگو ويشل شوي د ي.

د ا ند ړو د قبيلې خلک زياتره په غزني، پکتيا، زابل، پکتيکا، بغلان ميد ان او کا بل کې مېشته د ي چې په لانـــد ې تو گه د ر پيژ ند ل کيږي:

1. د غزني په و لايت کې: اند ړ د غزني ولايت د اند ړو، جغتو، شلگر، جامراد، د ه يک او زنه خـــان پــــه ولسواليو او سيموکې مېشته د ي چې په نو موړي و لايت کې د د وی مجمو عي شمير ۲ـ زرو تنو ته ر سيږي.

2. د پکتيا په ولا يت کې: اند ړ د پکتيا ولايت په مرکز گر د يز، زرمت او څمکنيو په ولسو اليو کې ميشته د ي چې په نو موړي ولايت کې يې ټول شمير د ۵ـ زرو تنو په شا او خوا کې بنود ل شوی د ی.

3. د پکتيکا په ولايت کې: د پکتيکا ولايت اند ړ په شرنه او ميټا خان کې استوگنه لري چې مجمو عي شمېر يې په د غه ولايت کې د ۲ـ زرو تنو په شا او خو اکې بنود ل شوی د ی.

4. د زابل په ولا يت کې: د زابل ولايت اند ړ د د غه ولايت د شا ه جوی په ولسوالۍ کې استوگنه لري چـــې مشهور کلي يي عبد الرؤف کلا، د اند ړو کو ټي، د اند ړو کلی او سرور کلا نو ميږي.د اسي ويل کيږي چې د وی د غزني ولايت د شلگر ولسوالۍ نه د ې سيمې ته لېږ د يد لي او د لته ميشته شوي د ي. همـــد اراز د زابل ولا يت د د ای چو پان په ولسوالۍ کې هم د اټوالو په نامه د اند ړو يو بناخ اســـتوگنهلـــري چې شمير يې د ۲ـ زرو تنو په شا او وا کې بنود ل شو ي د ي

5. د بغلان په ولايت کې: د بغلان ولايت اند ړ د د غه ولايت د نهرين په ولسوالۍ کې ميشته د ي او د انـــــد ړو د لکڼ خيلو د بنا خ پوړې اړه لري.

6. د کابل په ولايت کې: د کابل ولايت اند ړ د چهارد هي ولسوالۍ د کلای بها د ر خان په کلي کې اســـــتوگنه لري چې شمېر يې ۵ـ تنو ته رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اند ړ ډير ميلمه پال، غيرتي او د هيواد سره مينه د د وی په پښتني خته کې اخښل شوې د ه. د ا نگرېز انو سره د افغانستان د خلکو په د ري گو نو جگړو کې د د وی ونډه د رنه د ه.د بيلگې په توگه د ۱۸۷۹ ميلا د ي کال د د سـامبر د مياشتې په عمو مي پا څون کې اند ړ د ملا د ين محمد اند ړ په مشرۍ چې په ملا مشک عا لم سره يې شهرت د رلـود او همد اراز د گل محمد خان اند ړ په مشرۍ چې يوملي شخصيت و په غزني کې يې په انگرېزانو ځمکه تبۍ و گر ځوله او د يو ملي ځواک په تو گه يې د انگر يزانو په وړاند ې سره يو مو ټی او د ښمن ته يې خوله ما توونکي گـو زارونـه ورکړل.

د روسي ښکيلاکگرو په و ړاند ې هم اند ړو ډېرې سر ښند نې کړي د ي او د افغاني غيرت او تورې پـه زور يې روسي غليمانو ته هم غاښ ما توونکي ځو ابو نه ور کړي د ي.

# 21 اورکزي

اورکزي د پښتنو يوه نا متو قبيله د ه چې ز مو ږ پښت پو ها ن (نسب پيژ ند و نکي) يې د کر لاڼي پښـتنو د ټولنيز گروپ نه شميري.

د او رکزيو د قبيلي زيا تره خلک د اورکزيو په ايجنسۍ او يو شمير يې په کو رمه ايجنسۍ کې استوگنه لري. چې مرکز يې د هنگو ښارد ی. او رکزي د کو هاټ په شمال لويد يځ، د سپين غره په ختيز او د تيراه په جنوب کې پراته د ی. شمال ته يې د اپريد و قبيله، شمال لويد يز ته يې پړه څمکني، لويد يځ ته يې توري، جنوب ته يې بنگښ او ختيز خو ا ته هم د اپر يد و اوبنگښو سره پوله لري.

د او رکز يو د ايجنسۍ مجمو عي نفوس ۴۵... تنه د ی چې په او رکزيو سر بيره نور پښتا نه هم يکې اوسـي لکه: علي خيل، ميشتي خيل، ملا خيل او شيخان خيل.

اور کزي په لا ند نيو مشهورو ښا خو نو با ند ې ويشل شوي د ي چې بيا هر يو ښاخ يې په نورو څا نگو بانـد ې ويشل شويد ي. د د غو مشهورو ښا خو نو او څا نگو نو مو نه په لاند ې ډول راوړل کيږي:

1. اسماعيل زي: چې د ا ښاخ په ر ابيا خيلو، ابا خيلو، ماما زي، بهريم خيلو، خاد ي زي، عيسي خيلو او ساد ا خيلو با ند ې ويشل شوي د ي.

2. موسي زي: چې په لنډي زي، علي زي او خواجه خيلو با ند ې ويشل شوي د ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. لشکر زي: چې په علي شير زيو او ما مو زيو باند ې ويشل شوي د ي.

4. د و لت زي: چې په فيروز خيلو، اتمان خيلو او بيزو تي با ند ې ويشل شويد ي.

5. محمد خيل: چې په بر محمد خيلو، عبد العزيز خيلو، ما ني خيلو او سه پای با ند ې ويشل شويد ي.

6. ستوري خيل يا علي زي: چې په باړه ستوري خيلو او تيراه ستوري خيلو با ند ې ويشل شوي د ي.

په د وی کې ځيني ښا خو نه شيعه مذ هبه او ځيني يې هم سني مذ هبه د ي. د د ې نه پر ته د د وی تر مينځ يـــو بل ډول قبيلوي ويش هم مو جود د ی چې سمل گو ند او گا ړي گو ند يې بو لي چې د د غې قبيلې ځيني خلک په سمل او ځيني په گاړه پورې اړه لري.

تا ريخ حيات ا فغاني د او ر کز يو په باب ليکي: " د اسي ويل کيږي چې د بنگښو نه د مخه په کو ها ټ بـــا نـــد ې اور کز يو واک د رلود او تقر يبا پنځه سوه کلونه د مخه بنگښو د اورکز يو نه د کو هاټ سيمه ونيوله چـــې د د غـــې سيمي د نيولو له پا ره د د وی تر مينځ خو نړۍ جگړې وشوې او د يوه افسا نوي روايت له مخې د د وی تر مينځ د غه شخړه او لا نجه د (د ای) په نامه يوه تن اواره کړه، په د ې تو گه چې يو ځل د بنگښو او اورکزيــو ملکـــان د ســيمو د ويش له پاره په د رسمند کې سره را غو نډ شوي وو او هرې يوې غاړې غو ښتل چې زر خيزې سيمې تر لاسه کــړي، له همد ې کبله د د وی تر مينځ سو له ونه شوه او نږد ې و چې د د وی تر مينځ بيا جگړه ونښلي، په د غه وخت کې د ای نو مې چې پر اس سپور و له ليرې را ښکاره شو. د د ې له پاره چې بنگښ او اورکزي د واړه له جنگ جگړو نه په تنگ راغلي وو نو د وی په د ې خبرې با ند ې سره اتفاق و کړ چې د غه د ای نو مې سپور کله چې د وی ته نږد ې راشي نو د وی به ورته د بنگښو او اور کز يو تر مينځ د سيمو د ويش سؤال مطرح کړي او هر څه پر يکړه چې د ه وکړهـنـــو د واړو غاړو ته به د منلو وړ وي. په د غه وخت کې نو موړی سپور راورسيد او د واړو خـــواوو د د غـــې شـــخړ ې د اوارولو له پا ره له د ه سره خبرې وکړې، هغه په د اسي حال کې چې هما غسي پر اس سپور و په پښتو ژبهـيـــي د غـــه بيت ووايه:

د ای خو د اسي وايي.....چې سمه د بنگښ، غر د اورکزی

ويل کيږي چې له هماغه ورځې وروسته د د ای ويش عملي شو او تر اوسه هم د چلند وړ د ی".[10]

اورکزي په غر نۍ سيمه کې ژوند کوي چې د وبې يي معتد ل او ژمی يې خورا ســـوړ د ی،پــه تيـــره بيـــا د

---

10 تاريخ حيات افغاني، د ډيپټي محمد حيات خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغومي، سلواغې او کب په میا شتوکې چې د جنوري، فبروري او مارچ د میا شتو سره سمون خوري. د د وی زیا تره خلک د کرنې په چارو او لږ شمیر خلک یې په پوونده ه ډول ژوند کوي. د ځمکو لره برخــه یـيـــ پــه رولنــو اوبــو خړوبیږي، خو د ځمکو ډیره برخه یې وچوبه (للمي) د ي، مگر ډیرې زرخیزې د ي، ان چې د وه فصله حا صـــلات ور کوي. د وی په خپلو ځمکو کې وریجي، غنم، جوار، اوربشي، لو بیا، کد و ان، ټیپر او د ار چیني کـــري چـــې د د وی د سیمي خوراکي پید اوار د د وی اړتیاوې پوره کو لای شي.

د اورکزیو ایجنسي د سمند ر نه تر ۷__ فو ټو پورې لوړوالی لري او ټوله ر قبه یې ۱۸__ کیلو متره ښـــو د ل شوې د ه.

مشهور سیند ونه یې تاجلي، خرماني، د ماموزو رود، گند او، انگوري، تبي، کړمان، ابی د ری، مســـتوره او د خانکي توی سیند ونه د ي.

د اورکزیو د ایجنسی هیڅ کوارټر هنگود ی او اصلي ښا ر یې د ره اد م خیل د ی.اورکزي خپل با زارونه د میله په نامه یاد وي چې د هغو نه یې لاند ینې میلې مشهورې د ي: ډبوري میله، میشتي میله، فیروزخیل میله، کا لایـــا میلـــه، غلجو میله، ساما مموزي میله، انجاني بازار، کد ه بازار او کوریز میله. د اورکزیو ایجنسی د لید و وړ ځا یونه، کلا یـــا، فیروز خیل سا ما نه، ډوبری، کول او بد ن د ي.

د او رکز یو د ایجنسی سر بیره یو شمیر او رکزي او د هغو جملي نه مسوزي او نیمایي لښکرزي د کورمې په ایجنسی کې هم استوگنه لري.د پاکستان په نورو ښارونو لکه کراچی، راولپنډی، اسلام اباد او لاهور کې هم یو شمیر او رکزي میشته د ي. په بیښور کې هم زیات شمیر اورکزي استوگنه لري.

اورکزي غیر تمن، جنگیالي، میلمه پالو نکي او په پښتنولی ټینگ خلک د ي. د وی د انگریزانو سره پـــه هغـــه وخت کې چې د هند نیمه وچه د د وی تر استعماري واک لاند ې وه په ډیره میړانه جنگید لي د ي او د اسي ویل کیــــږي چې د وی په هغه وخت کې ۲۸__ زره تنه وسله وال ځو انان د رلود ل.

د اورکزیو په ټو لو څانگو کې د ولتزي او مسوزي په شمیر کې زیات د ي.د اورکزیو مجمو عي شـــمیر د ۳__ زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی چې له هغې جملې نه ٦ـ زره تنه یې د کورمې په ایجنسی اوپـــاتـــېیـــې د اورکز یو په ایجنسی کې مېشته د ي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 21.1 اورکزي په هند وستان کې

اورکزیو په هند وستان کې د اتلسمې پېړۍ په لو مړۍ نیمایي کې د د غه هیواد په مد هیا پرادیـــش کـــې چـــې مرکز یې د بهو پال ښارد ی یو لوی پښتني ریاست جوړ کړ چې بنسټ ایښود ونکی اورکزی پښتون نـــواب د وســـت محمد خان د ی.نو موړي د د غه پښتني ریاست بنسټ په ۱۷۲۳ زیږرد یز کال کې په بهو پال کې کیښود.نـــو مړی د هنـــد وستان د مغو لي واکمن عالمگیر اورنګ زیب د زوی سلطان بهاد رشاه په زمانه کې له تیراه نه چې په هغه و خت کـــې د افغانستان د خاورې برخه وه هند وستان ته راغلی و.په بهو پال کې تر د وست محمد خان نه وروسته د اورکزیو پښتنو د پاتو نوابانو نو مو نه په لاند ې ډول د ي:

نواب سلطان محمد خان، نواب یار محمد خان، نواب فیض محمد خان، نواب حیات محمد خان، نواب غوث محمـــد خان، نواب جها نگیر محمد خان، نواب نظیر محمد خان، نواب شاه جهان بیگماونواب سلطان جهان بیگم.

د بهوپال پښتني نوابانو د بهو پال د ښار په ود انولوکې ډیرې هلې ځلې کړي د ي چې د ســـتا ینـــي وړ د ي.د د وی د نو ابیو په وخت کې ډیر جو ماتونه، مد رسې، کتابتو نو نه، پلونه، رو غتونونه او نور ډېر عام المنفعه کـــارونه تر سر ه شوي د ي.

# 22 اورمړ

د پښتني شجرو پر بنسټ اورمړ سړ بني پښتانه د ي چې د جنو بي و زیر ستان په کانیګروم، د پېښور په شـــا اوخوا او د افغانستان د لو ګر په و لایت کې مېشته د ي.د اورمړ اصلي نوم عمر د ین و چې وروسته د اورمړ پـــه نـــامه مشهور شوی د ی.(۱)پښتني توکم پو هانواورمړ د شر خبون زوی او د سړبن لمسی ګڼلی د ی.

د تاریخ حیات ا فغا ني مؤ لف ډپټي محمد حیات خان د اورمړو په اړوند د اسي لیکلي د ي:" جوته د ه چې د اور مړ پلار امر د ین د شر خبون له پنځو زامنو په جمله کې تر ټو لو کو چنی و.د ه یو زوی د رلود چې اورمړ نو مید ه او قبیله یې هم د د ه په نامه نو مول شوې د ه او تر اوسه هم په همد ې نامه سره یاد ېږي.د اسي ویل کیږي چې اورمـــړ شل زامن د ر لود ل او هر ځوی یې چې چیرته پید ا شوی د ی د هما غه ځا ی نوم یې پرې ایښی د ی او یوه منظو مـــه چې حضرت میا عمر څمکني(رح) ویلي نو په هغې کې هم اورمړ ته شل زامن منسوب شوي د ي، په د ې ډول: سنګتوی، منتوی، مشکور، شکتوی، زیق، مشوی، جلو یان، کانیګروم، حوان، کو نیخ، خصیران، رنګ، د لجا، ملانې، ســـید لنـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان، د و توي، سين، خليل و بورکي." [11]

نوموړي مؤرخ د د وی د استوګني سيمي موږ ته د اسي معر في کوي:" د اورمړو د استو ګني سېمه د سليمان د غره هغه برخه د ه چې اوس پکې د وزير واو مسيد و قبيلي استوګنه لري. د کا ڼيګروم ښار چې د وزيرو او مسيد و د بد ر په سيمه کې پروت د ی د اورمړو له خوا جوړ شوی د ی چې اوس هم د اورمړو پنځه ښا خونه په کا ڼيګروم کـــې په د ې ډول او سيږي: خيکني شپيته کوره، خرم چاني څلويښت کوره، ملا تا ڼي شپيته کوره، بيکسي د وه سوه کـــوره او جراڼې شل کوره چې ټول د ۳۸۰ يا ٤٠ کو رنيو تر مينځ په خپل پخوا ني ټاټوبي کې استوګنه لري. "[12]

د کانيګروم اورمړ په خپلو مينځو کې په اورمړي ژبې رغيږي چې بر ګستا، بورکي او بر کي يې هم بولي چې د پښتو ، هند ي او پارسي ژبي لغوي جوړښتونه پکې شته، خو هغو اورمړو چې خپله ژبه يې ساتلي د ه د د وی په ژبه کې له څېړنو د اسي معلوميږي چې په مشکله کيد ای شي هغه د پښتو ژبې يو د ايليکټ(لهجه) وګڼل شي ځکه چې د د غې ژبې فو نو لو جي، مور فو لوجي، سين تا کسيس، ليکسيالوجي او نور ې ژ بنی ځا نګړ تياوې د ا جو توي چې د د وی ژبه لرغوني او د ختيزو اريايي لهجو ځيني شميرله کيږي او د اريايي ژبو په کو رنۍ کې شا مله د ه.[13]

په اوسني وخت کې د اورمړو د استو ګني ځايونه د اد ي:

1. د جنوبي وزيرستان په کا ڼيګروم کې چې د ۱۹۹۲ زيږد يز کال د سر شميرنې له مخې يې شمير ۳۰۰۰ تنه ښود ل شوی د ی.

2. د پيښور د جنوب ختيز په لس کيلو متری کې د اورمړو د رې کلي شته چې د برو اورمړو، ښکتني اور مړو او منځني اور مړو په امه ياد يږي.

3. په جنوبي وزير ستان او پيښور سر بيره يو شمير اورمړ د پښتونخوا په کورمې ايجنسۍ، کهرک، اورکزيـــو ايجنسۍ او سوات کې هم ميشته د ي، خو په د غو ياد و شوو سيمو کې د وی شمير خورا لږ د ی.

4. د افغانستان د لو ګر په ولايت کې: د تاريخ حيات افغاني د مؤ لف ډيټي محمد حيات خان پـــه حـــواله د د وی يـــو شمير ٦٠ کلونه د مخه د وزيرو قبيلي د غلبې په وجه او هم د کاختۍ(قحطۍ) په سبب د جنو بي وزير ستان نه د لو ګر د برکي برک سيمي ته وليږد يد ل.د افغانستان د علو مو اکيډيمۍ د ژبو او اد بيا تو د انستيوت د غړي

11 حيات افغاني، پښتو ژباړه، ۱۸۰ مخ

12 پښتانه د تاريخ په رڼا کې، د سيد بهاد رشاه ظفر کاکا خيل ليکنه، ۱۲۸۳ مخ

13 د افغانستان ژبې او تو کمو نه، سر محقق د وست شينواری، ۱٦۸-۱٦۹ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بناغلي د کتو ر خلیل الله اورمړ په قول چې خپله هم یو ژبپوه د ی ماته یې په په ۱۳۶۹المریز کال کې د لو ګــــر د اورمړو په اړوند وویل چې د لوګر اورمړ د عبد الصمد خان، نورالله او تقي په کلیو کې استوګنه لري او په هغه وخت کې یې ما ته په نو موړي ولایت کې د اور مړو مجمو عي شمیر د ٤ـ او ٥ـ تنو تر مینځ و بنــــود، چــــې بنایي اوس به د د وی په شمیر کې ډیروالی راغلی وي.

5. د هند وستان د پنجاب ایا لت د جلند رهر په بنار کې هم ډیر لږ شمیر اورمړ شته.

اورمړ غیرتي، میلمه پالونکي او په ملګرتیا کې تکړه خلک د ي.

د روبناني غورځنګ بنسټ ایښود ونکی او د خیرالبیان او حالنا مې مؤ لف حضرت بایزید انصاري چې په پیر رو بنان علیه الر حمته ۱۵۲۵-۱۵۸۵زیږد یز مشهورو او د مغو لو پر خلاف یې د ویاړه ډکې مبا رزې کړې د ي اورمــــړ پښتون و.

د وزیر ستان په اور مړو کې د غه لاند یني اورمړ نا متو کسان د ي: جنرال وحید علي بورکی، سکند ر افضــــل خان د البورکي قو مي مو منټ مشر، ملک عبد الرؤف بورکی په کانیګروم کې د بورکي قوم مشر، ملک محمــد قریــب خان بو رکی او ستر جنرال فاروق احمد خان.

همد اراز د افغانستان د لو ګر د اورمړو له جملې نه بنا غلی د کتورخلیل الله اورمړ نه یا د ونه کوم چــې د افغــا نستا ن د علو مو اکډمی علمي غړی او محقق د ی چې په پښتو او اورمړي ژبو کې څیړ نې کوي.

# 23 بابړ

که چیري د بابړو د قبیلي د نسب شجره په غور سره وڅیړو، نو جو ته به شي چې د وی په اصل کې سړ بني پښتا نه او د شیر ا نیو د قبیلي یوه څا نګه د ه. د وی وروسته د شیړ انیو نه بیل شوي او او لاد ې یې ځا نته بیل نــــوم غوره کړی د ی او نن ورځ د یوې جلا قبیلې په تو ګه ژوند کوي.

د تاریخ حیات افغاني د شجرې پر بنسټ بابړ د ود م ځوی، د شیرانې لمسی، د شر خبون کړوسی او د ســــړبن کود ی د ی. همد اراز بابړ د انجر او سنجر په نامه د وه زامن د رلود ل چې سنجر بیا د مسعود خیلو، اسما عیل خیلــــو، ابراهیم خیلو، یعقوب خیلو او غو ریا خیلو په څا نګو با ند ې ویشل شوي د ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بابړو د استو ګنې اصلي ځای د سلیمان غر ګڼل شوی د ی چې وروسته د شمیر د ډېر والي او یا هم بنایــې د نورو عو املو له کبله له خپل اصلي ټا ټو بې نه خواره و اره شوي او په نورو ځا یو نو کې مېشته شوي وي.

ویل کیږي چې د بابړو د قبیلې خلک د پخوانی زمانو ر اهیسي د تجارت او سو د اګرۍ د کارونو سره ډیـــره لیوالتیا د رلود ه او د د ې قبیلې خلکو د هند وستان او د منځنۍ اسیا (بخارا او سمر قند )تـــر مینـــځ د بیلا بیلوســـود اګریزو مالونو لکه پو ستینونونو، اینجې او قیمتي وریښمینو ټو کرانو سو د اګري کوله او د ویــپــه خپلـــو ســـو د ا ګرېزو د ند و کې، ریښتوني، ایماند اره، حلیم او د ښه چلند خا وند ان وو، ان تر د ې چې انګریزي نا متو مـــؤرخ او د کابل د سلطنت بیان مؤلف مونټ ستوارټ الفنسټن هم د د ې خبرې سره موافق د ی چې د وی د سو د اګرۍ په چـــارو کې ډېر ماهر وو۔ همد اراز د وی په اقتصاد ي پلان جوړونې او حسابي چارو کې د ومره مهـــارت د رلـــود او پـــه د ې کارونو کې د ومره بر یالي وو چې د افغانستان د بنسټ ایښود ونکي لوی احمد شاه بابا په وخت کې نور محمد خان بابړ مستو في المما لک او ګل محمد خان بابړ ته د امین الملک(لوی خزانه د ار) مهمې د ند ې سپارل شوې وې۔

په او سني وخت کې بابړ په لاند نیو ځا یو نو کې مېشته د ي:

1. په کند هار کې: په کند هار کې بابړ د د غه ښار د بابړو په کوڅې، د پنجوایي په ولسوالۍ او د کند هار د ارغنـــد اب په سوزني نو مي سیمه کې ژوند کوي چې په د غه ولایت کې د بابړو مجمو عي شمیر د ۲۔زرو تنو په شـــا او خواکې ښود ل شوی د ی۔اروانباد سترعلا مه پو هاند رشاد بابا(۱۹۲۱-۲۔۵ میلاد ي) چېتــول پښتـــانهپـــرې ویاړي او پښتو ژبې، اد ب، تاریخ او فر هنګ ته یې د ستا ینې او قد ر وړ خد متو نه کړي د ي اوما د د ې مقالې لیکوال هم د هغوی د ارزښتناکو علمي لارښوونو نه ډیره ډېره ګټه او چته کړې د ه هم بابړ پښتون و چې د کند هار ښار د بابړو په کو څه کې یې د ې نړۍ ته ستر ګې پرانبستلې وې۔

2. په ننګر هار کې: د ننګر هار ولایت د جلال اباد ښار لوید یز خواته د بابړ یانو یوه لو یه محله شته چې د علـــي خیلو سره په ګا ونډ کې د ه۔

3. د جوزجان په ولایت کې: یو شمیر بابړ د جوزجان په بیلا بیلو ولسوالیو او د هغې جملې نه د خواجه د وکـــوه، اقچې، فیض اباد او خانقاه په ولسوالیو کې هم مېشته د ي۔ د شبر غان د ښار بابړ د د غه ښار په مرکـــز او همـــد اراز د د غه ښار ته څیرمه سیمو لکه شکرک، افغان تپه، شیر خیل، شوبې، خواجه د وکوه افغانیه اوتـــابین کـــې ژوند کوي۔ په اوسني وخت کې د جوزجان د بابړو نه یو تن ګو هر خان بابړ د جوزجان ولایت د فیض لبـــاد د ولسوالۍ ولسوال د ی۔

4. د فاریاب په ولایت کې: یو شمیر بابړ د فا ریاب ولایت د قیصار په ولسوالۍ کې هم میشته د ي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. د با د غیس په ولایت کې: بابړ د د غه ولایت د غورماچ او مرغاب په ولسوالیو کې استوګنه لري.

6. د بلخ په ولا یت کې: د بلخ په ولا یت کې مېشته بابړ د د غه ولایت د بلخ په ولسوالۍ کې استوګنه لري.

7. د کند ز په و لایت کې: یو شمیر با بړ د غه ولایت د د شت ارچي په ولسوالۍ کې هم مېشته د ي.

په پورتنیو ولایتو نو سر بیره یو شمیر بابړ په هیلمند، لوګر او کو نړ کې هم مېشته د ي، خـــو د هغـــوی د د قیق شمیر په اړوند زما سره کوم معلو مات نشته.

د اسي تاريخي شواهد شته چې د د وی ۵ـ کورنۍ کو چیاني او ۷ـکورنۍ نیمه کو چیاني ژوندلـــري چـــې د د وی د لیږد مسیر اولاره د هرات د هریرود نه نیولې د باد غیس، فاریاب، جوزجان، بلخ او کند ز پورې د ي چې دکـــال په بیلا بیلو مو سمونو کې په نو موړو ځا یو نو کې خپلې کیږد ۍ د روي او خپل مالونه او رمې په ورشوګـــانوکـــې څروي.

8. په سهیلي پښتونخواکې: د سهیلي پښتونخوا د مشهور لیکوال، مؤرخ او فولکلور پیژند ونکي پروفیسور سیال کاکړ په حواله یو شمیر بابړ په ژوب، کوټه او پښین کې هم مېشته د ي.

9. په پښتونخواکې: په پښتونخواکې د بابړو سیمه د میا خیلو سهیلي برخې ته پرته د ه چې لو ید یزلـــورتـهیـــې سختې غرنۍ سیمې پر تې د ي. اوس د وی د پښتونخوا د د یره اسماعیل خان په چو دهـــوان او د لمـــانکـــې مېشته د ي. اوس د امان د تانک په نامه یاد ېږي چې د د یره اسما عیل خان یو د سترکټ (ولســـوالي) د ه. همـــد اراز په سیهره نومي سیمه کې هم چیرې چې شیراني اوسي بابړ مېشته د ي. یو شمیر بابړ په پیښورکـــې هـــم استوګنه لري چې انګریزي ژبپوه میجر را ورټي په د امان یا اوسني تانک کې د د وی د مجمو عي شـــمير د ۷ــ کو رنیو په شا او خواکې ښود لی و چې ۷ــ تنه جنګیالي ځوانان یې د رلو د ل.

10. په سند کې: د پروفیسور سیال کاکړ د اثر پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخواکې پر بنسټ یو شـــمیر بـــابړ د پاکستان هیواد د سند ایالت په ګړهي یاسین، سلطان کوټ او شکار پور کې هم مېشته د ي.

11. په هند وستان کې: لکه چې د مخه ورته اشاره وشوه بابړ و د سو د اګرۍ په چارو کې ډیر مهارت د رلـــود او د هند او منځنۍ ایشیا تر مینځ یې د سو د اګرۍ چارې پر مخ بیولې، چې د د غو با بړو د جملې نه یو شمیر پـــه هند وستان کې مېشته شوي د ي چې د هند په مختلفو ایالتو نو لکه مهاراشټرا، اند هراپرد یش، مد هیا پراد یش او ګجرات کې مېشته د ي، خو له بد ه مر غه چې خپله خوږه پښتو یې له لاسه ورکړې د ه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخ حیات ا فغاني د بابړو د د ود او د ستور په اړوند لیکي:" هغه بابړ چې په افغانستان کې اوسي نو د ود ونه او رواجونه یې د هغو بابړو سره تو پیر لري چې د شیرانیو په ګا ونډ کې اوسي. هغه بابړ چې د شیرانیو په ګا ونډ کې اوسي نو د هغوی رواجونه کټ مټ د شیرانیو په څیر د ي." [14,15,16,17]

# 24 بابي (بابیاني)

زموږ پښت پو هان (نسب پیژند ونکي) د بابي یا با بیانو قبیله د پښتنود غر غښت د ټولنیز ګروپپورې تړي.

د پښتني شجرو له مخې بابي څلور زامن د رلود ل چې میرزی، سرو، عزرائیل او کتوزی‌نو مید ل چې میرزی په شلو خیلو، یحیی زیو او حید رزیو او کتوزي په یاسین زیو، اد ریس زیو او صایب زیو با ند ې ویشل شوي د ي. د تا ریخ حیات افغا ني په قول چې د مخزن افغاني نه یې روایت کړی د ی وایي چې بابي په پیل کې په خپلو څلورو زا منو با ند ې د څلورو سپیڅلو او مقر بو پر ښتو(ملائکو ) نومونه ایښي وو، چې نورو پښتنو هغه ملامت کړاو هغه هم د هغوی نو مو نه بد ل کړل، خو یوازې د عزرا ئیل نوم په خپل پخواني حالت تر او سه هم پاتي د ی.

بابیان په کند هار-کند ز، کلات نصیر خان او د سهیلي پښتونخوا په بورې، چمن او د کوئیټې په شا بو نو مي کلي کې مېشته د ي.د پاکستان د سند ه ایالت په مرکز کر اچۍ کې هم یو شمیر با بیان استوګنه لري. همد اراز د هند و ستان د ګجرات ایالت په جو ناګړه کې هم بابیان استوګنه لري او د 1747 میلاد ي کال نه تر 1948میلاد ي کا ل پوري با بیانو د جو ناګړه په سیمه کې یو پښتني ر یاست د رلود.

ډېټي حیات خان په خپل مشهور اثر تاریخ حیات افغاني کې چې په اردو ژبه کښل شوی او وروسته په انګریزي او بیا په کابل کې په پښتو تر جمه او چاپ شوی د ی د بابي پښتنو په اړوند د اسي لیکلي د ي:" بابیان په کند هار او کلات نصیر خان کې ډېر با همته سو د اګران د ي او د خپل غوره سلوک اونرم چال چلند په و جه د ښه ژو ند څښتنان او اکثره یې شتمن د ي.همد اراز د د غې قبیلې خلک په میړانه کې هم ښه شهرت لري".

د بابیانو د ستور کټ مټ نورو ګاونډي پښتني قبیلو ته ورته د ی.

---

14 مونټ سټوارټ الفتسټن، د کابل سلطنت بیان، د وهم ټوک، ۶۲ مخ

15 پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۱۲۷۶ مخ

16 تاریخ حیات افغاني، ۲۵۵ مخ

17 پښتو او پښتا نه په سهیلي پښتونخواکې، د پروفیسور سیال کا کړ تالیف

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روسي نا متو اتنو گر افر ستا نيشفسكي د اتنو گرا فيكو معلو ما تو پر بنسټ د شلمې پيړۍ په لو مړۍ نيمـا يي كې د بابيانو شمير په افغانستان او سهيلي پښتونخواكې ۸۵ زره تنه ښود ل شوې د ی.بابيان ډير ښه شا عران، ليكو الان او هنر مند ان لري.په او سني وخت كې لطيف جان بابی د پښتو خوږ ژبې سند ر غاړی د ی. د هند وستان د جو نا گړه د پچود د سيمي نواب او د هند ي، اردو او گجراتي ژبو مشهور شاعر عما د الد ين خان بابي چې په رسوا مظلـــوم سره هم متخلص و د روان ۲ـ۸ ميلاد ي كال د اپريل په ۲٤ نيټه يې له د ې فا ني نړۍ نه ستر گي پټې كړې. همــد اراز د هند د سينما فلمي اد اكاره پروين بابي ۱۹٤۹-۲ـ۵ ميلاد ي هم بابي پښتنه او د جو نا گړه د بابي پټانانو (پښتنو) پــه كــو رنۍ پوري يې اړه د ر لود ه.

# 24.1 د هند وستان د گجر ات ايالت د جونا گړه د سيمي بابي نوابان

د جو ناگړه سيمه چې د هند د گجرات په ايالت كې مو قعيت لري يوه تا ريخـي او پخــوانۍ ســيمه د ه چــې د سنسكرت په پخوانيو او زړو متو نو كې يې ذكر او يا د ونه شوې د ه.په د غه ښار كې ډيرې لر غو ني كلا گاني او تــا ريخي ود انۍ شته چې د معمارۍ د هنر له مخې د ډير اهميت وړ گڼل كيږي. پر د غــې ســيمې بلنــد يـ‌مــو ريــانو، سلونكيانو، مغولو، افغا نا نو او انگريزانو واكمني چلولې د ه، خو د لته زموږ د بحث مو ضوع هغه پښتا نه با بيان د ي چې پر د غه سيمه يې تقريبا ۲ـ كلونه واک د رلود. د پښتنو بابي نوا بانو د جملې نه لا ند يني نوابان د ر پيژنو. بليد وويل شي چې د غو بابي نو ابانو ته خانجي هم وايې، ځكه چې هند يان په مجموع كې افغانان او په تيره بيا پښتانه يا پټها نان ته خان صا حب او خا نجي هم وايي.

## 24.1.1 نواب بهاد رخان بابي

نواب بهاد رخان د صلابت خان زوې، د صفد ر خان لمسی او د جعفر خان كړ وسی د ی.ويل كيږي چــې د د وی كورنۍپه اصل كې له كند هاره د جو نا گړه سيمې ته تللي او هوري ميشته شوي د ي. نواب بهاد ر خان‌بــابــی د هنــد وستان د مغو لي واكمنۍ په وخت كې د پو هې او ميړ نتوب په وجه د د يوان خطاب تر لا سه كړ او د گجرات په ايـــالت كې د وې سيمې د ه ته د جا گير په تو گه ور كړل شوې.د ه همد اراز د ه د احمد اباد د حا كمانو سره هم ډيرې ښې اړيكي د ر لود ې، همد ا وجه وه چې د وی ورته د بيرم گام، بيجا پور او بار ها رچه سيمي د اجارې په تو گه ور كړې. نــــواب بهاد ر خان بابي د مهارا شتړا د پو نې د پيشوا سره هم د و ستانه اړيكې ټينگې كړې وې.او د پيشوا له خواهــم د هــتــه د سر بلند خان لقب ور كړل شوی و.

د نواب بهاد رخان بابي د نوابۍ په وخت كې يوبل بابي پښتون ته چې كمال الد ين خان بابی نو ميــد ــبــالاجي راؤ له خوا په گجرات كې د پيران پټن، بړنگر، بيس نگر، سمي، مينچور، تهراد، بيجا پور او كمرالو سيمي د جا گير په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تو گه ور کړل شوې.

په ۲۰۱۸ میلاد ي کال هغه وخت چې پیلاجي نومي د جو نا ګړه د نیو لو پریکړه وکړه، نو نواب بها د ر خان بـــا بي د خپلې پو هې او تد بیر په و جه د هغه سره سو له و کړه.نو موړی نواب په ۲۰۱۸ میلاد ي کال کې له د ې فانيـنـــړۍ نه ستر ګې پټې کړي.

## 24.1.2 نواب مها بت خان بابي

نواب مهابت خان د نواب بهاد ر خان زوی د ی او هغه وخت یې چې لا پلار نواب بهاد ر خان بابی ژوند ی و نو د ه ته یې د نوابۍ د ند ه او چارې ور سپارلې وې.د د ه د نوابۍ په وخت کې یو تن چې جګنات جهاله نو مید او یوه اند ازه پو ځې ځواک یې تر لاسه کړی و، د نواب مها بت خان په سیمه کې یې په لاس وهنو لاس پورې کړ، خو نواب مهابت خان نو موړی تنبیه او غو ړو نه یې ور تاو کړل، چې بیا وروسته جګنات نو می د پور بند ر سیمي ته وتبنــتید او د ا هغه وخت وچې ا نګر یزانو د اوړیسا سیمه د نواب سراج الد وله نه نیولې وه او ابد الي احمد شاه بابا د مر هټه وو د ځو اکو نو سره په جګړې بو خت و.

نواب مهابت خان په ۱۸۱۸ میلاد ي کال کې د یوه تن له خوا چې ځان یې مسلمان عرب ګا ڼه ونیول شو او د اوپـــر کو ټ په کلاکې بند ي شو، خو کله چې د نواب مهابت خان اکا، نواب کمال الد ین خان بابي له د ې پېښې خبر شو د پیران پټن له سیمې یې لښکرې راټولې کړې او پر مظفر خان باند ې چې د نواب مهابت خان پر ځاې ټاکل شوی و برید وکړ او نواب مهابت خان یې له بند ه و ژغوره او د نواب صاحب د خور خا وند شها مت خان بابي چې د شیخ میا یلاول سره بند ي و د د یوان جي په مر سته خو شي کړ.

نواب مهابت خان د خپلې نوابۍ په و خت کې ډیرې سیمې ونیولې چې د هغو د جملې نه د کو تیا نه تلاچـــه او د منګلور د کلاوو نیول د ي. همد اراز نواب مهابت خان هغه کسانو ته هم سزا ورکړه چې د مالیې د ور کو لو نه به یې سر غړ ونه کو له او د ها لار جهالا، اراود او د کچ د سیمو د خلکو شتمنۍ به یې لو ټولې. نواب مها بت خان د د یوان جي په مر سته د بابر پاواړ په نامه هغه لو ټمارې ډلې هم و ځپلې چې د نا ګهر، کا تهیاوار او لا ونګ پر سیمو یې بر یـــد ونـــه کول.

نواب مهابت خان بابي د منګلور پر سیمې له د ې کبله برید وکړ چې د پټېن د پر ګني خلکو د ه ته شکایت وکړ چې د سو ترا پالارا د سیمې جا ګیر د ار چاند پټني له لاسه پوزې ته راغلي د ي، نو هماغه و چې نواب مهابت خان امـــر وکړ چې د سو ترا پالارا کلا د ې فتحه شي او هما غه و چې د یوې میا شتې په تر څ کې یې نو موړې کلا ونیـــوله، خـــو چاند پټني په عذر او زاریو لاس پورې کړ، وروسته یې نو موړې کلا ور خوشې کړه او چاند پټني د ګورکهه مد هـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمې ته و تښتید.

تر دې سو بې وروسته نواب مهابت خان بابي د اولکه د وارکان د کلا د نیو لو هوډ وکــړ. د ا د اســي کلکــه، پیاوړې او پخه کلاوه چې تر اوسه پورې یې څوک په نیو لو نه و بر یالي شوي.نواب مهابت خان‌بــابي د غــه کلاپــه ډیرې میرانې ونیوله او هغه شتمني او لوټ شوي ما لو نه چې د ځینو لوټمارانو له خوا د عر بوپــه ســمند ریګــې او د مسقط په سواحلو کې د عر بو، سند هیانواو پر نګیانو نه لوټ شوي وو او په د ې کلا کې مو جو د وو د نواب صا حب لاس ته ورغلل.تر د غې سو بې ورو سته نواب مهابت خان په ۱۸۳۱ میلاد ي کال کې له د ې فاني نړۍ نه د تلـلـه‌پـاره ستر ګې پټې کړې. لنډه د ا چې د نواب مهابت خان د خپلې سپیڅلتیا او زړورتوب په وجه د ټو لو خلکو په زړونو کې ځای د رلود.

## 24.1.3 نواب حامد خان بابي

نواب حامد خان بابي د نواب مها بت خان ځوی و.کله چې یې پلار وفات شو نو د ی په جو ناګړه کې نه و او کله چې د خپل پلار له مړ ینې خبر شو نو ډیر ژر یې ځان جو نا ګړ ه ته را ورساوه.د د ه مور سبحان کنور نو میدلـــه او هغه وخت چې نو موړ ی د جو ناګړه د سیمې د نوبۍ پر ګد ۍ کښیناست نو ا ته کلن و. په د غه وخت کې یو شمیر جـــا ګیرد ارانو لکه عبد ل خان بابي او مختارخان با بي د بغا وت جنډې پو رته کړې، خو وروسته نواب حامد خان بابي پــر هغوی پر ید وکړ او د بفتهلي پر کلا یې چې قبضه کړې وه هغه یې بیر ته ځینې ونیو له. په د غه وخت کې د پو نــې د پیشوا یو تن صوبد ار چې امرت راؤ نو مید د مالیې د راټو لولو په پلمه د د وی پر سیمې یر غل وکړ، خو وروسته د د وی تر مینځ سوله وشوه او امرت راؤ احمد اباد ته لاړ خو په هما غه ځای کې د یوه عرب له لاسه ووژل شو.

تر هغه وروسته نواب حامد خان بابي د واګهر پر سیمې برید وکړ او د نسوه کلا یې ونیو له او د ډیرو سو غـــا تونو او غنیمتو نو سره جو نا ګړه ته ور ستون شو.همد اراز نو مو ړ ی د امریلي کلا هم ونیوله او جیو راجي سالم ته یې ما تې ور کړه او شیخ میا قا ضي نو مي چې د منګلور په سیمه کې یې د فساد اورونه بل کړي وو تــنــبیه‌کــړ، خــو وروسته نواب د هغه ټو لې ګناوې وبخښلې. همد اراز د نواب حا مد خان بابي د نوابۍ په وخت کې د یوړه، خا ګیسري، د لواړهاو د اد نه پیاوړې کلا ګانې هم فتحه شوې.

نواب حامد خان بابی یو پراخ نظره انسان و. د ه د ټولو مذ هبو نو پیروانو او لارویانو ته د رناوی‌کـا وه او د هند وانو د هو لي او د یوالي په جشنونو کې به یې ګډون کاوه.

د نواب حامد خان بابي او د د ه د مخا لفینو تر مینځ ډیرې جګړې وشوې چې په د غو جګړو کې نواب حامد خان بابي ډیرې سوبې کړي د ي چې د د غو سو بو په لړ کې د لا ند نیو کلا ګا نو نیول شا مل د ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوترا پاراه، کیسوج، مالیه او کو تیانه د کلاوو فتحه.

نواب حامد خان بابي په ۱۸٦۷ میلاد ي کال کې وفات شو.د ه ۳٦ کاله، د رې میا شتي او پنځه ورځې نوابي وکړه.د ی یو غریب پا لونکی او د ښو کړو وړو څښتن و. د سیمي خلک پرې ډیر ګران وو او تل به یې د هغوی مر ستې تـــه ور د انګل.

## 24.1.4 نواب بهاد ر خان بابی

نو موړی د نواب حامد خان بابي زوې واو په ۱۸۵۱ کال کې د کنور بائي له بطنه و زیږید.د ي اتلس کلنو چــې د جو ناګړه د سیمې د نوابۍ پر ګد ۍ کښیناست او د ا هغه وخت وچې انګر یزان د امر یلې او کو ړ ي نار ســیمې لانــد ې کړې وې.په ۱۸٦۹ میلاد ي کال کې په ګجرات کې کاختي راغله ځکه چې بارانونه نه وو اورید لي او ډیر خلک د لوږې له لاسه مړه شول.همد اراز په ۱۸۷۵ میلاد ي کال کې په ګجرات کې سخته زلزله وشوه چې ډیر خلک پکې سټ او تبا ه شول. له بلې خوا انګریزي پو ځونو خپل پر مختک ته اد ا مه ورکوله، څو په ۱۸۸٦ میلاد ي کال یې بیلسنـــومی انګریـــز د جونا ګړه د سیمې نا ظم وټاکه.

نواب بهاد ر خان بابي په ۱۸۹٦ میلاد ي کال کې د ٤۵ کلونو په عمر وفات شو.

تر نواب بهاد ر خان بابي وروسته نواب محمد رسول خان بابي ۱۸۹۲- ۱۹۱۱ او وروپسي نواب محمد محبـت خـــان ۱۹۱۱-۱۹۴۸ پورې د جو ناګړه د سیمي پښتانه نوابان وو، چې د هند تر خپلواکۍ وروسته ۱۹۴۷ م پورې د دغــېنـــوابۍ ټغر هم مخ په ټو لید و شو.

# 24.2 با رکزي

با رکزي په اصل کې سړ بني پښتانه او د د رانیو د زیرک په څا نګې پورې تړ لي د ي.بارکزي، اڅکـــزي،پـــو پلزي او الکوزي سره ټولې ورونه قبیلي د ي.بارکزي په نو رو ډیرو ښا خو نو او څا نګو ویشل شوي د ي چې په د ې ډول پیژ ند ل کیږي : باکل زي، ګورجي زي، خانچه زي، خواجک زي، ملک د ین زي، نسي زي، شـــیر زي، انګیـــزي، غیبي زي، نورالد ینزي، عبد الله زي، نصرت زي، مد ي زي، جنک زي، عمر خان زي، بیان زي، تاروزي، خونسي زي، اتما نزي، ولي زي، جمال زي، بورزي، خواجي زي، ابازي، این زي، شیخي زي، بایزي، سنجر زي، سلیمانزي، ســـوند رزي، موسي زي او محمد زي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حیات افغاني لیکوال ډېټې حیات خان د بارکزیو په اړوند د اسي کښلي د ي:"بارکزي د شمیر له مخيـتـرپـو پلزیو ډیر د ي او د وی د کند هار جنوب ته په ارغستان او د هیلمند د سیند ونو پر غا ړو پر وچ مید ان میشـته د ي. د بار کزیو هغه برخه چې کند هار ته نږد ې د ار غستان او هیلمند د سیند ونو پر غاړو میشته د ي د ښو ځمکو د د رلود لو په وجه په کر نې بو خت د ي، خو ځیني نور بې د وچ بیا بان په مینځ کې په ډیرې سختۍ او زحمت سره د کر کیلې په چارو بو خت د ي. د غه خلک ډیر زړور او جنګیا لي د ي.د وزیر فتح خان با رکزي له وخته د غه خلک ډیر مشهور شول، په تیره بیا کله چې امیر د وست محمد خان د کا بل د واکمنۍ پر ګد ۍ کښینا ست، نو د هغه په سـبب د د وی په شهرت کې نور هم ډیر والی تر ستر ګو شو." [18]

امیر د وست محمد خان په ۱۸۳۷ زیږ د یز کال کې په افغانستان کې د بارکزیو د واکمنۍ بنسټ کیښود چې تر هغه وروسته د بارکزیو قبیلي نه لاند یني واکمنان په قد رت کې پا تي شوي د ي: امیر شیر علي خان، امیر محمـد ا فضـل خان، امیر محمد یعقوب خان، امیر عبد الر حمن خان، امیر حبیب اله خان، امیر امان الله خان، محمد ناد رشاه، محمد ظـاهر شاه او د افغانستان د جمهوریت مؤ سس شهید محمد د اؤد خان، چې په مجموع کې بار کزیـو پـر افغانسـتان ۱٤۱کلونه واکمني چلو لې د ه.

په او سني وخت کې بارکزي په افغانستان کې په لا ند ې ډول مېشته د ي:

1. د کند هار په ولایت کې: د کند هار بارکزي د کند هار ولایت په مرکز، د د امان، شـاه ولـيکـوټ، ار غنـد اب، پنجوایي، ار غستان او معروف په ولسو الیو کې مېشته د ي او د ۱۳٦ـ کال د سر شمیرنې له مخې په د غه ولایت کې د د وی شمیر تر سلو زرو تنو لوړ د ی
2. د هیلمند په ولایت کې: په د غه ولایت کې با رکزي د هلمند په مرکز لشکرګـاه، دنـاد علـي، واشـیو،نـاوه بارکزایي، نو زاد او نهر سراج په ولسو الیو کې او سیږي او د ۱۳٦ـ لمر یز کال د سر شمیرنېلـه مخـې دبـا رکزیو مجمو عي شمیر ۱۸___ تنه ښو د ل شوی د ی.
3. د نیمروز په ولایت کې: د د غه ولایت با رکزي د نو موړي ولایت په مرکز زرنج، او د کنګ او چار بر جک په ولسوالیو کې ا و سیږي چې ټول شمیر یې د ۱۲___ تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی
4. د فراه په ولایت کې: با رکزي د د غه ولایت په مرکز او د با لا بلوک او ګلستان په ولسو الیو کې میشـته د ي. د فراه په و لایت کې د د وی مجمو عي شمیر د ۱۳___ تنو په شا او خو اکې ښو د ل شوي د ي.

18 حیات افغاني، ۱۵۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. د هرات په ولايت کې: بارکزي په هرات کې د د غه ولايت د انجيل، ګذرې، پښتون زر غون، ګلران، غو ريـــان، زند ه جان او اد سکن په ولسو اليو کې ميشته د ي چې د ۱۳٦ـ لمر يز کا ل د سر شميرنې له مخې د د وی مجمـــو عي شمير ٦۷ـــ تنه ښود ل شوي د ي.

6. د با د غيس په ولايت کې: د د غه ولايت با رکزي د مر غاب او غور ما چ په ولسو اليو کې ميشته د ي چې شمير يې د لسو زرو تنو په شا او خواکې ښو د ل شوي د ي.

## 24.3 بارکزي کو چيان

يو ډير شمير با رکزي په کو چيا نې ډول ژوند کوي. د وی د ليږد يد و او کو چ له پاره بيلا بيلې لارې لـــري د بيلګي په تو ګه يو شمير با رکزي کو چيان د د وبې په مو سم کې له خپلو رمو سره له هراته د غور د جنو بـــي څنـــډو پورې ځي او خپل ما لونه لکه پسو نه او وزې په د غو ورشو ګانو کې څر وي.د ويمه ډ له يې له با د غيس نـــه د غـــو رماچ په لاره د فارياب ولايت د قيصار او جلاير له لارې ځا نونه تير بند تر کستان ته رسوي.د د غو بارکز يو کو چيان د ختيز کند ز(نو اباد ) نه د بغلان د شت بای سقال، پورتني اند راب، او خوست او فر نګ ته ځا نونه رسوي، په د اسي حال کې چې بله ډله يې ځا نو نه د بد خشان د شت سيوه ته رسوي.بايد ووايو چې د افغانستان په شمالي ولايتونوکـــې د بارکزيو کو چيانو مجمو عي شمير ۲۲ـ٤ کو رنۍ ښو د ل شوی د ی.

با رکز يان غير تمن، ميړني، ميلمه پالو نکي خلک د ي. د علم او پو هې سره زياته مينه لري.په د وی‌کـــې‌کـــښ شمير عا لمان، ليکوال او شا عران تير شوي د ي او همد ا اوس هم شته. حنان بارکزی د پښتو ژبې مشهواو وتلی شـــاعر تير شوی د ی چې د با رکزيو له قبيلې سره يې تړاو د رلود.[19,20]

# 25 برېڅ

برېڅ د پښتنو يوه مشهوره قبيله د ه چې زموږ پښت پو هان (نسب پيژ ند ونکي) يې د ســـړبـــن دتـــولنيز ګروپ پورې تړي او په سړ بني پښتنو کې د ښر خبون په ښاخ ور ګد يږي.

د هند په کيمبريج تا ريخ (Cambridge History of India) کې د لر غو ني ار يا يي کتاب رګ ويد ا په حواله

---

19 پښتنې قبيلې ۳۸-۳۹مخو نه

20 Dictionary of Pathan Tribes-۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسي ليکل شوي د ي:" د لسو ملکا نو (وا کمنا نو ) جګړه د ويد ي زمانې مشهوره جګړه وه. په د ې جګړې کې لس اريا يې قبيلې ملګرې وې او د بها رتيه نو مې ار يا يي قبيلې د واکمن سو د اسه پر خلاف وجنګيد ل او په د غو لسو قبيلو کې يوه قبيله پکتهان نو ميد ه چې او سنی پکتون=پختون=پښتون=پټهان ځينې مراد د ی.

د د غه سو د اسه پلار يا نيکه(Devadasa) هم د خپلې قبيلې نا متو واکمن و.د ی د خپلې وا کمنۍ په ز ما نه کې له څو ار يا يي قبيلو سره جنګيد لی چې په هغو کې يوه(Brisaya)د ه."

افغا ني مؤ رخينو لکه ار وا ښاد استاد احمد علي کهزاد او ار وا ښاد علامه عبد الحی حبيبي د غه په ويد کې راغلې"بر يسيه" قبيله بړيڅ بولي.

## 25.1 د بړ يڅو د قبيلې خيلونه

بړ يڅ په لو مړي سر کې په د وو پلارو ويشل کيږي چې يو يې "اوتغ " او بل يې" اوسين" د ی. اوتغ په لا نـد نيو خيلو نو ويشل شو ي د ي: د اؤد زي، چو پا ن زي، مليزي، بد ل زي، ثا بت زي، شکرزي او بروکي زي. او سين هم په لا ند نيو خيلو نو ويشل شويد ي : با رکزي، زکو زي، مند و زي، سبازي او راوزي.

حا فظ الملک حافظ رحمت خان بړ يڅی چې په ۱۱۴۸ هجري قمري کال کې يې د هند وستان د اتهرا پـراديش د ايالت په رو هيل کهنډ کې خلا صته الانساب ليکلې د ی هلته د اسې وايي: " اوس بړ يڅي په خپل اصلي وطن ښـو راوک کې يوازې پر د غو خيلو نو ويشل شوي د ي: بد ل زي، زکو زي، مد ي زي. چو پا ن زي او مليزي د يوسفز يو سيمې ته را کو چيد لي او ز يا تره بيا له هغه ځا يه هند وستان ته تللي د ي.د د غو د وو(زيو ) خلک چې په ښو راوک کې پا تې د ي ځا نته خاني او د ځمکو ټا کلي جلا برخه لري. د شکر زيو، راوزيو او نورو(بارکزيو، سـبازيو، بروکـي زيـو ) شمير لږ وو.د وی هم په هغو د ر يو زيو کې مد غم شوي د ي.

د حا فظ ر حمت خان د غه ليکنه وروسته تر ۲۵۰ کلو نو هم اوس هم ربښتيا کيږي او د ښوراوک د کر نې ځمکې پر نو موړو د ريو زيو (بد ل زيو، زکو زيو.مند و زيو) با ند ې په د ې ډول ويشل شوي د ي:

1. د بد ل زيو برخه: د پښين خو اته له غل د رې نه تر باد وز يو پورې (د ښوراوک ختيځه سيمه).

2. د زکو زيو برخه:له پنج پايه د ريګ تر ولسوالۍ پورې.

3. د مند و زيو برخه: له کا ريزه نيولې د بلو ځانو تر بريد ه پورې (د ښوراوک لو يد يزه سيمه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لته د ا هم با يد و ويل شي چې د مند و زيو په برخه شير اني هم اوس شر يک شـــوي د ي او دبـــړ يڅـــو د ځلورم خيل په تو ګه پيژ ند ل کيږي. په خلا صته الا نساب کې بد ل زي پر د غو لا ند ې پنځو بنا خو نو با ند ې ويشـــل شوي د ي: سا لارزي، بيسين زي، اد وړي زي، ملا خيل او د ولت خيل.

حا فظ رحمت خان د اهم زيا توي: او ريد ل کيږي چې ملا خيل او د ولت خيل اوس په بنو راوک کې نه د ي،پــا تي د يو سفز يو سيمې ته راغلي او زيا تره يې بيا له هغه ځا يه هند وستان ته را لير د يد لي د ي. په خلا صته الا نســاب کې د ا هم راغلي د ي چې مند وزي او زکو زي هم د بد ل زيو په ځير پر څو پښو ويشلي د ي، خو د هغوی نو مو نـــه يې نه د ي راوړي.

## 25.2 د بړ يڅو ټا ټو بی

د بړ يڅو پخوانی ټا ټو بی د بست تا ريخي سيمه وه چې پښتانه يې کلا بس بولي چې اوس هم هلته بړيڅي يـــا بړ يڅان استوګنه لري، د فتح خان او رابيا د نکل قهرمان (پتي خان ) د کلا بس له بړ يڅو نه و. د تاريخ حيات افغاني‌پـــه قول د پتي خان پلار اسلام خان نو ميد ه [21]، پتي خا ن د کو مې خبرې په و جه له خپل پلاراو کو رنۍ نه خپه او خوا بد ی شو شواو د خپلو څو تنو ملګرو او د و ستانو سره چې د پښتنو په نکلو نو کې يې شمير شپيته بړ يڅي راغلي د ي د هند وستان خو اته لاړ.د ا هغه ز مانه وه چې پر هند وستان با ند ې مغولي واکمن نو رالد ين جها نګير واکمني د رلود ه.ويل کيږي چې پتي خان د خپلو زړورو ملګرو سره د سيالکوټ په سيمه کې د د غه مغو لي واکمن د پو ځو نو ســـره په ډيرې زړورتيا مقا بله وکړه چې د خپلو ټو لو ملګرو يا شپيتو بړ يڅوسره ووژل شو. خو ځر نګه چې د ی په مســا پرۍ او پر د يسۍ کې ووژل شو، نو ځکه په د غه کيسه کې له سوز او ګد ازه ډکې جملې راغلي د ي چې د امنظـــو مـــه کيسه د پښتنو په حجرو، محفلونو او مجلسو نو کې د ساز او سرود سره يو ځای ويله کيږي چې پښتانه‌يــې‌پــه ډيــر شوق او ذوق سره اوري.[22]

په د غه نکل کې د هلمند پر غاړو باند ې د بړ يڅو ګڼه اباد ي ښيي. کله چې په ۱۰۵۸هجري قمري کال پر کند هار با ند ې د ايران صفوي واکمن د ويم شاه عباس ۱۰۵۲-۱۰۷۷هجري.ق بريد وکړ نو پرد ل خان بړ يڅي د خپـــل قـــبيلوي لښکر سره د ايراني پو ځو نو په مقا بل کې پنځه پنځوس ورځې د کلا بس کلا بند ي وسا تله، د غه پيښه هـــم د اســـي ښيي چې تر يوولسمې هجري سد ۍ پورې لا د هلمند پر غاړو په تيره بيا په کلای بس کې ډير بړ يڅي ميشته وو او د کلا بس پر شا او خوا بړ يڅو خپله خا ني د ر لود ه او خان يې او رنګ خان نو ميد ه.

---

21 حيات افغاني، د ډيټي محمد حيات خان تاليف

22 د افغانستان جغر افيوي قا موس، ۱۳۳۸، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هلمند پر کینه غاړه باندې د ګر مسیر او سیستان تر مینځ په لنډي او پلالکه کې اوس د ړې سوه کوره بړیـــخ میشته د ي او د غه بړیځ د زکو زیو په ایسا زي پښتې پوړې اړه لري. لنډی او پلالکه د وې ویالې د ي چې بړ یځو پځپله کیند لي د ي. لنډی ویاله لو ید یزې او پلالکه ویاله ختیزې خو اته پرته د ه چې د د واړو تر مینځ تقر یبا لس کیلو متره وا ټن شته.لنډی او پلالکه له اد اري پلوه د هلمند ولایت د د یشو په ولسوالۍ پو رې اړه لري. د د غې ولسوالۍ خـــتیز لورته د ګر مسیر ولسوالي پر ته د ه.

د کند هار په ښار کې هم د بړ یځانو ځو کوره شته، مګر د د وی د استو ګنې تر ټولو لو یه سیمه ښوراوک د ی چې د لنډی او پلالکه ویالې یې شما ل لو ید یز ته پر تې د ي.

ډیټې حیات خان په حیات افغاني کې چې ۱۴۳ کلونه د مخه یې کښلی د ی لیکي چې اوس په ښوراوک کې تخمینا د ړې زره کوره بړ یځ استوګنه لري. د حیات افغا ني په د غه شمیر کې شیراني هم راځي. د ښوراوک د خلکو شـــمیر د " اتلس قر یه های افغانستان" په ۱۳۴۹ مخ کې لیکلي د ي تقریبا یوولس زره تنه د ي چې په د غو کې تقر یبا د وه زره تنه بړ یځان د ي او د هغې سر شمیر نې له مخې چې په ۱۳۵۳ لمریز کال په کا بل کې خپره شوې د ه د ښوراوک د بړ یځـــو شمیر پر ته له شیر انیو نهو زرو تنو ته رسیږي.

د (Dictionary of the pathan Tribes) په ۲۱. مخ کې لیکل شوي د ي"ځه بړیځي په کوټه، پښین او ځاګي کې او سیږي، د د غه قبیلې زیاتره خلک د افغانستان په ښو راوک کې میشته د ي."

د ولس مجلې د ۱۹۶۸ زیږد یز کال د اکتو بر په ګڼه کې عا بد کښلي د ي:" بړیځي د کو یټې ډویژن په شــراود نو مي ځای کې له عیسی خیلو سنټیا کا کړو سره میشته د ي او په کو یټه کې هم بړ یځ او سیږي."

د پټهان کتاب چې د انګرېزي مؤ رخ سر او لف کیرو له خوا لیکل شوی د ی په سلم مخ کې د اسې راغلي د ي:" د بړ یځو ځو کوره د کویټې د بو لان د حکو مت په ځا ګي کې هم شته او ځه بړ یځي په نو شکي کې هم اوسي. ځه اکازي، الیک زي او وسمي زي بړیځي (چې له نسبي لحا ظه په مند و زیو ور ګډ یږي) په بو لان کې له سنجر انیو بلو ځو سر ه میشته د ي او اوس یې خپله ژبه له لا سه ور کړې د ه. د د غو بړ یځو شمیر سلو مړو ته رسیږي.

ملک صالح محمد لهړي د بلو چستان نو مې کتاب په ۵۵ مخ کې لیکلي د ي:" په ۱۹۵۱ ع کال کله چې په بلو چســـتان کې د نفو سو سر شمیر نه وشوه د بلو چستان د بړ یځو شمیر ۴۹۶۵ تنه و و. "

په صولت افغاني کې چې د زرد ار خان ناغر تا لیف د ی راغلي د ي:" بړ یځ په هند و ستان کې هــم اوســي او د جهجرو پر ګنه د بړ یځا نو د ه. په ۱۸۵۷ کال کې چې هند وستانیان د انګر یزي ښکیلاکګرو نه د خپلواکۍ د تر لاسه کــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لو له پاره را پورته شول د جهجر به يخی رئيس هم د د غو غا ز يا نو ملګری و، انګريزانو چې بری وموند د غه بــــه يخی رئيس يې هم پر د ار و ځړاوه."

د جهجر پر ګنه د ډهلي او عليګړ تر مينځ پر ته د ه، په اد اري لحاظ د اتهراپرد يش ايا لت د ســـکند ر ابــادپـــه ډسترکټ (ولسوالۍ) پورې اړه لري.سکند ر اباد د هند پښتون واکمن سلطان سکند ر لود ي(٨٩٤-٩٢٣هجري قمري)تـــه منسوب د ی.

همد اراز بړيڅ د هند د اتهراپرد يش د ايالت د رو هيل کهنډ په ښا رونو کې هم شته په تيره بيا د بريلي سيمه د به يځو نه ډکه د ه.

د پټهان د کتاب په سلم مخ کې راغلي د ي چې د هند د مهارا شټرا په ايالت کې د بړوچ په نامه ښار هم به يڅوتـــه منسوب د ی.

## 25.3 ښوراوک

د ښوراوک سيمه د اوسني کند هار په جنوب لو يد يزه څنډه کې پر ته د ه چې ځا نته جلا ولسوالي د ه، د ريګ په نامه يوه علا قه د اري هم په د غې ولسوالۍ پو رې تړ لې د ه. د ښوراوک د سيمې شمال لويد يز ته ريګ(ريګستان) پروت د ی. د غه ريګستان په شمال کې د سپين بو لد ک تر حد ود و او په لو يد يز افغانستان کې د غر بي پو لې پورې غځيد لی د ی.لمر خاته خو اته يې د خو اجه عمران غر د ی چې له پښينه ښوراوک جلا کوي. د جنوبي ډډې غر ونه يې د بر اهوي بلو څو ټا ټو بی د ی چې په نو شکي پورې اړه لري. د ښوراوک څمکه ښوی ډاګ د ی اود د غه ډاګ په مينځ کې هيڅ غر نشته، ځمکه يې متينه د ه. د ښوراوک د پر اخوالي په اړوند د صو لت افغاني د تاريخ په ٣٤٧ مخ کې راغلـــي د ي:" ښوراوک نسبتا مربع شکله پروت د ی چې هره ضلعه يې شپيته ميله او بږد والی لري." [23]

د صو لت افغا ني د غه ليکنه د حيات افغاني د ١٥٣ مخ نقل د ی. د اتلس قر يه های افغانستانپـــه ١٣٤٩مــخکـــې د ښوراوک د ټو لې ولسوالۍ پراخوالی ٤٩٦٤ مر بع کيلو متره راغلی د ی، خو اروابناد قا ضي عطاؤالله خــان پـــه خپـل اثرچې د پښتنو تا ريخ نو ميږي د ښوراوک ټو له سيمه شپيته ميله ښو د لې د ه. د اروابناد قا ضي صاحب د غه ليکنه د اسې تو جيه کيد لای شي چې د ه يو ازې د ښوراوک اباد ه ځمکه شپيته مر بع ميله بللې وه چې د به يځو کر وند ې او ټا ټو بی د ی او د نوي او زاړه ښو راوک په نامه ياد ېږي.

---

23 صو لت افغاني، د زرد ار خان ناغر تاليف

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قاموس جغر افیایي افغانستان کې د ښوراوک کلي ۲۷ ښو د ل شوي د ي. په د غو کليو کې تر ټو لو لوی کلی د باد رزو د ی چې تقربيا ۱۲ ـ پکې اوسي. په زيا تره کليو کې د وه د رې کوره بر اهو يان هم شته چې نا رينه يې د کلي سا روانان او شپا نه د ي او ښځمنې يې کمبلې، جو الونه، خورجينونه او د ستر خو انونه اوبي.

## 25.4 کلي او کو رونه

د ښوراوک د بې يځو کور په يو ه ساد ه کو ډۍ(کو ډله) کې وي چې په بيضوي ښه د غزو له پنډو لښتو نه جوړه شوې د ه چې څلور پنځه د انې يې يو ځای په ځمکه کې له يوې خوا او بلې خوا د نيمې د ايرې په توګه سره اينجتې کړي وي چې پر سر يې کيږه ور اچوي.کيږه د غزو له لښتو ياغوړګو او کړ کو نه د ټغر په بڼه جوړ شوي وي چې د خو نو په پو ښښ کې يې پر تير انو اچوي. هغه کو ډۍ چې د ژمي له پاره وي پر کيږه سر بيره يې ا خيـروي. خو ني يې څلور د يوالونه لري او چت يې له يوه او بر د ه تير او د غزه له لښتو نه د اسې جوړ کړی د ی لکه عصري څاد ر پو ښه کو رونه. د غه خونې او کو ډلې يوه د بلې اړخ ته په بيضوي يا مستطيله بڼه يو لړ پر له پسې پر تې وي. پر شا وخوا با ند ې د ښاري ډوله کو رو نو په څير د يو الو نه لري او زياتره کو ډلې بې د روازې وي، د ا ځکه چې په بې يځو کې مخ پټې او غلا نشته.

## 25.5 کښت او کر

د ښوراوک د وبی ډير تود او ژمی يې معتد ل د ی. څه شمير تره کي او خروټي کو چيان د ژمي په مو سم کې ځا نو نه ښوراوک ته رسوي. د ښو راوک کښت په باران د ی، يوازې يو کا ريز ګی پکې شته چې پر هغه هم د وه د رې کوره اباد د ي او نورې بها ند ې او به نه لري.غنم، اوربشي او با جرې په للمي ډول کرل کيږي.څه للمي پا ليزونه هـم کري.

د ښو راوک د بې يځو سپين بريري وايي زموږ نيکه ګانو چې په ښو راوک کې واړول کښت يې په با ران و او له لوړې نه يې ځمکې نه خړو بيد لې.لوړه د يوه رود نوم د ی چې د تو بې له غره نه راوځي چې اوږد والی يـې ۲۵ـ ميله د ی، لوړه ژوره د ه او غاړو ته يې اوبه نه خيژي.

ستر ستانه حاجي محمد خيشکي د وی و هڅول چې وبالي وکاري او له لوړې نه اوبه خپلـوکـر ونـد وتـه و خيژوي.بې يځو د حا جي نيکه خبره ومنله، ليځې يې را ونغښتلې او لو ړې ته يې او مه بند ونه وا چول.د وی لويې ويا لې ځينې وکښلې.يوه وياله د بد ل زيواو زکو زيو وه او بله وياله د مند وزيو وه چې شير اني هم پکې شر يک شـول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له د غو ویالو نه یې بیا کو چنۍ ویا لې جلا کړې چې په د غو کې شپږ ویالې یوازې د مند و زیو د ي.

وروسته د اوبو د هغه بند په اغیزه چې د پښین په ملوزو کې لوړې ته واچول شو، د لوړې اوبه ښوراوک تــه ونه رسید ې او ښوراوک یې په یوه بې او بو میره بد له کړه.اوس د ښوراوک د خلکو کښت وکر د باران په او بو د ی. څه اوبه په اوښا نو له ځاه ګا نورا کا ږي. ځاه ګا نې یې شپیته اویا متره ژورې د ي. د ځاه ګانو او به یې تروې د ي،نــو ځکه د وی ناوران(ځلیرونه) هم لري. په نا ورانو کې د باران او به زیر مه کوي. د ځاه او ناور پــه اوبــو د ښــوراوک خلک خپلې اړتیاوي پوره کوي، ځیني یې اود سو نه تا زه کوي، لو ښي او کا لي پرې مینځي او څـا روي پــرې اوبــه کوي. د ځاه ګانو او نا ورونو او به د و مره نه د ي چې د کښت او کر له پاره ځیني کار وا خلي. د ښوراوک ځمکه ډیره د ه او اوبه یې لږې د ي، ځکه نو ځینو ځمکو ته د کر هڅې وار پس له څلورو پنځو کلو نو ور رسیږي، له د غه امله یې ځمکه خورا زوروره وي، ډیر حا صل ورکوي او سرې ته یې اړتیا نشته.

د ښوراوک ټول خلک په پښتو خبرې کوي او د خلکو په محا وره کې یې د ډیرو متلو نو د کارولو نه د اســـي ځر ګند یږي چې د فو لکلوري اد ب خزانه یې ډیره بډایه د ه.

د بړ یځو ډیر شمیر وګړي په هند وستان کې استوګنه لري او د ا هغه پښتا نه د ي چې د افغا نې فا تحینو ســـره هند ته تللي د ي اوس یې پاتي کسان ځا نونه هغو کسا نو ته منسوب ګڼي چې د هند وستان په تا ریخ کېـنـــوم او نښـــان لري.

یو له د غو کو رنیو نه د حا فظ الملک رحمت خان بړیځ کو رنۍ د ه چې په اصل کې د کند هـــار د ښـــوراوک و چې د هند وستان په رو هیل کهنډ کې حکمران و. حا فظ رحمت خان په هند کې د ابد الي احمد شاه د فتو حا تو او سو بو ملګری و او د د ه زامن او وریرونه د رو هیل کهنډ ډیر نا متو حکمرانان وو. پخپله حا فظ رحمت خان د افغا نـــي فـــر هنګ په بډاینه کې ډیره لو یه ونډه اخیستې وه او ځینې د اسي تا ریخي متون د د ه په پا ملرنه د ورکید و او هیرېـنـــه ژغورل شوي د ي چې هغه نن د سترو علمي اسناد و په جمله کې ډیر هسک ځای لري.

تواریخ حا فظ رحمت خاني چې پیر معظم شاه ته منسوب د ی، اصلي متن یې د حا فظ رحمت خان په سپا رښـــت لیکل شوی د ی او د ا یو د اسي غنیمت اثر د ی چې د پښتني اقوامو او قبایلو د لیږ د ید نو او نورو ټولنیزي او ســـیا سي منا سبا تو ډیرې خبرې په کې پر تې د ي.

د ۱۸۵۷ع کال په ډسمبر کې انګریزانو د ډیلي پر ښار یر غل وکړ. مغولي واکمن بها د ر شاه ظفر په ډ ار ســـره ځان انګر یز انو ته تسلیماوه، خو پښتون جنرال بخت خان هغه ته ډاډ ورکاوه چې د انګر یزانو مخه به ونیسي.جنـــرال بخت خان د انګریزانو په وړاند ې د و مره خنډونه را مینځ ته کړل چې د کشمیري د روازې او لال کلا تر مینځ واټـــن

(c) ketabton.com: The Digital Library



انگر يزان په پنځو ورځو کې وواهه.

د غه جنرال، پا چا د تسليميد و نه ونه شو گرځولای، نو کله چې پا چا تسليم شو، جنرال بخت خان له ډيلي نه لکهنو ته لاړ او له هغه ځا يه د هند وستان غر ونو ته وخوت او پسي ورک شو چې تر ننه يې بيا چا پته ونه مو ند له.

د ښوراوک خلک وايې کله چې د ډيورنډ کر ښه ټا کل کيد له نوا نگر يزانو په خپله نقشه کې ښوراوک د افغانستان نه ايستلی و، خو سمند رخان بړ يڅ د خپلو سپرو سره پر کو يټې بر يد وکړ او د و مره لوی خطر ونه يې انگر يز انو ته متو جه کړل چې هغوی په د ې را ضي شول چې ښو راوک د ډيورنډ د کر ښې افغاني خواته وټاکي.

بړيڅ قوي او پيا وړي خلک د ي. د وی د کار نه تر فا رغيد و وروسته بيلا بيل سپور ټو نه لري چې عمد ه سپو ر ټو نه يې غيبر د ه. د ميلو په ور ځو او ود ونو کې اتڼونه کوي او د بړ يڅو اتڼ ځا نته نوم لري. د وی په اتڼ کې ټو پکونه خو ځوي او کله چې اتڼ تود شي نو په همد ې ټو پکو ډزې کوي. د سپوږمۍ په څو ار لسمه شپه د سپو ږمۍ په رڼا کې ځو انې ښځې او پيغلې اتڼونه کوي او سند رې وايې. د وی د زوی زيږيد نه نيکمر غه بولي او په هغه کورنۍ کې چې زوی وزيږي خير اتو نه کوي او د هلک د نوم د ايښود لو پر وخت سند رې وايې او اتڼو نه کوي.

# 25.6 د بړيڅو نامتو مشاهير

1. شيخ بستان بړيڅ مړ ۱ـ۲ هجري کال چې بستان الا وليا د د ه تاليف د ی.

2. حا فظ الملک حا فظ ر حمت خان چې په ۱۱۴۸ هجري قمري کال يې په رو هيل کهنډ کې خلا صته الانساب ليکلی د ی او په هند وستان کې د پر نگيانو سر سخته د ښمن و.

3. جنرال بخت خان بړيڅ چې په هند کې د پر نگيانو پر خلا ف مبارزه کوله.

4. شيخ ثا بت بړيڅ

5. ملا فا ضل بړيڅ

6. فتح خان بړ يڅ

7. پرد ل خان بړ يڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



8. نو رخان بړيځ

9. محبت خان بړيځ

10. سمند ر خان بړيځ

همد اراز پو هاند د کتور نور احمد بړ يځ چې د افغانستان د عامې رو غتيا وزير وا و يو پوه او تجربه لرونکی متخصص او علمي شخصيت و هم د بړ يځو له قبيلې نه و۔

ماخوذونه د ه ([24]، [25]، [26]) نه۔

# 26 بنگښ

که چيرې د بنگښو پښتنو د نسب شجره په ژوره تو گه تر څيړ نې لا ند ې ونيسو، نوجو ته به شي چې بنگښ کرلاڼي پښتا نه د ي۔

تاريخ حيات افغاني د بنگښو د لو مړ ني استو گنځي په اړوند د اسي ليکي:" د د غې قبيلې لوی نيکه اسمعيل نو ميد ه چې د گر د يز د سيمې په زرمت(زرمله) کې او سيد ه۔ وروسته بيا د د غې قبيلې د غړو تر مينځ کو رنی جگړې پيل شوې چې په نتيجه کې د وی پر د وو گو ند ونو و ويشل شو ل چې يوه يې سمل او بله يې گاړه نو ميږي۔ هغـــه و خت چې په زرمت کې د د غې قبيلې د خلکو شمير مخ پر ډير يد و شو او له بلې خو ا يې د غلجي قبيلې زور او ځواک وليد نو تقر يبا ٦٥۔ کلونه د مخه يې د غه سيمه پر يښود له او وتلو ته اړ شول، چې وروسته بيا د وی په کورمې، پيواړ او شلوزان کې چې د سپين غره په سهيل کې مو قعيت لري خپله قبضه ټينگه کړه، خو د اورکزيو او د د وی تر مينـــځ خوا بد ي پيد اشوه په هغه وخت کې خټکو هم د بنگښو سره مر سته وکړه او تر يوې سختې جگړې ورو سته يـــې د او رکز يو لاس له کو ها ټه لنډ کړ او خپلې واگې يې ور با ند ې ټينگې کړې، څو په پای کې د بنگښو او او رکزيو تر مينځ سر حد وټا کل شو۔ ميد ان او هغه د ره چې اوس بنگښ پکې استو گن د ي د بنگښو او د شمال غر نيزه سيمه او رکـــز و

24 د پښتنو تاريخ، د قا ضي عطاؤالله خان تاليف، د کا بل چاپ

25 Cambridge History of India

26 اتلس قريه هاى افغانستان، د کابل چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورسيد ه." [27، 28، 29]

د تا ريخي رو ايتو نو سره سم د اورکزيو سيمې ته د د وی راتګ په کال ۱۳۹۸ ع کال کې تر سره شــــوی د ی، چې بيا ورو سته يې د کو هاټ سيمه يې هم له هغو نه ونيوله. د يوه افسانوي ر وايت له مخې د د وی‌تــــر مينــــځ د غــه شخړه د د ای په نامه يوه تن اواره کړه. په د ې تو ګه چې يو ځل د بنګښو او اورکزيو ملکان د سيمو د ويش له پاره په د ر سمند نو مي ځای کې سره را غو نډ شوي وو او هرې يوې خوا غو ښتل چې زر خيزې سيمې تر لا سه کړي. له همد ې کبله د د وی تر مينځ سوله ونه شوه او نږ د ې و چې د د وی تر مينځ بيا جګړه ونښلي. په د غه وخت کې د د ای پـــه نامه يو سپور سړی له ليرې را ښکاره شو. ځر نګه چې د واړه قبيلي يعني او رکزي او بنګښ له شخړو او لا نجو نه په تنګ شوي وو، نو د وی په د غې خبرې سره اتفاق وکړ که چيرې د غه سپور راشي، نو د وی به ورتــــه د بنګښـــو او اورکزيو د قبيلو تر مينځ د ځمکو او سيمو د ويش سؤ ال مطرح کړي او هر هغه نظر چې د ای ورکړ د واړه خــــو اوې به يې مني. په د غه وخت کې د ای نو می سپور را ور سيد او د واړو غا ړو د د غې شخړې د اوار ولو په ســــرلــــه د ه سره خبرې وکړې، د ای په د اسې حال کې چې پر اس سپور و په پښتو ژبه يې د اسي وويل چې :

د ای خو د اسي وايي

چې سمه د بنګښ، غر د او رکزي

ويل کيږي چې له هما غې ور ځې د د ای ويش عملي شو چې تر او سه پو رې د چلند وړ د ی.[30]

## 26.1 د بنګښنو خيلونه

بنګښ په ډيرو خيلو نو ويشل شوي د ي چې د غه خيلو نه په لا ند ې ډول د ي:ميران زي، بايزي، ســــمل زي، باد ه خيل(بډه خيل)، حسن زي، عمر خيل، ايلم خيل، حسن خيل، لنډي خيل، مياوي، کا غذي، کمال خيل، مند و خيــــل، د اؤد خيل، شاد ي خيل، د ود ا خيل، او د اخيل، يو سف خيل، خا خيل، مير ا حمد خيل، علي شير زي، عليزي، خد ي زي، ورد ي خيل، ستوري زي، خواجه ا حمد خيل، بر ستوري زي، کوز ستوري زي، موزو خيل، نسيو خيل، تاتا خيل، کله سور خيل، وانک زي، لابي خيل، ازي خيل، شا هو خيل، لو د ي خيل، شني خيل، ګل خان خيل، عزت خيل، د ولت خيل، ګل شاه خيل، متو خيل، فتح خيل بلند خيل، لغماني، جمشيد ي او نور...

27 حيات افغا ني، پښتو ژباړه، ۴۵۷، ۴۵۶، ۴۵۸ او ۷۴۳ مخونه، د پيښور چاپ

28 د پښتنو تا ريخ، لو مړی ټوک، د قا ضی عطاؤالله خان اثر، ۳۹ مخ، د کابل چاپ ۱۳۵۶

29 پښتو نستان، عبد الرؤف بينوا، ۲۷ مخ، ۱۳۳. کال، کابل

30 Selection from the poetry of the Afghan from the 16 to 19 century, by Henry George Raverty, 2008

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 26.2 د بګښنو د سیمې مو قعیت

بنګښ په کو هاټ او هم په کو رمې ایجنسۍ کې استوګنه لري.

د بنګښنو سیمه د د رې په بنه د ه چې د ختیز نه لو ید یځ ته د غرو نو تر مینځ پر ته د ه چــې لمــر خــاته او جنوب ختیز ته یې خټک، جنوب ته یې وزیر او لو ید یز ته یې تو رې او سیرې.د د وی مید اني یــا اواره ســـیمه زر خیزه او بډایه د ه چې ورته کوز بنګښ وایي او غر نۍ سیمه یې د بر بنګښ په نامه یاد یږي.

## 26.3 د بنګښنو د استو ګنې سیمې او ځا یو نه

بنګښ په کو هاټ، هنګو، ټل، کو رمې، پیواړ، شلوزان او پا ړه چنار کې استوګنه لري. هغه بنګښ چې پــه کـــو رمې ایجنسۍ کې او سیږي، نو د د وی سیمه د پیواړ او پاړه چنار په نامه یاد یږي. همد اراز بلند خیل، یو سف خیل او خا خیل بنګښ د ټل ښار ته نږد ې د وزیرو په ګا ونډ کې ا ستو ګنه لري. میر احمد خیل او علیشیر زي په هنګـــو او د هغه په شا او خواکې استوګنه لري.

د بنګښنو د مشهورو ځا یو نو او کلیو نو مو نه په د ې ډول د ي: نرۍ اوبه، ټل، د رسمند، هنګو، اوســـترزي، کسا ئي، تر غه، توره وړۍ، کڅ او مد خوزه.

په پو ر تنیو سیمو بر سیره ډیر شمیر بنګښ په پیښور، کر ا چۍ او اسلا م اباد کې هم میشته د ي.

باید وویل شي چې د د وی پر سیمه تل بهر نیو یر غلګرو لکه مغولي تیمور، بابر، سکهانو او انګر یز انو بـــر ید ونه کړید ي، خو د د ې ځای غیر تي خلکو ور ته په میړاني غا ښ ما توونکي ځو ابونه ور کړي د ي.

## 26.4 په هند وستان کې میشته بنګښ

### 26.4.1 نواب غضنفر جنګ محمد خا ن بنګښ

بنګښنو د هند د اتهرا پر اد یش د ایا لت په فرخ اباد کې د پښتنو یو ځا نګړی ریاست د رلود، چې بنسټ ا یښــو د ونکی یې نواب غضنفر جنګ محمد خا ن بنګښ و. د ه په پیل کې د ډیلي په شا هي پو ځ کې یوه کو چنۍ پو ځي د ند ه د رلود ه، خو د شهزاد ه فرخ سیر په ملا تړ یې یو زریز منصب تر لا سه کړ، چې د خپلې پو هې او زړورتیا په وجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په کراره کراره اووه زريز منصب تر لا سه کړ چې په پای کې د ۵۲ زريز منصب خاوند او د هند و ستان په خلکـــو کې يې په (باون هزاري) سره مشهور شو.

کله چې ايراني نا د ر شاه د هند وستان نه بير ته خپل هيواد ته ستنيد ه، نو يو شمير يو سفزي پښتانه ور سره بند يان وو، خو نواب غضنفر جنګ محمد خان بنګښ د خپلو پښتنو ورو نهو د ژغو رنې او خلا صون له پاره ايراني نا د ر شاه ته د رې لکه رو پۍ ور وليږ لې چې نو موړي يو سفزي خو شي کړي چې همد اسې هم وشول. نواب صا حـــب ډير با تد بيره، زړور او ښه اد اره چي و چې د د ه تر واکمنۍ لا ند ې خلک ور نه ډير خو شا له وو. د د ه تر مړ ينـــې وروسته يې زوی قا يم الد وله قا يم جنګ نواب قا يم خان د فر خ اباد د سيمې نواب شو. (31)

## 26.4.2 نواب قا يم خان قا يم الد وله قا يم جنګ

نو موړی د ډيلي د واکمن له خوا د فرخ اباد د سيمې د نو ابۍ پر مسند و ټا کل شـــو، خـــو وروســـته د نـــواب منصور علي خان صفد ر جنګ له خوا ووژل شو. نو موړي نواب د فر خ اباد د سيمې واګې په لاس کـــې و نيـــولې او خپل نا ئب رای نول ته يې د فر خ اباد سيمه وروسپا رله. په د غه و خت کې د نواب قا ئم خان مور خپل بل زوی نـــواب احمد خان چې د خپل ورور نه خپه شوی او په ډ هلي کې او سيد ه ور و غو ښت او نو موړې د مئو او نورو سيمو د ر ئيسا نو په ملا تړ رای نول وواژه او کله چې نواب صفد ر جنګ د ر ای نو ل له و ژلو خبر شو، نو د جګړې له پاره ور د مخه شو، خو نواب قا يم جنګ بنګښ هغه ته ما تې ور کړه. نواب صفد ر جنګ مجبور شو چې د بهر تېپور د واکمن را جا سورج مل نه مر سته و غواړي او هغه هم په د ې شر ط چې نو موړي ته به د ورځې ۳۵ زره رو پۍ ورکوي، ځو په فر خ اباد بر يد و کړي، خو په پای کې مر هټه وو د د وی تر مينځ سو له وکړه.

## 26.4.3 نواب تفضل حسين خان بنګښ

د نواب ا حمد خان تر مړ يني ورو سته نواب تفضل حسين خان د فر خ اباد د سيمي نواب شـــو، خـــو پـــه ۱۸۵۷ عيسوي کال کې هغه و خت چې د هند وستان ازاد ي غو ښتو نکو د انګريزي ير غلګرو پر خلاف عمو مي پا څون وکړ، نو پر نګيان د نواب تفضل حسين خان نه خپه شول. انګر يزانو د فرخ اباد ريا ست ضبط او نواب تفضل حســين خـــان بنګښ يې د خپل ريا ست او نو ابۍ نه بيو اکه کړ او مکې معظمې ته يې تبعيد کړ چې بيا هوري وفات شو.

31 د ميزان جريد ه، په هند کې افغا ني النسله نو ابان او د هغوی د واکمنۍ سيمې او ريا ستو نه، د ۲_۱ کال د جنوری مياشتې ۶۷ ګڼـــه، د هنـــد چاپ. چې په هغې کې په هند و ستان کې د افغا ني قبيلو او د د وی د رياستونو او نو ابيو په اړوند زما له خوا معلو مات چمتو شـــوي وو او په پر له پسي ګڼو کې راغلي د ي

(c) ketabton.com: The Digital Library



علا مه رشا د بابا د حیات افغاني د پیښور چاپ په ۷۴۳ مخ کې د فرخ اباد د نوابانو په اړوند د اسي لیکلي د ي:"په شمالي هند وستان کې تر ټولولوی او مشهور سیند ګنګا د ی. د د غه سیند په لو ید یځه غاړه با ند ې د فرخ اباد نوابي واقع د ه. د فرخ اباد ښار په ۱۱۵۳هجري قمري کال غضنفر جنګ محمد خان بنګښ (مړ ۱۱۵٦ )هجري قمري کال ود ان کړ او د وخت پا چا فرخ سیر (۱۱۲٤-۱۱۳۱هجري قمري) په نسبت یې فرخ اباد نوم پرې کیښود . د فرخ اباد د نوابۍ لومړی نواب غضنفر جنګ محمد خا ن بنګښ واو په ۱۱۲٦ هجري قمري کال یې د د غې نوابۍ بنسټ ایښی د ی.د ې نوابۍ تر ۱۲۷٤ هجري قمري کال پورې پا یښت وکړاو وروستی نواب یې تفضل حسین خان وچې د هند و ستان د ازاد ۍ په پا څون (۱۸۵۷ عیسوي) کې د لاس لر لو په تور پر نګیا نو حجاز ته فرار کړ او هلته په ۱۲۸۸ هجري قمري کال مړ شو. نواب غضنفر جنګ محمد خان، د هغه زامن نواب قا یم خان او نواب احمد خان د د غې کو رنۍ مشهوره نوابان تیر شوي د ي.

نواب احمد خان د پاني پت په مشهوره غزاکې ګډون د رلود او د لوی احمد شاه بابا له ټینګو ملګرو نه و.نواب احمد خان چې په ۱۱۸۵ هجري قمري کال کې مړ شو پر ځای یې زوی مظفر جنګ د لیر همت خان د فرخ اباد نواب شو، شپږ ویشت کا له یې نو ابي وکړه او ۱۲۱۱ هجري کال مړ شو.

د ۱۸۵۷ ع کال پا څون چې د هند وستان د ازاد ۍ له پاره نا کام شو، د د غې بنګښې کو رنۍ څو تنه په د غه پا څون کې د لاس لر لو په جرم پر نګیا نو په د ار و ځړول."

په فرخ اباد سر بیره په قایم جنګ، شاه جهانپور او په ډهلي کې هم بنګښ او سیږي. په ډهلي کې د بنګښو محله مشهوره د ه.

همد اراز یو شمیر بنګښ د ایران په ما زند ران او خر اسان په ایا لت کې هم میشته د ي.

یو زیا ت شمیر بنګښ په سعود ي عر بستان، کو یټ او د خلیج په عر بي هیواد ونو لکه د وبۍ، قطر، ابو ظبي، عمان، مسقط او شا ر جه کې هم استوګنه لري چې اکثره یي په ټکسي چلولو او نورو خواریو او غر یبیو بو خت د ي.

## 26.5 د بنګښو نا متو شخصیتونه:

د بنګښو قبیله په خپله غیږ کې ډیر پو هان، سیاسي مشران، نوابان، لیکوالان، شا عران او هنر مند ان روزلي د ي چې د ځینو نومو نه یې د اد ي :نواب غضنفرجنګ محمد خان بنګښ، قایم ا لد وله قا یم جنګ نواب قایم خان بنګښ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نواب تفضل حسین خان، نواب احمد خان، مظفر جنګ د لیر همت خان او نا صر جنګ امد اد حسین خان چې د هند د اترپراد یش د فرخ اباد د سیمې بنګښ نوا بان وو.

د اورنګزیب عالمګیر د زماني مشهور پښتو شا عرخواجه محمد هم د بنګښ په قبیلي پورې اړه د رلو د ه.

په سیا سي مشرانو کې د مزد ور کسان پار ټۍ مشر افضل بنګښ چې په پښتونخواکې یې د مـزد ورانـو او خواریکښانو د حقو قو له پاره مبارزې کړي د ي هم بنګښ پښتون و.

د هند د مو سیقي ستر استاد ښا غلی امجد علي خان چې د سرو د استاد د ی او د هغه زامن ښا غلي امان او عیان هم بنګښ پښتا نه د ي.

په د وبی کې د بنګښ پرا پر ټیز چیر مین ښا غلی عبد النبي بنګښ چې د پښتو ژبې او پښتنو سره ډیره مینه لري او په د وبی کې پښتانه پرې را ټول د ي او په د رنه ستر ګه ور ته ګوري هم پښتون بنګښ د ي.

## 26.6 د بنګښو مجمو عي شمیر

حیات افغاني ۱٤۱ کلونه و ړاند ې د بنګښو مجمو عي شمیر ۱۸ زره کور ه ښو د لی د ي.

خو هغه ورو ستۍ سر شمیرنې چې په د غه سیمه کې شوي د ي په مجمو عي تو ګه د ټو لو بنګښو شمیر که هغه په کور مه ایجنسۍ کې اوسي او که په کو هاټ کې د ۳. زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شوي د ي.

# 27 بنوڅی

زموږ پښت پو هان (نسب پیژند ونکي) بنو څي د پښتنو د کرلاڼي ټولنیز ې ډلې نه شمیري. د تـا ریخـي رو ایتو نو له مخې د بنو څیو لوی نیکه شاه فر ید نو مید چې ورو سته په شیتک مشهو ر شو. د شیتک مور ککۍ نو مید ه چې د د ه د زیږ ید و په وخت کې په لنګوال مړه شوه. پلار یې پر د ه با ند ې د شاه فر ید نوم کیښود. د اسي روایتونه هم مو جود د ي چې شیتک د رې میر منې د ر لود ې، چې د لو مړۍ میر منې نه یې چې با نو نو مید ه د وه زامن چې کیوي او سو راڼي نو مید ل و زیږید ل چې د د وی د مور د نوم له کبله د وی ته با نوزي یا بنو زي ویل کید ل چـې د بنو د سیمي پښتانه یې بنو څي بولي او د بنو د سیمي د تسمیې وجه همد ا میر من د ه. د بلې میر منې او لا د ه یې تنې او د وړ د ي. د د ریمې میر من او لاد ه یې جیلم او هوید وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېټي محمد حيات خان په خپل مشهور اثر تاريخ حيات افغاني کې چې د د ه له خوا ۱۴۱ کلونه وړانـــد ې پـــه اردو ژبه کښل شوی و او بيا ورو سته په انگر يزي او پښتو ژبو ژبا ړل شوی د ی د د وی د پخو انۍ سيمي او د بنو سيمې ته د بنو ځيو د راتلو په اړوند د اسي ليکلي د ي:" د بنو ځيو د استو گني اصلي ځای د سليمان د غره يوه لړۍ يعنـــي د شوال غر و او د بنو ځيو تر راتگ د مخه په بنو کې د هني او منگلو قبيلي ميشته وې، چې بيا ورو سته د د غو قـــبيلو پير شيخ شاه محمد رو حاني(رح) د د وی نه له د ې کبله خپه شو چې د غلو د انو عشر يا لسمه برخه يې چې هغه ته ور کو له ور باند ې بند ه کړه، چې له هما غه و خته نو موړي پير د شيتک له او لاد ې نه د کيوي او سوراڼي اولاد ه د خپل زوی شاه نيکبين سره يو ځای د شوال د غره نه د ې سيمي ته راو ليږل او اجازه يې ورکړه چې د وی بليـــد د هنـــي او منگلو قبيلي له د ې ځايه وباسي او د غه سيمه چې د بنو ځيو تر راتلو د مخه په ډنډ با ند ې مشهوره وه په خپـــل واک کې راولي. ځر نگه چې د شيتک اولاد ه د شوال په غره کې د وزيرو قبيلې د زور زياتي په وجه په تنگ شوي وو، نو د نو موړي پير د غه خبره يې غنيمت و گڼله او د غې سيمې ته يې ډله ايزه ليږ د يد نه پيل کړه چې لو مړی د تو چـــي سين سهيل او د گبر غره په شمالي لمنې ورغړ کې ميشته شول. بنو ځيو د خپل پير د زوی شاه نيکبين په غو ښـــتنه د رې کو ترې راوړې. د يوې کو ترې نه يې هيڅ ښکې ونه ايستلي، د د ويمې کو ترې نيما يې ښکې او د د ريمـــې کـــو ترې ټو لې ښې يې وايستلې او د رې واړه کو ترې يې د خپل يوه استازي په لاس د هني او منگلو قبيلو ته واستولې او د ا پيغام يې ور وليږه که چيرې هر هغه ځوک چې خپل مالونه له ځا نه سره واخلي او له د ې ځايه و ليږد ي نو د وی به د هغې کو ترې په شان په امن کې وي چې ښکې يې نه د ي ايستل شوي او د وی ته به هيڅ ډول ځا ني او مالي زيـــان ور ونه رسيږي او هغه خلک چې په د ې کار کې ځنډ وکړي نود د وی سره به د هغې کو ترې په ځير چلند وشي چې نيمـــا يي ښې يې ايستل شوي وي يعني د وی ته به ځا ني او ما لي تا وانونه ور ورسيږي او پښيما نه به شي او هغه ځوک چې نه ځي مور به هغه د خپل پير په بر کت د هغې بې ښکو کو ترې په ځير لوځ کړو.کله چې هني او منگلو قـــبيلو د کـــو ترو د غه حال وليد او نو موړی پيغام يې واوريد ه نو په خپلو مينځو کې يې سره سلا او مشوره وکړه چې که چيرې له د وی سره جگړه وکړي نو د بر باليتوب هيله نشته. همد اراز د وی د خپلې بې اتفا قۍ او د خپل پير د خپگان په وجـــه خو اشيني وو. له بلې خوا بنو ځيو د د وی کرنې او زراعت ته تا وانونه رسول، چې په پای کې هني او منگـــل قـــبيلې مجبوره شوې چې خپله سيمه پر يږد ي. د هني يو شمير خلک د هند وستان خو اته وليږ د يد ل او لږ شـــمير د منگلـــو سره د سپن غره په سهيلي برخه کې ميشته شول او په د ې تو گه بنو ځيو پر د غې سيمې خپله واک ټينگ کـــړ او پـــه بشپړه تو گه يې د غه سيمه په خپله ولکه کې راوسته. که څه هم د بنو ځيو له خوا د د غې سيمې د نيو لو نيټـــه نـــه د ه معلومه، خو د وی د شيخ شا ه محمد روحاني(رح) په وخت کې چې د شاه رکن عالم همعصره او مريـــد و د لتـــه ميشـــته شوي د ي او شا ه رکن عالم د ۸۸ کلو نو په عمر په(۷۰۵لمريز) کال له د ې نړۍ نه ستر گې پټې کړي د ي."

خو علامه استاد رشاد (رح) د حيات افغا ني د پښتو ژباړې، پيښور په ۵۱. مخ په پايليک(پاورقي)کې د شيخ رکن ا لعالم په باب د اسي کښلي د ي:" شيخ رکن العا لم د شيخ صد رالد ين عارف زوی او د شيخ بهاؤ الد ين زکر يا ملتا ني سهر ورد ي لمسی د ی، د د ه د مړ ينې کال په مقا ما ت ار شا د يه (۸۵) مخ کې، د خز ينته الا صفياپه ۲/۵۱ مخ، د او ليا ملتان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۸ مخ او د اولیا هند و پاکستان په ۳۱۳ مخ کې ۷۳۵ هجري قمري لیکل شوي د ي."

# 27.1 د بنو ځیو تر مینځ په خپلو کې د سیمو ویش

د هني او منګلو تر وتلو وروسته د غو خلکو د خپل پیر پر لار ښوونه د بنو سیمه په خپلو مینځو کې په د ې ډول سره وویشله چې د کیوي د مشر ځوی او لا د ې ته یې سهیلي برخه، چې اوس په میر ي مشهوره د ه د ککـــي تــر ختیزو بر خو پورې چې په هغه وخت کې ز یا ته ابا د ه وه ورکړه. د کیوي د ویم زوی سمي ته یې په مینځ کې تر نا ر پورې ځمکې او د سو رانړې او لاد ې ته د کو رمې د رود شمال ته تهل پورې سیمې ور کړل شوې.

په هغه وخت کې د سو را نړیو برخه ځمکه زیا تره په ځنګلو نو پټه وه، خو اوس ډېره ښه او لو ـــړې د رجـــه ځمکه د ه.

د میري د اولاد ې برخه (شمال) ته: د با رکزیو د واړه تپې، د نورړ تپه، د مه خیل تپه او د ککي او بهر تهـــه د واړه تپې

د سو را نړي د او لاد ې برخه (شمال او لو ید یز): د مند ا خیلو تپه چې په با زید هم مشهوره د ه. ولاد ین تپه چې په د هر مه خیل هم مشهوره د ه. د کو ټي تپه چې په حسین هم مشهوره د ه. د ولا خیلو تپه چې په خلعت هم مشهوره د ه.

د سمي د او لاد ې برخه (منځنۍ): د تپي د واړه تپې اود عیسکي او فا طمه خیلو تپې. همد اراز د سمي او لا د ې ته د د اؤد شاه، شمن خیلو او امند ي تپي په جهیز کې ورکړل شوي د ي.

# 27.2 د بنو په سیمه کې د پخو انیو او سید و نکو په اړوند لنډ معلو مات

د تا ریخي معتبرو منا بعو په حواله په پخوا نیو ز ما نو کې د لته د هند وان او یو نا نیا ن او سید ل، چې د پـــو رتنیو خبرو ثبوت د هغو زړو او لر غو نو سکو او ود انیو نه ښکاري چې د لر غو ن پېژ ند ونکو د څېړ نو په نتیجه کې لاس ته ر اغلي د ي. د لته د پخو انیو زړو ود انیو کنډ والې، د یو الو نه، زړې کلا ګانې او نور تا ریخي ځا یو نـــه او اثار شته او هغه سکي چې لر غون پو ها نو تر لا سه کړي د ي هغه ز یا تره د یو نا نیا نو او هند وانو له خوا ضـــر ب شوي د ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسي تا ريخي رو ايتو نه هم مو جو د د ي چې په بنو کې د سبکتګين يا د غز نو ي سلطان محمود د واکمنـــۍ تر پيله د بد ني په نوم يو قوم چې هند وانو ور ته مذ هبي عقيد ه د ر لو د ه او سيد ل، څر نګه چې سلطان محمـــود د خپلو ير غلو نو په وختو نو کې چې پر هند وستان به يې کول ځيني و ختو نه له همد ې لارې تير يد ه، نو د مذ هـــبي تعصب او مخا لفت په وجه د د غه قو م او مشر انو سره چې د ار الر ياست يې د ستر ام يا او سنی اکرا ښار و وجنګيـــد ه او هغوی ته يې ما تې ور کړه. د سلطان محمود لښکرو د غې سيمې او خلکو ته د و مره تبا هي و اړوله چې ډيـــر يـــې ووژل شول او هغه لږ شمير خلک چې بچ پا تې شول نو هغوی د د غې سيمې پر يښنو د لو ته اړ شول. تر هغې وروسته د غه سيمه ور انه پر ته او په ځنګله بد له شوه. څو د غوري شهاب الد ين د واکمنۍ په و خت کې د هني او منګلو قبيلې په د غه سيمه کې ميشته شوې.

بايد ووايو چې په هند کې د مغولي امپر اتور عالمګير په وخت کې د هغه زوی بها د ر شاه د غه سيمه ونيوله او سيد حسن نو مې يې د د غه ځای حا کم وټاکه. تر او رنګزيب ور وسته د ا سيمه خو د مختاره وه. د ابد الي احمد شـــاه د واکمنۍ په وخت کې د غه سيمه د د ه په قلمرو کې شا مله او د کال د ولس زره روپۍ ما ليه به يې تر ينه ا خيستله چـــې قلنګ بلل کيد له. د د ې سر بيره يې شپږ زره رو پۍ د سو رسات په نامه چې د پا چا هي لښکرو خر څ او اذوقـــه وه را ټو لولې چې مجمو عا اتلس زره رو پۍ کيد ې.

د سد وزي تيمو ر شاه په وخت کې په د غه ما ليه کې کو م بد لو ن رانغي، خو سد وزي زمـــان شـــاه د د وړود سيمې ما ليه چې د کا ل د و لس زره رو پۍ کيد ې د ککه پير د غو ښتنې له مخې چې يو رو حا ني شخصيت و وبخښله او هما غه د و لس زره رو پۍ يې د بنو پر سيمه کيښنود لې چې په مجمو عي تو ګه يې د بنو له سيمې په يو ه کال کې د ير ش زره رو پۍ ماليه يا قلنګ را ټو لو لې. د د ې قلنګ نه پر ته د د ې ځای د راني حا کما نو د هند وانو نه‌يـــو ډول ما ليه د جز يې په تو ګه تر لا سه کو له.

هغه وخت چې په ۱۸۸ـ بکر مي کا ل يا ۱۸۲۳ عيسوي کال کې ر نجيت سنګه د افغا نستا ن د واکمنۍ د کمزورۍ‌لـــه کبله د بنو سيمې ته راغی او د غه سيمه يې په خپل واک کې راوستله نو د ه هم پر د غو خلکو با ند ې د کال يو لک رو پۍ ما ليه وټا کله. چې د غه ماليه د سکها نو مختلفو حا کمانو لکه نو نهال سنګه، تا را چند او را جا سو چيت سنګه هم له د غې سيمې را ټو لو لې. هغه وخت چې فتح خان ټو انه د سکهانو له خوا پر د غه سيمې حا کم و ټا کل شو هغه د غه ما ليـــه يو نيم لکه رو پيو ته لو ړه کړه. د رې کا له ورو سته سکهانو جر نيل ګورد ت سنګه د غې سيمې ته د ما ليې د را ټو لو له پا ره ور وليږه چې هغه د غه ما ليه د وه نيمو لکو رو پيو ته لو ړه کړه او په د غه برخه کې يې د و مره زور زياتی پيل کړ چې زيا تره خلکو خپلې ځمکې پر يښنود ې او تيښتې ته اړ شول.

په ۱۹ـ۵ بکر ما جيتي کال چې ۱۸٤۸ عيسوي کال سره سمون خوري انګر يزي سر کار پر يو ه فصـــل‌بـــانـــد ې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲٤۲۸۲ روپۍ تر لا سه کړې چې بیا په ۱۸۵۲ عیسوي کال په منځني ډول تقر یبا د کال ۸۵... زره رو پۍ ما لیه ر ا ټو لید ه چې ا نګر یزان د غې ته د بنو په سیمه کې د ما لیې لو مړ نی انتظا م وایې. د ما لیې په د ویم انتظا م کې چــې د میجــر جنر ال نکلسن له خوا تر سره شو د غه ما لیه ۹٤٤٤٦ رو پیو ته لوړه شوه. د بنو د سیمې د مالیې په د ریم انتظام کې یې اند ازه لو مړ ی ۱۰۷۱۰۵ رو پیو او تر هغې ور و سته ۱۱۱۰۵۸ ته لو ړه شوه.

## 27.3 د بنو د سیمې جغر افیوي مو قعیت

د بنو سیمې لو ید یز ته د وزیرو غر، ختیز ته یې شا ه پور د ضلعې پو له، د متهه ټو انه ســیمه او د جیلــم د ضلعې د تله کنګ تحصیل یوه برخه، سهیل ته یې د یره اسما عیل خان، شمال ته د لو ید یز نه نیولې د سند ه د ر یاب تر بنۍ غا ړې پورې کو هاټ او د خټکو غر نۍ سیمه پر ته د ه. بنو د کهرک، لکهي مروت او وزیر ستا ن سره هم پو لـــه لري. بنو د پیښور جنوب په ۱۹۲ کیلو متر ۍ کې مو قعیت لري.

اوږد وال یې له لو ید یز نه چې هلته د کو رمې سیند د غره نه اوارې سیمې ته راځي، ختیز خو اته د شا ه پور تر ضلعې پورې ۱۰ میله او منځنی پلنو الی له شماله تر جنو به تر څلو یښتو میلو لږ زیا ت د ی.

بنو یو پراخ مید ان د ی چې د کو رمې په سیند سره خړوبیږي.په د وبي کې یې هوا تود ه او په ژمــي کــې د اسي سړه وي چې انسان یې زغملای نه شي.

## 27.4 حا صلات

شولې، غنم، جوار، ګني، تمباکو، کورکمن او اد رک (زنجبیل ) د ي.

## 27.5 میوې

خټکي، تو تان، نارنج، لیمو، سنتره، چکو تره، کیله، ام، خرما، انګور، انځر، انار او بیري.

## 27.6 ګلان

ګلاب، چنبیل، رانبیل، د اود ي، لمر ګلی، عباسي، بند رابني، ګل خیرو، جعفري، ببري ګلی، پیغمبري ګــل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسي نور.

## 27.7 په بنو کې میشته نور قو مونه

په بنو کې پر بنو څیو سر بیره نو رقو مونه لکه خټک، مروت، وزیر، اپرید ي، اوان، هند وان، کشمیریان او لږ شمیر بهاریان هم استوګنه لري، خو خلک یې په سلو کې ۹۹ پښتا نه د ي.د خلکو ژبه یې پښتو د ه، خو اینکو یا هنـــد کو، پنجا بي او اردو هم پکې مروجه د ه.

## 27.8 د بنو څیو مشهور خیلونه

لکه چې د مخ مو وویل د شیتک لو مړی میر من بانو نو مید ه چې زامن یې کیوي او سو راڼي نو مید ل چې د وی د بنوزیو یا بنو څیو په نامه سره شهرت لري.د کیوي د بناخ مشهورې څا نګې د اد ي: میري، سمي، بارکزي، ککی، بهر تهه، نورړ، د هر مه خیل، ممه خیل، احمد خیل، بر هیم خیل، عا لم ګل خیل، خد ر خان خیل، بورا خیل، مو سي خیل، سرکي خیل، نقره د ین، وله خیل، قلند ر خیل، برت خیل، میټا خیل، سکند رخیل، جهند وخیل، منـــد ان، ســـلیم خیـــل، بډاخیل، سیناور، اسما عیل خیل، او نور...

د سوراڼي مشهورې څانګې د اد ي:مند اخیل، ولاد ین، کوټي، ولا خیل، خوزک، کڅ زي، هیبک، ملي زي او نور.

# 28 بېټني

د د غې قبیلې خلک د خپل لوی نیکه بیټ یا بټن د نامه له کبله په بیټنو سره شهرت لري. د ا سړی په پښتنو کې ډیر مشهور نیکه تیر شوی د ی او له پخوا زمانې نه تا ریخ لیکو نکو د د ه نوم او حال لیکلی د ی.په پښتني عنعنه کې د ا سړی یو خورا لوی پښتون او مشهور نیکه ګڼل کیږي.

د د ې عنعني تصد یق په بهر نیو مؤ ر خینو کې ابو الفضل علامي (۱ـ٦ هجري) د هند د مغولي واکمن جلا ل الد ین محمد اکبر د د ربار مؤ رخ په د ې ډول کوي:

"په پښتنو کې د رې ورونه بیټني، غر غښت او سړ بن ډیر مشهور نیکو نه د ي". [32]

---

32 ائین اکبري، لو مړی ټوک، ۱۹۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیټ نیکه نوم په تا ریخو نو کې بیټني او بټن هم راغلی د ی او نعمت الله هروي چې په (۱۰۱۸ هجري) کې مخزن افغا ني تا لیف کړی د ی هم د شیخ بیټني او د د ه د او لاد ې احوال په بشپړه تو ګه راوړی او ځینو نورو تا ریخو نو ته حواله ورکوي چې مجمع الا نساب ا، معد ن ا خبار احمد ي او تا ریخ ابرا هیم شا هي له هغو نه د ي او تر د ه د مخه لیکل شوي د ي. [33]

د رو ا یتو نو له مخې بټن د قیس عبد الر شید زوی د ی. بیټ نیکه [34] د خپلو د وو ورو ڼو یعني غر غښت او سړ بن نه په عمر کو چنی و، خو د خپل نیک خوی، زهد او تقوی په وجه یې ډیر شهرت تر لاسه کړ. په کو چنیوالي کې یې تر عر بستان او عر اق پورې سفر و نه وکړل چې د د ې سفر و نو په تر څ کې یې د ډیرو خلکو سره لید نې کتنې وکړې او د هغوی له صحبته یې فیض تر لا سه کړ. [35]

اخو ند د رویزه ننګر هاری چې تر (۱۰۴۸ هجري) پورې ژ وند ی و هم د شیخ بیټني او د د ه د او لا د ې یا د ونه کوي او د پښتنو له نو میا لیو او مشاهیرو نه یې ګڼي. خو تر د غو ټو لو پخو انی او زوړ کتاب چې د بیټ نیکه ذکر او د د ه اشعار پکې را غلي د ي د با رک خان د زوی سلیمان ما کو تذ کر ت الا ولیا د ی چې له(۶۱۲هجري) نه ورو سته لیکل شوی د ی. د د ې کتاب هغه یو څو پا ڼې چې شته د شیخ بیټني ذکر د اسي کوي:" نقل کا ند ي هسې یا رانو چې په روزګار د شیخ بیټني د د ه ورور چې سړ بن نو مید ه او پر شیخ بیټني هم خورا ګران و، سړبن نه د ر لود زامن او هر کله به یې ویل خپل ورور ته، بیټني خپل زوی اسما عیل ورکا او لوی شو د سړ بن په کا له، خد ای مهر بان د اسما عیل په بر کت سړ بن ته نصیب کړل د و مره زامن چې اوس شو ګڼون د هغو..."[36]

لوی استاد علا مه عبد الحی حبیبي د پښتو اد بیا تو تا ریخ په د وهم ټوک کې د بیټ نیکه په اړوند د ا سي لیکلي د ي:" د بیټ نیکه نور ا حو ال مو ږ ته نه د ی معلوم او نه د د ه ژوند مؤ ر خانو تصر یح کړی د ی، فقط د پټې خز انې د لیکلو څخه ښکاري چې اسما عیل د بیټ نیکه زوی د ښر خبون معا صر او د غه سړ ی په کال(۴۱۱ هجري ) کې مړ شوی د ی. نو چې د اسما عیل د ژوند وخت(۴۰۰هجري) حد ود وي ښا یي پلار او اکا یې هم د (۳۵۰ هجري) په حد ود و کې ژ وند ی وي." [37]

د تا ریخ حیا ت افغا ني د لیکوال ډپټي محمد حیات خان په حواله بیټ نیکه د سلیمان په غر ه کې میشته و، خو

---

33 د پښتو اد بیا تو تا ریخ، د ریم ټوک، ۱۰۵ مخ
34 په سا نسکریت کې Bhutt د د انشمند او فا ضل په معنی راځي
35 تو اریخ خورشید جهان، د شیر محمد ګنډ اپور تالیف، ۱۰۲ مخ
36 د پښتو اد بیا تو تاریخ، د ویم ټوک، ۱۰۶ مخ
37 نو موړی اثر، ۱۰۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د غزني په شاوخو اکې ښخ شو.[38]

شیخ بیټني یو رو حاني شخصیت و . سلیمان ما کو په خپل کتاب تذ کرت الا ولیا کې د د ه یو منا جا ت راوړی د ی چې په لا ند ې ډول یې وړاند ې کوو"

لــویه خــد لیــه لــویه خــد لیــه ســتاپــه مینــه پــه هــر ځــایه
غـــر ولاړ د ی د رنـــاوي کـــی تـــوله ژوي پـــه زاري کښـــې
د لتـــــه د ي د غـــــرو لمنـــــې زموږ کېــږد ی د ي پکــې پلنــی

د ا وګړي ډېــر کــړې خــد لیــه
لــویه خــد لیــه لــویه خــد لیــه

د لتــه لــږ زمــوږ اوربــل د ی وړ کورګی د ی، وړ بورجــل د ی
مینه ستاکــې مــوږ میشــته یــو بل د چــاپــه ملــه تلــه نــه یــو
هسک او مځکــه نغښــته ســتا د ه د مـــــړو وده لـــــه تـــا د ه

د اپــا لنــه ســتا د ه خــد لیــه
لویه خــد لیــه لــویه خــد لیــه!

شیخ بیټني د رې زامن د ر لو د ل چې اسما عیل، وړسبون او کجین نو میدل او په د غو زامنو سر بیــرهیــې یوه لور هم د ر لود ه چې بي بي متو نو مید ه او د شا ه حسین غوري میر من وه چې او لاد ه یې متو زي پښتا نه د ي.[39]

د بیټ نیکه په ز امنو کې د وړ سبون او کجین او لاد ې ته بیټني وایي.[40]

په پخوا و ختو نو کې د د غې قبیلې خلک د سلیمان غره په لو ید یزه خو اکې او سید ل، خو په هند و ستان کې د پښتون واکمن د سلطان بهلول لود ي د زوی سکند ر لو د ي د و ا کمنۍ په و خت کې د غلجیو د قبیلي د غلبي په وجه

---

38 حیات افغاني، د پیښور چاپ، ۲٦٦ مخ
39 نوموړی اثر، ۲٦٦ مخ
40 ښتني قبیلې، زما اثر، د پیښور چاپ، ٦١ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل اصلي او پخو اني ټا ټو بې نه و کو چېد ل او د سليمان غره په لمر خا ته د ګو مل د سيند پر غاړه او په ټا نک کې ميشته شول. وروسته بيا د د غې قبيلې زيا تره خلک د سو د اګرۍ او نورو د و لتې چارو د تر لا سه کو لو له پاره هند وستان ته ولاړل. د د ې له پاره چې په هغه و خت کې په هند و ستان کې پښتنو واکمنانو ځواک د رلود او ټول قد رت د د وی په لاس کې و، له همد ې کبله د بيټني قبيلې ځيني کسان هم د لو يو ر تبو خا وند ان شول چې يو له هغو نــه فتـح خان بيټنی د بنګال د ګور د سيمې خود مختاره او مشهور صو بد ار او يا ګورنر و، چې تر هغه وروسته د غــه مقـام د کرلاڼي قبيلې لاس ته ورغی. [41]

هغه شمير بيټني چې د ګو مل په د ره کې او سيد ل، نو د هغوی په شمير کې زيا تو الی راغی، چې د خپل ملک په لو يولو او نورو سيمو په نيو لو يې پيل وکړ، ان تر د ې چې (د وتو) چې کا نيګرام ته نږ د ې مؤ قعيت لـــري ور سيد ل. د وی د لته د وزيرو او مسيد و سره مخا مخ شول او په هغه جګړه کې چې د د وی تر مينځ پيښه شوه نو بيټنــو ما تې وخوړه او شا ته تلو ته مجبور شول او د کر نګي له کلا نه هم په شا شول، چې اوس نو موړې کلا د مسيد و قبيلې د بهلو ل زيو د ښا خ د شنګي ځا نګې په لا س کې د ه. کله چې وزير او مسيد د د وی د مقبو ضه ملک د نيو لو پر ته د هغوی پر سيمې باند ې هم تيری پيل کړ، نو په د غه وخت کې ځينې خلک له خپلو کو رو نو نه لاړل او چير ته چــې د وی ته پناه ور کړل شوه هلته ميشته شول، خو د کچين د او لاد ې زيا تره برخه او د هغــېنــه د وړ ســبون او لا د ه د سليمان د غره په ختيزه کې ميشته د ي.

د اسي ويل کيږي چې په هغه وخت کې د ګبر غر چې د بنو جنوب او د ټانک شمال ته پروت د ی او د ورګا ړا يا او ګاري ښاخ د وړ سبون بيټنيو په قبضه کې و، چې ورو سته بيا په نو مو ړي ښا خ با ند ې د ګو ربزو قبيلې ير غــل وکړ او بې شميره ورګاړي يې ووژل او د د وی سيمه يې و نيو له.

## 28.1 د بيټني قبيلې د استو ګنې سيمې

1. په پښتونخواکې: بيټني د جنو بي وزير ستان په سهيل او د د يره اسما عيل خان د ضلعې په لو يد يځ کې ا ستو ګنه لري، چې د جغر ا فيوي پلوه په جنو بي و زير ستان، خو په اد اري لحا ظ په د يره اسمعيل خــان کـــې مـــو قعيت لري.د د وی سيمه له ۱۲ نه تر ۱۵ ميله پورې پلنوالی او تقر يبا ۵. ميله او ږد والی لـــري. د د وی اصـــلي مرکز د جنډ وله په نامه ياد يږي، چې په جنو بي و زير ستان کې د ټا نک پورې اړوند ه سيمه د ه. همد اراز د د غې قبيلې خلک په بنو، لکهي مروت کې هم ميشته د ي. په او سني و خت کې په بنو او د يره اسما عيل خان کې د د وی شمير د ۲۵ـــ زرو په شا او خواکې اټکل شوی د ی.سر بيره يو شمير بيټني په پيبنـــور، کراچـــی او د پاکستان په نورو ښا رو نو کې هم استوګنه لري

41 ياد شوی اثر، ٦١ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. په ا فغا نستان کې: په افغانستان کې د وی په پکتیکا، غزني او ننګر هار ولا یتو نو کې میشته د ي. د اسـي ویـل کیږي چې په غزني کې د د وی څلور پنځه کلي شته. یو شمیر بیټني په نیمه کو چي ډول ژوند کوي چې د کابل او ننګر هار تر مینځ لیږد کوي. د ننګر هار ولایت د چپر هار د ولسوالۍ په ځینو کلیو کې هم یو شمیر بیټنـي میشته د ي. د ا فغا نستان پښتانه بیټنیو ته د بیټ نیکه د رو حاني شخصیت له کبله د رنـاوۍکـوي.پـهـټـول افغانستان کې د د وی شمیر د ٦ـ تنو په شا او خواکې ښو د ل شوی د ی.

3. په هند وستان کې: لکه چې د مخه وویل شول یو شمیر بیټني په پخوا زمانو کې کله چې لود ي او سوري پښتنو پر هند وستان باند ې واکمني د رلود ه د غه هیواد ته ولیږ د ید ل د د غو واکمنا نو تر حما یې او سیوري لانـد ې د غټو غټو منصبو نو خا وند ان شول، په تیره بیا په بنګال کې د وی ډیر پو ځي منصبو نه د ر لود ل. چـې همد ا اوس هم د هند په بنګال، بیهار، اوړیسا او اتهراپراد یش ایا لتو نوکې بیټني پښتا نه میشته د ي، خو ژبـه یې له لا سه ور کړې د ه.

## 28.2 د بیټني قبیلې ښاخو نه

لکه چې د مخه مو وویل د بیټ نیکه په زا منو کې د وړ سبون او کجین اولا د ې ته بیټني وایي چې په لا نـد ې ډول به د د وی ښاخو نه د ر وپیژند ل شي:

1. د وړ سبون ښاخو نه

مزیانې، کزبوڼې، ورګاړي، غړون، فتح خیل، مند ي خیل، اد م خیل، سن خیل، ما ني خیل، رسول خیل، معروف خیل، خواجي خیل، چارګل خیل، رحیمد اد خیل، الفد ین خیل، جاني خیل، حسن خیل، لا لي خیل، سمر زي، د ري خیـل، ملا خیل، تا جو خیل، یو سف خیل، لښکري، عمر خیل، کلي خیل، سر مست خیل، اورک زي، زکني، غوري زیاو نور...

2. د کجین ښاخو نه

تتا، د نا، کتا، کوټي، رتنزي، بو یا یي، بو یک، توران خیل، کټه ګرام، مند انه، شـیخلیـي.تـر لیـي، څپلا ي، شهمیر، بالمیر، شنګر لا ني او نور...

بیټني زړور، میلمه پا لونکي، جنګیالي او د ښه مزاج خا وند ان د ي.د وی د ود اد د ستور وزیرو ته ورتـه د ی. د حیات افغا ني مؤ لف ډېټي حیا ت خان ۱۴۳ کلو نه وړاند ې د د وی د وسله والو جنګیا لیو شمیر ۳ـ تنه ښو د لی د ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 29 بابکر خیل

که چیرې د با بکرخیلو د نسب شجره وګورو نو د ا خبره به جو ته شي چې د وی په اصل کې غلجي پښتانــه د ي. د د وی یو شمیر د پکتیا ولایت د ځاځي مید ان او خو ست ولایت تر منځ د باک په ولسوالی کې استوګنه لري چې د د غې سیمې د او سید ونکو شمیر (۱...) تنه ښود ل شوي د ي چې ډیره کي یې با بکر خیل د ي. د باک د سیمي با بکــر خیل په یوه شنه او اوره سیمه کې ژوند کوي چې زیاتره یې د کر نې په چارو بو خت د ي.

د د لغمان ولایت په مرکز پورې تړ لو څو کلیو کې هم چې خان کلا، سه صد ه او هر مل نو میږي یو شمیر بـــا بکر خیل استوګنه لري. د لغمان د ولایت با بکر خیل د شمیر له مخې د ۱۵... تنو په شاا و خوا کې ښو د ل شوي د ي. یـــو شمیر با بکر خیل د کابل او ننګر هار تر مینځ د سرو بي و لسوالی په جګد لک او تیز ین کې هم استوګنهلـــري. د غــه راز د کابل د خاک جبار د خورد کا بل په سیمه کې هم یو شمیر با بکر خیل میشته د ي چې د غه سیمه د اد اري پلوه د کا بل د بګر امیو په ولسوالی پورې اړوند ه سیمه د ه. په د ې سر بیره د کا بل د چهار اسیاب په ولسولی کې هم یو شمیر بابکر خیل استوګنه لري. د لو ګر ولایت په یو شمیر سیمو کې هم با بکر خیل ژوند کوي.

با بکر خیل زړور، جنګیالي، میلمه پال او په پښتو او پښتو نولی با ند ې ټینګ خلک د ي. د انګر یزانـــو پـــر خلاف یې ډیرې توري وهلي او ډیرې میړانې یې ښود لي د ي. د افغان او انګرېز تر مینځ په لو مړی جګړه کې غا زي محمد شا ه خا ن غلجی چې په اصل کې د لغمان د بد یع اباد د با بکر خیلو له مشر انو نه و د ۱۸۴۱ میلا د ي کال د نو لمـــبر په ۲۸ مه نیټه چې د ۱۲۵۷ هجري کال د شوال د میا شتې د د یا رلسمې نیټې سره سمون خوري د غازي میر مسجد ي خان او غا زي سر د ار محمد اکبر خان په ملګر تیا د نورو ملي مبا رزینو په ګډون سره یو ځای شول، څو د انګر یز انو په مقا بل کې د ملي پا څون لیکي نورې هم پیاوړي کړي چې په پای کې د خلکو د پا څون په بر کت د انګر یز انو یر غلګر ځو اکو نه د ې ته اړ شول چې د ۱۸۴۲ کال د جنوری په ٦ مه نیټه کا بل خو شي کړي او وتښتي.

د روسي یر غلګرو ځواکو په وړاند ې هم د با بکر خیلو د شاه ځلمیو مبا رزې زموږ د ویا ړلي هیواد ویـــاړلي افغانستان د تا ریخ زرین بابو نه جو ړوي.

# 30 بختیار

د بختیارو پښتنو په اړوند مؤ رخینو او تو کم پو هانو بیلا بیلې نظر یې راوړي د ي، د بیلګې په توګه ډيـــټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد حیات خان په خپل مشهور اثر حیات افغا ني کې د نعمت الله هر وي د مخزن افغاني د کتاب پر بنسټ د اسې لیکلي د ي:" اسحق نو می چې په اصل کې د یوه سید زوی و په اوش(*) نو مي ځای کې چې د بغد اد له تو ابعو نه د ی، د ژ وند انه د پیښو او ستو نزو له کبله د ې ته اړ شو چې په سفر لاس پورې کړي، نو هما غه و چې د سلیمان غره‌تــه د شــیر انیو سیمي ته راغی او له یوې نجلۍ سره یې چې شیخۍ نو میده واد ه وکړ، چې د د غې میر منې نه یې یــوازې یــو زوی پید ا شو چې ابو سعید نوم یې ور با ند ې کیښود چې نو موړی ما شوم یې د د ه د ښو طا لعو او نیکمر غــۍ په وجه یې په بختور شهرت و مو ند چې د و خت په تیر ید و سره په بختیار مشهور شــو چــې اوس د د ه او لاد یــتــه بختیار وایي. محمد حیات خان د ا هم زیاتوي:" ځیني خلک د وی سید ا ن بولي. د ا خلک په اصل کې له ایرا نه راغلــي د ي چې د د غې قبیلې یو شمیر د ایران د اصفهان په لو ید یز او یو شمیر یې په بخا را کې ژوند کوي ."

د اوش په اړوند کې چې ما د د ې مقالې لیکوال کومه څیړ نه وکړه هغه د بغد اد له تو ابعو نه نه و، بلکــې اوش Osh د ما ورالنهر له ښا رونو نه شمیرل کید ه چې همد اوس د قر غیز ستان د ویم لوی ښارد ی چې د فر غا نې په واد ۍ کې مو قعیت لري. سر بیره پر د ې اوش د اسلامي علو مو لوی مرکز او ډیر شمیر اسلامي عا لمان یې په خپلې غیږ کې روزلي د ي.

شیر محمد خان گنډا پور په خپل مشهور تا ریخي اثر توا ریخ خو ر شید جهان کې چې په ۱۸۶۷ عیسوي کال‌کــې په لا هور کې چا پ شوی د ی د محمد حیات خان هغه قول رد وي چې د مو نټ سټوارټ الفنستن پر استناد یې بختیــا ر ایرا نیان بللي د ي. شیر محمد خان گنډ ا پور بختیار پښتانه بللي اود ایر اني بختیاري قبیلې نه یې په بشپړه تو گه جلا گڼي، ځکه پښتا نه بختیارهیڅکله هم ځا نو نه د ایر اني بختیاري قبیلې سره یوډول نه گڼي او نه د د وی تر مینځ کو مې تا ریخي اړ یکې شته. د غسې روایتو نه ډیر د ي چې ځیني تو کم پو ها ن کله د پښتنو یوه قبیله او کله هم بله په ســید انو یا نورو عر بي الا صله قبیلو پورې تړي چې په حقیقت کې افسا نو ي رنگ لري.

په او سني وخت کې بختیار د سلیمان غره په شا او خوا، د راڼې او مر غه کې استوگنه لري چې د حیات افغانــي مؤ لف ۱۴۳ کلو نه د مخه د د راڼې په سیمه کې د د غې قبیلې شمیر ۸۔ کو رنۍ او د مر غه په سیمه کې یې ۵۔ کو رنــۍ ښو د لي د ي.د مخزن افغاني او د پښتنو نورو تو کم پو ها نو په یوه اتفاق د ا خبره تا ئید وي هغه بختیار چې پــه د را ڼې کې او سیږي، نو د وی د میا خیلو سره په گټه او تا وان کې شر یک د ي. د بختیار د قبیلې ځیني پووند ه سو د اگر د ډیر کلک هوډ خا وند ان او د سو د اگرۍ په چاروکې ربښتیني او اما نتد ار د ي.

بختیار په لا ند نیو قبیلو ویشل شوي د ي

- کو رتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اکو
- اتو
- پري
- توري
- سيد محمد
- خواجه الياس
- خواجه يحيي کبير : چې او لاد ه يې د شيخ زي په نامه ياد ېږي
- مر غچي: هغه بختيار د ي چې په مر غه کې د ا يمي استوګنه لري
- مقر زي: پووند ه بختيار د ي چې د خپل لو مړ ني استو ګنځي له کبله يې مقرزي بو لي
- نظر زي:د وی هم پووند ه سو د اګر او د بختيار قبيلې يو ښاخ د ی

د بختيار قبيلي يو ستا نه او ولي حضرت خو اجه قطب الد ين الد ين بختيار کاکي(٦ـهجري) و چې نعمت الله هروي په مخزن افغاني کې د ی اقطب افغان بولي او د د ه د قبيلې د نورو مشاهيرو ذکر کوي چې په هغو کې د خواجه يحيي بختيار، شيخ شهاب بختياراوشاه ابو بکر بختيار نو مو نه يا د ولای شو.د د ه زيارت د ډيلي د ښار په مهرولي کې د ی چې خلک له ليري ليري ګو ټو نو نه د د ه مزار ته راځي او ډير اراد ت ور ته لري.

پښتون مؤرخ سليمان ما کو(٦١٢ هجري) په خپل کتاب تذ کر ت الا وليا کې د د غه ستر ستا نه ذکر کوي او وايي:" بختيار په پښتو سند ري کړ ينه- اوښي تو يو ينه- خد ای ته نارې کړي غلبلي کړي-پاړکي لر ينه"- چې يو د اد ی:

وير مې زړه سوری سوری کــړ    رلتـــه وګـــوره ملـــوکــــې!<br>
پـــه بيلتـــونکـــې د ې وبـــا ســـم    لـــه خـــو ږمنـــه زړګـــيکـــوکې

راتـــه وګـــوره ملـــو کــــې!<br>
راتـــه و ګـــوره ملـــو کــــې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیلتـــون اورونـــه بـــل د ي    هر ګړی‌مـې زړګـی ســو ځـي
لیـــو نـــی یمـــه د مینـــي    ســر خـم زه لکـه پیلــو ځـی

راتـــه وګـــوره ملـــو کـــې!
راتـــه و ګـــوره ملـــو کـــې!

غـــــوړولی د ې وربــــل د ی    اور زمـاپـه زړه‌کـې‌بـل د ی
زه بختیار خـاورې لیـرې سـوم    په اور ســوی‌مـې‌ګـوګـل د ی

راتـــه وګـــوره ملـــو کـــې!
راتـــه و ګـــوره ملـــو کـــې!

# 31 ثمکني

ثمکني چې ثو کني یا چمکني یې هم بولي د پښتنو یوه مشهوره قبیله د ه چې زموږ ښت پو هان یې د پښتنو د سړ بن ټولنیزې ډلې نه شمیري چې بیا په سړ بني پښتنو کې د کند په ښا خ پو رې اړه لري. کند په خپل وار په د وو لو یو ښا نګو ویشل شوی د ی:

1. غوري یا غو ریا خیل: چې مو مند، د اؤد زي، زیړاني او ثمکني پکې راځي.

2. خښي: چې یو سفزي، مند ړ او تر کلا نې پکې را ځي.

د پښتو نا زکخیا ل شا عر حمید ما شو خیل د غه د وه ښا نګې د ا سې یا د ې کړي د ي:

چـې د ا ســتا دنــامــې‌بــوی اخلـي حمیــد ه!
څه به نه وي خـــوش دمـــاغـــه غـــوري، خښـــي

د ا سي روایتو نه شته د ي چې د غو ر یا خیلو او لاد ه په پیل کې د کند هار په ار غستان کې میشته وه، چـــې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت په تیر ید و سره د غز نې لو ید یزو او سهیلي بر خو ته را غلل چې په اغلب ګو ما ن سره ۹۱۔ هجري کال او د بـا بر د وا کمنۍ لو مړۍ شپې او ور ځې وې۔ ویل کیږي چې په هغه وخت کې د د غې قبیلې خلک پووند ه او د څړ او ما لد ارۍ په چارو بو خت وو۔ څر نګه چې ورو سته د د غې قبیلې د خلکو په شمیر کې ز یا تو الی راغی نو بیا د غز نې نه د کا بل پر لوري را و لیږ د ید ل ا و بیا له هغه ځا یه د ننګر هار خواته لاړل۔ کله چې غور یا خیل ننګر هار ته ورسید ل، نو ځمکنیو د سپین غره په لمنو کې استوګنه غوره کړه۔ تا ریخ حیات افغاني د افضل خان د تا ریخ مر صع په حو ا له د خپلو ورو نړو نه د د ې قبیلې د بیلتون وجه خپګان بولې او ا خو ن د ر ویزه هم د نورو ورو نړونـه د ځمکنـي جلا والی مرور تو ب ښود لی د ی، خو ښا یې پو ر تنی ر وایت افسا نوي بڼه ولر ي۔

د ځمکنیو د استو ګنې سیمې: ځمکني یا څو کني په لا ند نیو سیمو کې مېشته د ي

1. د پکتیا په ولا یت کې: د پکتیا ولایت ځمکني د د غه و لا یت د ځمکنیو په او لسو الۍ کې چې د د غې قبیلې پـه نامه ور ته د ځمکني و لسو الي وا یي۔ ځمکني یوه ښکلي د ره د ه چې د پیواړ د غا ښې جنوب لو ید یز خو اته مو قعیت لري، شمال ته یې د منډ هیر مشهور ځنګل او لو ید یز خو اته یې د بکیاد غر ونه را څر خید لي د ي۔

2. په تیرا ه کې: د ځمکنیو د قبیلې هغه شمیر خلک چې په تیراه کې میشته د ي د پړه ځمکني په نامه یې یـا د وي چې د تیراه په ښکلو غر و نو کې استوګنه لري چې د سپین غره په سهیلي بر خو کې ژ وند کوي۔ ختیز ته یې اپر ید ي او او رکزي، لو ید یز ته یې توري، شمال ته یې سپین غر او د جنوب خو اته د تو ري او او ر کـزي قبیلو سره ګډه پو له لري۔ پړه ځمکني د افغانستان نه د سپین غره په و ا سطه جلا شوي د ي او کله یې چې خلک افغانستان ته سفر کوي نو د اپرېد یو او کو رمې له لارې تګ او ر ا تګ کوي۔ د د وی سیمه د اد اري پلوه د کو رمې په ایجنسۍ پورې ا ړ ه لري او زیاتره د کړ مان په د ره کې ژ وند کوي۔

پړه ځمکني خوار یکښ او جنګیالي خلک د ي۔ ښځې او نا ر ینه یې ټول په ګډه کار کوي۔ د د وی د سیمې زیـا تره با راني او للمي د ي، خو د مو سم د سو ړ و الي په و جه د غنمو، جوارو او او ر بشو ډیره ښه کر نه پکـې کیږي، خو د غه ځمکې د د وی ور ځنۍ اړ تیاوې نه پوره کوي۔ همد اراز د د وی په سیمه کې ډول ډول میـوې لکه مڼې، زرد الو، انګور، شفتالو هم پکې پید ا کیږي۔ د غه خلک په خپلو منځو کې شخړې نه کوي او ډیر سـو له خو ښو ونکي خلک د ي۔ د پړه ځمکنیو مشهورې څا نګې او ښا خو نه د اد ي: ازي خیل، خا ني خیل، خو اجه خیل، اسیا بي، غر بینه او ګا ند اره۔

3. په پیښور کې : یو شمیر ځمکني د پیښور په شپږ میلۍ کې او سیږي چې د د وی کلی د ستر او لوی سـتا نـه حضرت میا عمر (ر حمته ا لله علیه) د مزار په و جه مشهور کلی د ی او د ځمکنیو په نامه یاد یږي۔ همـد ا راز د ځمکنیو ختیز ته په اته کیلو متری کې د ازي خیلو کلی پر وت د ی۔ ازي خیل د ځمکنیـو یـو ه پښنـه د ه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیبنور کې د ثمکنیو د نورو مشهورو محلو نو مو نه د اد ي:

a. قا د ر خیل، یا سین خیل، بهرام خیل، مصطفی خیل، خو ا جه خیل، چو غه خیل، با زار ګهـړي، د قصـا بانو محله، د مو چیانو محله، د قا ضیانو محله، خا لق اباد، اول نمبر او د ویم نمبر کو ټهـی، سـید ان، مسکین اباد، زرین اباد، میا ګان، جمرود اباد، جان خان ګهړی، حا جي اباد او بابا خیل.

# 31.1 د ثمکنیو د قبیلي بنا خو نه

1. ازي خیل: چې د د ر په خان خیل، د رې پلاره، ابراهیم خیل، خو تي زي، نصر خیل، حسین خیل، لشکري خیـل او قمر خیلو په څا نګو ویشل شوي د ي.

2. خاني خیل: چې د مموت خیل، مد ي خیل، ګو ر ګه خیل، مبارک خیل، سلطان خیل، مصطفی خیلو، تو له خیـل، جمال خیل او شیر خا ن خیل په څا نګو و یشل شوي د ي.

3. خو اجه خیل: چې په د ري خیل، میر زا خیل، ګل شیر خیل، جلال خیل، لنګر خیل، شوي خیل، حکیم خیل، ولي خیل او فتح خیل په څا نګو ویشل شوي د ي.

ویل کیږي چې د ثمکنیو د قبیلي مجمو عي شمیر که هغه په افغانستان کې د ي او که په پښتونخوا کې د ي د ٥ــ زرو تنو په شا او خوا کې ښو د ل شوي د ي.

# 31.2 د ثمکنیو د قبیلي مشهور خلک

1. د ثمکنیو حضرت میا عمر [42] (رح) چې د ثمکنیو په میا عمر هم مشـهور د ی او مـزاریـې د پیبنـور پـه ثمکنیوکې د خا صو او عا مو زیارت ځای د ی. د د غه ستر ستانه په اړوند په پښتو کې یوه د اسي لنډۍ شته:

په پیبنور کې ولیان ډیر د ي
کرې جنډې په میا عمر ولاړې د ینه

د د غه ستر ستانه د د رناوي او ستر مقام له کبله د افغانستان د جلال اباد په ښار کې یو ښوونځی هم شته چې

42 رشاد، عبد الشکور، د ثمکنیو میاعمر، د ا جتما عي علو مو مرکز، د ا فغا نستا ن د علو مو ا کا ډیمي، کابل، ١٣٦٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میا عمر په ښوونځي سره یاد بږي.

2. حا جي د ر یا خان با با عبد ل خیل چې لوی علمي شخصیت و او په اسلا مي علو مو کې یې لوی لاس د رلـــود. ویل کیږي چې نو موړی د ځمکنیو د میا عمر صا حب استا د هم و او مزار یې د پیښور په ځمکنیو کې د ی.

3. ار وا ښاد هد ایت الله خا ن ځمکنی چې د صو به سر حد د اسا مبلي سپیکر و.

4. حا جي محمد ځمکنی چې یو وخت د افغانستان په و لسي جر ګه کې د پکتیا ولایت د ځمکنیو د ولسوالی منتخــب استازی و او بیا په ۱۳٦۵ لمرېز کا ل کې د یوې لنډې مو د ې له پاره د جمهوري ریا ست مؤ قتي سر پر ست پـــا تې شوی د ی.

5. اروانباد فضل ا لر حمن ځمکنی په ولسي جر ګه کې د پکتیا د خلکو منتخب استازی چې سږ کال د اپر یل په میـــا شت کې د مجا هد ینو د بر یا لیتوب د ورځې د لما نځلو په مر اسمو کې د ډزو په تر ځ کې په شها د ت ور سید.

# 32 فر ملي

پر ملیان په پښتنو کې یوه ډیره لر غو نې قبیله د ه چې د غر غښت په ټولنیز ګروپ پورې اړه لري او ځلنـــو نه د کا کړو یو ه څا نګه بو لي. [43، 44]

د د وی د استو ګنې اصلي ټا ټو بی پر مل یا بر مل د ی چې د سلیمان د غرو نولـــړۍ او د پکتیکـــاپه و لایـــت پورې یوه اړوند ه ولسوالي د ه.

ډیټي محمد حیات خان په خپل مشهور اثر تا ریخ حیات افغا ني کې د پر ملیا نو په اړ وند لیکي:" پر ملیـــان زیـــا تره په ارګون او د خرو ټو د سیمې په منځنۍ برخه کې او سیږي."

البیروني د قا نون مسعود ي په د ریم ټوک کې د پر ملیا نو د سیمي مو قعیت د غز ني او ملتان تر مینځ ښو د لی د ی. همد اراز د صو لت افغا ني د تاریخ مؤ لف زرد ار خان نا غر د پر ملیا نو د سیمې د مو قعیت په اړوند لیکلي د ي:" بر مل د غز ني په تو ابعو کې د یوې سیمې نوم د ی او هغه کسان چې د بر مل په سیمه کې اســـتو ګـــن د ي دپـــر

43 تا ریخ شا هي چې په تا ریخ سلا طین ا فا غنه سره هم یاد بږي، د احمد یاد ګار تا لیف، ۱۹۳۹، کلکته

44 د اؤد ي تا ریخ، د پیښور چاپ، کابل، ۲_۷ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملیانو په نامه یاد یږي."

د افغانستان نا متو او وتلی مؤرخ اروا ښاد استاد احمد علي کهزاد هم د پر ملیانو اصلي ټاټو بی اورګون ښــو د لی چې پر ملیان پکې ژوند کوي.

که څه هم د پر ملیانو د تو کمیزو(نژاد ي) اړیکو په اړوند بیلا بیلې نظر یې څر ګند ې شوي او د ځینو په اند د وی د یفتلي شهزاد ه ګانو او لاد ه د ه چې د عر بو د فتو حا تو او سو بو له و خته د غز نوي وا کمنۍ پورې تر اوسه په سلیمان او سپین غر کې مېشته د ي.

همد اراز د پر ملیانو په اړوند د ریم نظر د اد ی چې د وی غلجي پښتا نه د ي، خو د تا ریخي شــو لهــد وپــر بنسټ د وی د پښتنو د غر غښت د ټولنیز ې ډلې پورې اړه لري.

هغه وخت چې المتو کل علی الرحمن پښتون واکمن بهلول لود ي د ډیلي سلطنت تر لا سه کړ نو د یوه فر مان له مخې یې پښتا نه قبا یل هند ته ور و بلل تر څو د خپلې وا کمنۍ ستنې پیا وړې او مضبو طې کړي او له بلې خوا پښتنو ته د خپلې وا کمنۍ په قلمرو کې جا ګیرونه او منصبو نه ور کړي. د بهلول لو د ي په د ې فر مان کې را غلي وو:" ما ته خد ای د هند وستان تخت راپه برخه کړ، خو د د ې تخت سا تنه هغه څوک کو لای شي چې د قوم او قبیلې خا ونـــد وي. نو پښتنو ته په کار د ي چې د د وی ډیر شمیر هند و ستان ته ر اشي او نه یو ازې د واکمنۍ په پیا وړ تیا کې برخــه وا خلي، بلکې د غې وا کمنۍ ته پر ا ختیا ور کړي او جا ګیر ونه تر لا سه کړي. "

د د غه فر مان په ځواب کې ډیر پښتا نه قبا یل چې په هغه کې لو ا نیان، نیا زیان، لو حیـــان، ســــروانیان، پنـــي، ترین، سړ بني، سو ریان، میا نه، کاکړ، کرلاڼي او پر ملیان (فر ملیان) هم شا مل وو له افغا نستا نه د هند لور ته لاړل چې ډیرو یې لوړ لوړ منصبو نه او جا ګیرونه تر لا سه کړل چې موږ کو لای شو د لو د ي او سوري د و اکمنا نو په وخت کې د ځینو مشهورو امر اوو نو مو نه وا خلو چې پر ملي پښتا نه وو.

## 32.1 خا نخا نان فر ملي

1. د سلطان بهلول لود ي د مشهورو امر اوو نه شمیرل کید ه چې د د ه د واکمنۍ په و خت کې د د ه د سو بو یـــو پیا وړی ملګری پا تې شو ی د ی. د ه د را جپو تا نه یا او سني را جستان په اود یپور کې د هند وانو د مشـــهور او پیا وړي را جپوت جنرال رانا خوریې چتر سال ته ما تې ور کړې وه.

2. د ولت خان فر ملي: د بهلول لود ي د مشهورو امیرانو نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. کالا پهاړ فر ملي: د لو د ي او سوري وا کمنانو د واکمنۍ په وختو نو یو ډیر مشهور امیر و.

4. شیخ سعید فر ملي: چې د سلطان سکند ر لود ي له امر اوو نه و.

## 32.2 د پر ملیانو د استو گنې سیمې

په او سني وخت کې پر ملیان په افغانستان کې په لا ند نیو سیمو کې مېشته د ي:

1. زوړ ار گون: چې د او سني اور گون په شپږ کیلو مترۍ کې پروت د ی او ویل کیږي چې په د غه ځای کـــې د پر ملیانو تقر یبا څلور زره کو رنۍ ژوند کوي. د زاړه او رگون پر ملیان په د وو ښا خو نو ویشـــل کیــږي: شرف او سپري. شرف بیا د با لشتي، سیل احمد او ملت کلان په څانگو او علي خیل او قره خیل د سپري په ښا خ پورې اړه لري.

2. د کابل د چها رد هي په ولسوالۍ کې: هغه پر ملیان چې د کا بل د چها رد هي په ولسوالۍ کې او سیږي نو د د وی د سیمو او محلو نو مو نه د اد ي:

   a. کلای قاضي، کلای غیبي، اقا علي شمس، د ه مراد خان، چهلستون، سر اسیاب، مو سهي، پر ملیان، کلای کا شف، یو سف بنگي، بر پر ملي او کوز پر ملي چې د گلبا غ په سیمې پورې اړه لري، کلای غیب الله او کلای بهاد ر خان پر ملي.

همد اراز د کا بل د رخت شنگ ته نږ د ې په کوز پر ملي کې هم پر ملیان ژ وند کوي.یو شمیر پر ملیان د مزار شر یف په چار کنت ا ود لو گر، غزني، هلمند او کند هار په و لایتو نو کې هم او سیږي. د پښتونخوا په صو ابـــې او د پاکستان په پنجاب کې هم یو شمیر پښتانه پر ملیان استوگنه لري.

## 32.3 د پر ملي قبیلي پورې اړوند مشهور خلک

1. د کتور محمد عثمان صد قي: چې تاریخپوه و او د کا بل د چهارد هي د کلای قا ضي پر ملي و.

2. ار وا ښاد معاون سر محقق محمد محسن فر ملي چې د افغانستان د علو مو غږی او د څه مود ې له پاره د نو مـــو ړې ا کیډ یمۍ سر پر ست پا تې شوی او د اعلیحضرت محمد ظا هر شاه د واکمنۍ په وخت کې په ولسي جرگـــه کې د کا بل د چهارد هي و لسوالۍ د خلکو استا زی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 33 پړ به

که چيري د پړ به قبيلې د نسب شجره په غور سره وڅيړو، نو څر ګند ه به شي چې پړ به په اصل کې کرلاڼـــي پښتا نه او بيا په کرلاڼيو کې د خو ږ يا نيو يا خو ګيا نيو د قبيلې يو ه څا نګه د ه، خو له ډيرې مو د ې را هيسي د خو ږ يا نيو له نو رو پا تي څا نګو او ښا خو نو نه د و مره ليرې ژ وند کوي چې د وی پخپله هم نه پو هيږي چې له خو ږ يا نيو سره کو مې اړ يکې لري او که نه؟ ځکه د خو ږيا نيو قبيله د ننګر هار ولايت د خو ږ يا نيو او پچير او لګـام پــه و لسو اليو کې استوګنه لري، په د ا سې حال کې چې پړ به د خو ست په و لا يت کې ا ستو ګنه لري.

د اسي تا ريخي شو ا هد او اسناد مو جو د د ي چې په پيل کې د خو ست پر ټو لې سيمې باند ې د کرلاڼي پښتنو د خو ږيا نيو او نورو ښا خو نو واک د ر لود. د هند د مغو لي وا کمن نو ر ا لد ين جها نګيـــر (۱۰۱۴-۱۰۳۷هجـــري) د وا کمنۍ په و خت کې د غلجي پښتنو ځيني ښا خو نه او څا نګې د پکتيا د زر مت له سيمې نه چې زر مله يې هم بولـــي را ووتل او د خو ست پر سيمه يې بر يد و کړ. په پا يله کې يو شمير خو ږ يا نې له خو ست نه د ننګر هار و لا يـــت د ا و سني خو ږ يا نيو سيمې ته و ليږ د يد ل او ډير کمزوري شول، خو د خو ږ يا نيو د پړ به څا نګه چير ته ونه ليږ د يد له او په خو ست کې پا تې شوه.

سيد بها د ر شاه ظفر کا کا خيل په خپل اثر ' پښتانه د تا ريخ په ر ڼا کې' د د وی د کمــزورۍبــل علــت د د وی خپلمنځۍ جګړ ې بولي او ليکي:" د مغو لي واکمن شهاب الد ين شا ه جهان (۱۰۳۷-۱۰۶۸هجري) د و اکمنۍ په و خت کې د د وی تر مينځ کو رنۍ جګړې پيل شوې او د وی په هغو جګړو کې ډير کمزوري شول."

د تا ريخ حيا ت افغا ني مؤ لف ډيټي محمد حيات خان چې خپل د غه مشهور اثر يې ۱۴۳ کلو نه وړاند ې ليکلـــی د ی د پړ به د و سله والو کسانو په اړ وند د اسي کښلي د ي:" په تيرو و ختو نو کې د پړ به قبيلې د وسله والو ميړ ونو شمير ۳۰۰ تنه وو، خو اوس د د وی د وسله والو کسا نو شمير ۱۰۰ تنو ته ر سيږي." چې شير ممحمد خان ګنډ ا پورپــه خپل مشهور اثر (توا ريخ خو رشيد جهان) کې هم د د وی د وسله والو کسا نو شمير ۱۰۰ تنه ښو د لي د ي.

پړ به د کر کيلې په چا رو بو خت د ي، خو يو شمير خلک يې سو د اګر بزي د ند ې هم سر ته رسوي. د د وی ټول رو اجو نه، د ود ونه، نر خو نه او څلي د خو ست د خلکو په څير د ي. د وی ميلمه پال، غير تمن اوپــه پښـتـو او پښتو نو الې با ند ې ډير ټينګ د ي.

د پړ به قبيله په لا ند نيو ښا خو نو او څا نګو با ند ې ويشله شو ې د ه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرد ي خيل، ميا خيل، بسي خيل، سر د ار خيل، محمو د خيل، نري زي، ملي زي، اشي زي، ډډه خيل او بو چي خيل.

# 34 پړ انګيان

پړ انګيان د پښتنو يوه قبيله د ه چې په لود يا نو ور ګډ يږي. د د غې قبيلې لوی نيکه ابر اهيم نو ميد چې پــه لود ي مشهور و. د تا ر يخي رو ايتو نو پر بنسټ بيټ نيکه چې د سړ بڼ او غر غښت ورور و خپله لور بي بي متـــو يې شا ه حسين غوري ته ور کړه چې له هغې نه د وه زا من پيد ا شول چې يو يې غلجی او د بل نو م ابر ا هيم و چې بيا ورو سته ابر ا هيم په لو د ي سره مشهور شو.

تا ر يخ حيات ا فغا ني په لو د ي با ند ې د ابرا هيم د مشهور کيد لو په اړ وند د اسي ليکلي د ي:" د اسي رو ايت د ی کله چې شيخ بيټنی له کلي نه بير ته هغه غره ته ستون شو چې د د ه ا ستو ګنځی و، نو خپلې مير منې تـــه يـــې و ويل چې بسم ا لله کړه اوپه پخو اني نغري ډو ډۍ پخه کړه او ما ته يې راوړه چې زه هغه ډو ډۍ پخپله وويشم او راتـــه ثر ګند ه شي چې ز ما په لمسيا نو کې کو م يو ډير بختور د ی. کله يې چې مير منې ډوډۍ پخه کړه نو د بي بي متـــو کو چني زوی ابر ا هيم منډه کړه او هغه پخه شوې ډوډۍ يې خپل نيکه شيخ بيټني ته راوړه، بيټ نيکه ډير خو شا لـــه شو او ويې ويل چې ابرا هيم لوی د ی چې له هما غې ورځې ابر ا هيم د لود ي په نامه شهرت ومو ند چې د د ه او لا د ه د لود ي او يا لو د يا نو په نامه ياد يږي."

لود ي په د ريو غټو قبيلو و يشل شوي د ي چې هغه سيا ڼي، د و تا ڼي يا د فتا ڼي او نيا زي د ي.

4. علي زي چې د و سله والو کسانو شمیر یې د وه زره تنه او د وست محمد او زید علي یې ملکان د ي.

5. غو نډي خیل د وه زره تنه جنګیالي لري او د ملکانو نو مو نه یې نور علي او الله نور د ي.

د توریو د وسله والو کسانو مجمو عي شمیر ۱۲ زره تنه ښود ل شوي د ي. د وی د کر نې په چا رو بو خــت د ي، خو ځیني د میوو په خر څولو او نورو شیا نو سو د اګري هم کوي. د تو ریو په سیمه کې وریجې، جوار، غنــم او اور بشي ډیرې پید ا کیږي، خو مڼې او نورې ډول ډول میوې هم پکې شته.

د حمزه خیلو د ښاخ د وه سوه کو رنۍ په کو چیا نې ډول ژوند کوي چې د ژمي په مو سم کې بلند خیلو او ټل ته خپل ما لو نه د خر څلاو له پا ره بیا یې او د تود و خۍ په مو سم کې سپین غره ته ځي. د کورمې په سیمه کې د کا بل واکمن یوه کلا جوړه کړې د ه او یو شمیر پو ځیان پکې شته، نو ځکه توري د کابل د واکمن رعیت ګڼل کیږي او د وی ته په هر جر یب ځمکې د کابل یوه نیمه رو پۍ ما لیه ورکوي. همد اراز د کا بل واکمن د تو ري قبیلې نه د هر کور پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر د لو ګي په نامه یوه رو پې ما لیه اخلي. د توریو د کر نې ټو لې نهري ځمکې د کو رمې له سیند ه خړو بیـــږي، د وی شیعه مذ هبه د ي او په میلمه پا لنه او پښتني ننګ او د ود او د ستور ټینګ خلک د ي. د د وی په سیمه کې کو مې بد رګې ته اړتیا نشته او د وی له سیمې نه کا روا نو نه پر ته له کوم خطره تیر یږي. ]

لکه چې وړاند ې وویل شول توري شیعه مذ هبه د ي او د مذ هبي احکامو په تر سره کو لو کې ډیر ټینـــګ د ي. د وی د خپل قبیلوي د ود او د ستور له مخې د سید انو ډیر د رناوی کوي او هر یو تن یې د سید انو مریـــد ان د ي. د غې قبیلې سید ان په څلورو ډلو ویشل شوي د ي چې د وی ورته ډیر معتقد د ي د غه سید ان عبارت د ي د تیراه ســـید ان، احمد زي سید ان، د کړ مان سید ان او د ماوره سید ان .

هغه تو ریان چې د تیراه په سید انو پورې اړه لري د میا مر ید په ټینګ وانډي او پا تي نور یې د سست وا نډي په نامه یاد یږي چې د رې وانډي د میا مر ید په مقابل کې سره یو د ي. شهید علا مه عارف حسین الحسیني په کو ر مــې ایجنسۍ کې ستر مذ هبي لار ښود و چې د ۱۹۸۸ زیږ د یز کال د اګست د میا شتې په ۵ نیټه د نا معلو مو کسا نو له خـــوا شهید شو.

په د ې برسېره تور یان په سپین ګو ند ي پورې اړه لري. لنډه د ا چې توري د پښتنو زړوره، غیر تي او پـــه پښتو او پښتو نواله با ند ې ټینګ خلک د ي

# 44 جبار خېل

جبار خیل په غلجیو پښتنو کې یوه مشهوره قبیله د ه چې د ننګر هار ولایت د سره رود او حصا رک غلجا یـــي په ولسوالیو، د لغمان ولایت د کڅ عزیز خان په سیمه، لو ګر او د کابل او جلال اباد تر مینځ سیمو لکه ګند مک، جګد لک، تیزین او د کابل ولایت په خاک جبار کې چې د جګد لک او خورد کا بل تر مینځ مو قعیت لري میشته د ي.

که د جبار خیلو د نسب شجره په غور سره وګورو نو د وی د احمد زیو غلجیو یوه پښه د ه، چې د خپل نیکــه جبار بابا د نامه په وجه په جبار خیلو یاد یږي. د جبار بابا مزار د کا بل د خاک جبار په و لسوالۍ کې د ی، له همد ې کبله د غه ولسوالي د خاک جبار په نامه سره یاد یږي چې د جګد لک او خورد کا بل تر مینځ مو قعیت لري.

د لوی احمد شاه با با د واکمنۍ په وخت کې د حصارک غلجا یي د جبار خیلو مشر لنګر خان نو میـــد چـې نـــو موړی د جبار خیلو د قبیلې نا متو مشر تیر شوی د ی. د امیر د وست محمد خان د واکمنۍ په وخت کې د جبار خیلو د قبیلې مشران د احمد خان زوی عزیز خان و چې د جبار خیلو د مر یم خیلو په څا نګې پورې یې اړه د ر لود ه. د عزیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان پلار احمد خان د ډیرې مود ې له پاره د امیر د و ست محمد خان د مشر ورور فتح خان د نږد ې مقر بینو نه و چې هغه ور ته د لغمان د کڅ په سیمه کې ډیر جا ګیرونه ور کړل چې بیا ورو سته نو موړې سیمه د هغه د زوی عزیز خان د نامه له کبله تراو سه پورې د عز یز خان د کڅ په نامه سره یاد یږي چې د ننګر هار د د رونټې سیمې ته نږد ې پر ته د ه او د پښتو د ژبې د مشهور لیکوال او شا عر اروابناد استاد ګل پا چا الفت مزار هم د کڅ عز یز خان په سیمه کې د ی.

له بلې خوا د امیر د و ست محمد خان او عز یز خان جبار خیل تر مینځ خپلوي هم مو جو د ه وه، هغه د ا چې د عزیز خان خور د امیر د و ست محمد خان میر من وه. د افغان- انګر یز په لو مړی جګړه کې عز یز خان، امیر د وست محمد خان ته وفا د اره پاتې شو، خو ورو سته په ۱۸٤. او ۱۸٤۱ میلاد ي کلو نو کې نو موړی د محمد شاه خان با بکر خیل سره چې هغه هم د انګر یزي ښکیلاکګرو سر سخته د ښمن و و یو ځای شو او د انګرېزانو پر خلاف د هغه په ملګر تیـــا په ډیرې زړورتیا او میړانې و جنګید. کله چې امیر د و ست محمد خان د د ویم ځل له پاره د افغانستان واکمن شـــونـــو عزیز خان د حج د مبا رکې فر یضې د اد ا کو لو له پاره مکې معظمې ته لاړ او د حج تر مر اسمو ورو سته د هغې نا رو غی له کبله چې ور پیبنه شوې وه په ۱۸۵۵ میلاد ي کال کې هورې وفات او ښخ شو.

د عزیز خان تر مړ ینې ورو سته د هغه ورور کریم خان جبا رخیل د امیر د و ست محمد خان پر خلاف پو رته شو، نو موړي د غازي محمد شاه خا ن با بکر خیل په ملګر تیا پر چا ر باغ بر ید وکړ او د کابل- جلال اباد لاره یې بند ه کړه. په د غه وخت کې د د وی د مبارزې مرکز اوزبین و.

د امیر شیر علي خان د واکمنۍ په وخت کې د عزیز خان جبار خیل زوی غازي عصمت الله خان جبــــار خیـــل د جبار خیلو غلجیو مشر و. هغه ته د امیر شیر علي خان له خوا د حشمت الملک لقب ور کړل شو او په د ربار کې یـــې د وزیر معاد ل صلا حیتونه د ر لود ل او د کابل او د کابل د شا او خوا د سیمو د امنیت مسئول و. په د غه وخت کې ا میر شیر علي خان د جبار خیلو د قبیلې یو بل تن مشر د محبت خان زوی ار سلا خان جبا ر خیل خپل سلا کار او د بهر نیو چارو وزیر وټا که او د زرمت، خو ست او کټواز د سیمو د چارو مسئو لیت یې د هغه زوی معز الله خان ته و ســــپاره. د عصمت الله خان جبا ر خیل په څیر ار سلا خان د امیر شیر علي خان په د ر بار کې د ډیر ځواک او نفوذ خا وـنـــد و مـلــه همد ې کبله وه چې امیر شیر علي خان د حصارک غلجا یي سیمه د ما لیې د ور کو لو نه معا فه کړه.

جبار خیل په پښتني ننګ او غیرت ټینګ، زړور، میلمه پاله، هیوا د پا لو نکي او په علم او پو هې مین خلــک د ي. هما غسې چې د انګریزي استعمار او ښکیلاک پر خلاف یې زړورې مبا رزې کړي او توري یې وهلي د ي او د بــــر ایډن لښکرې یې ما تې کړي د ي، د روسي سور استبد اد ي ښا مار پر خلاف هم په میړ انه جنګید لي د ي.

په حصارک غلجا یي کې د جبا رخیلو مشهور کلي د اد ي: اب زنګیاني، غوربیزه، ناد ر، ګلا خیل، حلیم خیل، ظر یف خیل، سیاب، چار توت، سروند، بر جنه، خنجر او کڅي. مشهور خیلو نه یې مر یم خیل، نو ګیا نې خیل او نــــور د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ي۔

جبار خيل زيا تره د کر کيلي په چا رو بو خت د ي، غنم، جوار او نور حبو بات پکې کر ل کيږي. د حصـــارک غلجايي د جبار خيلو شمير د ۲۔ زرو تنو په شا او خواکې اټکل شوی د ی۔

## 44.1 د جبار خيلو نا متو مشران

1. جبار خان با با چې د جبار خيلو مشر نيکه و او مزار يې د کا بل د خا ک جبار په ولسوالۍ کې د ی او د ه د نامه له کبله د غه ولسوالي په خاک جبار سره ياد يږي

2. لنګر خان چې د احمد شا ه با با د واکمنۍ په وخت کې د حصارک غلجا يي د جبار خيلو مشر تير شوی د ی۔

3. احمد خا ن جبار خيل د جبار خيلو مشر او د عزيز خان جبا ر خيل پلارو۔

4. عزيز خان جبار خيل چې د لغمان د کڅ سيمه د د ه په نامه سره مشهوره د ه

5. کريم خان جبار خيل چې د خپل ورور عزيز خان جبار خيل تر مړ ينې ورو سته د جبار خيلو مشر و۔

6. ملي مبارز او د انګر يزي استعمار پياوړی د ښمن غازي عصمت ا لله خان جبار خيل چې د غازي محمـــد شاه خان با بکر خيل په ملګر تيا يې د انګر يزانو سره ډيرې جګړې کړي د ي او د ملي مبا رزينو مشر و۔

7. محبت خان جبار خيل چې د حصارک غلجا يي د جبار خيلو غلجيو مشرو۔

8. ارسلا خان جبار خيل چې د امير شير علي خان په د ر بار کې د لوړ مو قف خا وند او د انګر يزانو سر سخته د ښمن و۔

9. معزالله خان جبار خيل چې د ار سلا خان زوی او امير شير علي خان د زرمت، خوست او کټواز د سيمو مسئول ټا کلی و۔

10. ارواښاد عبد المجيد خان حکمران چې د اعليحضرت محمد ظا هر شاه په وخت کې د کا پيسا حکمران و۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



11. اروا ښاد وکیل عبد الو هاب خان چې د ملي شورا وکیل و۔

12. اروابناد عبد الله مشهور په لعل اغا چې په سره رود کې او سید او حاکم او ورو سته د سره رود د خلکو وکیل و۔

13. شیرین جان اغا چې د لعل اغا ورور و۔

14. د کا بل پو هنتون پخوانی رئیس او استاد پو هاند طا هر عنا یت۔

ماخوذ د [72، 73] نه

# 45 جد ون

جد ون چې د گد ون په نامه سره هم یاد ېږي د پښتنوپه غرغښتي‌تـــولنیزگـــروپ‌پـــورې اړملـــري چـــې د پښتونخوا په جنوب صوابی، ایبټ اباد، هزاره او هر ېپور کې کې چې د مها بڼ د غرونو جنو بيلـــړی د ه اســـتوگنه لري۔ د تا ریخي روایاتو سره سم د ا خلک له پیل نه د خا ښي خیلو په گو ند ی کې شا مل شوي او د قبایلي لیږد په زمـــا نه کې د یو سفز یو مند ړو سره د ې سېمې ته را غلي د ي [74]

د مغولي واکمن نو ر الد ین جهانگیر د د ربار مؤ رخ خوا جه نعمت الله هروي په خپل مشهور اثر تا ریخ خانجها ني و مخزن افغا ني کې چې په ۱۶۱۲ میلا د ي کال یې کښلی د ی جد ون غر غښتي پښتا نه او په غر غښتیو کې د پنـــــي او لاد ه بولي۔

سر اولف کیرو په خپل مشهور اثر The Pathan کې جد ون غر غښتي پښتانه او د پڼي پښتنو یو ښاخ گڼلی د ی [75]

د تا ریخ حیات افغا ني لیکوال ډپټي محمد حیات خان ۱٤٤ کلونه وړاند ې د جد ون قبیلې په اړوند د اسې لیکلي د ي :

---

72 State and Tribe in Nineteenth-century Afghanistan, by Christine Noelle, Christine Noelle-Karimi

73 د ارو ا ښاد لعل اغا سره زماا (د د ې مقالې لیکوال) هغه مر که چې په ۱۳۶۷ لمریزکا ل کې مې په کابل کې کړې وه

74 پښتانه د تاریخ په ر ڼا کې، د سید بهاد ر شاه ظفر کا کا خیل لیکنه، یو نیور سټي بک ایجنسي، ۱۹۶۲ کال

75 تا ریخ حیات افغا ني، د ډپټي محمد حیات خان تالیف، پښتو ژبا ړه، د پېښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څرګنده خبره ده چې د غه خلک خپله قبیله د کاکړو یو ښاخ بو لي، د وی په پیل کې په د وو لو یو ښا خو نو چې د منصور او سالار په نامه یاد یږي ویشل شوي د ي چې بیا د غه ښاخو نه په نورو څانګو ویشلي شوي د ي.

1. د سالار ښاخ څانګې په د ې ډول د ي : مست خوازي، اتو زي، سلیمان زي، عیسی خیل، عبد الر حیم زي، محمد خیل، علیشیر خیل، قلند ر خیل، علي خیل، د ولت خیل ا واد و خیل.

2. د منصور د ښاخ څانګې د اد ي : متي زي، د وله زي، خد رزي، عمرزي، ګو ا خیل، یعقوب خیل، عیسی خیل، کرم خیل، قمبر خیل، باره خیل، ولي خیل، قا سم خیل، شا هي خیل، الهد اد خیل، خوا چــه رســتم کور، اد یزي، شا ئب زي، مامازي، خلیل زي، امرازي، یعقوب زي، شا مان زي، حسن زي، بهلـــول زي، عید و خیل، توره خیل، زکریا خیل او عباس خیل

تاریخ حیات افغا ني زیا توي

ز یاتره جد ون په ځا نګري ډول سالار د هزاره غرونو د د وړ په نامه ویالۍپــه د واړو غـاړو د اورشـتـر سیمې پورې میشته د ي.د هزاره سیمې د جد و نو ښکتنۍ برخه ډېره ښه شنه او زر خیزه سیمه د ه.د مغـولي واکمـن جها نګیر په و خت کې کله چې د د لا زاک قبیله لوټ او تباه شوه، نو د غه سیمه په تد ریجي تو ګه د جد ونو لاس ته ور غله، خو د لته هغه جد ون تر زیا ته حد ه د یا د ونې وړ د ي چې د ابا سین په لو ید یز او د مها بڼ غره په سهیلي بر خو کې میشته د ي. مها بڼ یوه لر غو نې هند ي کلمه د ه چې ریښه یې سنسکریټ ته ر سیږي. په سنسکر یټ کې مها=لـوی او بڼ= ځنګل د ی یعني لوی ځنګل او د د ې غره د تسمیې وجه بیخي صحیح د ه. د جد ون د قبیلې د واړه ښـا خـونه یعني منصور او سا لار د د ې غره له څو کې نه تر کښتنیو بر خو پورې قبضه لري. که څه هم د د وی د کو چنیــو بـا نډو شمیر تقر یبا شلو ته رسیږي، خو د ړې لوی کلي لري. په ګند پ کې تقر یبا له شپږ سوو زیات کو رونه د ي چې د غه ځای د سالار ښاخ لوی او مشهور کلی د ی او د اتو زیو تقر یبا ټو لې څا نګې پکې میشته د ي. د غه ښاخ په د وولــو یو کلیو ګند پ او د الوړې باند ې واک لري، چې اوس میر باز عیسی خیل، جها نګیر علیشیر خیل، نواب قلند ر خیــل، خانی محمد خیل او طو طي علي خیل د د غه ځای مشران او ملکان د ي.

د سالار د ښاخ د مست خوازي څا نګه په با بیني نو مي ځای کې چې د انګر یزي سر کار په سیمه کې مؤ قعیــت لري او سیږي. د سالار ښاخ د سلیما ن زیو څا نګې خلک په پاد ه، شني، ، کو لا کر او پو لا اچپلي کې چې کو چني کلي د ي او د مها بڼ په سیمه کې پر تې د ي استوګنه لري.

د منصور د ښاخ لوی کلی بیسک د ی چې تقر یبا د ړې سوه کوره خلک پکې میشته د ي. د بیسک مشهور ملک عیسی خان ولي خیل د ی چې جر ګو او نورو معا ملو ته خلک له هغه نه مر سته غواړي او د جر ګو او مر کو پهـکـا رو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو کې ډېر مها رت لري. همد اراز ها شم علي قا سم خیل، قا بل خان شا هي خیل، میر خان اللهـــ د اد خیـــل، غلام شـــاه او صحبت د د غې څا نګې ملکان د ي. فتح خان د وله زی هم یو معتبر ملک د ی. خد رزي په ملکا ګړی کې او ســـیرۍ چـــې زنګی او هوس د د ې څا نګې ملکان د ي.

د ګند پ او بیسک زیاتره د کر نې وړ ځمکې د انګر یزي سر کار د مید ان په سیمه کـــې پرتـــې د ي. ګنـــد پ، بیسک او ملکا ګړی د غره په لمنه کې د مید ان د علا قې تر څنګ مؤ قعیت لري. د د غو کلیو زیاتره ځمکي للمـــي د ي، خو هغه ځمکې چې د غرونو په د ننه کې پر تې د ي هغه زیا تره شنې، ابي او حا صلخیزه د ي.

په مها بڼ کې غنم، جوار او وریجي ډیرې پید ا کیږي. د جد ون قبیلې زیا تره خلک د کر نې او ما لد ارۍ په چا رو بو خت د ي. د مهابڼ میښې مشهورې او پیيورې د ي. د د وی د وسله والو کسانو شمیر اتلس زره تنه ښود ل شوي د ي [76]

پته د ې نه وي چې یو شمیرجد ون په کشمیر او د کیمبل پور په سیمه کې هم میشته د ي.

جد ون په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک د ي. د میلمنو عزت او د ر ناوی کوي. همد اراز د وی په خپلواکۍ مین خلک د ي. کله چې په ۱۸عیسوي پیړۍ کې سکهانو د وی پر سیمه بر ید وکړ نو د وی په ډېر میړانـــه ور ســـره و جنګید ل، په د غه وخت کې د جد ونو مشر سخي جان جد ون و چې د خپلې سیمې نه بې په میړ انه د فاع وکړه او بیا د سکها نو له لا سه شهید شو. همد ارا د انګر یزي ښکیلاکګرو په وړاند ې هم د د وی مبا رزې د پښتنو د تا ریخ ویا ړلي او د قد ر وړ بابونه د ي.

په او سني وخت کې د جد ون د قبیلي مشهور کسان عنا یت الله خان جد ون، ا ما ن الله خان جد ون او سلطان خان جد ون د ی. سلطان خان جد ون په ۲_۱ کال کې د جد ون قبیلې په اړوند یو کتاب هم په انګر یزي ژبې کښلی د ی.

# 46 جلال زي

که چیري د غلجیو پښتنو د نسب شجره په غور سره و څیړو، نو د ا به تر ې جو ته شي چې جلا لزي د اند ړو یو ښاخ شمیرل کیږي.جلالزي د غزني ولایت د اند ړ او شلګر په و لسوالیو او واغز نو مي سیمه کې میشته د ي. همـــد ا راز د پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالۍ چې د زر ملې په نامه سره هم یاد ېږي یو شمیر جلالزي استوګنه لري. د پکتیکا و لا یت په کټواز سیمه کې هم جلالزي میشته د ي.

76 http://en.wikipedia.org/wiki/Jadoon

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلالزي ډير غيرتمن او په پښتو او پښتو نولۍ با ند ي ټينگ ولاړ خلک د ي. همد اراز د وی د علم او پو هـــي سره ډيره مينه لري. د د وی حجرې تل د ميلمنو پر مخ خلاصي وي.

جلا لز يو تل د خپلو نورو پښتنو په څير په هيواد او خپلو اکۍ مين خلک د ي، همد ا و جه د ه چې د انگر يزي ښکيلا کگرو پر خلاف د افغان- انگر يز په د ري گو نو جگړو کې يې د وی ته خو له ما توو نکي گو زارونه ور کړي د ي . همد اراز د سره ښکيلا کگرو يعني د روسي استعما ر او د د وی د ير غلگر پو ځ په وړانـــد ې د د وی مبـــا رزي ز موږ د گران هيواد افغانستان د ويا ړلي تا ريخ زرين با بو نه د ي چې موږ تل پري و يا ړو او د د رناوي سر ونــــه ور ته ټيټوو.

جلالزي زيا تره د کر کيلي او با غد ارۍ په چارو بو خت د ي. د کر نې محصو لات يې غنم، جوار او همد اراز د بڼونو محصو لات يې انگور، منې، زرد الو او نورې ميوي د ي چې زياتره د کا ريزونو د اوبو په ذريعه خړو بيږي.

## 46.1 د جلالز يو د قبيلي خيلونه

لکه د نورو پښتني قبيلو په څير جلالزي هم په بيلا بيلو ښا خونو، څانگو او خيلو نو ويشل شوي د ي چـــې د ځينو نو مو نه يې په لا ند ې ډول وړاند ي کيږي:

سليما نزي، خيرو خيل، امران خيل، شايب خيل، عيد و خيل، حيد ر خيل او ، شالي خيل.

هغه جلا لزي چې د غز ني و لا يت په واغز کې ميشته د ي د د وی خيلو نه په لا ند ې ډول د ي :

الله يار ، خا ني خيل او مسري خيل.

# 47 جلوانې

که چيري د جلو ا ڼيو د نسب ونه يا شجره په غور سره و څيړو نو څر گند ه به شي چې د وی سړبني پښـــتانه او د شيرانيو پښتنو له نسله د ي. جلوانې د شيرا ني زوی د شرخبون لمسی او د سړبن کړوسی د ی. که څه هم د غـــه قبيله د شيرانيو اولاد ه د ه، خو نن د يوې جلا قبيلې په نامه سره ياد يږي.

جلوانې په افغانستان، پښتونخوا او هند وستان کې ميشته د ي. په افغانستان کې که څه هم د د وی شمير زيات نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ی، خو د د وی یو شمیر د کند هار، غزني، زابل او پکتیکا په و لا یتو نو کې میشته د ي۔ جلوانې د شیر انیو په غر نیو سیمو کې پر اته د ي، د سلیمان غرد د وی په سیمه کې مؤ قعیت لري۔ د د وی د سیمې شمالته دګومل د ره او د وزیرو او مسید و سیمې، جنوب ته یې ستور یاني او زمري قبیلې او لو ید یز ته یې هر بیپال، کاکړا و د مند وخیلو پښتني قبیلې پر تې د ي۔

جلوانې منځنۍ ونې، ډنګر، غښتلي غیر تمن، سخت سرې اوتکړه او فعا له خلک د ي۔ که څه هم کر وند ې یې لرې د ي، خو د د وی په ځمکو کې غنم، جوار، اوربشي، وریجي او تماکو کرل کیږي۔ هغه جلوانې چې په غرونو کې استوګنه لري د غو ایانو نه سر بیره د پسو نو او وزو رمې ساتي۔

د د وی رواجو نه او د ود ونه کټ مټ د شیر ا نیو په څیر د ي۔جلو انې د نورو پښتنو په څیر د خپلو کلیو مشر ته په د رنه ستر ګه ګوري او د کلي مشر د د وی شخړې او لا نجي په ښه ډول حل او فصل کوي، چې د د غو مشرانو فیصلې د واړو خواووته د منلو وړوي او د احترام او د رناوي په ستر ګه ور ته ګوري۔ جلوانیان په خپلو منځو کې د و مره شخړې او لا نجې سر ه نه کوي۔

جلوانې مذهبي لار ښود ونکو، د یني عا لمانو او ملا یا نو ته په د رنه ستر ګه ګوري، د هغوی عزت او د رنا وی کوي او هم د خپلوکر نیزو محصو لا تو عشر یا لسمه برخه د غو ملا یا نو ته ور کوي۔ ملا یان د جو مات د اما مت نه پر ته نکا ح ګانې تړي، هلکانو ته لمو نځ او نور مذ هبي فر ایض ور ښیي او مړو ته غسل ور کول د ملا او د هغه د میر منې د نده ه شمیر له کیږي۔

جلوانې د شیر ا نیو په څیر د قر ان کر یم تلاوت کوي، خو ملا یان یې په پښتو ژبه خلکو ته هغه کتا بونه ور زد ه کوي چې په مذ هبي مسا یلو پورې اړه لري۔ خلک یې په عمومي ډول لمو نځ او روژه نه قضا کوي او په مذ هبي چارو کې ډیر ټینګ خلک د ي۔

یو شمیر جلوانې د لود ي او سوري پښتني واکمنانو په وخت کې چې په هند و ستان یې واکمني چلوله له افغانستان او پښتونخوا نه هند و ستان ته تللي او د د وی یو زیات شمیر د لود ي او سوري پښتني واکمنا نو په د ربا رونو کې لوړ پو ځي منصبونه او د ند ې د رلود ې۔

با ید وویل شي چې هند وستان ته د لیرد په وخت کې د وی د شیر انیو سره یو ځای هلته لیږ د ید لي چې تر او سه هم د هند په بنګال، بیهار، اترپراد یش، راجستهان او ګجرات کې ډیر شمیر جلو انې د شیر ا نیو سره یو ځای استوګنه لري، چې مورږ یې د لته په ځینو ایا لتو نو کې د استو ګنې سیمې د ر پیژ نو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



1. د راجستهان د ناګور په سيمه کې د بر نيل، بهيناياد، د انته، حميد پور او د و نګارى په کليو کې د نورو شـير ا نيو سره ميشته د ي.

2. د هند د ګجرات د واد نګر او شيمبير واد ا په سيمه کې.

همد اراز ويل کيږي چې د هند مغولي واکمن نصير الد ين هما يون او جلا الد ين محمد اکبر د جلو ا ڼيو او شير ا نيو پښتنود تو ر زنو په زور او مټو د ود يا را جپو تو ته د راجستهان او ګو جرات پو لو ته نږد ې سخته ما تــې ور کړې وه.

## 47.1 د جلوانيو د قبيلې ښاخو نه

هغه جلو انې چې د شير ا نيو د سيمې په غر نيو بر خو کې استوګنه لري نو د د وی مشهورې څا نګې او خيلو نه په لا ند ې ډول د ي :

سالار خيل، مروت خيل، سپند زي، کو نکړي، نيکي خيل او مهار .

ماخوذ د ه [77، 78] نه

# 48 جمريانې

په کا سيو پښتنو کې يوه پښه د جمر يا نې په نامه ياد يږي چې په زياترو تا ريخي کتا بو نو کې د زمر يانې او ژمر يانې په بڼه هم راغلې د ی. کا سي پښتا نه د سړ بن په ټولنيزې ډلې کې راځي او د ښر خبون په ښا خ ور ګډ يږي. د حيات افغاني ليکوال ډپټي محمد حيات خان او د تواريخ خور شيد جهان مؤ لف شير محمد خان ګنډا پور له نن نــه ۱٤٤ کلو نه د مخه په افغانستان کې د جمر يا نيو شمير تقر يبا يو زر کوره ښود لی او د ا يې هم زيا ته کړې د ه چې جمريــا نې د تو خو (تو خيو ) ستا نه د ي.

د د غې قبيلې خلک د تو خو په سيمه کې ميشته د ي، خو له کا بله تر کند هاره پورې په زيا تره کليو کې يو يا د وه کوره استوګنه لري. د د وی ځيني خلک د کر نې په چا رو او ځينې يې هم په سو د اګرۍ او نورو چارو بو خــت د

77 http://encyclopedia.jrank.org/SHA_SIV/SHERANI_or_SHIRANI.html

78 http://en.wikipedia.org/wiki/Shirani

(c) ketabton.com: The Digital Library



ي. د تاريخ حيات افغا ني په قول د وی د سو د اګرۍ په چارو کې پر مختګ کړی او د ښو شتو خا وند ان د ي.

ار وابناد علا مه اکاد مسین عبد الشکور رشاد د افغان یاد د مقا لو د مجمو عې په ۱۵ مخ کې په خپلې هغه مقا له کې چې جمر یا نی افغان نو میږي او د اروابناد مولوي غلا م محي الد ین افغا ن په اړه یې چې د افغانستان د لو مړ نیو مشرو طه غو ښتو نکو له ډلې و او د د ه د قبیلي یعني جمر یا نیو په با ب د اسي کښلي د ي :

په جمریانیو کې حسین خیل ستا نه د ي. په حسین خیلو جمر یا نیو کې په اوو مه هجري سد ۍ کې د شعیب جمر یا نې زوی حسین لوی بزرګ او ستا نه تیر شوی د ی. د ی په تو رانو غلجیو (هو تک، تو خي) کې میشت و. د شـــیخ متي خلیل رحمته الله علیه(٦٢٣-٦٨٨هجري قمري) د زوی یو سف ظا هر بین سره یې مکا بره پیښنه شوې د ه او للی تره کی د د ه له خلیفه ګا نو نه و. للي زي تره کي د هم د غه للي نیکه او لاد ه ګڼل کیږي.

د حسین نیکه زیارت په کو ند ر کې د ی. کو ند ر د وازې خوا په ختیز کې د وزیرو او مند و خیلو پښتنوتــر مینځ پروت د ی. کله چې د کند هار کو چیان د یره اسما عیل خان ته ځي له ګو متو چې بار شي په کو ند رکــې اړوي او له کو ند ره چې بار شي په چچند ي کې اړوي. د غه کو چیان د د ه د اروا د خو ښۍ له پاره قر با ني کوي او خپل د رانه وري (بارونه) هم په د غه زیارت کې پریږد ي. په زیارت کې د غه ما لو نو ته هیڅوک هم لاس نه شـــي ور وړای او د خپلو خا وندا نو تر راتګه پورې اما نت پر اته وي. د اسي ویل کیږي چې د شیخ حسین نیکه له زیارت نه ځوک لښـــته هم نه پرې کوي.

لکه چې د مخه هم وویل شول د د غه حسین نیکه او لاد ه د حسین خیلو جمر یا نیو په نامه شهرت لري. همد اراز د لو ګر د مو سهي فیض محمد اخو نزاد ه(۱۳۱۹مړهجري قمري) هم حسین خیل جمر یا نی و او د د ه او لاد ه چې په هغه کلی کې او سي نو هغه کلی حسین خیل په نامه سره یاد یږي.

په حسین خیلو جمر یا نیو کې زموږ د هیواد یو ستر شخصیت، اد یب، عالم او د لو مړ ني مشرو طیت د غړو نه یو هم مولوي غلا م محي الد ین افغان و چې د ی هم حسین خیل جمر یا نی و.

د علامه استاد رشاد په قول نو موړی په ۱۲۷۹ هجري قمري کال د کند هار په احمد شا هي ښار کې وزیږید ه. د ی لا کو چنی و چې پلار یې وفات شو او د د ه رو زنه او پا لنه د د ه د تره له خوا کید ه. د د ه اکا ورو سته د د میوند د نا متو اتل سرد ار محمد ایوب خان په د ر بار کې پیشخد مت و. وروسته چې غازي محمد ایو بخان مجبور شو چې لیـــران ته لاړشي نو مولوي محي الد ین افغان او تره یې هم ور سره یو ځای ایران ته لاړل او پوره اووه کلو نه هلتـــه پـــاتـــې شول. په پای کې د انګر یزانو د فشار په وجه هغوی له بغد اد پر لارې هند وستان ته ولیږل شول. افغان د هند و ستان په کا لجو نو کې خپلې زد ه کړې وکړې.د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ په وخت کې غلا م محي الد ین تر ۲۵ کلو نو تبعید

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو سته بیر ته خپل هیواد ته ستون شو. هیواد ته تر راستنید و وروسته په حبیبیه د ارالعلوم کې د ښونکي په تو ګه و ټاکل شو. د ی په پښتو، فارسي، عربي، سانسکریت، اردو، هند ي او ګور مکهي ژبو پو هید ه. د د ه پښتو او فارسي مقالي په سرا ج الا فغان کې چا پید لې.

غلا م محي الد ین افغان وروسته د کاکا سید احمد خان لود ي، مولوي محمد سرور خان واصف الکوزي، میر سید قاسم خان لغماني، محمد ظفر خان مروت بنو ځي، مولوي محمد حسین خان اورمړ جا لند هري، ډاکټر غني پنجا بي او د د ه د وه ورونو نجفعلي او چراغعلي غو ند ې خلکو سره چې د مشر وطیت د غو ر ځنګ د نا متو لار ښو د و نکو نه وټینګې اړیکي لرلې.

غلا م محي الد ین افغان د ۱۳۳۹ هجري قمري کال د زمري د میا شتې په ۱۲ نیټه په کا بل کې وفات او په شهد ای صا لحین کې خاوروته وسپارل شو.

ماخوذ د ه [79، 80، 81] نه

# 49 ځاځي

که چیرې د ځا ځیو پښتنو د نسب شجره په غور سره وڅیړو نو جو ته به شي چې د وی د پښتنو د کرلاڼي پښتنو په ډله کې راځي. د پښتنو ستر اتل او د تورې او قلم خا وند خو شال خان خټک په خپل بیاض کې د توري او ځا ځي ښنا خو نه د کر لاڼ له نسله ګڼلي د ي.

ځا ځیان د پکتیا ولایت له مهمو قبیلو نه شمیرل کیږي. شمال خوا ته یې غلجیان، د لو ګر د ازرې او د ننګر هار د حصارک ولسوالۍ او لږ څه د خو ږ یا نیو قبیله، لو ید یځ ته یې احمد زي، جنوب ته یې مقبل، څمکني، منګل او تو تا خیل او ختیز ته یې د ډیورنډ کر ښه پر ته د ه چې د کو رمې ایجنسۍ سره پو له لري اود پیواړ مشهورا و تا ریخي کو تل د د غې قبیلې په سیمه کې مو قعیت لري.

ځا ځیان په پکتیا کې په اریوب، د ځا ځیو په ولسوالۍ، د خوست ولایت په ځا ځي مید ان اود څمکنیو په ولسوالۍ کې او هم په ډنډ پټان کې ا ستو ګنه لري. یو شمیر ځا ځیان د کابل په شاه شهید، نوې کارتې، رحمن مینې او

79 د افغان یاد، د مقالو مجمو عه، د کا بل پو هنتون د ژبو اواد بیاتو پو هنځی ۱۳۶۱ کال، ۱۵-۲۵ مخونه
80 تواریخ خو رشید جهان، د شیر محمد خان ګنداپور تالیف، د لاهور چاپ، ۱۸۶۷ ع. ۲۲۲ مخ
81 جنبش مشرو طیت د ر افغانستان، د علامه عبد الحی حبیبي اثر، ۳ـ، ۳۱، ۳۲ او ۳۳ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمتې خانې او د ه خد اید اد په سیمو کې هم استوګنه لري. د کند ز او بغلان په و لایتو نو کې هم یو شمیر ځا ځي میشته د ي. د پښتونخوا د کورمې او اور کز یو په ایجنسیو او په تیره بیا په پاړه چنار، کو هاټ، هنګو، د ر سمند او پیښـــور کې هم ځا ځیان استوګنه لري. د تا ریخ حیات افغا ني لیکوال محمد حیات خان له نن نه ۱٤٤ کلو نه وړاند ې د ځا ځیـــو د و سله والو کسا نو شمیر ٥ــ زره تنه ښو د لي وو.[82]

## 49.1 د ځا ځیو د قبیلي خیلونه

احمد خیل، حسن خیل، ها شم خیل، علي خیل، هد ه خیل، لیو ني، بیا ن خیل، ډبزي، تعد ي خیل، سکند ر خیل، با د ین خیل، ماما خیل، کو ټکي، خا ن خیل، میر خیل، خوازي خیل، غو نځي احمد خیل، مصري خیل، کټه خیل، شو خیل، همزه خیل، مري خیل، سا تي خیل، ند و خیل، خر منه.

د ځا ځیو د قبیلې خلک په عمو مي ډول د کر نې په چارو بوخت د ي، خو یو شمیر یې پـــه ســـو د لګـــرېـــزو کارونو او په تیره بیا د تر انسپورټي کارونو په سبب خپله ګو زاره کوي. د منډ هیر مشهور ځنګل هم د د وی په سیمه کې مو قعیت لري. ځا ځي میلمه پال، غیر تمن، هیواد پا لو نکي او په علم او پو هې با ند ې مین خلک د ي. د انګر یـــزي ښکیلا ککرو پر خلاف یې ډیرې تورې وهلي د ي او هر ځلې یې د خپلو نورو هیواد پا لو نکو په څیر خپله میړ انه او زړ ر تیا ثا بته کړې د ه. د روسي بلو سګرو او تیري کوونکو ځو اکو نو په وړاند ې یې هم خپله ملي او اسلامي د ند ه په ښه تو ګه تر سره کړې د ه او د وی ته یې خو له ما توونکي ګو زارونه ور کړي د ي.

## 49.2 د ځا ځیو ځیني علمي او ملي څیرې

ځا ځي سر بیره پر د ې چې د تورې په ډګر کې یې له ځا نه ډیرې میړ انې ښو د لې د ي د علم او پو هې په ډګر کې یې هم یو شمیر کسان ټو لنې ته وړاند ې کړي د ي چې د ا نه یوازې د ځا ځیو د قبیلې له پاره د ویاړه ډک کســـان د ي، بلکې مو ږ ټول افغانان پرې ویاړو. زه به په د ې لړ کې د لته د یو شمیر کسا نو نو مو نه یاد کړم :

1. د کتورانجنیر جمعه محمد محمد ي

خد ای بخښلی د کتور انجنیر جمعه محمد محمد ي د پکتیا ولایت د ځا ځیو ولسوالۍ د شاه محمد په کلي کې نړۍ ته ستر ګې پر انیستلې. لو مړنۍ زد ه کړې یې د خپلې ولسوالۍ په یوه ښوونځي کې تر سره کړې او بیا وروستهپـــه کا بل کې د رحمن بابا په لیسه کې شا مل شو. د رحمن بابا په لیسې کې د زد ه کړو تر پا یته رسو لو ورو سته د یوه سکا

82 تاریخ حیات افغا ني، پښتو ژ با ړه، د پیښور چاپ، ۳٥٤ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لر شیپ په اخیستلو سره چې د د ه د ښه استعد اد په وجه د ه ته ور کړل شوی و، لند ن‌تـــه لاړ او خپلـــه BSC يـ ې د London School Of Economics نه تر لا سه کړه. ور پسې خپله Ph.D د Sussex د پو هنتون نه وا خیسته. کله چې افغانستان کې جمهوري نظام را مینځ ته شو نو انجنير جمعه محمد محمد ي د شهید د اود خان په کا بینه کې د اوبو او بر ښنا وزېر په تو ګه وټا کل شو. کله چې د غو يي کو د تا وشوه نو خد ای بخښلی محمد ي د څه مود ې لهپـــاره زنـــد اني و. د حامد کرزي په و خت کې نو موړی د افغانستان د کا نو او صنا یعو د وزیر په تو ګه و ټا کل شو، خو د ۲_۳ کال د فبر وری د میا شتې په ۲۴ نیټه په یوه هو ایې پیښنه کې د د ه الو تکه را و غور ځید ه او د ه له د ې فا نې نړۍ نه ستر ګې پټې کړې. خد ای بخښلی یو هیواد پال، با تقوااو په هیواد او خلکو با ند ې مین شخصیت و.

2. د کتور نبي مصد اق [83]

په خټه د پکتیا ځا ځی د ی. خپلې ز د ه کړې یې د کابل د رحمن بابا په لیسه کې سر ته رسولي د ي. ورو ســـته د یوه سکا لر شیپ په تر لا سه کو لو سر ه لند ن ته لاړ او Bs.C Hon يې London School of Languge کې تر سر ه کړې او خپله Ph.D يې د Sussex د پو هنتون نه تر لا سه کړه. وروسته یې په اتیا یمو کلو نو کې BBC را ډیو ته ه لاره و مو ند له او د ی په BBc را ډیو کې د پښتو څا نګه تا سیس کړه. د ه پر افغانستان با ند ې د رو سانو د تیر ي په اړوند کتا بو نه هم کښلي د ي. نوموړی په ۲_۱ کال کې امر یکي ته لاړ او د George Minson په پو هنتون کې یې د پښتو ژبه تد ریس کو له. د ی اوس په ویر جینیا کې د پښتو ژبې د نصـــابپــــه اړونـــد د Diplpmatic languge School سره په کار بو خت د ی.

همد اراز د افغانستان د علو مو اکا ډمۍ د فلسفې څا نګې غړي ښا غلی سر محقق د کتور خو اجه الد ین صد یقي او د همد ې اکا ډمۍد ژبو اواد بیاتو د انستیوت غړي ښا غلی سر محقق نو رالله ولسپال او ښا غلي ســـر محقـــق محمـــد عارف غر وال چې د پښتو ژبې خوږ ژبی شا عر هم د ی د ځا ځي قبیلې ته منسوب خلک د ي چې هر یو یـــې د پښـــتو ژبې او اد ب ته د قد ر وړ خد متو نه کړي د ي. د همد ې قبیلې ته یو بل منسوب شخص ښا غلی تور یالی تور ځا ځی د ی چې د ی هم په پښتو ژبې او اد ب مین سړی د ی او د ه د هیواد په مطبو عا تو کې خپلې ژبې ته د ستا ینـــې وړ خـــد متو نه کړي د ي.

ماخوذ د ه [84، 85] نه

83 http://en.wikipedia.org/wiki/Nabi_Misdaq

84 http://en.wikipedia.org/wiki/Zazi

85 معلومات مختصر د ر باره اقوام و قبا یل و لایا ت سر حد ي کشور، ۴۵مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 50 ځدران

ځدران د پښتنو يوه مشهوره او نوميالۍ قبيله ده چې ز موږ پښت پوهان د وی د پښتنو د کرلاڼي په ټولنيز ګروپ کې شميري. ځدران د پکتيا، خوست او پکتيکا په ولايتونو کې استوګنه لري. د پکتيا ولايت ځدران په وزه ځدران او زرمت په ولسواليو، د خوست ځدران د دغه ولايت د سپيره او تڼي په ولسواليو او د دغه ولايت په مرکز کې اود پکتيکا ولايت ځدران د دغه ولايت د ارګون، ګيان، زيړوک او نکه په ولسواليو کې ميشته دي.

د ځدرانو شمال ته منګل، احمدزي، ګردېز او زرمت مؤقعيت لري، لويديز ته يې زرمت او د خروټو قبيله، جنوب ته يې پيرګوتي او يوه برخه يې د ډيورنډ د کرښې سره د مده خيلو وزيرو سره پوله لري.همدارازختيز لوري ته د خوست، تڼيو او منګلو سره پوله لري.

د تاريخ حيات افغانۍ ليکوال ډپټي محمد حيات خان له نن نه ۱٤٤ کلونه وړاندې د ځدرانو د قبيلې په اړوند داسې کښلي دي :[86]' د ځدرانو د قبيلې د استوګنې سيمه د خوست لويديز او د زرمت ختيز ته يوه شنه غرنۍ سيمه ده. د دوی په دغه شنه غرنۍ سيمه کې رڼې اوبه، شنه وابنه، د نګې د نګې ونې، د مرغانو اوازونه او سړه هوا انسان ته خوښي او خوشالي وربخښي، خوسره ددې ښې اب و هوا د کرنې وړ ځمکه پکې لږه ده او دغه د ځمکو کموالی تر دې اندازې پکې محسوس دی چې خلک تيرې په ځانګري ډول اواروي او خاورې وربانديې اچوي او د کرنې له پاره يې چمتو کوي. له همدې کبله ده چې د دغې سيمې پيداوار د نوموړې قبيلې د خلکو له پاره بسنه نه کوي او د وی د مزد و ريو له پاره ګاونډيو سيمو ته ځي. ځدران د ځاه ګانو په کيندلو او ژورولو او همدارازد ختيځنو ديوالونو په جوړولو کې ځانګړی مهارت لري.

ځدران په خوړو کې د غنمو، جوارو او وريجو نه ګټه اخلي او خپلې خوراکي اړتياوي د ګرديز او خوست د ښارونو نه لاس ته راوړي. د دوی په غرنيو سيمو کې ډول ډول ميوې لکه منې، مندتې، غوزان (چارمغز)، بادام او ځنغوزي پيدا کيږي. چې ځنغوزي د دغه ځای له غوره پيداوارو نه ګڼل کيږي. په دوی کې مالداري هم شته او وزې، پسونه او غوايي ساتي.

مشهور انګريزي تاريخپوه مونټ سټوارټ الفنسټن په خپل مشهور اثر An Account of The kingdom of Cabul کې د ځدرانو د قبيلې د خلکو په اړوند داسي ليکلي دي : [87] ' د دوی جامې د وزيرو د قبيلې د خلکو

86 تاريخ حيات افغاني، پښتو ژباړه د پيښور چاپ ۳٤۸-۳٤۹ مخونه

87 د کابل سلطنت بيان، د کابل چاپ، ۷٤ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څیر د ي او د خر و ټو په لور د ځنغو زیو ډکو ځنګلو نو په مینځ کې د رومي۔ "

## 50.1 د ځدر انو د قبیلې ښنا خو نه، څا نګې او خیلو نه

که چیري د ځد را نو د قبیلي د شجرې په اړوند څیړ نه و کړو نو لکه چې د مخه وویل شـــو ل د وی کرلانـــي پښتا نه د ي. په پښتني عنعنوي شجرو کې ځد راڼ د بر هان زوی، د ککي لمسی او د کر لا ڼ کړ وسی د ی، نن ورځ د د غې قبیلې خلک د ځد راڼ د نامه په وجه په ځد رانو سره شهرت لري۔ د ځد را نو د پا تې ښاخونو، څا نګو او خیلونـــو نو مو نه په لا ند ې تو ګه د ر پیژند ل کیږي :

تولا خیل، احمد خیل، شیر خیل، زنګي خیل، سوري خیل، بر اهم خیل، پیرو خیل، با زید خیل، ســلطا نخیــل، بهیکار خیل، ایسپ خیل، ا ختون خیل، ابو خیل، الله خیل، با زکي، وید ي خیل، د یري خیل، هوس خیل، خوی خیل، مو سم خیل، بیبه خیل، زني خیل، غرزي، سپیره کي، مد ه خیل، شاه خاني، یحیي خیل، غیبت خیل، میزایي، باروم خیـــل، شریک خیل، پړانګي، خان خیل، جنیا ت خیل، توري خیل، مر شن خیل، هوني خیل، خوز خیل، زود ین، ملک د ین او نور خو په عمو مي تو ګه په ځد را نو کې د غه لا ند ینۍ ښنا خو نه او څا نګې مشهور د ي : پیر د اد خیل، زنـــي خیـــل، ختین خیل، بیبه خیل، علي محمد خیل، سپا هي خیل، زني خیل، ګر مو ښي، سپر غه خیل، د ري خیل او میـــر زلیـــي۔ د ۱۳۵٤ کال د مرکزي احصائیې د سر شمیرنې له مخې د پکتیا او پکتیکا په ولا یتو نو کې د ځد ر ا نو د قـــبیلي د خلکـــو مجمو عي شمیر ۱۵٤۱۲۲ تنه ښود ل شوي وو چې ښنا یې د ا شمیر به اوس ډیر شوی وي۔

ځد راڼ غیر تمن، په هیواد او خپلو اکۍ مین، جنګیالي، میلمه پال، د یند اره او په پښتو او پښتو نو لۍ بانـــد ې مین خلک د ي۔ د تاریخ حیات افغاني د لیکوال په قول د وی ډیر جنګیالي خلک او تقر یبا هر با لغ تن یې په خپل کـــور کې وسله لري، څو د بهر نې یر غل په وخت کې د خپلې قبیلې د خلکو او سیمې نه سا تنه او د فا ع وکـــړي۔نومـــوړي مؤرخ ۱٤٤ کلو نه وړاند ې د د وی د وسله والو جنګیا لیو شمیر له ۱۵ زرو تنو نه زیات ښو د لی د ی۔ په ر ښتیا هم چې د وی د هر تیري کو ونکي ځواک په وړاند ې په ډیر میړ نتوب سره جنګید لي او ستر ې حما سې یې زیږ ولـــي د ي۔ د افغان - انګر یز په د ري ګو نو جګړو کې د نورو افغا ني شاه زلمیانو تر څنګ یې په ډیره میړانه توري وهلـــي د ي، چې د بیلګې په تو ګه د غازي ببرک خان ځد ر اڼ نوم یا د ولای شو چې د افغانستان د حما سو تا ریخ د د ه په ویا ړلـــي نوم فخر کوي۔

د روسي یر غلګرو په وړاند ې هم ځد رانو د ملي مقا ومت سنګر ونه تا ود ه سا تلي وواو د هغوی په وړاند ې په میړانه جنګید لي د ي چې په د غو جنګیا لیو کې د مو لانا جلال الد ین حقاني او ګل زرک ځد راڼ نو مو نه د یا د ونې وړ د ي۔د ځد رانو بل قو مي مشر با چا خان ځد راڼ د ی چې د ځد رانو په قبیله کې ډیر نفوذ لري۔ نو مـــوړی اوس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان په پا رلمان کې د خپلې سيمې منتخب استا زی د ی.

همد ارازيو شمير څد رانو د شهيد د اؤد خان په رژيم او د ثور تر کو د تا ورو سته رژيم کې پو ځي د ند ې د ر لود ې چې په هغوکې د پا چا گل وفاد اراو سيد محمد گلابزوی نو مو نه يا د و لای شو. پا چا گل و فاد ار د د اؤد خـــان په وخت کې د سر حد و نو چارو وزير او د ثور تر کو د تا وروسته په هند کې افغا ني سفير و. همد اراز سيد محمد گلا بزوی د کارمل په رژيم کې د کو ر نيو چا رو وزير او اوس د افغانستان د پا رلمان او ملي جبهې غړی د ی.

## 50.2 د ځد را نو د قبيلې علمي او اکا ډميکې څيرې

1. پو هنوال ډاکترنظر محمد سلطا نزی ځد راڼ

نو موړی هستوي فز يکپوه او د افغانستان د اتو مي انر ژۍ د سازمان AAEC پخو انی مسئول مشـــر و. د د ه ډير اثار او مقا لې خپرې شوي د ي چې زه يې د لته د ځينو مقالو نو مو نه وړاند ې کوم : د اتوم انرژۍ بنســـتيزفـــو رمول، د چر نو بيل د پيښې شل کلن تاريخ، د گا ونډيو هيواد ونو هستوي از مو ينې، اتو مي بمو نه او مذ هبي نو مو نه، د مسلمان پښتون او د اتو م بم د کار پوه عبد القد ير لنډه پيژ ند نه، د ويني د سر طان نار وغي، پيژند نه، د ر ملنه او مخنيوی، په هيواد کې د اتو مي پا تي شو نو خبر تيا، د سر طا ني نا رو غيو کلينيکي فورمول TNM او نور...

2. پو ها ند د کتور الف شاه ځد راڼ

د کابل پو هنتو ن د ټولنيزو چارو استاد او څه مود ه د کا بل پو هنتو ن د علمي چارو د مر ستيال په تو گه يې د نده د ر لود ه. نو موړی د يو شمير ز يا تو علمي اثارو خا وند د ی.

3. سر محقق عبد الر حيم ځد راڼ

د ی د افغانستان د علو مو اکا ډمۍ يو تکړه محقق د ی. د د ه زيا ت شمير مقالې د کا بل په مجلـــه، د زيـــري پــــه جريد ې او د هيواد په نورو معتبرو مجلو او جر يد و کې خپرې شوي د ي. د د ه يو مهم اثر د رو هيله پښتانه په نــــامه سره ياد يږي چې په هند او په تيره بيا د رو هيلکهنډ د سيمي پښتا نه نو ابا ن پکې معر في شوي د ي.

4. سراج الحق ببرکزی ځد ر اڼ

حقو قپوه او قا نو نپوه د ی. د ی يو شمير اثار او مقالې لري چې د ځينو مقالو نو مو نه يې د اد ي : افغانســـتان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نړ یو اله جز ايي محکمه، یو نسکو، د بشر حقوق او مو رنۍ ژ به، د عر بو سيا سي نظا مونو سیستم او په افغانستان کې د ژبو سيا ست او ملي تر مينا لو جي نو ميرې.

5. عبد القاد ر ځد راڼ

د ښا غلي ځد راڼ مقالي او ژ با ړې د هیواد په مطبو عا تو کې خپرې شوي د ي چې ما د د ه مقالې د کابـــل پـــه مجلې او په زيري کې لو ستې وي. ښا غلی ځد راڼ په جر مني ژبه کې وارد د ی.

ماخوذ د ه [88، 89، 90] نه

## 50.3 ځمند

د پښتني عنعنوي او د ود يزو رواياتو له مخې د سړبن زوی خر ښبون د ړي زامن د ر لود ل. یو يې کندنـــو ميد ه چې د د ه د ريم زوی غری یا غو ريا نو ميد ه او او لاد ه يې د غو ر یا خیلو په نامه سره یاد ېږي چې د مو مند و، خليلو، د اؤد زو، ز يړ انو او څو کنو قبيلې د د وی او لاد ه ګڼله کیږي. د خر ښبون د ويم زوی ځمند یا جمند و چې د د ه د او لاد ې نه خيشکي، کتاني، اومهمنزي ډير مشهور د ي. همد اراز د خر ښبون د ريم زوی کاسی یا کا نسي و چې د غه قبيله به په خپل ځای کې ورو سته و څیړ له شي

د ځمند د قبيلې سيمه په پيل کې د کند هار په شا او خوا د ارغستان د غوړې مر غۍ سيمې ته نږد ې پر ته وه او د (٨ـ-٩ـهجري) کلو نو تر مينځ د وی د پشين سيمه چې په هغه و خت کې د پشنګ په نامه یا د يد له هم تر لا سه کـــړه. ورو سته ځمند یا جمند چې ستر ښاخ يې خيشکی و په د غه ځای کې ډير په تنګ شول. د ځمند د قبيلې نه ځيني خلـــک ملتان ته لاړل او هوري میشته شول او د خيشکي ښاخ خلک د غز ني له لارې کا بل ته او د کا بل له لارې د غوربند د رې ته لاړل او د غه ځای يې د او سيد لو له پاره غوره کړ چې تر او سه پورې یو زيات شمير ځمند او خيشکي هلته مېشـــته دي.

په هغه وخت کې چې مغو لي ظهير الد ين محمد بابر کا بل ونيوه او څه مود ه ورو سته يې پر هند با ند ې د ير غل تکل وکړ، نو ځينې خيشکو او ځمند و چې په غور بند کې او سيد ل ورته ګران ښکاره شول د هند و ستان خــــواته رهي شول اوډير شمير خيشکي او ځمند د خپلو کو رنيو سره د پيښور له لارې هند و ستان ته ولیږ د يد ل چې په د غه

---

88 http://www.khyber.org/pashtotribes/trees/zadran.shtml

89 http://benawa.com/kandahar/ariki

90 معلومات مختصر د ر باره اقوام و قبا يل سر حد ي کشور، ٤٩ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې سليم خان ځمند د د غې قبيلې مشر او سرد ارو. [91]

د وی د لا هورجنوب ختيز ته په هغه ځای کې ميشته شول چې نن د قصور ښار پروت د ی او د وی نن ورځ د قصوريه پټا نا نو په نامه سره ياد ېږي. په د غه و خت کې له بد ه مر غه د وی د سليم خان ځمند تر مشری لاند ې د بابر پا چا په لښکرو کې د ند ې د ر لود ې او په هغه جګړه کې چې د هند و ستان د پښتون واکمن سلطان ابر اهيم لود ي او مغولي با بر شاه تر مينځ په پاني پت کې وشوه په هغه وخت کې د ځمند د قبيلې (۷ــ) تنه ځمند چې د با بر شاه په پوځ کې يې د ند ې د ر لود ې ووژل شول. له همد ې کبله و چې بابر او هما يون پر د وی ډيره مهر با ني کوله. هغه وخت چې خيشکي او ځمند په قصور کې ميشته شول، نو د سپره په نوم يو تن بلو څ د خپلې قبيلې له يوې ډلې سره د د وی سيمې ته راته او په لوټ او تا لان به يې لاس پورې کاوه چې د د غو بر يد و نو د مخنيوي له پاره د بټک زي، عارف زي، حسن زي، شا بنزي، کرلاڼي او سلمهاک چې د د غې قبيلې ښا خو نه د ي په بر کلي کې ميشته شول اود د ې له پاره چې سپره به له د غې لارې پر د وی ير غلو نه کول نو د غه لاره يې بند ه کړه او بيا سپره له د غې لارې نور لوټ او تالان نه شو کو لای. همد اراز د د غې قبيلې د عزيز زي، جنوزي او ابر اهيم زيو ښا خو نه په لر يا ښکتني کلي کې ميشته شول او پا تې ځمند په مطلق ډول د شمال خو اته پر يو تل. تر هغه ورو سته ابر ا هيم زي د جنوزي د ښاخ سره د د ښمنۍ له کبله له د غه ځايه ولېږ د يد ل او د هند و ستان د اتر ا پراد يش د ايالت د خور جې په باره بستي کې ميشته شول چې نن د خو رجه ښار د پټا نا نو ښارد ی. همد اراز زياتره سلمها کو چې د امچو زيو او حسين زيو سره يې د مقا بلې توان نه د رلود د ټاند ه سيمې ته لاړل او يو شمير يې په قصور کې پا تې شول او د بټک زيو يو شمير هم د کو ر نيو شخړو له کبله په هيرو وال کې ميشته شول.

د جمند د قبيلې خلک د کند هار په ار غند اب کې چې هلته يو کلی هم د خيشکو په نامه شته، پشين، د پروان ولا يت د غو ربند ولسوالۍ د تيخان، يخد رې اود سيد انوپه د رو، پيښور، اشنغر، نو ښار، چا رسد ه، ، مو مند و ايجنسۍ، د خيبر د تا ريخي د رې تر مينځ، د پاکستان د پنجاب په په قصور، ټاند ه اوهير و وال او د هند و ستان د اتر ا پراد يش د ايالت په خور جه کې استوګنه لري.

## 50.4 ښاښونه او څانګې

د ځمند د قبيلې ښا خو نه او څا نګې په لا ند ې ډول د ي

خيشکي، مهمن زي، عزيززي، بټک زي، سلمهاک، امچوزي، کرلاڼي، زيړاني، عمرزي، غيبي زي، نکبي زي، زيمل، باجوزي، جميل زي، منصورزي، امچي زي، بټي زي، شور ياني، خلفزي، و ټوزي، جنوزي، شبن زي، عارف

91 پښتا نه د تاريخ په رڼا کې، د سيد بهاد ر شاه ظفر کا کا خيل، يو نيور سټي بک ايجنسي، پيښور، ۱۳۲۶ مخ، ۱۹٦۲ ع کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زي، ابراهيمزي، اشوزي، شموزي، عمر زي، ملازي، الازي، عيسى زي اونور...**

**د غوربند ولايت د ځمند د قبيلي د خيشکو ښاخو نه د اد ي :**

**شا هي خيل، ملي خيل، علم خيل، بار خيل، سليمان خيل، خليل خيل او ياروم خيل.**

**ماخوذ د ه [92، 93، 94] نه**

# 51 څوليزي

**که چيري د څو ليز يو د نسب شجره په غور سره و څيړو نو څو ليزي د غلجيو په ټولنيز گروپ پوري‌يـــوه تړ لې قبيله د ه چې زيا تره يې کو چيا ني ژوند پر مخ بيا يي، خو د څو ليزيو د قبيلې نه يو شمير يې کليوالي ژو ند هم غوره کړی د ی.**

**څو ليزي چې په سليمان خيلو غلجيو ور ګډيږي ډير شمير خلک يې د ننګر هار ولايت د چپر هار و لسوالۍ د څو ليز يو په کلي کې ا ستو گنه لري، چې د غه کلی د د وی د استو ګنې په و جه د څو ليز يو د کلی په نامه سره مشهور شوی د ی. د ننګر هار په و لايت کې ميشته څو ليزي د کر نې او ما لد ارۍ په چارو بو خت د ي. که څـــه هــــم د د وی د استو ګنې سيمه و چه او په پوره او کا في اند ازه او به نه لري، خو د وی ميړې، پسونه، وزي او او ښان‌هـــم ســـاتـــي. ځيني خلک يې د سو د اګر يو په چارو هم خپلې شپې او ورځې تيروي.**

**څو ليزي د يند اره، غيرتي او په هيواد او خپلو اکۍ مين خلک د ي. د رو سانو د ير غل په وخت کې د روسي تيري کوونکو سره په نره جنګيد لي او د وی ته يې خو له ما توونکي ګو زارونه ور کړي د ي.**

**د څو ليزيو د قبيلې يو شمير خلک د کابل د بګر اميو په سيمه کې هم استوګنه لري. د د غې قبيلې په مشر لنـــو کې اروابناد ملک نور جان مشهور سړی تير شوی د ی. د ننګر هار ولايت د څو ليزيو مجموعي شمير د ٤... تنو په شـــا او خواکې ښود ل شويد ي**

---

92 http://en.wikipedia.org/wiki/Kasur

93 http://www.khyber.org/pashtotribes/k/kheshki.shtml

94 حيات افغا ني، د ډپټي محمد حيات خان اثر، پښتو ژباړه ۲٤٥- ۲٤٦ او ۲٤٧ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 52 ځینزي

ځينزي د غلجيو پښتنو په مينځ کې يوه مشهوره قبيله د ه. د د غې قبيلې زياتره شمير د ننګر هار ولايت په حصارک غلجايي ولسوالۍ کې مېشته د ي چې د د وی مجمو عي شمير د. ۱ ـ تنو په شا او خوا کې ښو د ل شوي د ي. همد اراز د ځينز يو د قبيلې يو شمير خلک د لغمان و لايت د قر غيو په ولسوالۍ او د عز يز خان کڅ په سيمه کې هم استوګنه لري.

ځينزي زياتره د کر کيلې او سو د اګر يو په چارو بو خت د ي. د وی د ښو کړووړ ښتنان د ي. په د وی کې ميلمه پا لنه ډيره د ه او د پښتني عنعنو او د ود ونو ته ډير د ر ناوی لري. ځينزيو هم د خپلو نورو پښتني قبيلو په څير خپلو اکي غو ښتو نکي خلک د ي. د وی د انګر يزي ښکيلا ګګرو سره د افغان- انګريز په د رو ګو نو جګړو کې په ميړ نتوب سره جنګيد لي او خپل هيو اد نی رسالت يې په ښه تو ګه سر ته ر سولی د ی. د روسي يرغلګرو په وړاند ې هم د ځينز يو د قبيلې شاه زلميو خپله پښتو نواله او افغا نيت په ښه تو ګه ثا بته کړې د ه.

پاتې د ې نه وي چې يو شمير ځينزي په ټول افغانستان او په تيره بيا د غلجيو پښتنو په سيمه کې په خواره واره ډول ژوند کوي.

# 53 حسين خېل

حسين خيل په غلجيو پښتنو کې يوه نا متو قبيله د ه. د د غې قبيلې خلک د لغمان ولايت مرکز مهترلام ته نږد ې په يو شمير کليو په تيره بياد د ه زيارت په کلي او يو شمير يې د کا بل د بګر اميو د ولسوالۍ د شيوه کيو په شا او خوا سيمه کې ژوند کوي. د پر وان و لايت په يو شمير و لسو اليو په تيره بيا په قره باغ او مير بچه کوټ کې هم يو شمير حسين خيل او سيږي. همد ارا د ميد ان او ورد ګو ولايت مرکز ته نږد ې اوهم د نر خ په ولسوالۍ کې يو شمير حسين خيل غلجي ميشته د ي. د ننګر هار ولايت د چپر هار ولسوالۍ د ما ښو په کلي کې هم يوڅو کوره حسين خيل شته چې ويل کيږي د ميد ان ولايت نه ډيره موده پخوا د غې سيمې ته ليږد يد لي د ي. پا تې حسين خيل د افغانستان په بيلا بيلو بر خو کې په خواره واره ډول استوګنه لري.

حسين خيل ميلمه پا لو نکي، په علم او پو هې مين خلک، پر مختګ غو ښتو نکي، غيرتي اوپه هيواد او خپلو اکۍ مين خلک د ي. د وی زياتره د کر کيلې او سو د اګرۍ په چارو بو خت د ي. يو شمير خلک يې د و کا نو نه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې حسين خيل د ولتي د ند ې هم لري.

# 54 خبني، بنخي، خوخي، خابني خېل، بناخي خېل

د پښتنو په عنعنوي او د ود يزو شجروکې راغلي د ي چې سړ بن نيکه د وه زامن د ر لود ل يو يې شر خبون او بل يې خر شبون نو ميد ل. خر شبون د رې زامن د رلود ل چې کاسي، کند او ځمند نو ميد ل. کند د وه زامن د رلود ل چې يو يې بنخی يا خو خی نو ميد چې او لاد ه يې د خا بني خيلو په نامه سره ياد ېږي او د ويم زوی يې ابر اهيم نو ميد چې غري يا غو ريا نو ميد او او لاد ه يې د غو ر يا خيلو په نامه سره شهرت و مو ند.

د پښتو نازکخيال شا عر حميد ما شو خيل د پښتنو د د غو د واړو قبيلو په اړوند د خپل شعر په يوه بيت کې د اسي وايي :

چې د ا ستا د نامې بوی اخلي حميد ه ! څه به نه وي خوش د ما غه غوري، خبني

يوسفزي، مند ړ، ګګيانې او تر کلانې چې په مجمو عي تو ګه د خابني خيلو په نامه ياد ېږي د د وی اصلي ټا ټوبی د کند هار د ار غستان په حد ود و کې د غو نډان اوسره غره په شا او خوا هغه ځمکه د ه چې د غوړې مر غۍ په نامه ياد ېږي. خا بني خيل چې د تر ينو د قبيلې په ګا ونډ کې او سيد ل د تر ينو د فشار او زور زياتۍ په وجه د نو موړې سيمې پر يښود لو ته اړ شول او د غو ريا خيلو له خوا د غزني د مقر په کڅۍ کې په ور کړل ځمکې او ور شو با ند ې د يو څه وخت له پاره ميشته شول، خو ورو سته بيا له غوريا خيلو نه خو ابد ي او خپه شول، نو هما غه و چې نو موړې سيمه يې هم پر يښود ه او د کابل خو اته راوليږ د يد ل. د راتګ په وخت کې اتمان خيل هم ور سره ملګري شول او د کابل په شا او خوا ور شو ګانو کې ميشته شول.

په همد ې وخت کې د سلطان ابو سعيد زوی ميرزا الغ بيګ چې کو چنی و د ماوراالنهر نه کا بل ته راغلی و، نو د خا بني خيلو د قبيلې مشري ملک سليمان شاه ته ور په غاړه وه چې د ملک تا ج الد ين زوی او د ملک رځړ لمسی و. ملک سليمان شاه د کو چني الغ بيګ سره ډيره مينه کوله.يوه ورځ ميرزا الغ بيګ د سليمان شاه په غيږ کې نا ست و، قد وه المکا شفين شيخ عثمان د موتي مليزي زوی چې د هغې زمانې د وليا نو نه و او د يو سفز يو خلک د د ه معتقد ين وو پرې ورغی. شيخ عثمان قد س سره چې کو چنی مرزا الغ بيګ د ملک سليمان شاه په غيږ کې نا ست وليد ورته يې وويل چې ملکه ! د ا څه کړې ؟ ملک سليمان شاه ور ته وويل چې د ا شهزاد ه د ی لو يوم يې که پا چا شي نو سلطنت به يې زما شي او قوم به مې پرې عزيز او د روند شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ عثمان ور ته و فر ما یل چې :" د د ې ما شوم ستر ګې لکه یزید هسي د ي چې صحابه (رض) یې قتل کړي او هلاک کړي وو د غسي به ستا قوم هم هلاک کا "

ملک سلیمان ورته وویل چې :

' شیخه د اسي مه وایه تا ته د اسي نه ښایي، چیرې نه چې په د ې خبره بل څوک خبر شي، خو پا چایان د چا احسان نه ورکوي. د ی شهزاد ه د ی چې لوی شي پا چا به شي قام به مې پرې محترم شي "

شیخ عثمان ورته وویل چې ښه ملکه! خبر مې کړې، بیا به وایې چې ما ته د ې نه و ویلي، نورد ې اختیار خپل د ی '

همد ا خا ښي خیل وو چې د مرزا الغ بیګ سره یې د کا بل د تخت په نیولو کې ډیره ډیره مر سته وکړه او هغه یې د کابل واکمن کړ. میرزا الغ بیګ تر هغه پورې چې کمزوری و، په همد غو پښتنو به یې ځان سا ته، خو کله چې په خپلو پښو ود رید او پیا وړی شو، نو د پښتنو پر خلاف یې په مخا لفت لاس پورې کړ. الغ بیګ د یو سفز یو او ګګیا نیو تر مینځ بې اتفا قي وا چو له. ورو سته بیا یې د خا ښي خیلو پښتنو مشر انو ته یوه میلمستیا جوړه کړه چې ۹۰۰ تنو پکې ګډون کړی وو، بیا یې د میلمستیا او ډوډۍ خوړلو په وخت کې په نا ځوانمر د انه توګه یې د غه ۹۰۰ تنه له تیغه تیر کړل چې هد یره یې د کا بل په سیاه سنګ کې مؤ قعیت لري. د ا پیښه د ۱۴۸۰ او ۱۴۹۰ عیسوي کلو نو په شا او خوا کې پیښه شوې د ه.

تر د ې خونړۍ او خوا شینوونکې پیښې ور وسته خا ښي خیل پښتا نه د کا بل نه د ننګرهار پر خوا روان شول، تر کلا ڼیو په لغمان کې واړول او یو سفزي، ګګیاڼي او اتمان خیل په ننګر هار کې او سید ل چې وروسته نو موړې د رې قبیلې په سوات، د یر او با جوړ کې میشته شوې. ورو سته تر کلاڼي هم د لغمان د خلکو د شکا یت له کبله چې د الغ بیګ د ر بار ته یې کړې و د لغمان نه با جوړ ته ولیږ د ید ل چې تر او سه پورې هما غلته میشته د ي.

د خاښي خیلو د تر کلاڼي د قبیلي ښا خو نه د اد ي: سالا رزي، ما موند، ابراهیم خیل، اسوزي او سمیل زي.

د خاښي خیلو د مند ړ د قبیلي ښا خو نه د اد ي : ابا خیل، عمر خیل، بهزاد خیل، خد و خیل، رځړ، لکوزي، خضر زي، محمود زي، ما نوزي،

د خا ښي خیلو د یو سفز یو د قبیلې ښا خونه د اد ي : حسنزي، مد ا خیل، اکازي، چغر زي،نورزي، لکزي، خواجوزي، با چي زي، راڼیزي، مالیزي، سلطانخیل، نصرالد ین خیل او پا ینده خیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخوذ د ه [95، 96، 97] نه

# 55 خاکوانې

خا کو انې چې د خا وګا نې او خا ګو انې په بڼو هم را غلی د ی د پښتنو د سړ بن د ټولنيزې ډلې او د پنج پـــاې په ښا خ پورې يوه تړ لې قبيله د ه او با يد د ا قبيله د هغو خو ګيا ڼيو سره چې د ننګر هار ولا يت په خـــو ږ يـــا ڼيـــو ولسوالۍ کې استوګنه لري او په اصل کې کرلاڼې پښتا نه د ي اشتباه نه شي او يو ونه ګڼل شي.

د د غې قبيلې د وګړو شمير ډير لږ د ی، خو د قبيلوي پلوه په د وو بر خو ويشل شوي د ي چې يوه برخه يې سترخاکو ا ڼي او بله برخه يې کو چني خا کو ا ڼي د ي چې په کند هار او د نو ر زيو د قبيلې په سيمو کې ميشته د ي.

همد اراز يو شمير خا کو انې په هرات او د هرات په بيلا بيلو ولسو اليو کې ميشته د ي.د غز ني په ولا يت او د غه ولايت په بيلا بيلو ولسو اليو کې هم د خا کو انيو د قبيلې خلک استوګنه لري او د اسې ويل کيږي چې د د وی څـــو کلي د ما کو د کليو تر څنګ پر ا ته د ي چې خلک د وی د خا کو ا ڼيو ماکو انو په نامه سره ياد وي.

خا کو انې زيار کښه او ر ښتيني خلک د ي. د وی په ميلمه پا لنه او پښتني ننګ او غير ت با ند ې ولا ړ خلک د ي. په ټول افغانستان کې د د وی شمير د لسو زرو تنو په شا او خوا کې ښو د ل شوي د ي.

تا ريخ حيات افغاني چې له نن ورځې نه ۱٤٤ کلونه وړ اند ې ليکل شوی او مؤ لف يې ډپټي محمد حيات خان د ی په د يره اسماعيل خا ن کې د خا کو ا ڼيو د مشر انو په اړ وند د اسې ليکي: [98]

د خکو ا ڼي په قبيله کې غلام سرور خان خا کو ا ڼی چې د د يره اسما عيل خا ن او سيد ونکی د ی د خلکو پـــه مينځ کې د ډير قد ر وړ او په د ر نه ستر ګه ور ته کتل کيږي. د د ه زوی عطا محمد خان هم ډير ښه او بختور ســړی د ی. حيا ت افغا ني په د يره اسما عيل خان کې د خا کو ا ڼيو شمير په هغه وخت کې اتيا کو رنۍ ښو د لي د ي.

په اتلسمه عيسوي پيړۍ کې خا کوا ڼيو پر ملتان با ند ې حکم چلو لی د ی او نوابي يې د ر لود ه چې په د غـــو

---

95 پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، د پيښور چاپ، ۱۰۷-۱۰۸ او ۱۰۹ مخو نه

96 تاريخ حيات افغاني، ۲٤۷ مخ

97 تواريخ حا فظ رحمت خاني، د پير معظم شاه تاليف، پښتو اکيډيمي، پيښور ۱۹۷۱ کال، ٦-۷ مخونه

98 تا ريخ حيا ت افغا ني، د پيښور چاپ ۱٦۹ - ۱۷۰ مخو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ابا نو کې یو هم نواب علي محمد خان خاکوانی و چې د ملتان د سیمې مقتدر گورنر او نواب و چې افغانستان د ستر ټولواک احمد شاه بابا د فرمان له مخې د ملتان گورنر ټاکل شوی و. د ده د نوابۍ او گورنرۍ په وخت کې ملتان د کرنې او زراعت په برخه کې ډیره وده وکړه او د هغه ځای خلک په ډیر امن، خوشالۍ او سوکالۍ کې شپې او ورځې تیر ولې. همدارازنو موړي په کال ۱۷۵۷ ع کال کې په ملتان کې یو ستر جوماتهم ودان کړ چې تر ننه پورې د غه جوماتشته.

د ملتان د خاکوانیو د دقیق شمیر په اړوند مې معلومات تر لاسه نه کړای شول، خو په او سني وخت کې د ملتان د خاکوانیو نه د دوو مشهورو کسانو نومونه د یاد ونې وړ دي. یوهم مشهور وکیل او قانونپوه محمدنسیم خان خاکوانی او بل هم د کرنې د چارو ماهر او متخصص محمد سهیل خان خاکوانی دی.[99، 100، 101]

# 56 خټک

خټک د پښتنو یوه مشهوره او لرغونې قبیله ده چې د کرلانیو پښتنو پورې اړه لري، چې د خپل لوی نیکه لقمان په وجه چې په خټک سره مشهورشو اونن ورځ د خټکو په نامه سره یادیږي.

د تاریخي روایتونو له مخې په پیل کې خټک د جنوبي وزیرستان د شوال په غره کې چې د سلیمان د غره شمال لو یدیځه لړۍ ده استوگنه درلوده. د شوال وادي د بنو په لو یدیز کې پر ته ده چې اوږد والی یې شپاړس میله او پلن والی یې ۸ میله دی. د اسي ویل کیږي چې د وی ۶۔ کلو نه وړاندې له هغه ځایه د پښتونخوا د بنو سیمې ته راغلل او هلته یې د هني او منگلو د قبیلوسره چې د دوی په څیر کرلانې پښتانه وو استوگنه غوره کړه. څه موده ورو سته د کرلانیو یوه بله قبیله چې شیتک نومیده او اوس د بنو څیو په نامه سره یادیږي د شوال خوا ته ولیږد ل او له هغه ځایه یې د هني او منگل قبیلې و شړلې او پخپله په هماغه سیمې کې میشته شول. په د غه وخت کې خټک هم له دوی سره استوگن شول چې د سد راوڼ نهر او د هغه د شا او خوا سیمې د خټکو په لاس کې وې، خو تر څه موده ورو سته خټک د شیتکو سره د دښمنۍ په وجه له هغه ځایه ولیږد ید ل او د کوهاټ په شمال ختیزوبرخو کې میشته شول. د کوهاټ د غه برخې د چو ترې، ټیرې، لاچي، کربوغې، شکردرې، چراټ او نورو وادیو او سیمو نه عبارت دي. چوتره د او سني کوهاټ د غره (چې په کوهاټ کې د مالگې د غره جنوب لو یدیزه لړۍ ده) او د لواغر په مینځ کې یوه زرخیزه وادی ده. د د غې وادۍ مشهور ځای او د مالگې منډيي کرک نو میږي.ټیرې د کوهاټ له

99 http://www.answers.com/topic/multan

100 http://en.wikipedia.org/wiki/Multan

101 http://encyclopedia.stateuniversity.com/pages/15513/Multan.html

(c) ketabton.com: The Digital Library



بناره د ۳٦ میلو په واټن د جنوب خو اته یو مشهور ځای د ی او د کو هاټ د تیرې تحصیل د همد ې کبله په د غه نوم بـا ند ې مشهور شوی د ی. لا چي د کو هاټ له بنار ه د ۱۷ میلو په واټن د جنوب خو اته د سړک پر غاړه پروت د ی.

د د اوي د قبيلې نه سترعالمان او په پو هې مين شخصيتو نه را وتلي د ي. په د غو شخصيتو نو کې يو هم ستر مشر وطه غو ښتو نکی، ليکوال او شاعر اروابناد عبد الهاد ي د اوي د ی چې پر يشان تخلص يې هم کاوه. نو مـــوړی د اروابناد عبد الاحد اخونزاد ه طبيب کند هاری زوی د ی چې ۱۲۷٤ش کال کې د کابل په باغ عليمرد ان کې يې نـــړۍ تـــه ستر ګې پر انيستلې د ي. نو موړي د حبيبيې په ليسه کې د رشد يې تر د رجې پورې زد ه کړې وکړې او د پښتو او د ري ژبو شاعر او ليکوال و. په اردو، عربي، تر کي او انګريزي ژبو هم پو هېد ه. نو موړی د پريشان په تخلص ســـره په سراج الاخبار کې ډېر ې ټو لنيزي، سياسي او انتبا هي مقا لې او مضا مين وليکل او د مشر وطيت د غو رځنګ د نـــا متو مشر انو عبد الر حمن لو د ين، مو لوی غلام محي الد ين افغان او مو لوي عبد الرب نږد ې ملګری و. د افغانستان د خپلواکۍ اتل غازي امان الله خان او محمود طر زي نو موړی له نږد ې پېژاند ه له همد ې کبله و چې نو موړی ته د امان افغان د جريد ې مسئول مد يريت هم ور سپارل شوی و. نو موړی په ۱۹۲. ع کال کې د لمـــاني د ولـــت لخـــوا د هـــند د ميسورې په کنفر انس کې هم د افغاني هيئات غړ يتوب د رلود. د ه د سفير، مستشار، مختار وزير، د خلکو د استازي او

136تاريخ حيات افغاني، د پيښور چاپ، ۲۵۹- ۲٦. مخو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مشرا نو د جر ګې د رئيس په تو ګه لوړې د ند ې سر ته رسولي د ي. د ه ۱۳ کلونه زند انو نه هم ګاللي د ي او په پای کې د ۱۹۸۲زېږد يز کال کې چې د ۱۳۶۱ لمريز کال د زمري د ميا شتې د ۲۷نېټې سره سمو ن خوري په کابل کې د ۸۸کلو نـــــــو پـــــــــه عمـــــــــــــر وفـــــــــــات شـــــــــو.

د اروابناد عبد الها د ي د اوي پښتو اود ري اثار د اد ي : زما رسول پاک، تجارت ما با روسيه، غيا صـــه، لالـــي رېختـــه، نغمات، ګلخانه، رجال وطن او زيست نامه. ([137])

نور ماخوذونه د ([138]، [139]) نه.

# 67 د رمان

د وئي د افغانستان د خوست په ولا يت کې استوګنه لري و په کرلانيو پښتنو پورې تړ لې قبيله د ه. د رمـــان د عبد الر حمن د قبيلې د نوم لنډه بڼه د ه.

د پښتنو د عنعنوي او د ود يزې شجرې يا د نسب د ونې سره سم د رمان يا عبد الر حمن قبيله کر لاڼي پښـــتانه او د خوريانيو قبيلې چې ياد ونه يې د همد ې قبيلو د پيژ ند لو په لړ کې د مخه شوې د ه يو ښاخ شمېرل کيږي.

پښتانه د تاريخ په رڼا کې د د رمان د قبيلې په اړوند د اسي ليکلي د ي ([140]):

د شجرې مطابق د وی کر لاڼي پښتانه او د خو ريا نيو د قبيلې يو ښاخ شمېرل کيږي او حاجي خان خيل، ســـود ي خيل، اصلي احمد خيل، مد ي خيل، کو نډي او منګس يې ښا خو نه د ي چې د غو شپږو ښا خونو ته مموزي هم وايي او د متون په نامه سره هم شهرت لري.

متون په اصل کې د خوست ولايت يوه ولسوالي د ه چې د خوست ختيزې بر خې ته پرته د ه چې په لويدېـــزه خواکې د مند و زيو او د ناد رشاه کوټ د و لسواليو، په شمال لويد يز کې د موسی خېلو د ولسو الۍ سره، شمال خواته د سبر يو د و لسوالۍ سره، په شمال ختيز کې د تيري زيو د ولسوالۍاو پاکستان د هېواد سره او په جنوب لويد يز کې د ګر بزو د و لسو اليو سره ګډې پو لې لري او په ۲ـ۶ زېږ د يز کال کې يې د ټو لو وګړو شـــمېر ۱۶ـ۲۱٤ تتـــه ښـــود ل شوی د ی. ([141])

د تاريخ حيات افغا ني مؤ لف د پټې محمد حيات خان ۱٤۵ کلونه وړاند ې د د رمان د قبېلې په اړوند د اسي ليکلي

---

137جنبش مشرو طيت د ر افغانستان، د علا مه عبد الحی حبيبي تاليف، د ويم چاپ، ۱۲۸-۱۳۲ مخونه، کابل، ۱۳۶۳

138پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، ۱۲۸-۱۲۹ مخونه

http://en.wikipedia.org/wiki/Davi_tribe139

140ظفر کاکا خيل، سيد بهاد رشاه، پښتانه د تاريخ په رڼا کې، پېښور يو نېور سټي بک ايجنسي، ۱۳۸۹ مخ، ۱۹۶۲ ع

http://en.wikipedia.org/wiki/Khost_(Matun)_District 141

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ي ([142]) :

متون په اصل کې د خوست د يوې سېمې نوم د ی چې د د غه ځای او سيد ونکو ته متون يا متو ني وايي. حيات افغاني په هغه وخت کې د د وی مجمو عي شمېر ۱ـــ تنه ښو د لي ووچې د کر کيلې په چارو بو خت د ي.

متون زړور، ميلمه پالو نکي او په پښتو او پښتو نواله با ند ې مين خلک د ي.

# 68 د رې کوټي

د وئي د افغانستان د خوست په ولا يت کې استوګنه لري و په غلجيو پورې تړ لې قبېله د ه.

د تاريخ حيات افغاني د مؤلف د لېکنې پر بنسټ چې د پښتنو قبيلو په اړوند يې هر اړ خېز معلو مات د ر لود ل د د رې کو ټي قبېلې وګړي هم د افغانستان د خوست په ولا يت کې استوګنه لري او په سليمان خيلو غلجيو ور ګډيږي. د همد ې مولف په روايت د سليمان د ويم ورور علي نو ميد چې او لاد ه يې علي خيل د ي چې بيا د علي خيلـــو د منـــد وزي د ښاخ يوه څا نګه اسما عيل زي د ي چې د وې کو چنۍ څا نګې يې بد ا خيل او چند ن خيل د ي چې د د رې کو ټي په نامه سره ياد يږي. ([143])

تاريخ حيات افغاني له نن نه ١٤٥کلو نه وړاند ې د د وی شمېر ٤ـ کورنۍ ښود لی د ی چې ښايـــې اوسـبـــه د د وی ټول شمېر تر د ې هم لا ډېر زيات وي.

# 69 د له زاک

د پښتنو د غنعنوي او د ود يزې شجرې له مخې د لازاک د پښتنو د کرلاڼي پښتنو په ټو لنېزې ډلې کې شمير ل کيږي، خو د تا ريخي پلوه د وی د ساکي پښتنو يوه څا نګه د ه چې د سليمان د غرو نو د لړۍ نه د خپلې استو ګنـــې او سنۍ سېمې ته لېږ د يد لي د ي.

د تاريخي رواياتو سره سم د لازاک لو مړني پښتانه د ي چې د پېښور په واد ۍ کې د ابا سين تر غاړو پـــورې استو ګن شوي وو او د اسي ويل کيږي ې د وی پر د غه سېمې با ند ې د هند و شا ها نو په وخت کې قبضه کــــړ ې وه.د لازاک د غزنوي سلطان محمود ۹۹۷-۱ـ۳۰ـ ع د واکمنۍ په وخت کې د هغه سره د هند په بر يد ونو کې ملګري او د خپــــل يوه مشر ملک يحيي په مشر تا به د سو منات په حمله کې يې ګډون د رلود. ([144])

142تاريخ حيات افغاني، د محقق فر هاد ظر يفي او د کتور لطيف ياد ژباړه، د پېښور د د انش چاپ، ۳۵۵ مخ

143پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، د د انش چاپ، پېښور، ۱۳۳- ۱۳٤ مخونه

144پښتا نه د تاريخ په رڼا کې، ۳۷۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسي رو ايتو نه هم شته چې د لازاکو د لا هور د راجا د کمزورتيا په وجه د خيبر د تا ريخي د رې له لارې پر پېښور باند ې چې په هغه وخت کې بگرام ورته ويل کېد ه ([145]) ير غل وکړ او د تورې په زور يې د غه سيمه په خپلــه ولکه کې راوسته، ان چې د سند لويد يزې بر خې يې هم تر ليرې ليرې ځايو نو کې په خپلې قبضې کــې راوســـتې او خپل تسلط يې وربا ند ې ټينگ کړ.

تاريخ حيات افغا ني چې له نن نه ۱٤٥ کلو نه وړاند ې ليکل شوی د ی د د لازاکو پښتنو په اړوند د اسي کښــلي د ي :

د د غې قبيلې ځيني سپين ږيري د خپلو پلرو نو او نيکو نو په اړوند د اسي روايت کوي کله چې په پيل کې د د لازاک قبيله د افغانستان ختيځو بر خو ته د اخله شوه، نو تر د ې وړاند ې په پېښور او د سند د رياب په لو يد ېزو او ختيزو غاړو کې سره کافر او سيد ل او هغو خلکو ته يې سره کا فر ويل چې د گر يک او بکټرين له نسله وو. په پيل کې د يگان او د اصلي سو اتيو نيکو نه هم د پېښور، راولپينډۍ او د جلال اباد تر حد ود و مېشته وو چې بيا د د لا زلکــو د قبيلې خلکو په تد ريجي تو گه د غه خلک پر شا وتمبول او خپله قبضه يې پرې ټينگه کړه. لنډه د ا چې د غــه قــبيله د کابل د واکمن مرزا الغ بيگ تر وخته ډېره مشهوره وه، خوکله چې د وی خپل زور او ځواک با ند ې مغروره شول، نو لو مړی د خليلو او مو مند و له خوا چې پېښور ته راتلل مات او د پېښور پرېښود لو ته اړ شول. ه په هغه وخــت کــې پېښور، د و ابه، با جوړ، ننگرهار، کلپا نه او د هزاره تر سېمې پورې ټو لې سېمې د د لازاکو وې. په د غه وخت کې يو سفزي هم په کا بل کې د مرزا الغ بيگ له خوا ټکول شوي وو او پېښور ته راغلي وو. ([146])

د يو سفز يو مشر ملک احمد د د لا زاکو نه د يو سفز يو لپاره د يوې سېمې غو ښتنه وکړه، هما غه و چـــې د لا زاکو د يو سفز يو سېمه د وی ته ورکړه. ورو سته بيا يو سفز يو د د لازاکو نه د نورو سيمو غو ښتنه وکړه او ورته يې وويل چې يوازې د و ابه لږه د ه په هغې سېمې مو گو زاره نه کيږي، چې بيا د لا زاکو ورته د د انشکول، عنبر او د با جوړ سېمې هم ورکړي او د لا زاکو ته يې وويل چې اشنغر هم په د وابه پورې د ی که څه زور اوقــوتــمــو وشــي اشنغر هم په خپله توره له شلما نيو نه واخلئ .([147])

وروسته بيا د يوسفزيو او د لازاکو تر مينځ د ځمکو په نيولو سختې او خو نړۍ جگړې وشوې چې له د واړو خواوو ډېر کسان ووژل شول. په پای کې د يو سفزو د مشر ملک احمد او د د لا زاکو د قبيلې د مشر ملک محمد خان د لا زاک تر مينځ سو له وشوه.

د د لا زاکو يو شمېر کو رنۍ د مغو لي واکمن جهانگير د و اکمنۍ په وخت کې د هند بيلا بيلو بر خو ته وليږل شوې چې زيات شمېر د لازاک لا تر او سه هم هلته مېشته د ي.

---

145تاريخ حيات افغاني، د د انش چاپ، پېښور، ۳۲۳ مخ

146نو موړی اثر ۳۲۳ مخ

147تواريخ حا فظ رحمت خاني، د پير معظم شاه اثر، پېښور، ۳۔۳۱ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 69.1 د لازاکو قبیلې ښاخونه

د د لا زاکو د قبیلې مشهور ښا خو نه د اد ي : لوري خیل، یعقوب خیل، احمد خیل، وتک زي، عمر خیل، یحیــــي زي، زکر یا خیل، سمرزي، شمشیر خاني، نصرت خیل، عنا یت خیل او نور...

## 69.2 د لازاک په پښتونخواکې

د لازاک د پښتونخوا په چارسد ې، مرد ان، سوات، او همد اراز په حسن ابد ال، ټکسیلا، راولپنډۍ، هریپور، چچ، هزاره، اټک او ایبټ اباد کې مېشته د ي.

د هر یپور د سیمې د لازاک په لا ند نیو کلیو او با نډو کې مېشته د ي:

سرای صالح، شاه محمد، لبن با نډې، مراد اباد، مونن، غیبه، بگرا، شاه مقصود، چور، پورانا باکه، هرې، اخون با نډې، تېر، تالوکیر، بهیرا، کو لیان، کلنوان او چمبه کې اوسیږي.

همد اراز د اټک د سیمې د لا زاک د د غې سېمې په لا ند یو کلیو او با نډو کې ژوند کوي:

د اټک په کلی، د ولیا په کلي، د فور ملي په کلی، د حمید په کلي او غورغشتي کلي کې ژوند کوي. ([148])

## 69.3 په هند وستان کې

د هند و ستان د اترابراد یش د ایالت د میرټ د ولسوالۍ (د سټر کټ)کې هم ډېر شــمېر د لازاک پښــتانــه او سیږي چې تر او سه پورې د د غې قبیلې ځیني خلک په پښتو ژبې خبرې کوي.

د شا هجهانپور د سیمې یو مشهور پښتون لیکوال چې د د لا زاک په قبیلې پورې اړه لري ښا غلی مر غوب احمد خان د ی چې د د لا زاکو د قبیلې په اړوند یې پر اخه څیړ نې کړې د ي چې د سرخ مناري، شــیوگۍ، مصــري خیلــو، جلالپور، رسولپو ر د سیمو د لازاک یې چې د میرټ د د سټر کټ د شاهجهانپور په سیمې پورې اړه لري مــوږ تــه را پیژ ند لي او همد اراز یې په د غه سیمه کې د د لازاک د قبېلې ځیني تا ریخي شخصیتو نه یې مو ږته رامعر في کړې د ي چې په د غو کسانو کې یو هم محمد عباس خان د لازاک و چې د مغولي واکمن جها نگیر په وخت کې د خپلو پنځه زره پو ځو نو سره هند وستان ته راغلی او بیاد شاهجهان د و اکمنۍ په وخت کې همد لته مېشته شوی و او د شا هجهــانلـــه خواورته شا هي منصب هم ور کړل شوی و.

د وهم نا متو پښتو ن چې د د لازاک په قبیلې پورې یې اړه د رلود ه هغه محمد خان و چې د مغولي واکمنۍ لـــه

---

[148] http://dilazak.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا ورته د اوړیسه د سیمې صو بد اري ورکړل شوې وه ا و د هو ګلي، بنګا پور او د بیهار پر سیمو یې راج کاوه چې د د ه او لاد ه په هو ګلي کې استوګنه لري، خود د ه مزار د شا هجهانپور د سیمې په شهید والا باغ کې د ی او د اسي ویل کیږي چې په کو مې جګړې کې شهید شوی و.

همد اراز بل نا متو پښتون چې د شاهجهانپور په سېمه کې مېشته شوی و د ولت خان و چې د د لازاک ه قبیلې پورې یې اړه د رلود ه د لازاک پښتون و چې د د ه او لاد ه اوس هم د شاهجهانپور په سیمه کې استوګنه لري.

جنید خان بل پښتون د لازاک و چې د رسولپور سیمې ته را لیږ د ید لی و او اوس د غه ځای د ننپور په نامه یاد یږي چې د ا سېمه هم په شاهجهانپور پورې یوه تړ لې سېمه د ه.

بل پښتون د لازاک د لاور خان و چې هغه هم د ې سېمې ته رالیږ د ید لی و او د شاهجها نپور په د لازاک محله یاجلا لپور کې یې استوګنه غوره کړې وه.

همد اراز د او رنګزیب په وخت کې د د لا زاکو د قبیلې یو شمیر مشهور شخصیتو نه چې سر کاري پو ځـي منصبو نه یې د رلود ل په هغو کې مصري خان، عنا یت خان او نهر خان مشهور د ي. ([149])

پا تې د ې نه وي چې د هند په بنګال، د اند راپراد یش په باري، د پنجاب په جلند ر، د راجستان په د لازي او ځینو نورو سیمو کې هم د لازاک پښتانه استوګنه لري. ([150])

د د لا زاکو د قبیلې یوه مشهوره اتله شاه بورۍ نو میده چې د عبد الر حمن عمر خیل د لازاک لور وه چې د نو موړې د اتلوالۍ کا رنا مې د پښتو ژبې په کیسو کې شته. ([151])

# 70 د ستو خېل

د ستو خیل په اصل کې غلجي پښتانه د ي او په سلیما نخیلو پښتنو ورګډیږي. د وی په پخوا وختو نو کې کو چیاني ژوند د رلود او د وزو، پسونو، میږو او اوښانور مې او ګلې یې د رلود لې، خود ډیرې مود ې را پد ېخـوایې کلیو الي ژوند غوره کړی د ی. د د غې قبیلې زیا تره خلک د ننګر هار ولا یت د سره رود د و لسوالۍ په پو رتنۍ برخه کښکک او خیر اباد کې ژوند کوي او هلته ډیرې ځمکې او بر جورې کلاګانې هم لري. د سره رود د ولسوالۍ نه سر بیره د ننګر هار ولایت په مرکز جلال اباد، پېښور او د کابل په ششد رک او بینې حصار کې هم ډیر شمیر د ستو خیل استوګنه لري.

---

149 http://en.wikipedia.org/wiki/Dilazak

150 http://www.freewebs.com/ishaat/detail.htm

151 http://pukhtunwomen.org/node/308

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستو خيل زيا تره د سو د اگرۍ په چا رو بو خت د ي او د چايو، ټو کر انو، صا بونو، غوړيو او نورو ډول ډول شيا نو سو د اگري کوي. د وی د ځينو هيواد ونو لکه جاپان، چين، هند و ستان، د وبی، ما ليزيا، تا يوان، کوريا، تا يلينډ، انگلستان او ځينو نورو هيواد ونو سره د سود اگرۍ اړيکي لري. ځيني ځو انان يې په لند ن کې هم ژوند کوي.

د ستو خيل ميلمه پا لو نکي او په پښتو او پښتو نواله با ند ې مين خلک د ي. د وی خپلو پخوانيو د ود ونو او رواجو نو ته چې د پلرو نو او نيکو نو نه ورته په ميراث پا تي د ي اوس هم ټينگ د ي.

د د ستو خيلو د قبيلې يو مشهور مشر اروابناد حاجي الله نظر خان د ستو خيل و چې د المتو کل على الله محمـــد ظا هر شاه د واکمنۍ په د وره کې د ولسي جر گې په د و لسمه د وره کې د ننگر هار ولايت دکـــو چيـــانـــو وکيـــل او استازی و. د ی خورا حليم، زړه سواند، ميلمه پال او په پښتو او پښتو نو الې با ند ې ټينگ پښتون او يو منلی مشـــر و چې د محمد د اود خان د و اکمنۍ په وخت کې سياسي بند ي و. د د ستو خيلو د قبيلې ټولې لانجې او شخړې به د د ه له خوا حل کيد ې او د يوه محترم قو مي مشر په تو گه د د ه پريکړې او فيصلې ټولو خلکو ته منظورې وې. د غه مشري اوس د د ه په کو رنۍ کې د د ه زامنو خد ای نظر او مو لا نظر ته پا تې د ه.

د د ستو خيلو د قبيلي د نورو مشهورو کسانو نه د حاجي جا نباز، حا جي امير زاد ه، حا جي گلـــزاد ه، حـــاجي چنار، حاجي انار او ځينو نورو نو مو نه يا د ولای شو.

د يوې احصا ئيې له مخې د د ستو خيلو د قبيلې د خلکو مجمو عي شمير د ٥ـــ تنو په شا اوخواکې اټکل شوی د ی

ماخوذونه د ه ([152]، [153]، [154]) نه.

# 71 د وتاني

که چيرې د پښتنو د نسب عنعنوي او د ود يزه شجره وگورو نو جو ته به شي چې د وتاڼي يا د فتا ڼي د متـــو زيوپښتنو په ټو لنيز گروپ کې د لود ي اولاد ه د ه. ابراهيم چې په لود ي سره يې شهرت د ر لود د رې زامن د رلود ل چې سياڼی، نيازی او د وتا ڼي نو ميد ل. د د وتاڼيو د قبيلې زياتره خلک پووند ه يعني د مالونو او رمو څښـــتنان او کو چيان د ي. ځيني خلک يې د سو د اگرۍپه چارو بو خت د ي او د وی په د ې برخه کې ډير زيار گا لو نکي د ي.پــــه پخو انيو وختو نو کې به د د وی هغه شمير خلک چې د سو د اگرۍ په چارو بو خت ول د سو د اگرۍ له پاره تر بخارا پورې تلل. همد ا وجه وه چې د وی د نورو پووند ه وو تر مينځ ډير شهرت د رلود.

---

152پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، د د انش چاپ، پيښور، ١٤ـ مخ

153معلو مات مختصر د ر باره اقوام وقبايل سر حد ي کشور، د شير رحمن د وړ ليکنه، ١ـمخ، د قو مو نو او قبا يلو چارو وزارت، ١٣٦٣ کال

154د د ستو خيلو د قبيلې په اړوند زما (د مقالې د ليکوال) شخصي معلو مات او يا د ښتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 71.1 د د وتا نیو د قبیلې ښاخو نه او څانګې

د د وتـــا نیـــو د قـــبیلې مشـــهور ښـــا خـــو نـــه او څـــا نګـــې پـــه لا نـــدې ډول د ي ([155]):
حسن خیل، عمرزي، مړ خیل، سد و خیل، ابر اهیم خیل، بد ین خیل، احمد زي، نسو خیل، سرکي زي، راټا خیل، محمد خیل، بازار خیل او نور...

تاریخ حیات افغاني ۱٤٥ کلو نه د مخه د د وتا نیو د قبیلې په اړوند د اسي لیکلي د ي ([156]) :

"د د وتا نیو د استو ګنې اولیږد ځر نګوالی د نورو پووند ه وو په څېر د ی، خو ځیني د و تا نې د ولنــه پــه سیمه کې مېشته د ي. د غه سېمه د شېرانیو د قبیلې د هرییال د ځا نګې شمال خواته د یوه مید ان له پا سه په هغو غـــرو نو کې پرته د ه چې د ګو ملې خواته زوړ والی یا نشیب لري. د وانه زیاتره د وتا نې د کر کیلې او کرنې په چارو بـــو خت د ي. "

حیات افغاني په هغه وخت کې په وانه کې د د وی شمېر اتیا کورنۍ ښود لی د ی او زیا توي چې د د وی د شمېر د کموالي سره سره هم د وزیرو قبیله نه شي کولای چې د وی له د غه ځا یه بیواکه کړي.

خود تاریخي شو اهد و له مخې د نو لسمې سد ۍ په نیما یې کې د وی د احمد زیو وزیرو له خـــوا د لانجـــو او شخړو له کبله په تد ریج سره د بته اړ ایستل شول چې پووند ه ژوند غوره کړي.د وتاڼي د وزیر ستان نه برسېره په د یره جا تو، د ګو ملې په د رې، غزني، پکتیکا، زابل، کند هار، هلمند، پکتیا اود کند ز د د شت ارچي په ولسوالۍ کـــې استوګنه لري. یو شېر د وتاڼي په ایران، پاکستان او هند و ستان کې هم استوګنه لري.

د وتا نې زیاتره د ډیورنډ د کر ښې د واړو خواووته په تګ او راتګ کې وي او خپلې رمې پیایي. پــه پخــوا وختو نو کې به د وی خپلې رمې تر هزاره جا تو پورې بیولې چې هلته د د وی د ما لو نو او رمو له پاره ښې ور شــو ګانې او څړ ځا یو نه وو. د اسې ویل کیږي چې ځیني وختو نه د کاکړو د قبیلې شپا نه خپلــې رمــې او ګلــې د د وی جنوبي او لو ید یزو سیمو ته ورولي خو د وی د میلمنو په تو ګه د هغو د رناوی کوي او د څړ ځا یو نو نه یې نه منعه کوي.

هغه د و تاڼي چې په پووند ه یا د مالو نو او رمو څښتنان د ي د د وی د ود او د ستور د نورو پووند ه په څېر د ی، خو هغه د وتاڼي چې په وانه کې ژوند کوي د د وی خوراک او پو ښاک د وزیرو د قبیلې خلکو ته ورته د ی.

د اسي ویل کیږي چې کله نا کله د د وتا نیو او سلیما نخیلو پښتنو تر مینځ شخړې او لا نجې را مینځ ته شوي د ي چې یوه ستره لا نجه چې د د وی او سلیما نخیلو تر مینځ د شلمې پیړۍ په لو مړۍ نیما یې کې را مینځ ته شـــوې وه بیا د پښتني د ود او د ستور سره سم ا واره شوه، خو د وزیرو سره بیا د د وی کو مه لویه شخړه او لا نجه نـــه د ه را

155د پښتنو قبیلو شجرې او مینې، د پو هنوال محمد عمر روند میا خیل تا لیف ۲٦۸- ۲٦۹ مخو نه

156تا ریخ حیا ت افغاني، د پیښور چاپ ۳-۱ او ۳۱۵ مخو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینځ ته شوې.

د د وتا نیو کو چیانو لوی خان خد اید اد خان نو مید چې اولاد ه یې اوس هم د هلمند په ولایت کې د لو یو جا ید اد ونو او شتمنیو خا وند ان د ي او ویل کیږي چې د اروابناد غلام شاه خان د و تانې تر مړینې وروسته د هغوې زلمـــن په هغه ولایت کې د د وتا نیو د قبیلې د کو چیانو د مشرۍ پر ګد ۍ ناست د ي.

د وتا نې زړور، جنګیالي، میلمه پا لو نکي او په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک د ي. د روسي ښکیلا کګـــرو په وړاند ې یې د نورو پښتني قبیلو په څېر د ویاړه ډ کې کار نا مې تر سره کړي د ي چې زموږ د هېواد تا ریخ به یې هیڅکله هم له یاد ه ونه با سي. د د وتا نې د قبیلې په با تورو مبا رزینو کې د حا جي ا هل ا لله خان د وتا نې نـــوم یـــا د ولای شو چې په حاجي عبید ي سره مشهور د ی. نو موړي د روسي ښکیلاکګرو یو سر سخته د ښمن او د ملـــوړو زد ه کړو او پو هې خا وند د ی چې د خپل قوم او قبیلې په مینځ کې د ښه نوم خا وند د ی. همد راز د کند ز ولایت د د شـــت ار چي په ولسو الۍ کې حا جي وکیل د وتا نی چې د اعلیحضرت محمد ظا هر شاه په وخت کې د ولسي جر ګې وکیل واو د هغه کورنۍ د د وتا نیو په قبیله کې د ښه نوم او عزت خا وند ان د ي.

د ۱۹۷۸ کال د یوې سروې له مخې په ټول افغانستان او پښتونخواکې د د وتا نیو مجمو عي شمېر ۱۲۱۵ کو رنـــۍ ښود ل شوی و، چې ښا یې اوس به په د غه شمېر کې په زیا ته کچه زیا توالی را غلی وي.

ماخوذونه د ه (157، 158، 159) نه.

# 72 دوړ

زموږ پښت پو هان او نسب پېژ ند ونکي د وړ له اره کر لانې پښتانه ګڼي چې تر وزیرو ورو سته د شما لـــي وز یر ستان د و یمه لو یه پښتني قبېله د ه. د وړ د شمالي وزیر ستان د تو چي سین په د واړو غا ړو کې د غلمـــيـنـــه نیولې د شینکي تر د رې پورې اباد د ي. تو چي د یوه واد ي په څېر د لوید یز نه ختیز لورې ته پر ته د ه چې د تـــو چي سین پکې بهیږي او د وړ د تو چي سین په د واړو غاړو په سترو او کو چنیو کلیو کې استوګنه لري او چـــار چـــا پیره څلور خواوو ته یې د و زیرو د قبیلې خلک مېشته د ي. همد اراز د وړ د ختیز نه د خجوړي نه نیو لې په لو یـــد یز کې تر خړ کمر پورې چې څلو یښت مېله او ږد والی لري په یوه شنه او سمسوره سېمه کې پر اته د ي او د کر نـــې ډېرې ښې حاصلخیزه ځمکې لري.

د وړ په د و بر خو ویشل شوي د ي یعني ښکتني د وړ او بر د وړ. هغه د وړ چې د ټل د د رې ختیز لورې ته

157پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ۱۳٤-۱۳۵ مخو نه
http://www.khyber.org/pashtotribes/d/dotani.shtml158
http://www.scribd.com/doc/6192578/A-Dictionary-of-the-Pathan-Tribes159

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میر انشاه نه تر خجوړۍ پورې مېشته د ي هغوی د ښکتنیو د وړو او هغه د وړ چې د د ټل د رې لو ید ېز لوري ته د میرانشاه او په لوید یز کې تر خړ کمره پورې ا ستو ګنه لري د برو د وړو په نامه یاد ېږي. په د وی کې یو بل ډول قبیلوي وېش هم شته چې د تپي ذوت د تور ګوند ي او مل ذوت د سپین ګو ند ي په نامه سره یاد ېږي.

د د وړو سېمه د تا ریخي پلوه هم ډېره مشهوره د ه. د د وی په سېمه کې د پخوا نیو، زړو او ورانو د انیو د کنډوالو نښې نبنا ې پا تې د ي چې له هغو نه د اسې اټکل کید ای شي چې د هند وانو یا یو نا نیانو د واکمنیو په وخت کې لوید یز افغانستان ته له د غه ځا یه یوه عا مه لاره تللې وه. همد اراز هغه زړې سکې چې د د غې سېمې نه تر لا سه شوي د ي د ا ښیي چې د غه سېمه ډېره پخوانۍ او د پو ځي اهمیت نه خورا بر خمنه وه.

تاریخ حیات افغا ني له نن نه ۱٤٥ کلو نه وړاند ې د د وړو د قبیلې په اړوند د اسي کښلي د ي :

" د وړ د شیتک اولاد ه د ه او له هغه وخته چې د کیوي او سور اټې او لاد ه چې په بنو ځیو سره شهرت لري د شوال نه د بنو سیمې ته راغله، نو له هغې نه تقر یبا ۵ـ کلو نه تېر شوي د ي اود د وړو قبیله هم د تو چي د سین په واړو غاړو کې مېشته شوه، خو د زیا تو معلو ما تو سره سره هم د ا حال څر ګند نه شو چې په هغه ځای کې چې اوس د د د وړو د قبیلې د سیمې په نامه یاد ېږي د مخه څوک او سید ل. "

په هغه وخت کې چې مغو لي محي الد ین عا لمګیر او رنګزیب د هند و ستان واکمن و نو په ۱۱۱۲هجري کال چې د ۱٦۹٦ عیسوي کال سره سمون خوري د شهزاد ه بهاد رشاه په مشرۍ یو پو ځ د بنو خواته ولیږه او غو ښتل یې چې د پښتنو سیمې ا یل او لا ند ې کړي، هما غه و چې څه مود ه یې سید حسین نو می د د وړو د سیمې د حاکم په تو ګه وټا که او د د وړو په سېمه یې هر کال د ولس زره روپۍ ما لیه وټا کله. بیا ورو سته د د غې سیمې انتظام او امنیت مخ په خرابید و شو او د وړ ېېر ته ازاد او خپلواک شول.

څه مود ه ورو سته د د راني واکمنا نو په وخت کې بېرته تابع او ایل شول، ځکه د ا سېمه د افغانستان پورې یوه تړلې سېمه وه اود د راني زمانشاه تر وخته پورې یې د راني د ولت ته د ولس زره رو پۍ ما لیه ور کو له، خو د راني د ولت په د غه سېمه کې کوم ځا نګړی حاکم یا ولسوال یې نه د رلود.تر یوه یا د وه کلو نو وروسته به یو تن د راني افسر د یو شمېر پو ځو نو سره د د وی سېمې ته ورته او د ولس زره رو پۍ ما لیه به یې ترې را ټو لو له. د بارکز یو او سد و زیو د شخړو په د وران کې د وی بیا د ما لیې نه ځان ازاد کړ او هغه د ا چې شاه زمان د یوه سید پېر په غو ښتنه د وی ته کلنۍد ولس زره روپۍ ما لیه ور وبخښله چې د هغې په بد ل کې به په کال د وی خپلو ځمکو په سریوه اند ازه غله د انه د د غه سید کو رنۍ ته ورکوله.

باید ووایو چې د د وړو سېمه که څه هم د ۱۸۹۳ میلاد ي کال پورې د افغانستان د خاورې یوه برخه وه چې د ډیورنډ د تورې او منحو سې معا هد ې او تړون تر لا سلیک ورو سته چې د امیر عبد الر حمن او انګرېزانو تر مینځ وشوه د د وړو سېمه له افغانستانه جلا شوه او د بریټش انډیا تر وا ک لا ند ې راغله او په د ې توګه د افغانستان د خاورې د نورو بر خو په ګډون چې د ډیو رنډ د پو لې ها خوا ته پر اته د ي او زموږ پښتانه ورونه پکې او سي زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غه د وړ پښتانه وروڼه هم زمو نږه جلا شول، خو سره له د ې هم د غه سېمه تر ۱۸۹۵ پورې د فغا نستان تر واکمنۍ لا ند ې پا تې وه.

د وړ ډېر جنګيالي، ميلمه پا لو نکي او په پښتو او پښتنو الې با ند ې مين خلک د ي. د وی د علم او پو هې سره هم مينه لري، همد ا سبب د ی چې يوزيات شمېر خلک يې د ولتي ملا زمتونه او د ند ې هم سر ته رسوي. د وی په هــــر وخت کې د بلو سګرو او تا ړاکګرو په وړاند ې په مېړانه جنګيد لي د ي. تاريخ حيات افغاني ۱٤٥ کلونـــــه وړلنـــد ې د د وړو د وســـــله والـــــو ميـــــړونـــــو او جنګيـــــاليو شـــــمېر ۱۲ــ تنـــــه ښـــــو دلـــــی د ی. د اسي ويل کيږي چې د تو رګو ند ي د و سله والو شمېريې ۳ــ تنه او د سپين ګو ند ي د و سله والو کسانو شمېر ۹ــ تنه وو.

د وړ منځنی ونې لري او غنم رنګه د ي چې زياتره د کر کيلې او سو د اګرۍ په چا رو بو خــــت د ي. د د وی د سيمې هوا په د وبي ې تود ه او په ژمي ې سړه د ه. غنم، جوار، ګني، تما کو، کور کمن او اد رک يې غوره حا صـــلات د ي. د ميرانشاه ښار اود مير علي با زار هم د د وړو په سيمه کې مو قعيت لري.

## 72.1 قبيلوي جوړ ښت

لکه چې د مخه وويل شول د وړ په د وو بر خو ويشل شوي د ي چې يو ته يې ښکتني د وړ او بل ته يې بـــر د وړ وايې. د برو د وړو ښا خونه په لا ند ې ډول د ي :

ملخ، همزاڼي، د رپه خيل، نصرت خيل، لنډ، بو يه، طوايف خيل، زيراخيل، ابر اهيم خيل، مريم خيل، علي زا ی، ګر بزا ی.

د ښکتنيو د وړو ښا خو نه د اد ي :

مبارک شي، عيد ک، خد ي، سو خيل، حيد رخيل، تپي، خد ري، سليان. هر مز، حکيم خيل، پيران، شـــمل، بيبـــا کي، بارقوم، ملکان، ايسوړي، زيړوکي، نصر خيل، علي خيل، قيمت خيل، ايپي، نا نه خيل، زو خيل، توري يل، پلالي.

په مير انشاه کې د د وړو ځيني ښا خو نه د اد ي :

اتمان، لقمان، کټي خيل.

د ۱۹٦۱ کال د احصا ئيې له مخې د د وړو د قبيلې مجمو عي شمېر ۵۸۱٤٤۸ تنه ښود ل شويد ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخوذونه د ه ([160]، [161]، [162]، [163]، [164]، [165]) نه۔

# 73 د ولت خېل

زمور پښت پو هان او نسب پیژند ونکي د ولت خیل د پښتنو د متو زیود ټولنیز گروپـــوريـيـــوه ټـلـــي قبیله بولي چې په لو د یو پښتنو ور گډیږي۔

تاریخ حیات افغا ني چې له نن نه ۱٤٥ کلو نه وړاند ې کښل شوی د ی د د ولت خیلو پښتنو په اړوند د اسي کښلي د ي :

"د نسب د شجرې تر څېړ لو وروسته د اسي جو تیږي چې د لواڼي یا نو حاني د زوی مماپه د ریو زامنو کې د یا سین د اولاد ې نه د د ولت خیلو قبیله را مینځ ته شوه۔ د مما د نورې او لاد ې په پر تله د د ولت خیلو ښاخ د شمېر او واک له مخې د و مره پر مختگ وکړ چې د مما د اولاد ې نورې کو چنۍ څا نگې د د ولت خیلو پورې ا ړوند ې څا نگې گڼلې کیږي۔ تر د ولت وروسته چې ا ولاد ه یې د د ولت خیلو په نامه یاد ېږي په پنځم پښت کې کټي خان مینځ ته راغی چې او لاد ه یې د کټي خیلو په نامه سره یاد ېږي۔تر د ې د مخه چې چې د لواڼي ښا خونه لکه کټي خیل، د ولت خیل، میا خیل، مروت، تتور او نور د ټانک په سېمه کې مېشته شي ټو لو په پووند ه ډول ژوند کاوه او لړه اند ازه سود اگـــري یې هم کوله۔ که څه هم د د وی زیاتره شمېر خلک په کټواز کې اوسید ل، خو د د غې سېمې په سهیلي یا جنو بي برخـــه کې یو شمېر د کر نې وړ ځمکې یې هم د رلود لې، خو د وانه په غره او نورو سیمو کې چېر ته چې ډېر ښه څړ ځا یو نه مو جود وو هلته د مالد ارو لو اڼیو کیږد ۍ وې او کله کله به د ژمي د تیر ولو لپاره د ټانک سېمې ته هم راتلل۔ کلـــه چې بیا د کټواز سېمه د سلیمانخیلو له خوا د لواڼیو نه ونیو له شوه نو له هماغه وخته په اوړي کې په وانه او په ژمـــي کې د د امان د سېمې ټا نک ته د هغوی تگ راتگ پیل شو۔ په د غه وخت کې د لو اڼیو د قبیلې هر یو ښاخ یو تن مشر د رلود چې خان به ورته کید ه اود د غو خا نا نو به د هر خیل اوزي ملکان او مشران تر لاس لاند ې د رلود ل، چـــې د د غو خا نانو او ملکانو په لار ښوونه به د اړونده ښاخونو او څانگو چارې سر ته رسېد ې، و د لـــواڼي د قـــبیلې ټـــوله مشري یا خاني د کټي خیلو په کو رنۍ په لاس کې وه چې د د ولت خیلو یوه څا نگه شمیر له کید له۔ "

د اسي ویل کیږي چې د د ولت خیلو د قبیلې او نورو څا نگو وړاند ې د ټانک په سېمه کې پړانگیان چې د لود

160اضلاع، ایجنسیها وقبایل ایالت پښتو نستان، د شیر رحمن د وړ تا لیف، ۱۱۳- ۱۱٤ مخونه

161تاریخ حیات افغاني، د پیښور چاپ، ٤۲۸- ٤۳۲ مخو نه

162پښتا نه د تاریخ په رڼا کې، د سید بهاد رشاه ظفرکا کا خیل تالیف، د پیښور چاپ، ۱۳۹٥-۱۳۹٦ مخونه

163پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، د پیښور چاپ، ۱۳۷- ۱٤۔ مخو نه

http://www.khyber.org/pashtotribes/d/dawarh.shtml164

http://en.wikipedia.org/wiki/North_Waziristan165

(c) ketabton.com: The Digital Library



ي قبيلې يو ښاخ د ی استوګنه د رلود ه او د د غه ځمکې او ملکيت د د وی په لاس کې و، خو څر نګه چــې دلـــواړې د قبيلې پووند ه د ژمي په مو سم کې د ټانک سېمې ته راتلل نو زياتره به د هغوی څارويو د پړ انګيانو د قبيلې د کرنې ځمکو ته زيان رساوه، نو همد ا وجه وه چې د د وی تر مينځ شخړې او لا نجې را مينځ ته شوې څو په پای کې پړ انګيان او نور په هند کې د مغولي واکمن بابرد غضب وړ وګر ځيد ل. په د غه وخت کې د کټې خيلو د ښاخ نه شهباز خان نومی چې د خانز مان لقب ورکړل شوی و د لواړې د ښاخ ټولې څانګې يعنې د ولت خيل، تتور، يا خيل، مروت او نور له ځــا نه سره يو کړل او د پړ انګيا نو نه يې د ټانک د سېمې د تر لا سه کولو نيت وکړ. نو موړي دټـولـلـواړې ښـاخـنـه لښکرې راټولې او همد ا راز له هغو پووند ه وو نه چې په تنګ شوي وو مر سته وغو ښتله او د ټانک د ســيمېپــر او سيد ونکو پړ انګيانو يې ير غل وکړ او تر څو جګړو ورو سته لو اڼيان د شهباز خان يا خانز مان په مشرۍ پر پړ انګيا نو با ند ې بر يالي شول او د کر نې ټولې ځمکې يې د اب سياه په ګډون په څلورو بر خو با ند ې وويشلې په د ې ډول چې يوه برخه يې د ولت خيلو، يوه برخه يې تتور، يوه برخه يې مر وتو او يوه برخه يې هم ميا خيلو ته ور کـــړه او هغه وخت به چې کال پای ته ورسيد نو د مروتو او ميا خيلو خا نان به د ولت خيلو د کټې خيلو د څانګې مشر خانزمـــان حضور ته و رتلل اوهغه به په منا سبه اند ازه د څلورمې بر خې له مخې هر يوه ته خپله برخه ور کوله او رخصتول به يې.

په پای کې مر وتو د څلورمې بر خې په ويش با ند ې د خانز مان کټې خيل سره شخړې رامينځتـــهکـړې او د خپلې بر خې د نيو لو له کبله يې پر ټانک باند ې ير غل وکړ او په هغه جګړه کې چې د د واړو غاړو تر مينـــځ پېښــه شوه د ولت خيلو ماتې وخوړه او هغوی يې له خپل مشر خانزمان سره د ټانک د سېمې نه بې واکه کړل او پخپله يې پر ټانک با ند ې قبضه ټينګه کړه، خو د کټې خيلو مشر له جبيل خان نه چې د ګنډ اپوريانومشر و او په هغه وخت کې يې د امان ته په پوند ه ډول تګ او راتګ کاوه مر سته وغو ښته، خو څر نګه چې مر وتو له د ه سره د مقا بلې توان نــــه لاره نو ځکه يې د ټانک سېمه خوشي کړه. که څه هم خانزمان د مروتو څلو رمه برخه پر د وی باند ې بند ه کړه، و سره له د ې هم د مر وتو کوم خان به چې خانزمان ته ورغی نو هغه به يې تش لاس بېر ته نه لېږه.

تر لږې مود ې وروسته خانزمان د ميا خيلو څلو ر مه برخه هم پر هغوی باند ې بند ه کړه او د تتور د څا نګې د بر خې پر ته د ټانک پورې ټولې سيمې د د ولت خيلو لاس ته ورغلې چې اوس هم د د وی په لاس کې د ي. نا متـــو انګر يزي مورخ په خپل مشهور اثر(an account of kingdom of caubul) کې د د وی شمېر اته ز ره کو رنۍ ښود لي د ي. د نو موړي مولف په قول د ولت خيلو د قبيلې يو شمېر وګړي په کارند ه، زيمه، کافر کلا او د کابل په شا اوخواکې هم استوګنه لري. ([166])

د د ولت خيلو د قبيلې ښا خو نه او مشهور کسان چې د د غې قبيلې ځيني څا نګې هغو ته منسو بې د ي :

عيسی خان، موسی زي، منډوزي، پلنګ، اسماعيل، زکو، لقمان، تاجي زي، بند رزي، جلال خان، موســـی خـــان،

166د کابل سلطنت بيان، د مونټسټوارټ الفنسټن اثر، د کابل چاپ، ٦. مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یحیی زي، کټي خیل، بهد ین، خواجه خضر، موسی خان، فیروزخان، برمزید خان، د ولت خان، شـهبازخان، غازیخـان، حیات خان، محمد خان، شیر خان، د لیل خان، سلیم خان، قتال خان، خمرېز خان، صاحب خان، اکبر خان، شهباز خان، هیبت خان، الله د اد خان، خد اد اد خان، صاحبد اد خان، سرور خان، نواب شهنوازخان او محمد اکبر خان.

## 73.1 د د ولت خیلو په قبیله کې د مشرۍ څر نګوالي

موږ د مخه وویل چې د د غې قبیلې مشري له پخوانه د کټي خیلو د کورنۍ په لاس کې وه، خو هر یوه مشـر د خپلې ځا نګې یعنې د د ولت خیلو سره بنه او د ورور ګلوۍ چلند کاوه، خو کله چې مشري د سلیم خان زوی قتال خـان ته ورسید ه، نو هغه په خپلې قبیلې با ند ې سختي راوا خیسته او ځر نګه چې نو موړی یو تند مزاجه سړی و نو له د ې کبله د د ولت خیلو د قبیلې، کټي خیلو سره سلا او مشوره وکړه او قتال خان او د هغه زوی اکبر خـان ـیـې ووژل او د قتال خان مشر زوی سرور خان له د ې پېښې نه بچ پا تې شول او د ګل خان د ورور ظفر خان په ملګر تیا د مـر وتـو سېمې ته راغی او څو زره رو پۍ یې د خپل پلار د یوه ملګري نه یې پور کړې او په کابل کې د افغانستان واکمن ته په عر ض ورغی. د افغانستان واکمن د غلجي عبد الر حیم خان هو تک په مشرۍ د سرور خان مرستې ته څلور زره پـوځ او څو تو پو نه یې د هغه مر ستې ته وګو مارل. کله چې سرور خان د کابل د شا هي ځو اکو نو په مر سته د ټا نک سېمې ته نږد ې شو نو ګل خان د سرور خان سره د د ښمنۍ سره سره د و لت خیل و پو هول چې د سرور خان ملاتړ وکړي او سرورخان هم سو ګند وکړ چې پخو انۍ خبرې به هیروي او چا ته به زیان نه رسوي. د ولت خیلو د سرور خان خـا ني او مشري ومنله، خو د سرور خان لوړې او سو ګند تر هغو پورې د وام وکړ تر څو چې د د ولت خیلو معتبران او ملکان د سرور خان حضور ته راغلل او په هغه وخت کې سرور خان هغه اتلس تنه مشران چې زیا تره یې د هغـه د پلار قتا ل خان او ورور اکبر خان په وژلو کې سره سلا او مشوره کړې وه و وژل، خو ګل خان ونه وژل شو، خـو سـرور خان څه مود ه ورو سته هغه وواژه. کله چې یې د ښمنان له منځه ولاړل او د سرور خان خاني او مشري ټینګه او پیاوړې شوه او بیا نو هیڅوا هم د هغه سره د مقا بلې توان نه د رلود. هغه د خپل پلار قا تلین په تد ریجي تو ګه او کله به هم چـې یو یو لاس ته ور تلل وژل به یې. نو موړي له ځا نه سره پنځه سوه سپا هیان وټاکل او د ټانک په سېمه کې یې یـوه کلا او با غ جوړ کړ. سرور خان به د ملک په چارو کې د عد ل او انصاف نه کار اخیست. که څه هم غریب او بیو زله رعیت له هغه ځیني خپه او نارا ضه ول، خو سره له د ې هم هغه د اسي بند و بست وکړ چې هیڅوا هم ترې سر نه شـو پـورته کولای. د ټا نک د سیمې هر ډول عاید د هغه شخصي مال ګڼل کید ه، خو هغه د د ولت خیلو نه هیڅ ډول محصول او ما لیه نه اخیستله. سرور خان په سخاوت کې ډېر مشهورو. له چې د ګنډاپور یانو او میا خیلو په لښکرو بر لاسـی شـونـو ځواک یې لا پیا وړی او پخپلو سیا لا نو کې ډېر مشهور شو.

سرور خان په ۱۸۹۲ بکر ما جیتي کال کې چې د ۱۸۳۵ عیسوي کال سره سمون خوري مړ شو او پر ځای یې زوی الله د اد خان مشر وټا کل شو. په ۱۸۹۳ بکر ما جیتي کال کې چې د ۱۸۳٦ عیسوي کال سره سمون خور ي کنورنـو نهـال

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنگه د سکهانود پو ځو نوسره د یره جاتو او د د امان سېمې ته راغی او بیا یې د ټانک د سېمې خو اته پــو ځــو نـــه ولیږل. کله چې الله د اد خان د نو نها ل سنګ د راتلو نه خبر شو او په د ې متیقن شو چې خپلو سرد ارنو او ملا زما نو یې ورسره بیو فا یې کړې د ه نو د خپلو زامنو او خپلې منقو له شتمنیو سره یې د مسید و او وزیرو ملک تــه پنـــاه ورووړه او په د ې تو ګه د ټا نک سېمه د سکهانو لاس ته ورغله. د ی بیا ورو سته د افغانستان امیر د وست محمد خان ته ورغی او له هغه نه یې د مر ستې غوښتنه وکړه. تر ځو مود ې ورو سته بېر ته د مسید و اوو زېرو غرو ته را ستون شو او ځر نګه چې کنور نو نهال سنګه د ټانک سېمه د ملتاني افغا نانو پا یند ه خان خواجک زي، حیا ت الله خان سد وزي او عا شق محمد خان علیزي ته د جا ګېر په ډول ورکړې وه، نو الله د اد خان تر ډېرې مود ې پورې د ســکهانو او ملتـــا نیانو سره وجنګید او تل به یې د ټا نک پر سېمې با ند ې برید ونه کول چې نو موړي خپل ټول عمر په جګړو ې تېــر کړ تر ځو په پای کې مړ شو. د الله د اد خان تر مړ ینې ورو سته یې د د و تنو زا منو نه یو یې چې محمد شاه نوازخان نومید د پلرني مشرۍ د بیا تر لا سه کو لو له پاره ډېرې هلې ځلې وکړې چې بیاد انګر یزي سر کار په وخــت کــې د ټانک موروثي مشري شاهنواز خان ته ور کړل شوه چې هلته نواب وټا کل شو.

باید ویل شي چې د ټا نک سېمه د پښتونخوا په ایا لت کې مو قعیت لري.ټانک پخوا په د ېره اســما عیــل خـــان پورې اړوند ډیسټرکټ یا ولسوالي وه.

د ولت خیل میلمه پا لو نکي، جنګیالي او په پښتو او پښتو نوالې با ند ې مین خلک د ي. د وی د ســکند ر دتـــا ړاکونو، چنګیزیانو، مغولو، سیکهانو او انګرېزانو په وړاند ې په میړانه جنګید لي د ي.

ماخوذونه د ه ([167]، [168]، [169]، [170]، [171]) نه.

# 74 د ولت زي

د د غې قبیلې خلک غلجي پښتا نه د ي او ځا نو نه په سلیمان خیلو ور ګډوي. د ولت زي د ننګر هار ولا یـــت د چپر هار ولسوالۍ د د ولت زیو، بي بي مهرو او چینې په کلیوا و د مو مند د رې په ولسوالۍ، د پکتیا ولا یت د مرکـــز ګر د یز ښار ته نږد ې د د ولت زي په کلي او د زر مت په ولسوالۍ، د سمنګا نو ولایت د مرکز د ایبکو په ښار، د بغلان ولا یت په مرکز، د بلخ ولا یت د بلخ په ولسوالۍ، د مید ان او ورد ګو په ولایت او د کا بل ښار د چهارد هي او بګر امیو د و لسوالۍ په شینه او د د ه سبز ولسوالۍ په بختیا رانو کې استوګنه لري. یو شمیر د ولتزي د کا بل او جلال اباد تـــر

---

167تا ریخ حیا ت افغاني، پښتو ژباړه، د پېښور چاپ ۳-۸- ۳۱۱ مخونه

168پښتا نه د تا ریخ په رڼا کې، ۱۳۴۹ مخ

169پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، د پیښور چاپ، ۱٤-۱٤۳ مخو نه

http://www.khyber.org/pashtotribes/d/dolatkhel.shtml170

http://en.wikipedia.org/wiki/Tank_Pakistan 171

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینځ د کا بل د سیند په د واړو غاړو کې د الیا س خیلو پښتنوسره په ګا ونډ کې ژوند کوي او د کر کیلې په چارو بـــو خت د ي ([172]).

د ننګر هار ولا یت د چپر هار ولایت د د ولتزو د کلي او سید و نکي د و لتزي د د رویش خیلو، الله د اد خیلـــو او زاري خیلو په څا نګو ویشل شوي د ي. د د وی مشران وایي چې د د وی نیکو نه ډېر کلو نه وړاند ې د کند هـــار او غزني د سیمو له شا او خوا نه د ې سیمې ته رالیږ د ید لي او د لته یې ژوند غوره کړی د ی. د ننګر هـــار ولا یـــت د د ولتزو، بې بې مهرو او چیني د کلیو زیا تره د ولتزي په کر کیلې اخته د ي او د کر نې حا صلات یې جوار، غنم او نور حبو بات د ي، خو د وی د خپلو کر نیزو ځمکو لپاره ډېرې او به نلري نو ځکه یې ډېر شمېر خلک په بیو زلـــۍ کـــې شپې او ورځې تیروي. په ا فغا نستان باند ې د روسي یر غلګرو تر تیري وروسته د نورو پښتني قو مو نو او قبیلو د خلکو په څېر د و لتزي هم د خپل ټا ټو بي او ځای ځا یګي نه کډوالۍ ته اړ ایستل شول او زیا تره یې پېښور ته مها جر شول چې هلته د کچه ګړ هۍ، اکوړي خټک، جلو زیو، هنګو، متنیو، کو هاټ، شین ډنډ او ما نسهره کې په کمپو نو کې او سید ل او زیا تره په مز د وریو او شا قه کارونو بو خت ول. د رو سا نو تر وتلو ورو سته د وی ډېر ې کورنۍ بېـــر ته خپلو اصلي ټا ټو بو ته را ستنې شوې.

د سمنګانو، بغلا ن او بلخ ولا یتو نو د و لتزي هم ز یاتره د کر کیلې او سو د اګر یو په چارو بو خت د ي، خو په هېواد کې د تنظیمي جګړو ورو سته د وی زیات شمېر مهاجرت ته اړ ایستل شول اوپه شمال کې د نورو پښتنو پــــه څېر د د وی ځمکې او جا ید اد ونه، کورونه او نورې منقولې او غیر منقولې شتمنۍ د یو شمېر جنګسا لا رانو له خـــوا ونیول شوې چې تر او سه هم د هغوی په ولکه کې د ي.

په پخوا وختو نو کې یو شمېر د و لتزیو کو چیا نې ژوند د رلود او د اوښا نو، پسو نو، وزو او غوایانو رمې او ګلې د ر لود لې، خو د وخت په تېرید و سره د وی کلیوالي ژوند غوره کړی د ی، خویو شمېریـــې لاتـــر او ســـه پورې کو چیانی سر ګرد انه ژوند تیروي.

د ولت زي میلمه پا لو نکي، په علم او پو هې مین، زړورا و په پښتو او پښتو نولۍ با ند ې ټینګ خلـــک د ي. د روسي ښکیلا کګرو په وړاند ې په میړا نه جنګید لي او ډېرې قر با نۍ یې ور کړې د ي.

د ۱۳٦. کال د سر شمیر نې له مخې د ننګر هار ولایت د چپر هار په ولسوالۍ کې د د وی شمېرد ٤٦٥٩تنو په شـــا او خواکې او د مو مند د رې په ولسوالۍ کې د د وی شمېر د ۳.۱٤تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی چې ښـلیـــې د ا شمېر به اوس تر د ې لا زیات وي. د هیواد په پا تې نورو ولا یتو نو کې د د و لتز یو د قبیلې د ژونـــد او شـــمېرپـــه اړوند مې بشپړ او د قیق معلو مات تر لا سه نه شول کړای ([173]).

---

172پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ۱٤۳- ۱٤٤ مخونه، د پېښېر چاپ

173د ا هغه معلو مات د ې چې ما پخپله د سا حوي ریسر چ په نتیجه کې تر لا سه کړي د ي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 75 د ینار خېل

د ینار خیل له اره غلجي پښتانه د ي او د سلیمانخیلو پښتنو یو ه څانګه ګڼل کیږي. د کند هار ولایت د ارغنــــد اب په ولسوالۍ او همد اراز د د غه ولا یت په مرکز د کند هار په ښار کې هم یو شمېر د ینار خیل استوګنه لري. د کنــــد هار په ولایت کې د د ینار خیلو د قبیلې مجمو عي شمېر د ۱۳٦. کال د سر شمېر نې له مخې ۳۳۸۸ تنه ښود ل شــوي د ي ([174]) چې ښا یې په د غه شمېر کې به اوس ډېر زیا تو الی راغلی وي.

د د ینار خیلو د قبیلې یو شمېر د پکتیکا ولایت په شر نه او یو شمېر هم د پکتیا ولایت د مرکز د ګرد یز ښـــار ته څېر مه د رباط په سېمه کې هم ژوند کوي. هغه د ینار خیل چې په کند هار کې استوګنه لري نو د ود ونه او رواجو نه یې کټ مټ د هغه ځای د خلکو په څېر د ی.

د ینار خیل، زړور، میلمه پالو نکي، په هېواد مین او په پښتو او پښتو نولۍ با ند ې ټینګ خلک د ي.

# 76 رتن زي

که چیرې د رتن زیو د قبیلې د نسب شجره په غور سره وڅیړو نو جو ته به شي چې د وی د بیټني قبیلې یوه څانګه د ه چې د جنو بي وزیر ستان او د ټانک په سېمو کې استوګنه لري. بیټ نیکه په پښتنو کې ډېر مشهور نیکه تېر شوی د ی او په پښتني عنعنه کې هم بیټ نیکه خورا لوی پښتون، ستانه ا و مشهور نیکه ګڼل کیږي. د د ه نــــوم پـــه تـــا ریخو نو کې بیټنی او ښځ هم راغلی د ی چې له خپلو د وو ورونو سړبن او غر غښت نه په عمر کو چنـــی و، خـــو د خپل نیک خوی، زهد او تقوا په وجه یې ډېر شهرت تر لا سه کړ.

لوی استاد اروابناد علا مه عبد الحی حبیبي رحمت الله علیه د پښتو اد بیا تو د تا ریخ په د وهم ټوک کې لیکلي د ي:

" د بیټ نیکه احوال موږ ته نه د ی معلوم او نه د د ه ژوند مورخا نو تصریح کړی د ی، یوازې د پټې خزانې د لیکنې پر بنسټ ښکاري چې اسما عیل د بیټ نیکه زوی د خر ښبون معا صر و او د غه سړی په ٤١١ هجري کال‌کـــې‌مـــړ شوی د ی. نو چې د اسما عیل د ژوند وخت د ٤. هجري په حد ود و کې وي ښا یې چې پلار او اکا یې هم د ۳۵. هجري په حد ود و کې ژوند ي وي " ([175])

د بیټني قبیلې یوه څا نګه رتن زي د ي، خو ځیني بیټني د اسې عقید ه هم لري چې په بیټنیو کې د بو بک پـــه

---

174معلو مات مختصر د رباره اقوام وقبایل سر حد ي کشور، ۲۹-۳. مخونه

175عبد الحی حبیبي، د پښتواد بیاتو تا ریخ، د ویم ټوک، ۱.٦ مخ، د کابل چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه د یوه تن زوی علي یو کو چنی ما شوم ومووند او رتن نوم یې پرې کېښود او هغه نسل چې د ه له پښته رامینځ تـــه شوی د ی د رتن زي په نامه سره یاد یږي. د رتن زیو ټول د ود و نه او رواجونه د بیټنیو د قبیلي نورو څانګو او ښا خو نو ته ورته د ی.

# 77 رڅړ

رڅړ په اصل کې سړ بني پښتانه او د مند ړ او لاد ه ګڼل کیږي او د پښتونخواپه صوابی، مرد ان او سوات کـــې ژوند کوي.که څېړې د د غې قبیلې د نسب ونې یا شجرې ته وګورو نو مند ړ د ړې زامن د رلود ل چې منور، خضـــرا و رڅړ نو مید ل. ر څړ په پنځو کو چنیو څا نګو ویشل شوي د ي چې ملکزي، ما نیزي، اکوزي، خضر زي او محمـــود زي نو میږي چې ملکزي په یار حسین، شیر د ره او یعقو بي کې، ما نیزي په په ډاګي، ترلاند ي، بر مولي او اد ینه کې، اکوزي په د وبیانو، سړه چینه او اسما علیه کې، خضر زي په شیوه، کا لو خان او شیره غونډ کې او محمود زي په نوي کلي، شیخ جانا، اسو ټا او نا رنجي کې مېشته د ي. ([176])

# 78 زاخېل

زاخېل له اره سړ بني پښتانه د ي ا و په سړ بنیوکې غوري یا غو ریا خېل د ي چې ېر د ولت یار ورګډیږي او په د ولت یار کې د مو مند و سترې قبیلې ته منسوب او د مو مند و د د ویزیو د ښاخ یوه څا نګه ګڼله کیږي.

غوري یا غو ریا خېل هغه پښتا نه د ي چې د چنګیز (٦٣٤ هجري قمري مړ) په تا ړاکو نو و د چنګزیانو په نا تـــا رو نو کې له خپلې اصلي مېنې غور نه لیږد او مهاجرت ته اړ شوي د ي. د غو ریو پښتنو نوم د ستر خو شـــال (١٠٢٢- ١١٠١هجري قمري) په د ېوان کې د اسې راغلی د ی :

هند ته یې روان کړ بد رګه مې مستجاب
هم ملک، هم خان، هم همه غوري ارباب

د اورنګزېب عالمګیر (١١٦٨- ١١١٨هجري قمري) د زمانې یو بل شاعر حسین پکلي وال ویلي د ي :

د رقیب د نا کرد و به مې خلا ص نه کا
که جنبه مې شي تمام غوري خښي

د پښتنو نازکخیال شا عر حمید ما شو خیل هم د اسي وایې :

---

176پښتا نه د تا ریخ په رڼا کې، ١٣٢٢ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې د ا ستا د نا مې بوی اخلي حميد ه!**
**څه به نه وي خوش د ما غه غوري، خبنې**

ارواښاد علامه استاد عبد الشکور رشاد رحمته الله عليه د ر احت ياد په نامه د مقالو په هغه ټو لګه کې چې په ۱۳٦٤ لمرېزکال کې کې د کا بل پو هنتون د ژبو او د بيا تو د پو هنځي له خوا خپره شوې د ه په خپلې يوې مقاله کې چې د راحت زاخيلي په اړوند يې کښلې د ه د زا خيلو د قبيلې په اړوند د اسي ليکلي د ي :

"د ويزي او خويزي د مو مند و د وې نامتو ځا نګې د ي چې د ګند او او کو ډا خيلو تر مينځ مېشته د ي"

زاخيل زياتره کو چيان د ي، د يشين ([177]) ا و غر شين ([178]) هم پکې شته.

د ننګر هار ولايت د رود اتو د ولسوالۍ د کان او کتر غي تر مينځ سېمو کې مېشته د ي. د ننګر هار ولايت د کا مې ولسوالۍ او ثمر خيلو د کلي تر مينځ هم د زاخېلوڅو کلي شته د ي. د ډکې ختيز ته د کابل سيند پورې خو اته هم زاخېل پر اته د ي. د ننګر هار پر زا خېلو برسېره د کند ز په ولا يت کې هم زا خېل مېشته د ي ([179]) او دکو رنيو شمېر يې تقر يباً د وو زرو ته رسيږي او مشهور کلي يې په لاند ې ډول د ي ([180]):

1. زاخيل کلی: د سپين زر شرکت شاته.
2. خواند ان کلی : د چارد رې د سيند پر غاړه.
3. پا چا قلند ر کلی : د زرخريد په سېمه کې

د کند ز د و لايت په مرکز د کند ز په ښار کې هم زاخېل شته. د د غې سېمې نا متو ښځای حا جي نا زکمير خان زا خيل وچې د زاخيلو نا متو قبيلې ته منسوب و.

د افغانستان نا متو ليکوال استاد عبد الرؤف بينواهم د پيښور په نو ښار کې د زاخېل په نامه د يو ه کلي يا د ونه کړې د ه او زيا ته کړې يې د ه چې د پښتو، فار سي، عربي او اردوژ بو ليکوال او شا عر راحت زاخيلی په د غه کلي کې زيږ يد لی د ی ([181]) خو پخپله ار واښاد را حت د پيښور د نو ښار په سېمه کې د زا خيلو د رې کلي ښو دلي د ي . ([182])

---

177پښتا نه په مجمو عي تو ګه د يشين هغو خلکو ته وايې چې کو چيان نه وي او د ما لو نو د روزنې پر ځای کښت او کر وکړي او په کليو او ښا رونو کې او سي

178غر شين هغه پښتا نه د ي چې په غر ونو کې مېشته د ي. د پښتنو يوه قبېله هم د غر شين په نامه شته

179کند ز د ا فغا نستان د شما لي ولا يتو نو نه يو ولايت د ی چې د امو سيند يې له تاجکستانه بيلوي، ختيز ته يې تخار، لوېد ېز ته يې بلخ او سوېل ته يې د بغلان ولا يتو نه پر اته د ي

180د پا چا قلند ر زيارت او مرقد هم همد لته واقع د ی

181وګورئ اوسني لېکوال ۱-٤۲۱ د عبد الرؤف بېنوا تاليف، کابل، د و لتي مطبعه، ۱۳٤ـ کال

182و ګورئ لغات افغا ني، د راحت زا خېلي تا ليف، ۱۲٤ مخ، د لا هور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور انګرېز محقق او ختيز پيژند ونکی هينري جيورج راورټي د نو ښار د زاخېل کلی د ازي خېل په‌نــامه ياد وي، خو د هند و ستان جيو ګرافيکل سو سائيټي د د غه کلي نوم زاخيل ليکلی د ی. اروابناد راحت زاخېلی هم کښلي د ي چې د نو ښار په سېمه کې د زاخان با جوړي د رې زا منو، د ري کلي ود ان کړي د ي چې د رې واړه د زا خېلو په نامه سره ياد ېږي. د ز اخېلو کلي د نو ښار په جنوب لويد ېز کې پر اته د ي. د زا خېلو او نو ښار تر مينځ د پير پا يې کلی پروت د ی. پېر پا يې له نو ښاره د وه نيم کروه واټن لري ([183]) او زا خېل له پير پا يې نه يو نيم کروه لېرې د ی. په د ې حساب نو د نوښار او زا خېل تر مينځ څلور کروه لاره د ه. د پيښور او اټک تر مينځ پا چــاهــي لار د زاخېلــو شمال ته تير يږي. د پېښور ښار او زا خېلو تر مينځ يوولس کروه واټن د ی. نو ښار د زاخېلو کلی د پېښور ښار شمال ته لږ مايل ختيز لور ته پروت د ی اود مشهور شاعر او لېکوال راحت زاخېلي د ټا ټو بي له کبله د پښتنو په اد بي کــړ يو کې د ځا نګړي شهرت نه بر خمن د ی. اروابناد راحت زا خېلي په څلورو ژبو (پښتو، فارسي، عربي او اردو) کې د شپږ ويشتو تا ليفا تو او تر جمو څښتن د ی. ([184])

د استاد راحت زاخېلي اوحاجي نازکمېرخان برسېره د ښا غلی کرزي په او سنۍ کا بېنه کې د افغا ستان دمــاليې وزير ښا غلی عمر زا خېلوال اود پښتو ژبې د مشهور شاعر او مو سيقي پوه اروابناد استاد محمد د ين زاخېل نو مو نه يا د ولای شو چې د ز اخېلو قبيلې ته منسوب خلک د ي. ([185])

# 79 زموخت، زمښت، زويمشت

زموخت چې د زمښت يا زويمشت په نامه سره هم ياد ېږي د پښتنو د کرلاڼي ګروپ پورې يوه اړوند ه قبېله د ه چې د د غې قبيلې خلک د پښتونخوا ايالت د اورکزيو ايجنسۍ په جنوب کې د کو هاټ پو لې ته څېر مه غر ونو کې د ميران زي ا و کور مې د د رې تر مينځ پر اته د ي. ختېز ته يې او رکزي او بنګښ، شمال ته يې ا ورکزي، لويد ېز تــه يې د توريو قبېله او جنوب خواته د بنګښو پښتنو سره پوله لري.

د قبيلوي وېش له مخې زموخت يا زمښت په د وو لو يو اصلي څا نګو وېشل شوي د ي :

1. مموزي يا لويد ېځ زمو خت.
2. خويد اد خېل يا ختيځ زموخت.

مموزي يا لويد ېځ زموخت د منټوال، منډان، وټي زي، د ولت زي او د اود زي په څا نګو با ند ې وېشل شوي د

---

183وګورئ تواريخ خورشيد جهان په ۱۹۸ مخ کې چې ازي خيل د څمکنيو يوه پښه ښود ل شوې د ه، څمکني هم غوري پښتانه د ي

184د کابل رود چې په پېښور کې يې لنډی بولي د نو ښار په مينځ کې تېر شوی د ی، شمالي برخه يې د اشنغر په نو ښار شهرت لري او محمد زي پښتا نه پکې اوسي، جنو بي برخه يې د خا لصه نو ښار په نامه ياد ېږي ګډوله خلک پکې اوسي

185زاخېل، د راحت ټا ټوبی، د راحت ياد، د کابل پو هنتون فر هنګي شورا، کابل ۱۳۶۳,کال، ۲۵٤-۲۵٦ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ي.

خويد اد خيل يا ختبځ زمو خت د حسين خيلو، ببې خيلو، ټپي او خد و خيلو په څانګو ويشل شوي د ي.

د زموخت د قبيلې د سېمې مجمو عي مسا حت ٤۔ مربع مېله د ه. د وی په په يوه غرنۍ سېمه کې استوګنه‌لــري چې تکه شنه او ډول ډول ونې لري. خلک يې د نګې د نګې ونې او ډېرې ښا يسته څېرې لري. زموخت زړور، مېلمه پا لو نکي، جنګيا لي او په پښتو او پښتو نولۍ با ند ې مين خلک د ي.

د انګرېزانو د راج او حکمر انۍ په وخت کې د د وی د جنګيالیو مېړونو شمېر ٣۔۔ تنو ته رسيد ه.

د د وی او سنۍ شمېر د ٦۔۔ تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی. د وی سني مذ هبه د ي او د سمل په ګوند ۍ يا ګروپ پورې اړه لري، خو نن ورځ د اورکزي قبيلې يوه برخه ګڼله کيږي.

ماخوذونه د ه ([186]، [187]، [188]، [189]) نه.

# 80 زيرک، ځيرک

د رانيان يا ابد اليان چې د پښتني قبيلو په لړ کې د مخه پرې بحث شوی د ی د سړبن په ټولنيز ګروپ او ډلــې پورې اړه لري او په د وو سترو ښا خو نو ويشل شوي د ي چې يو يې زيرک (ځيرک) او بل يې پنج پای نو ميږي.

د ابد اليا نو د قبيلې په مبحث کې مو ولو ستل چې د اسلا مي د ورې په تاريخ کې لو مړ نی سړی چــې د (ابــد ال= اود ل) په نامه ياد شوی د ی د پښتني قبيلو يو مشهور نيکه و چې د خپل نا متو کهو له سره د سليمان په غره کې او سيد ه. نوموړی د ترين زوی، د شرخبون لمسی او د سړبن کړ وسی د ی او د د ه نوم په پښتواد بياتو او پخــو انيــو نسخو کې (اود ل) او د جمع منسوب په بڼه (اود لی=ابد الی) ضبط د ی چې د (٤٤۔ هجري يا ١۔٤٨ زيږد بز) کلو نو په شا او خوا کې يې پښتا نه قبا يل پر ځان راټول کړي ول او د د ه له تو کمه ملک سليمان د عيسی زوی چې په زېرک ســـره مشهور و پښتني قبيلې يې د سليمان له غره نه د کند هار سېمې ته بو تلې او هلته يې مېشته کړې او د خپل ژ وند په پای کې يې ملک بارک په مشرۍ کېنيناوه او تر بارک ورو سته د زيرک بل زوی (ملک پو پل) د خپل نفوذ سا حه د اوسني بلو چستان تر شال او ژوبه پورې وغز وله او تر ٦٥ کلو نو تر مشر توب ورو سته د ٨٩ کلو نو په عمر مړ شو. ([190])

ويل کيږي چې د ابد ال تر مړينې وروسته رځړ د خپلې کو رنۍ مشر شو او د خپلو زامنو د ډلې نه يې خپــل

186اضلاع، ايجنسي ها وقبا ئل ايالت پښتو نستان، ٩۔ مخ

187پښتني قبيلې، د د کتور لطيف ياد تاليف، ١٤٧- ١٤٨ مخو نه، د پېښور چاپ

http://en.wikipedia.org/wiki/Zaimukhts188

http://www.reference.com/browse/wiki/Zaimukhts189

190د افغانستان نو ميالي، د استاد عبد الروف بېنوا تاليف، لو مړی ټوک، ٣٤ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر زوی عیسی خپل ځای ناستی وټا که. ([191])

د عیسی په زامنو کې سلیمان تر ټو لو پوه او هو ښیار و نو ځکه په ځیرک مشهور شو، چې تر او سه پورې هم پښتانه په مجمو عي تو ګه هو ښیار سړي ته ځېرک وایي. که څه هم عیسی د میرک په نامه مشـــر زوی د رلـــود، خـــو سلیمان یې د هو ښیارۍ او ځیر کتوب په وجه خپل ځای ناستی وټا که. د ځیرک په څلورو زامنو کې یې مشر بارک نو میده او پلار د ی د کورنۍ مشر ټا کلی و، خو تر څه مود ې ورو سته مشري د مک پو پل لاس ته ورغله.

لنډه د ا چې ه په پای کې ستر غازي اعلیحضرت احمد شاه با با علیه الر حمه چې د پو پلزیو د ښاخ د سد و زیو د څا نګې نه و د ۱۷۴۷ میلاد ي کال نه ۱۷۷۲ میلاد ي کاله پورې یوه لو یه امپراتوري جوړه کړه ([192]) چې په تاریخ کـــې د د رانیانو د امپراتورۍ په نامه یاد یږي.

د رانیان د ځیرک او پنج پای په د وو لو یو ښا خو نو ویشل شوي د ي. د ځیرک د ښاخ نورې قبیلې په لانـــد ې ډول د ي :

بارکزي، اڅکزي، پوپلزي، الکوزي، محمد زي او سد وزي. ([193])

د غه قبیلې بیا په ډېرو نورو څا نګو ویشل شوي د ي.

# 81 زېرماني

زېر ماني په اصل کې غلجي پښتانه د ي او زیات شمېر وګړي یې د تو خو په سېمه کې استوګنه لري، خو د کـــا بله تر کند هاره پورې په ځینو کلیو او با نډو کې یو یا د وه کوره مېشته د ي. زېر ماني زیاتره د کر کیلې‌پـــه چـــارو بوخت د ي، خو ځینې یې سود اګري هم کوي ([194]).

د د وی د ود او د ستور زیاتره د نورو غلجیو قبیلو په څېر د ی. د ډېرو هلو ځلو په نتیجه کې مې نه د د وی د شمېر په اړه کوم معلو ت تر لا سه کړل او نه یې هم د خیلو نو وېش راته څر ګند شو.

د زېر مان کلمه د او ستا یي عصر او د ورې سر یمان را په زړه کوي چې د سلیمان د کلمې سره یې رېښنه‌یـــوه او د سلیمان یعنې د (روه) د سېمې معنی یې لر له.

---

191 تا ریخ حیات افغا ني، پښتو ژباړه، ۱۴۳مخ، د پېښور چاپ

192 پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۱۲۸۱ مخ

193 پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ۱۴۸- ۱۴۹ مخو نه

194 پښتا نه د تاریخ په رڼا کې، د سید بهاد رشاه ظفر کا کا خیل تالیف، ۱۳۴۶ مخ، پېښور یو نیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۶۲ میلاد ي کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 82 زيړاني

زيړ اني په اصل کې سسړ بني پښتا نه د ي او د غو ريا خيلو پښتنو او لاد ه د ه. زيړاني ځا نونه په مو منـــد و هم ورګډوي. غوريا څلور زامن د رلود ل يعنې د ولت يار، خليل، څمکني او څلورم زوی يې زيړان نو مېد چې او لاد ه يې د زيړ انيو په نامه سره مشهوره د ه او د ننګر هار ولايت مرکز جلال اباد ته نږد ې د زيړ انيو په کلي کــې چــې د سره رود د ولسوالۍ په اد اري واحد پورې اړه لري مېشته د ي.

د پښتنو د تا ريخ مؤلف اروانښاد قا ضي عطاؤالله خان ليکي :غو ريا خيل تقر يبا د (۱٤٥. ) ميلاد ي کال په شــا او خوا کې د غزني لو يد ېز ته د تر نک د سېمې په شا و خوا کې او سېد ل. څر نګه چې د د وی په شمېر کــې زيــاتوالی راغــی نـــو د وی د غزنـــي نـــه کابـــل او د کـــابله د ننګـــر هـــار خـــو تـــه وکـــو چيـــد ل. (195)

د تاريخ حيات افغا ني ليکوال ډيپټي محمد حيات خان ليکي : زيړاني د ننګر هار په شا و خواکې د تا جکو سره يو ځای او سيږي او زياتره خلک چې د د وی د نسب د شجرې سره اشنا نه د ي د وی تا جک بولي(196)

لکه چې اخو ند د روېزه هم په خپل مشهور اثر تذ کر ۀ الابرار والا شرار کې ليکلي د ي چې د زيړاني ښاخ لـــه خپلو نورو ورو ڼو نه بېل او د ننګر هار د سېمې له تا جکا نو سره او سيږي ( 197). خو بايد ووېل شي چې د وی سل په سلو کې پښتانه اود د وی په پښتو نولۍ کې هيڅ د شک ا و تر د يد ځای نشته.

د زيړانيو پښتنو د قبيلې ځينې څا نګې لکه پهاړ خيل، د ولت خيل، احمد خيل او تار خيل د برو مو مند و سره په غم او ښاد ۍ کې شريک د ي. همد اراز د د غې قبيلې يو شمېر خلک د لغمان ولايت د الينګار او قر غيو په ولسو اليو کې هم استوګنه لري. (198)

زيړاني زياتره د کر کيلې په چارو بو خت د ي. يو شمېر يې په سو د اګرېزو کارونو او د وکاند اريو بلنـــد ې هم بو خت د ي. زيړاني ميلمه پا لونکي او په علم و پو هې مين خلک د ي.په پخوانيو وختو نو کې د د وی ځمکې ډېرې اوبه نه د رلود لې، خو کله چې په ۱۳٤٥ هجري کال د ملت د با با خد ای بخښلي اعليحضرت محمد ظا هر شاه د واکمنۍ په وخت کې د ننګر هار د کانال پروژه جوړه شوه نو د د وی د سېمې کر وند ې يې خړوبه کړې. اوس د د وی د کرنـــې ځمکې ډېرې حا صلخيزه د ي.د ننګر هار ولايت د زيړاينو د کلي يو د روند مشر خد ای بخښلی ملک عطا و چې د ښـــو کړو وړو او ښه چلند خاوند و. (199)

---

195د پښتنو تاريخ، د قا ضي عطاؤالله خان تاليف، لو مړی ټوک، کابل، ۱۳٥٦ لمرېزکا ل

196تاريخ حيا ت افغا ني د پېښور چاپ، ۲٤٤ مخ

197تذکرۀ الا برار والا شرار، د روېزه اخون، پېښور، اد رۀ اشاعت سر حد، ٦٩مخ

198پښتانه، لومړی ټوک، ۱۱۸. مخ

199د دکتور لطيف ياد شخصي ياد د اشتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 83 سافي، ساپي

سا پي يا سا پيان د پښتنو د غرغښت په ټو لنېز ګروپ کې يوه مهمه او لر غو نې قبېله د ه چې وګړي يې په کو نړ، لغمان، کا پيسا، پروان، ننګر هار، پکتيا، خوست، باد غيس، بلخ، فارياب، کند ز، کابل، د پښتونخوا په مو مند و ايجنسی، د ره خيبر، د سهيلي پښتونخوا په مرکز کو ئيټه، پښين، ژوب، سيبۍ او همد ارا ز په اټک او د پاکستان د پنجاب ايا لت په فيصل اباد کې استوګنه لري.

د سا پيو قبېله د تاريخ په اوږد و او بېلا بېلو پړاوونو کې په مختلفو او بېلا بېلو نو مو نو سره ياد ه شوې د ه، د بېلګې په تو ګه: ساپي، صافي، سا پين، سپين، سا پيس، سا پيت، سا فيست، سا فيت، سا پينګ، سا پيته، سا پيسته، اسا پنتيه، سپينته، سو پتا او نور ([200]).

د اسې روايتو نه شته چې سا پيان يوه لر غو نې اريا يې قبيله د ه چې يو ناني کلا سيکو مؤ رخينو په خپلو تا ريخي کتا بو نو کې د د غې قبيلې يا د ونه او ذکر کړی د ی او پخپله مقد ونې اسکند ر د کو نړ او لغمان په ځمکو کې د د غو خلکوسره مخا مخ شوی د ی او ډېرې جګړې يې هم ورسره کړي د ي. د دې خلکو څه برخه د مو مند و او باجوړ د سېمو په شا او خواکې هم د لوی اسکند ر سره په جګړو کې ښکيل شوي د ي ([201]).

لغمان او کو نړ ته د سا پيانو د راتلو په اړه د اسي ويل کيږي چې د ميلاد نه ۲ــ کلو نه وړاند ې با ختري ار يا ئيان د شمېر د زيا توالي او د ځای د تنګوالي له کبله په ليرد پيل وکړ چې د پکهت د قبيلې نوربنا خونه او د هغو په لړ کې سا پيان هم شا مل ول. کله چې سا پيان د هند و کش له د رو نه د کا پيسا په حوزه کې ښکته شول او له د ې ځا يه يې تقر ېباد سيند و نو طبيعي مجرا ګا نې په مخه نېولې چې د هغوی نه يې يو ې ډلې د کا بل سيند په مخه نېولې او د نجراب، تګاب، سروبي او لغمان له لارې د کو نړ د سيند حوزې ته ورسېد ل.

په د ې کې د هيڅ شک او تر د يد ځای نشته چې سا پيانو د ميلاد نه ۲ـــ کلو نه د مخه په ليرد او مها جر تو نو پيل کړی د ی او اوس په کا پيسا، کو هستان، کوه ساپي، پروان، لغمان، کو نړ، جند ول، پشات، سوات او با جوړ کې مېشته د ي ([202]).

## 83.1 قبيلوي جوړښت

سا پيان په لو مړي سر کې په شپږومهمو ښا خو نو ويشل شوي د ي چې ود ير، ګوربز، کند هاري، مسود، ښا د

---

200عبد المالک کو لکوال ساپی، سا پيان او د هغوی قبيلوي وېش، د جرګې مجله، ۳۵ مخ، ۱۳۶۵ کال، کابل

201مطيع الله چمبيلی، بيا هم سا پيان وپېژنئ، د کابل مجله، ٤٤ ګڼه، ۱۳۳٦ کال

202تاريخ حيات افغاني، ۲۳٦ مخ، د پېښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يخيل اوكاكي زي نو ميرې ([203]) چې بيا وروسته په نورو څانگو وېشل شوي د ي چې د غه څانگې په لانـدې ډول د ي :

امري، شيخي، باړ ميزي، بيا نخيل، کټه سر، غيبي خيل، حبيب زي، کاکا زي، خا د يخيل، سليمان زي،بـا ديـن زي، اد م زي، پا يند ه خيل، نو رخيل، خيرن زي، زکوزي، مېر علي خيل، الو کوزي، عطا خېل، سـين زي،بـري زي، شمسو کور، مد ور کور، غلجی کور، ابه خېل، سيپان، مرزاخېل، کمال خېل، امر ويي، بد ين زي، خاد ي خېل، رحيمد اد خېل، حيد ر خېل، شابول خېل، سليمان خېل،مولاتم کور، ملايان، کاگي، شهزاد ه او ټنگه گوربز.

## 83.2 د سا پيانو د استو گنې سيمې

1. د کونړ په ولايت کې

د سا پيا نو د قبيلې زيات شمېر وگړي د کو نړ په ولايت کې ا ستو گنه لري او په نو موړي ولايت کې د سا پيانو د استو گنې ځا يو نه په لاند ې ډول د ي: اسد اباد، نرنگ، بر يکوټ، سر کا نې، د انگـام،څـو کی، نورگل، پيچ، چپه د ره، با ډيل، د ېوه گل، د مزار د ره او شو نکړی. د کو نړ په ولايت کې د سا پيا نو مجمو عي شمېر تقر يبا د ۱۵___ تنو په شا وخواکې ښود ل شوی د ی.

2. د لغمان په ولايت کې

د لغمان په ولايت کې سا پيان په عمر زيو، شکور اباد، علي خيلو، پا چا خيلو، احمد زيو،بـا ړېزيـو، سالاو، گاگړ، کو ټالی، د روېش اباد، د ولت شاه، اتوک، چکله او د وگل کې ژوند کو ي چې په نـو مـو ړي ولايت کې سا پيان د ۵___ زرو تنو په شا او خواکې اټکل شوي د ي

د لغمان ولايت د عمر زيو سا پيا نو مشهور ښا خو نه تور خېل، خېرن زي، زکوزي، مېر علي خيل، الو کوزي او عطا خيل د ي.

3. د کا پيسا په ولايت کې

سا پيان د کا پيسا په ولايت کې د د غه ولايت د تگاب او نجراب په ولسو اليو کې استوگنه لري.

4. د پر وان په ولايت کې

سا پيان د پروان ولايت په کوه سا پي، سيد خيلو، کو هد امن او کو هستان کې استوگنه‌لـري. دپـروان ولايت سا پيا نود د ې لپاره چې د وی د تا جکو ورو نوسره د ډېرو کلو نو په اوږد و کې او سيد لي د ي نو خپله ژ به پښتو يې له لاسه ورکړې د ه.

---

203معلومات مختصر د رباره اقوام وقبا يل سرحد ي کشور، ۱۶. مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. د ننګر هار په ولایت کې

د ننګر هار ولایت د خېوې ولسو الۍ په د ره نور کې هم د د وی یو کلی شته چې د بو ډیالۍ په نامه یاد ېږي.(204) د ا هغه بوډیالۍ د ه چې شا عر انو په خپلو شعرونو او سند ر غاړو په خپلو سند رو کې ترې یا د ونه کړې د ه او ویلي یې د ي:

اد کې مورې ما ښو له ځمه

د بو ډیالۍ تو تان ږلۍ وهلې د ښه ما ښو له ځمه

6. د بلخ په ولایت کې

د د غه ولایت په مرکز او د بلخ او د ولت اباد په ولسو الیو کې هم سلیمان خېل سا پیان استوګنه لري.

7. د فاریاب په ولایت کې

د د غه ولایت د قیصار په ولسوالۍ کې هم سلیما ن خېل سا پیان استوګنه لري.

8. د باد غیس په ولایت کې

د غورماچ په ولسوالۍ کې هم سلیما ن خېل سا پیان مېشته د ي.

9. د پښتونخوا په مو مند و ایجنسۍ کې

د پښتونخوا د مو مند و په ایجنسۍ کې یو زیات شمېر سا پیان چې د کند هاري، مسود، ګـــوربز او ود بر په ښا خو نو پورې اړه لري استوګنه لري او د اسې ویل کیږي چې د ۱۹۶۱ زېږ د ېز کال د سر شمېر نې له مخې د د وی شمېر ۵۳... تنه ښود ل شوي د ي چې ښا یې د ا شمېر به او س لا تر د ې ډېر زیا ت وي ځکه چې د د غې سر شمېر نې نه اوس پوره ٤۹ کلو نه تېر شوي د ي.

کند هاري سا پیان د مو مند وا یجنسۍ په وید انشا، کرېل، چینه ګۍ، کند و کو هي، امرو یي او چنــــاري کې استوګنه لري چې په مجمو عي تو ګه د د وی سېمه د سره کمر په نامه سره یاد ېږي. د سوات اخوند صاحب ملا عبد ا لغفور هم کند هاری ساپی و.

ګوربز سا پیان په تره کي تنګي، لکړۍ، کمر کلا او کټه سر کې مېشته د ي.

مسود ساپیان په چیناري، زیارت، خزینه او کوږ پاڼ کې مېشته د ي.

همــد اراز ودبــر ســاپیان دکــونړ د ســیندپــه جنــوبــي برخــهکــې اســتوګنهلــري (205) باید وویل شي چې د مومند و ایجنسۍ د ساپیانو کلتور کټ مټ مو مند و ته ورته د ی.

204 http://www.nps.edu/programs/ccs/Docs/Pakistan/Tribes/Safi.pdf

205 ولي محمد خان سیال کاکړ، پښتو او پښتا نه په سهیلي پښتونخوا کې، ٤۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



10. په سهيلي پښتونخوا کې

يو شمېر سا پيان د سهيلي پښتونخوا په سيوی، ژوب او کو ئيټه کې هم استوګنه لري چې مير زايي او کمال زي يې ښا خو نه د ي، خو ځر ګند ه د ې وي چې د غو سا پيا نو پښتو هېره کړې د ه او د سند يـــا نو کلتوري حا کميت يې پر ځان منلی د ی ([206]).

11. په پاکستان کې :

د پاکستان د پنجاب په فيصل اباد کې هم يو شمېر سا پيان استوګنه لري.

## 83.3 د سا پيا نو د قبيلې اقتصاد ي جوړښت

د کونړ سا پيان له د ې کبله چې د کرنې ځمکې يې لږ ې د ي، نو د هغې تر څنګ غولګـــانې، پســـونه،ګـــډيان او مېښې هم روزي چې د غوښو، شيد و او نورو حا صلا تو نه يې ګټه اخلي. د وی د کرنې ځمکې زيا تره للمي د ي چـــې اوبه نه وررسيږي او يا د اوبو رسيد ل ورته ناشو ني د ي. زيا تره بز ګران يې په بيوزلۍ کې ژ وند تيروي، په تېره بيا هغه بز ګران چې د با د ارنو (د ځمکو د خا وند انو) ځمکې کري نو مجبور او مکلف د ي چې د تخم نه پر تهـــورې ټو لې ستو نزې لکه غوايان، د بزګرۍ الات، د ځمکې وهل، کرل، ريبل، را ټو لول او ميد ه کول پخپله غاړه واخلي. ان د ځمکې د خا وند کو رته د حا صلا تو وړل هم د بزګر پر غاړه د ي. بز ګر مجبور د ی چې د ې نورو کا رونو تر څنګ د خپل باد ار، خره، غواګانې او مېښې هم وسا تي. همد اراز بز ګر خپل باد ار ته د غره نه وړيا لر ګي راوړي. د بز ګــر مېر من بايد ه د ي چې د ځمکې د خا وند د مېر منې اوامرو ته غاړه کښيږد ي. لنډه د ا چې زياتره خلک يې بېـــوزله او نېستمن د ي.

## 83.4 خوراک

د وی په خوړو کې زياتره د جوارو، اوربشو، غنموا و وريجو نه ګټه اخلي.ځر نګه چې د وی د بزګـــرۍتـــر څنګ په مالد ارۍ هم بو خت د ي، نو زياتره يې د غواګانو او مېښو د شيد و نه هم ګټه اخلي ا و غوړي يې يا په شـــتمنو خلکو پلوري او يا يې د ننګر هار سېمې ته د پلورلو لپاره راوړي.

## 83.5 جامې

د وی زياتره د وړيو او وزو د وړ غنو نه ځا نته مخصو صې جا مې جوړوي چې د ريشۍ ته ورته د ي، خـــو

206ولي محمد خان سيال کاکړ، پښتو او پښتا نه په سهيلي پښتونخوا کې، ٤٩ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرېدلي. ښځې يې تور پړوني او اوږده کميسو نه لري. د د وی پر تو ګو نه چين د اره وي.نارينه يې د خمتا له ټــو کړ نه هم ځانته کالي جوړوي او اکثره يو ډول ټو پی چې پکو لونه يې هم بو لي او د وړيونــه جــوړ شــوي وي.پــه سروي.

## 83.6 مېلمه پا لنه

د اقتصاد ي تنګسې او بې وسی سره سره سا پيان مېلمه پال خلک د ي. د وی د مېلمنو لپاره حجرې لري چې په د ې کار کې يو له بله سره سيالي کوي. په د وی کې د مېلمنو قد ر زيات د ی. د د وی په حجرو کې د مو سيقی الات لکه سيتار، رباب، منګی او نور شته.

## 83.7 پښتني ننګ

سا پيان د قام په ننګ کې غير تمن خلک د ي. د وی د خپل هېواد د ازاد ولو لپاره د انګرېزي يــر غلګــرو پــه وړاند ې

ځو ځو ځلې جنګيد لي او ډول ډول قر بانی يې ورکړي د ي.همد ا راز د سرو روسي ير غلګرو په وړاند ې د وی د اسي تورې وهلي د ي چې زموږ د ګران هيواد افغانستان تا ريخ د د وی د مېړانې کا رنا مې نه شي هېرولای. همد اسب د ی چې د کو نړ په ولسي ژوند کې د وسلو د رلود ل او ساتل ډېر اهميت لري او د سا پيو په اړه وايي چې يــوه ورځ د يوه سا پي په کور کې نا رېنه ما شوم وزېږېد. ځر نګه چې په اکثرو پښتنو کې د ا رواج شته چې د نــارينه مــا شوم تر زېږېد و وروسته د ټو پک ډزې کوي. ځر نګه چې د غه سړي ټو پک نه د رلود نو لاړ چې يو ټوپــک پيــد ا کړي او د خپل زوی د پيد ا کېد و په خوشالیډ زې وکړي، خو چا خپل ټو پک ورنکړ. کوم وخت چې بېرته خپل کــور ته راستون شو نو چا ورته ويل چې راشه زوی د ې وګوره که نه نو کبر به وشي. هغه په ځواب کې ورته وويل چــې زما زوی د لو مړي ځل لپاره با يد زما مخ ونه ويني ځکه زه د ومره نامرد يم چې د خد ای په د ې لويه د نيا کې يو ټــو پک هم نلرم چې د زوی د زېږېد و اعلان پرې وکړم نو که غه زما مخ ګوري ښا يي چې د هغه نه به هم زما غوند ې بــې همته سړی جوړ شي. نو ه به د اوي چې د يوه نا رېنه او با همته سړي مخ وګوري.

ساپيان د غيرت او ننګ په ټکي سر او مال ور کوي. په د وی کې ښځو ته طلاق ورکول سخته بــې ننګــي د ه. ځوک چې د چا په ښځه تورن شي نو د هغه ژوند بيا په مرګ شمېرل کيږي. د چا په کور کې چې ځوک مړ شي نــو کــه نېستمن هم وي نو هغه مجبور او مکلف د ی چې خيرات ورکړي. په د وی کې د خيرات نه پرته د مړي ښخول شرم ګڼل کيږي. همد اراز د وی ملا يانو او ميا ګا نو ته د خيرات، صد قې او سر سايې نه هيڅکله هم غاړه نه غړوي. د وی د عذر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ننواتې په وړاند ې د ډېرې لويې ګناه نه هم تير يږي. لنډه د ا چې د وی په پښتني ننګ کې ډ ېر ټينګ د ي.([207])

## 83.8 مشهور شخصيتونه

په سا پيانو کې ډېر ستر مبا رزين، استاد ان، پو ځي منصبد اران، ليکوالان او شا عران تېر شوي د ي چې ځيني يې په حق رسيد لي او ځيني يې اوس هم ژوند ي د ي د لته د هغوی ياد ونه ضروري د ه.

1. غازي محمد عثمان خان ساپی چې د تګاب و او د انګر يزانو پر خلاف د ۱۸۷۹ ميلاد ي کال د سمبر د ميـــا شتي د پا څون د ر هبرانو نه و.
2. د خپلواکۍ د لارې ستر مبارز غازي ميرز مان خان کو نړی.
3. اروابناد غلام حسن خان ساپی
4. اروابناد شهيد قا ضي عبيد الله ساپی
5. اروابناد شهيد امان الله سيلاب سا پی
6. قا ضي مطيع الله چمبيلی
7. د کتور ود ېر ساپی
8. سر محقق زلمی هېواد مل
9. اروابناد جنرال محمد اصف سا پی
10. د پښتونخوا مشهور صحافي سليم سا پی
11. پو هاند د کتور ضمير سا پی
12. جنرال رحمت الله ساپی
13. مفتاح الد ين ساپی
14. د کابل پو هنتون استاد لطف الله ساپی
15. د د انش د خپر ند ويې ټو لنې مشر اسد د انش ساپی
16. د ساپي د کتاب چاپولو د مو سسې مشر امام الد ين ساپی
17. عظم الد ين عليمي

---

207پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، ۱۵۱-۱۵۵ مخو نه، د پېښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 84 سالار زي

که چېرې د سالارزیو د قبیلې د نسب شجره په غور سره وڅېړو نو ثر ګند ه به شي چــې ســالارزي لــه اره سړبني پښتانه اود تر کا ښیو (تر کلا ښیو) د قبیلې د پنځوښنا خونو نه یو مشهور ښاخ ګڼل کیږي. د تر کا ښیو نورمشهور ښنا خونه ما موند، ابر اهیم خیل، اسوزي او شمل زي د ي.سالارزي د باجوړ په لر امد ک، بر امد ک لر سد ین، بر ســـد ین، ښنار، ناوه ګی، کوټکي، الیکي، چار منګ، بابوقره اورود کې مېشــته د ي. (208) همــد اراز د پښتــونخوا د ایــالت د نوښنار په بره با نډه کې هم یو شمېر سالارزي استوګنه لري. په سالار زیو کې د برم اولاد ه برم خېــل او د هلال اولاد ه هلال خېل د د انګام او اسمار د تا ریخ سره نه شلید و نکي اړیکي لري.

د با جوړ نه پر ته د افغانستان د کونړ په ولایت کې هم زیات شمېر سالارزي استوګنهلــري او د د وی د اســتو ګنې خا یو نه په لاند ې ډول د ي :

د انګام، شونکړی، اغذ باغ، اسمار، ساو، ساوخوړ، ناړی، څوکی، بارګام، ازبر ګل، بریکوټ، ډمبرو، حساره، کر هاله، د م کلی، نرنګ، کنجګل، د ونایي او ټا نګو د ره. (209)

په سالارزو کې د قبیلې مشري د ابراهیم ځېلو (برم خېلو) په لاس کې د ه. د اسې روایت هم شته چې پــه یــوه وخت کې د سالارزو د لر امد ک په غو نډۍ نو مي کلي کې د کا مران په نامه یو سړی اوسېد ه. په د ې کلی کــې د د ه د یوې مېر منې نه د وه زامن د هلال او ابر اهېم (برم) په نامه وزېږېد ل . د زلمیتوب په وخت کې د وی د خپل پلار سره بز ګري کوله او د پلار تر مړینې ورو سته هم د بز ګرۍ په کارونو بوخت ول. یوه ورځ برم په پټي کې یوې کو له او یو ملنګ چې پر اس سپور و د پټي تر څنګ ود رېد. ملنګ برم ته وویل :" لاړ شه اوګره راته راوړه' (په شړومبو کې پخې وریجې چې یو ځای شي او ګره ورته ویله کیږي). برم لاړ او له کورنه یې اوګره ورته راوړه. ملنــګ د اوګــرې کونډۍ (د لرګي کا سه) په لاس کې ونیو له اوا و ګره یې پر ځمکه توی کړه. برم له کوره د رې ځلې اوګــره راوړه او ملنګ د رې ځلې او ګره پر ځمکې تویه کړه، خو برم هېڅ ډول عکس العمل ونه ښود. ملنګ سر را پورته کړ او په د عا کې یې وویل:" بر مه! خد ای د ې د ټو لو سالا زیو خان کړه !" له د عا نه ورو سته ملنګ لاړ او برم په خپلې یــوې بــو خت شو. د یوې کولو په وخت کې برم د سرو زرو خزانه وموند له. هلال چې ته راغی نوبرم ورته ټو له کېسه وکړه. هلال په ملنګ پسې وزغا ستل. ملنګ ورته وویل : د سالارزو خاني مې برم ته ورکړه، ستا په خو له د ې خد ای بر کت کړي. ولسي جر ګې د ې ستا په خو له فیصله کیږي او په کو مه جر ګه کې چې ستا اولاد ه نه وي هغــه د ې نــه فیصــله کیږي و په کو مه جر ګه کې چې ستا اولاد ه نه وي هغه د ې نه جو ړیږي.(210)

---

208پښتني قبیلې، ۱۵٦ مخ، د پېښور چاپ

209معلو مات مختصر د رباره اقوام وقبا یل ولا یات سر حد ي کشور، ۱٦ مخ

210د پښتنو ټولنېز – اقتصاد ي جو ړښت، د پښتو څېړ نو بین ا لمللي مرکز ۲۱۹- ۲۲. مخو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



همد اسبب د ی چې اوس د د ه اولاد ه هلال خېل په سالارزيو کې ولسي شـــخړې او لا نجـــې حـــل او فصـــل او اواروي.

د سالار زيو يو بل ښاخ د سد ين او امد ک په د وو لو يو څا نګو ېشل شوي د ي.

د سد ين څا نګې د اد ي:

سين خېل، کټکي ځېل، عالي خېل، قلند ر خېل، خير خان خېل، کند ريان.

د امد ک څانګې د اد ي :

ابراهيم خېل (برم خېل)، هلال خېل، مېر د اد خېل، شومه خېل، اکا خېل، محمود خېل، بد ل زي، ګبري، فتح ځان خېل، حيد ر ځېل، تور خېل، څر ګند خېل اوتاراڼ.

د ۱۹۶۱ زېږد ېزکال د سر شمېر نې له مخې په با جوړ کې د سالار زيو مجمو عي شمېر ۷_۵_ تنه او د افغانستان د کو نړ په ولايت کې د د وی شمېر ۳۹۹۸۲ تنه ښود ل شوی و. اوس چې د د غې سر شمېر نې نه پوره پنځوس کلو نـــه تېر شوي د ي ښا يې د د وی په شمېر کې به ډ ېر شمېر زيا توالی راغلی وي.

د ډيورنډ د ناولې کر ښې تر لا سليک کېد و يعنې د ۱۸۹۳ زېد ېزنه د مخه د با جوړ سېمه د افغانستان د خاورې يوه برخه وه.

سالارزي په پښتني ننګ او غيرت ا و پښتو نوالې باند ې ټينګ خلک د ي. د وی ميلمه پا لو نکي، په علم اوپـــو هې با ند ې مين اوجنګيالي ځلک د ي. د وی. د برې او حجرې تل د ميلمنو پر وړاند ې خلاصې وي. د هند په نېمه وچه باند ې د انګريزي ير غلګرو په وړاند ې يې د انګرېزانو پر خلاف ډېرې توري وهلي د ي او همد اراز د پا کستانـــي د يکتا توري حکو متو نو په وړاند ې يې ډېرې د قد ر وړ مبازې کړي د ي چې د همد ې مبارزو په پا يلـــه کـــې د د وی سېمې څو څو ځلې بمبار شوي د ي او ډېر تاوانونه يې ګا للي د ي، ځکه چې د د وی په خټه کې د خپلو اکۍ غو ښـــتنې روحيه ډ ېره پياوړې د ه.

د سا لارز يو د قبيلې يو شمېر ليکوال او مشهور علمي شخصيتو نه په لاند ې ډول د ي :

1. د افغانستان د علو مو اکېډيمۍ د ژبو او اد بيا تو د انستيتيوت پخوانی غړ ی سر محقق ښا غلی محمـــد نعيم سالارزی چې د پښتو اد بيا تو د پياوړ تيا او د پښتو قا مو سو نو په ليکلو کې يې د قد ر وړ خـــد متو نه کړي د ي.
2. په کا بل کې د يو ناما د د فتر ويان‍د ښا غلی نظيف الله سالارزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 85 سهاک

سهاک یا ساک د پښتنو هغه قبیله ده چې د نامه ریښه یې ډېره لرغونې و د حضرت مسیح علیه السلام د زیږېد و نه ۵- کلونه وړاندې هغو ساکانو ته رسیږي چې د سیستان و هېلمند په حوزه کې اوسېدل چې د دوی اصلي ټاټوبی ساکستان یا سگستان و چې عربو ورته سجستان وایه و په فارسي کې ورته سیستان ویل کیږي. دغه ساکان په اصل کې کوچیان وو او د مسیح د مېلاد نه ٦ پېړۍ وړاندې د امو د سیند، فرغانې او د چیني ترکستان د سنکیانګ د حوزې نه یې په لېږد پیل وکړ او د سیستان سیمې ته یې ځانونه ورسول چې وروسته د افغانستان په نورو سېمو کې هم خواره شول.

په پښتني د ود بزه شجره کې ساک (سهاک) د موسی زوی، د ابراهیم لمسی او د غلجي کړوسی دی چې د نسب د شجرې پربنسټ یې اندړا و ترکي وروڼه ګڼل کیږي. ([211])

## 85.1 سهاک د قبیلې بناخونه

د ساکو یا سهاکو قبېله په لاند نیو بناخونو باندې ویشلې شوې ده:

حسن خېل، یعقوب خېل، خدر خېل، بختو، یو سف خېل، الوزي، توتا خېل، اوریا خېل، ګدا خېل، اسماعیل خېل و چغ پای([212]). د تاریخ حیات افغاني په قول چې له نن نه ۱٤٥ کلو نه وړاندې کښل شوی دی د دوی مجموعي شمېر اووه زره کورنۍ ښودل شوي دي چې بنایې دا شمېر به اوس ډېر زیات وي.

د سهاکو په قبیله کې د یوسف خېلو د بناخ شمېر د سهاکو د قبیلې د پاتې بناخو نو په پر تله زیات دي.

## 85.2 سهاکو د قبیلې د استوګنې سېمې

1. د پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالۍ کې.
2. د لوګر د ولایت په خروار نومې سیمه کې.
3. د ننګرهار ولایت د حصارک غلجي او د سره رود په ولسو الیو کې چې په دغه ولسوالۍ کې یې شمېر ۲۲٦۸ تنه ښودل شوی دی.
4. د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ په بیکتوت کې.

211 پښتني قبیلې، ۱٥۸ مخ د پېښور چاپ

212 تاریخ حیات افغاني، ۲۹۱ مخ، د پېښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. د کابل ولایت د سروبي په ولسوالۍ کې او همد اراز د د غې ولسوالۍ د اوزبين په سېمه کې.
6. د کابل ولایت د بګرامي د ولسوالۍ په شيو کيو اوسهاکو کې.
7. د کاپيسا ولایت د تګاب په ولسوالۍ کې.
8. د لغمان ولایت په مرکزد ګل بېله په کلي کې.
9. د پروان په ولایت او په تېره بيا د هند وکش د غره د لړۍ په سهيلي د روکې.

کله چې زه د د ې مقالې لېکوال په ۱۳۵٦ لمرېزکال کې د فارياب ولايت مرکز ميمنې ته تللی وم نو د د غه ښار په شمال لويد ېز پنځه کيلو متری کې مې د پښتنو کوچيانو کيږد ۍ وليد لې او کله چې هلته ورغلم او د د وی‌نـــه‌مـــې وپوښتل نو ځانونه يې ساک يا ساکزي کو چيان را وپيژند ل ا و ويل يې چې د وی اوړی او ژمی همد لته تيـــروي او د نورو کوچيانو په څېر نورو ځايونو ته لېږد نه کوي.[213]

سهاک ميلمه پالو نکي، غير تمن، په هيواد او علم او پو هې مين او په پښتني ننګ او غيرت باند ې ټينګ او ولاړ خلک د ي. د انګريزي ير غلګرو سره په د رې ګونو جګړو کې يې له ځا نه ډېره مېړانه ښود لې اود سره روسي ناتار په وړاند ې په زړورتيا سره جنګيد لي د ي او د خپل هيواد د ژغورنې له پاره يې ډېرې قر بانۍ ورکړيد ي.

# 86 ستانکزي

که چيرې د ستانکزيو د قبيلې د نسب ونه يا شجره په غور سره و څېړو نو جو ته به شي چې د غه قبيله له اره غلجي پښتانه د ي او په احمد زيو چې د پښتنو خورا ستره او پياوړې قبيله د ه ور ګډېږي. د د غې قبيلې خلک زياتره خلک د لوګر او ننګرهار په ولايتونو کې مېشته د ي.[214] ستا نکزي هم د نورو پښتنو په څېر ميلمه پالونکي، په علم او پو هې مين او په پښتو او پښتونولۍ او پښتني ننګ او غيرت خورا ټينګ خلک د ي. د وی هيواد پالونکي او د ګـــران هېواد افغانستان د خپلواکۍ په لار کې يې ډېرې سرښند نې کړي د ي. د انګريزي ښکېلاکګرو ســـره‌پـــه د رې ګونـــو جګړو کې ستانکزيو ډېرې توري وهلي او همد اراز د سره روسي ناتار په وړاند ې يې هم له ځانه ډېره مېړانه ښود لې د ه.

## 86.1 ستا نکزيو د استو ګنې سېمې

د مخه مو وويل چې د ستانکزيو د قبيلې زياتره خلک د لوګر په ولايت کې اوسېږي. د لوګر ولايت نه سر بېره

---

213د مقالې د ليکوال شخصي ياد ښتونه

214پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد تاليف ۱٦. مخ، د پېښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننګر هار، کابل، مید ان او ورد ګو، لغمان، بغلان، کند ز، بلخ، سمنګانو، هرات او هیلمند په ولایتونو کې هم یو شـــمېر ستانکزي استوګنه لري.

1. د لوګر په ولایت کې د ستانکزیو د قبیلې د استوګنې سیمې:
   - د لوګر ولایت په مرکز د حصارک په کلي کې.
   - احمد زي کلا
   - د محمد اغې لوېد ېز ته د مغول خېلو په سېمه کې.
   - شا هي کلا
   - تاج خان کلا
   - کتب خېل
   - غزني خېل
   - ابد ه خېل
   - کند هاري پل
   - شاه مزار
   - ابازک
   - بني شروګان
2. د کابل په ولایت کې د ستانکزیو د قبیلې سیمې په لاند ې ډول د ي:
   - د مو سهي په ولسوالۍ کې
   - د چهار اسیاب ولسوالۍ په الیا س خېلو او نمو نیاز کې
   - د پغمان په ولسوالۍ کې
   - د سروبي ولسوالۍ په تیزین او جګد لګ کې
3. د مید ان او ورد ګو په ولایت کې د ستانکزیو د قبیلې د استوګنې سیمې په لاند ې ډول د ي:
   - د نرخ په ولسوالۍ کې
4. د کند ز په ولایت کې ستانکزي په لاند نیو ولسوالیو کې ژوند کوي:
   - د امام صاحب په ولسوالي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د خان اباد په ولسوالي کې

5. د بغلان په ولایت کې د ستانکزیو د قبېلې د اوسېد و سیمې په لاند ې ډول د ي:

- د پلخمري په ولسوالۍ کې
- د نهرین په ولسوالۍ کې
- په بلا د وري کې.

6. د سمنگانو په ولایت کې ستانکزي د د غه ولایت د مرکز د ایبکو په ښار کې ژوند کوي.
7. د بلخ په ولایت کې ستا نکزي د غه ولایت د بلخ په ولسوالۍ کې استوگنه لري.
8. د هرات په ولایت کې
9. د هېلمند په ولایت کې
10. د لغمان په ولایت کې ([215])
11. د ننگرهار په ولایت کې ستانکزي د د غه ولایت په لاند نیو ولسوالیو کې استوگنه لري:

- د سره رود په ولسوالۍ کې
- د چپرهار په ولسوالۍ کې ([216])

د ستانکزیو قبیلې په خپلې غیږ کې یو شمېر استاد ان، پو هان او لیکوالان او د کریکټ د لوبې اتلان روزلي د ي چې کولای شو د هغو په لړ کې د لاند نیو ښاغلو نومونه یاد کړو:

1. د کابل پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځي استاد ښاغلی پوهند وی نصـــر اللهـــ ســـتانکزی چـــې تکـــړه ژورنالیست او لیکوال او د څو علمي کتابونو مؤلف د ی.
2. د لوی غر د ویبپاڼې چلوونکی او د پښتو ژبې لېکوال ښاغلی رفیع الله ستانکزی.
3. د نگاه تلویزیون اوند ا راډیو ویاند ښاغلی محمد نسیم ستا نکزی.
4. ښاغلی اسد الله ستانکزی
5. د افغانستان د ملي کریکټ د ډلې لوبغاړی ښاغلی اصغر ستانکزی.

---

215ستانکزي څوک د ي؟ د لوی غر ویبپا ڼه، د رفیع الله ستانکزي مقاله

216معلومات مختصر د رباره اقوام وقبا یل ولایت سرحد ي کشور، ۳۲ مخ، د کابل چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 87 ستانيزي

ستاني زي هم د پښتنو د غلجيو په ټولنيز ګروپ او ډله کې يوه پېژند ل شوې قبېله د ه چــې د ســليمانخيلو د قبيلې يو ښاخ ګڼل کيږي. ستانيزي د ننګرهار ولايت د غلجايي حصارک او د سره رود په ولسواليوا و همد ارز د ورد ګو په شمالي برخه کې استوګنه لري. د اسې روايتونه هم شته چې جبار خېل او با بکر خېل پښتانه د ستانيزيو مشهورې ځا نګې د ي چې د کابل او جلال اباد تر مينځ سېمو کې مېشته د ي. (217)

ستاني زي هم د نورو پښتنو په څېر توريالي او غيرتمن خلک د ي. که څه هم د کرنې لرې ځمکې لري، خو يو شمېر يې په کوچنيو سود اګريو او يو شمېر هم په د ولتي ملازمتونو بوخت د ي.

د ستانيزيو د قبيلې يو وتلى ليکوال، کيسه ليکونکى او ژورناليست ښاغلى محمد نسيم ستانيزى د ى چې اوس د امريکې غږ راډيو د پښتو څانګې وياند هم د ى.

همد اراز د ستانيزي د قبېلې پورې اړوند يو بل نامتو ليکوال او سياسي شنونکى ښاغلى ډلکــټر احســان اذري ستانيزى د ى.

# 88 سبري

د سبري قبېله چې ځېني وختو نه د صبري په بڼه هم راغلې د ه د پښتنو په کرلاڼې ټولنيز ګروپ پورې يــوه اړوند ه قبېله د ه چې خلک يې د خوست ولسوالۍ د سبريو په ولسوالۍ کې چې د د غه ولايت شمال ته پرته ولسوالۍ د ه استوګنه لري. ختيز ته يې باک او تريزايي، جنوب ته يې د خوست د ولايت مرکز او لويد ېز ته د منګلــو د قــبيلې سره ګډه پوله لري. د سبريو د ولسوالۍ مرکز د يعقو بيو ښار ګوټې د ى.

سبري غيرتمن، ميلمه پا لو نکي او په پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک د ي. د وى د انګريزي ير غلګرو سره د افغان – انګرېز په د ري ګو نو جګړو کې په مېړ انه جنګيد لي او هم د روسي ښکيلاکګرو په وړاند ې يې خپله مېړانه او پښتو نولي په اثبات رسو لې د ه اود خپلې خاورې او هېواد سا تنه يې په مېړانې سره کړې د ه.

د سبري د قبيلې خلک په عمو مي تو ګه د کر نې او مالد ارۍ په چارو بو خت د ي. زيات شمېر ځولنــانـيــې د غر يبۍ او مز د وريو لپاره د خليج عر بي هيواد و نو لکه: د وبۍ، شارجه، قطر او همد اراز په سعود ي عر بستان کې شپې او ورځې تيروي. د د غه ځاى خلک د مزرو نه پوزي، پړي، جاي نما زونه او ټو کرۍ ګانې او شکرونه جوړوي.

د سبريو سېمه ډېره ښه شنه، حاصلخېزه او اباد ه د ه. د سبر يو د قبيلې شمېر په تخميني ډول ۱۹ـ۲٦ تنه ښود ل

---

217پښتني قبيلې، ۱٦ـ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی د ی.

د سبریو د قبیلې مشهوربنا خو نه او خیلو نه په لاند ې ډول د ي :

- بازوخیل
- صالح خېل
- ابو خېل
- غزني خېل
- خود اخېل
- انتوخېل
- سنکي خېل
- د رنامي

ماخوذ د ([218]، [219]، [220]) نه.

# 89 ستورياني

د ستورياني قبېله چې کله کله په ځينو پخوانيو تاريخي کتابونو کې د استرياني په بنه يې هم نوم راغلی د ی د سړبني پښتنو په ټولنيز ګروپ کې په وصلي توګه شامله قبېله د ه او د پښتونخوا په د ېره اسماعيل خان کې اســـتوګنه لري. د د وی د سېمې شمال ته شيراني، لويد ېز ته يې زمري، ايسوټ او موسی خېل کاکړ او جنوب‌تـــه د کســـراني او بلوڅو بزد ارو او په ختيز کې د ګنډاپورو پښتنو سره پو له لري.([221])

ستورياني په عمومي توګه د سليمان غره په ختيزه برخه او د ګومل د سيند په جنو بي خواکې مېشته د ي. د د وی لوی کلی د کوی بهاره په نامه ياد يږي.

مشهورا و نامتوا نګريزي مؤرخ مونټ ستوارټ الفنستن په خپـــل مشـــهور لـثـر (An Account of the Kingdom of Cabul) کې چې د ښاغلي پو هاند د کتور محمد حسن کاکړ او ښا غلي سر محقق نصر الله سو بمن له خوا

---

218 http://en.wikipedia.org/wiki/Sabari_District

219 معلو مات مختصر د رباره اقوام وقبا يل ولايات سر حد ي کشور ۵۹ مخ، کابل، ۱۳۶۳

220 پښتني قبيلې، ۱۵۸-۱۵۹ مخونه، د پېښور چاپ

221 د وړ، شير رحمن، اضلاع، ايجنسي ها وقبايل ايالت پښتو نستان، ۹۸ مخ، د قومونو او قبايلو چارو وزارت، ۱۳۶۳ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل سلطنت بیان تر نامه لاندې یې په ګډه تر جمه او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو د نړېوال مرکزلــه خوا په ۱۳۶۱ لمرېز کال کې چاپ شوی د ی د ستوریا نیو د قبیلې په اړوند د اسې کښلي د ي :

" ستوریاني تر د غو وروستیو وختونو پورې ټول کوچیان وو. د د وی سېمه په حقیقت کې د کرنې لپـاره د ومره مساعد ه نه د ه. ډېر وخت تیریږي چې د وی د غه سېمه د د امان د بلوڅانو نه ونېوله او ژمی به یې هلته اړول او په د وبي کې به یې خپلې مېنې او رمې د موسی خېلو کاکړو سېمو ته بېولې. د غه لېږ د ید نې د هغې جګړېلــه کبلــه چې د د وی او د کا کړو د یوې قو مي څا نګې تر مینځ شوې وې نا را حته کوونکې ثا بتې شــوې،پــه د ې چــې د وی مجبور وو د هغوی له سېمو نه وا وړي، نو د ستو ر یا نیو د قبیلې نیما یې بر خې خپلې رمې وپلورلې او په کر نـــې یې پیل وکړ. هغې بلې بر خې یې د پخوا په څېر خپل عاد ت ته د وام ورکړ، خو ډېر ژر د بټه اړ ویستل شول چــې د هغو نورو په لاره روان شي. د نو یو او پخو ا نیو مېشته شوو ستو ریا نو تر مینځ له څو جګړو وروسته ټوله قــبیله کر وند ګره شوه.یوازې د وه څا نګې یې تر او سه هم کو چیا ني ژوند ته د وام ورکوي او اوس هم په پسر لي کې خپل ما لو نه سپو ستا ته چې د سلیمان تخت په جنوب لو ید ېز کې د ی خیژوي. سره له د ې هم ډېر ستو ریا ني تر او ســه پورې سو د اګر او د ما لو نکو وړونکي پا تي شوي د ي او د ا هغسي ژوند د ی چې د ګر ځند ه پووند ه وو ژوند تــه نږد ې د ی. د وی معمولا په خرو او غو ایا نو مالو نه وړي او نږ د ې څلور زره کو رنۍ شمیرل شوي د ي." ([222])

د ستوریاني قبیله په ډېرو نورو ښاخو نو او څا نګو با ند ې ویشلې شوې د ه چې مشهورې څا نګې یې د اد ي :

حسن زي، خان زي، شبي زي، اسما عیل زي، احمد زي، خواجه خیل، تو رخیل، اکو زي، کاره زي و ګـــد ار زي. ([223])

ویل کیږي چې د غه پووند ه قبیلې د کند هار او بنګال تر مینځ هم سو د اګري کوله. نن هم یو زیات شمېر ستو ریا ني په هند و ستان کې استوګنه لري اود د ې لپاره چې د نګې ونې او ښا یسته څېرې لري نو یو شمېر یې د پو لیسو په تو ګه د ند ې تر سره کوي.

ستوریاني په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک د ي. د وی د ود ونه او رواجو نه د نورو ګا ونډیو پښتنو پــه څېر د ي.

د روسي مشهور اتنوګرافر ستانیشفسکي د اتنوګرافیکو معلو ما تو له مخې چې د شلمې پیړۍ په پیلـکـېـیـې کړي وو د ستو ریا نیو د قبیلې د وګړو شمېر یې د ۳۵ زرو تنو په شا او خواکې ښو د لي د ي. ([224])

---

222د کا بل سلطنت بیان، د ویم ټوک ٦٣- ٦٤ مخو نه

http://www.pashtunforums.com/pashtun-history-8/pashtun-tribes-521223

224پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ١٦١- ١٦٢ مخو نه، پېښور، د د انش خپر ند و یه ټو لنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 90 سد وزي

سد وزي له اره سړبني پښتانه د ي او د پوپلزيو د قبيلې يوه څانګه ګڼل کيږي. د د غې قبيلې مورث اعلـی‌یـا ستر نېکه اسد الله خان و چې په ۹٦٥ لمريز کال زيږېد لی او په ۱۰۲۱ لمريز کال يې له د ې نړۍ نه ستر ګې پټې کړي د ي. نوموړی په عوامو کې په ملک سد و مشهور و او د د ه د نامه له کبله د غه قبيله په سد وزيو سره مشهوره شوه.

تاريخ حيات افغا ني د سد وزيو د قبيلې په اړوند د اسې کښلي د ي :

" سد وزي د پوپلزيو يوه څانګه د ه. سد وزيان تر ډېره وخته پورې نه يوازې د پوپلزيو د قبيلې، بلکـې د د رانيو د ټولې قبيلې خانان او مشران شمېرل کېد ل او جوته د ه چې سد وزيان د د راني قبيلو په ټولـو څ انګو کـې د ځانګړې د رناوي نه بر خمنه قبيله ګڼله کېد له، د ا ځکه چې د افغانستان بنسټ ايښود ونکی او واکمن لوی احمد شا ه بابا عليه الر حمه د سد وزي د ټبر نه و نو ځکه سد وزيان يوه بېله قبيله ګڼله کيږي، خو په اصل کې د غه قبيله د پوپلزيـو د قبيلې يوه څا نګه د ه. " (225)

ملک سد و يو ډېر پوه او هوښيار سړی و چې د خپل قوم لپاره يې ډېر خد متونه وکړل او په پای کې د خپـــل عمر په ۷٥ کلنۍ کې يې د د ې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې. د ملک سد و نه پنځه زامن پاتې شول چې خواجه خضـــر خان، مود ود خان، زعفران خان، کامران خان او بهاد رخان نو ميد ل، چې بيا خواجه خضر خان د ولس او خپلې قبيلې د خلکو په خوښه په مشر تابه وټاکل شو او شل کاله يې د خپل قوم خد مت وکړ. خواجه خضر خان د وه زامن د رلـــود ل چې يو يې خد اد سلطان او د ويم يې شير خان نو مېد ل.(226) تر پلار وروسته خد اد اد سلطان د قبيلې مشر شو چې يو باتد بيره او ځيرک انسان و او د قبيلې ټو لې شخړې او لانجې يې د جر ګو له لارې اوارولـې. خـد اد ســلطان د غلجيانو او ابد اليانو تر مينځ پو لې د ورور ګلويزو اړېکوپر بنسټ و ټا کلې او بيا يې د قبيلې مشـــري خپـــل ورور شېر خان ته وسپارله.

شېر خان د خپلې مشرۍ په وخت کې د ايران د بيګلر بيګي يا سيا سي استازي سره په کند هار کې په مخا لفـــت لاس پورې کړ. د ه هم د خپل عمر په ٦٥ کلنۍ کې له د ې نړۍ نه ستر ګي پټې کړې. تر شير خان نه وروسته يې زوی سر مست خان د سد و زيوقبيلې مشر وټا کل شو او د يرش کاله د د غې قبيلې د مشر په تو ګه پا تې شو، چې بيا د هغه ځای نا ستی د هغه زوی د ولت خان و، خو د د ې له پاره چې نو مو ړی په عمر کو چنی و نو د قبيلې د مشر تابه چارې به د د ه اکا حيات سلطان پر مخ بيولې. وروسته د ولت خان ا و د هغه زوی نظر محمد خان په کندهـارکـې د ليـران د بيګلر بيګي ګورګين د تو طيو له مخې ووژل شول. د د ولت خان تر مړ ينې وروسته د د ه نه د وه نور زامن‌پـاتـې شول چې يو يې رستم خان او بل يې زما نخان ول. کله چې رستم خان د خپل پلار تر وژل کيد و وروسته د سد و زيو

225تاريخ حيات افغا ني، د ويم چاپ ١٤٢ نه تر ١٥٢ پورې مخو نه، پېښور، د انش

226پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ١٢٧٨- ١٢٧٩ مخو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قبیلې مشر شو، نو د ی هم د ظالم گورگین له خوا ووژل شو. په د غه وخت کې د سد و زیو قبیله بې مشره پــا تــې شوه.

په ۱۲۹ هجري کال کې د حیات سلطان زوی عبد الله خان او د هغه زوی اسد الله خان چې ملتان ته تللی ول له ملتا نه بېرته کند هار ته راغلل او عبد الله خان د د غې قبیلې مشري ې په غاړه واخیستله. عبد الله خان او زوی یې اسد الله خــان بیا هرات ته ولاړل، خو د هرات گورنر عباس قلي خان د واړه بند یان کړل. په د غه وخت کې د هرات قزلبــا شــانو د عباس قلي خان پر خلاف بغا وت وکړ او عباس قلي خان هم مجبور شو چې له هراته وتښتي. په د ې وخت کې عبد الله خان او زوی یې ا سد الله خان چې د عبا س قلي خان په بند یخا نه کې بند یان ول د عبا س قلي خان د تېښتې سره سم له بند یخانې وتښتید ل او غرو نو ته وختل او په بغاوت یې لاس پورې کړ او بیا د هرات د نیولو لپاره د ښار پــه لــور وروخو ځید ل. له ښاره یو فر سخ لیرې د د سد و زیو او ایر انیا نو تر منځ جگړه ونښته چې په نتیجه کې ایراني حاکم جعفر خان ونیول شو او سد وزیانو ښار محاصره کړ او په د ې تو گه د هرات ښار سد و زیو ته په لاس ورغــی. ورو سته اسد الله خان سد وزی د فراه په جگړه کې د محمود له خوا ووژل شو.

تر د ې پېښو وروسته عبد الله خان سد وزی هم وفات شوا و بیاد خلکو په اتفاق سره زمانخان د ســد وزیــو د قبیلې مشري پرغاړه واخیسته ا و د ایرا ني پو ځو نو سره په مېړانه وجنگېد. د د ه زوی ذوالفقار خان هم د ایرانیا نو سره ډېرې جگړې وکړې.

تر هغه وو سته د سد و زیو په قبیله کې لوی احمد شاه بابا د ۱۷۴۷ نه تر ۱۷۷۳ زیږ. د یــږه پــورې د افغانســتان واکمن شو او یوه ستره امپر اتوري یې جوړه کړه چې په تاریخ کې د د رانیانو د امپر اتورۍ په نامه سره مشهوره د ه چې د د ې امپر اتورۍ لمن په لو ید ېز کې تر اصفهان او نیشا پوره، په ختیز کې ترکشمېر، لاهــور پنجــاب او ډیلــي پورې او په شمال کې تر مروې او بخا را پورې پراخه وه.

پټه د ې نه وي چې سد وزیان، د رانیان او ابد الیان په مجموع کې سره توپیر نلري او د یو ټــبر او یــوه پلار اولاد ه گڼل کیږي، خو یوازې د ا چې سد وزي د پوپلزیو د قبیلې یوه څانگه د ه. لوی احمد شاه بابا په تاریخ کې کلــه د سد وزي، کله د ابد الي او کله د د راني په نومونو او لقبونو سره یاد شوی د ی. ([227])

نن ورځ د سد وزي د قبیلې پورې اړوند ه خلک په کند هار، هرات، فراه، هیلمند، زابل، کابل، ایران، پېښــور، پښتونخوا، کویټه، لاهور، ملتان، کر اچۍ، ډېره جاتو، کشمیر، هند او ډېرو بهرنیو هیواد ونو کې استوگنه لري.

# 91 سرکاڼي

زموږ پښت پوهان او نسب پېژند ونکي د سرکاڼي قبیله د پښتنو په سړبني ټولنیز گروپ پورې یوه اړوند ه

227 پښتنې قبیلې، ۱۶۲، ۱۶۳، ۱۶٤ مخونه، د ویم چاپ، پېښور، د انش

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبیله ګڼې چې په الکوزیو ور ګډیږي. د اسې ویل کیږي چې د د وی اصلي ټاټوبی کند هار و، خو وروسته بیا د ځینو عواملو په وجه یې خپل اصلي ټاټوبی پریښی اوکونړ ته راغلي د ي او د د غه ولایت د سرکاڼو په ولسوالۍ کې مېشته د ي چې د د غې ولسوالۍ نوم هم د د وی د قبیلې په وجه د سرکاڼي د ولسوالۍ په نامه سره یادېږي. د سرکاڼیو ولسوالي د کو نړ په مرکزي برخه کې پر ته د ه چې په جنوب کې د پښتونخوا سره ګډه پوله لري. په د غې ولسوالۍ کې ۲۴۲ـ تنه او سیږي چې زیات شمېر یې په سرکاڼي قبیلې پورې تړلي خلک د ي. د غې ولسوالۍ مرکز د سرکاڼو کلی د ی. (228)

د سرکاڼیو شمال ته د کو نړ سیند بهیږي چې د د غې ولسوالۍ ډېری لرې بر خې خړوبوي. په د غه سیمه کې وچکالي او د اوبو نشتوالی د خلکوډېره لویه ستو نزه د ه او تقر یبا په سلو کې ۷ـ ځمکې یې د وچکالۍ او د اوبو د نشتوالي له کبله شاړې او بنجرې پر تې د ي، له همد ې کبله یې ګڼ شمېر خلک بېوزله د ي. د سرکاڼیو ولسوالي د کونړ ولایت د مرکز اسعد اباد نه ۱۱ کیلو متره واټن لري. د د وی په ولسوالۍ کې اووه لوی کلي شته. (229)

د د غې ولسوالۍ خلک سره له د ې چې ځمکې یې لږې او بې اوبو د ي نو په کرنې او مالد ارۍ بانـد ې خپـل ژوند مخ ته بیا یې. د د وی ثاروي غواګانې، پسونه، وزې او خره د ي. سرکاڼي میلمه پا لو نکي، د علم او پو هې مینـه وال او د خپل ګران هېواد افغانستان سره ډېره مینه لري. د وی د انګریزي ښکیلاکګرو سره د افغان-انګرېز پـه د ري ګونو جګړو کې په میړ انه جنګید لي او هم د روسي بلوسګرو په وړاند ې یې خپل ټټرونه د هېواد د سا تنې لپاره سپر کړي او خپله هیواد نۍ د ند ه یې په زړورتیا او پښتو نولۍ سره سر ته رسولې د ه. د د وی د هېواد پا لنې یوه ستـر ګه بېلګه د اد ه چې د روسانو سره په جګړې کې د د وی په سلو کې ۹ـ کورونه بمبار شوي او له مینځـه تللـي د ي. د د غې ولسوالۍ ډېر خلک اوس هم په پښتونخوا او پاکستان کې د مها جرت شپې اوو رځې تیروي، په تېره بیا ډېـر ځـو انان یې په پاکستان او پښتونخوا کې په مزد وریو او غر یبیو اخته د ي.

د سرکاڼیو په ولسوالۍ کې یوه لیسه او ځولو مړ ني ښو نځي شته، خود ښو ونکو شـمېر یـې لـږ د ی. د د ې ولسوالۍ خلک د څښاک پاکې اوبه نلري او په سلو کې ۸ـ خلک یې د سیند له او بو نه د څښاک او پخلي لپاره ګټه اخلي.

د سرکاڼو د ولسوالۍ سر بېره یو شمېر سر کاڼي د کونړ ولایت په اسمار کې هم استوګنه لري.(230) همد اراز د کو نړ په ولایت سر بېره، سر کا ڼي د الکو زیو د قبیلې د یوه ښاخ په تو ګه د افغانستان په لو ید ېز او جنو ب لوېد یز کې ستو ګنه لري. (231)

---

http://en.wikipedia.org/wiki/Sirkanay_District228

http://www.aims.org.af/afg/dist_profiles/unhcr_district_profiles/eastern/kunar/sirkanay.pdf229

230معلومات مختصر د رباره اقوام و قبا یل سر حد ي کشور، ۲۲ مخ

231پښتني قبیلې، ۱۶۵ مخ، د وهم چاپ، پېښور.د انش خپر ند ویه ټو لنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 92 سروانړي يا شېروانړي

زموږ پښت پو هان او نسب پيژ ند ونکي سر وانړي د پښتنود بيټنيو په ټولنيز ګروپ پورې تړي. د پښتني د ود بېژې شجرې پر بنسټ بيټ نيکه ډېر مشهور نيکه تېر شوی د ی او له پخوا زمانې نه مؤ رخا نو د د ه نوم او حـــال ليکلی د ی. په پښتني عنعنه کې هم بيټ نيکه خورا لوی پښتون او مشهور ستانه او نيکه ګڼل شوی د ی.(232)

د سروانړي قبيلې خلکو ته په هند وستان او پاکستان کې شېروانړي هم وايي. د سروانړيو د قبيلې ياد ونه او ذکر د هند د مغولي واکمنانو هر يوه جلال الد ين محمد اکبر (۹۲۳ .. ۱۰۱٤) هجري، نورالد ين جهــانګير (۱۰۱٤ .. ۱۰۳۷) هجــري و شاهجهان (۱۰۳۷ .. ۱۰٦۸) هجري د د ورې په مهمو تاريخي کتابو نو لکه تحفه اکبر شاهي يا تاريخ شير شاهي کې چې مؤلف يې پښتون عباس خان سر وانړی د ی او د مغولي واکمن جلال الد ن محمد اکبر په امر يې په ۹۹٤ هجري کال کښلی د ی، په تاريخ خانجهاني و مخزن افغاني کې چې مؤلف يې پښتون نعمت الله هروي نورزی د ی، په تاريخ د اود ي کې چــې مــؤ لف يې يو تن پښتون عبد الله د ی او هم د شاهجهان د د ورې (۱۰۳۷ .. ۱۰٦۸) هجري په مهم تا ريخي کتاب تاريخ شاهي کــې چې په تاريخ سلاطين افاغنه سره شهرت لري او د يوه تن پښتون تاريخپوه احمد ياد ګار له خوا چې د هنــد د بنګــال د وروستي پښتون واکمن د اود شاه کر لانړي (۹۸۰ .. ۹۸۳) هجري په امر يې کښلی د ی راغلی د ی.

په هند وستان کې د پښتنو واکمنا نو يعنې لو د يانو او سو ريانو د واکمنۍ په وخت کې هم يو ډېر شمېر لــوړ پوړي افسران ا، چا رواکي اوا مرا د سر وانړي په قبيلې پورې اړه د رلود ه چې په هغو کې د ملو خان سروانړي، فتح خان سر وانړي، د ريا خان سر وانړي، د اود خان سروانړي، سکند ر شاه سر وانړي او ابر اهيم سر وانړي نو مو نه د يا د ولو وړ د ي.(233)

تاريخ حيات افغا ني د سر وانړي قبيلې په اړوند د اسي کښلي د ي :

" ويل کيږي چې د شها ب الد ين غوري د واکمنۍ يا تر هغه لږ وروسته د سروانړي قبيلې د د رابڼ او چود هوان شا او خوا سيمې ونيولې او د د غه ځای ځمکې يې په خپله قبضه کې راو ستلې او د د غه قوم مشري د سرپيال کــورنۍ په تېره بيا د شيخ مليح قتال کورنۍ ته ورکړل شوه. د رابڼ له ډېرې مود ې راهسې رنګ پروت او هغه د رلبـــڼ چــې اوس اباد د ی شيخ قتال سروانړي ود ان کړی د ی چې په شمالي د روازه کې يې تر اوسه پورې د نوموړي شيخ نښـــان موجود د ی. په پخوا وختونو کې د د رابڼ ښار اباد او ډېرې ښايسته او ښکلي ود انۍ يې لرلې چې اوس د روانو اوبو او شنو ونو نه پرته بله کو مه ښکلا نه د ه ورته پاتې. سروانړيو ډېره مود ه پر د غه ځای باند ې ولکه د رلود له، خو د هند د مغولي واکمن همايون د واکمنۍ په وخت کې له د غه ځايه ووتل او د د وی د وتلو لپاره د وه لاملونه موجـــود ول

---

232پښتني قبيلې، ۵۹ مخ، د د انش چاپ، پېښور

233تاريخ شاهي يا تاريخ سلا طين افا غنه، د احمد ياد ګار تاليف، رايل ايشياټيک سوسائټي اف بنګال، ۱۹۳۹ ميلاد ي کلکتـــه، د فهرســـت الرجـــال برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی د د وی د شمېر لږوالی او کمزوري، د ویم د د وی ماتې. لومړی علت یعنې د د وی د کمزوري علت د ا و چې د ستوریو د قبیلې او سروانیو تر مینځ د پښتني ننګ او غیرت په وجه لانجه را مینځ ته شوه چې په نتیجه کې په جګړې بد له شوه او په زاړه د رابڼ کې د د اوړو خواو و تر مینځ خونړی جګړه پېښه شوه چې له د واړو خواوو نه پکې ډېر کسان ووژل شول او کله چې د د واړو خواوو پاتې کسانو د غه حالت او مړي ولید ل و ډېر پښیمان او نوره یې جګـړه مناسبه ونه ګڼله او د یو او بل له وژلو نه یې لاس واخیست او هرې قبیلې خپل مړي چې په زرګونو تنه ول په کوچنیو کوچنیو قبرونو کې ښخ کړل او بېرته خپلو استوګنځایونو ته ستانه شول. د د غې جګړې نتیجه د ا شوه چې لـه هغـې ورځې نه د ستوریو او سروانیو شمېر ډېر لږ او تر هغې اند ازې پورې کمزوري شول چې د خپل هیڅ مخالف قوم او قبیلې سره یې سیالي نه شوه کولای. تر هغه ورسته د همایون پاچا د واکمنۍ په پیل کې کله چـې د میـاخیلو لوحـانې (لوانې) ښاخ او بختیارو په پاتې سروانیو یرغل وکړ، چې تر لږې مقابلې وروسته یو شمېر سروانې ووژل شــول او پاتې یې مغلوب او د د رابڼ له سیمې یې لاس لنډ شو او د غه سیمه د میاخیلو او بختیارو دقـبیلو لاسـتـه ورغلـه او سروانې چې ډېر لږ پاتې ول ځینې یې خواره او ځینې یې مالېر کوټلې ته چې اوس د هند د پنجاب په ایالت کې سرهند ته نږد ې مو قعیت لر ي ولاړل. " ([234])

تر هغه ځا یه چې ما د د ې مقالې لیکوال د سر وانیو په اړوند څېړ نه وکړه نو د وی د پښتونخواا یالـتـپـه د بره اسما عیل خان، د کاکا صاحب د زیارت په سپین کا ښې کې او د خیر اباد د سیمې په امیرو او اټک کـې، د پاکسـتان د پنجاب د واه د سیمې په چکاره نومي ځای کې، د ملتان په افغان کالوني نو مي ځای کې، ګو جر انواله، د جهیلم په افغـان اباد اوسیالکوټ کې او د هند و ستان د هر یا نا د ایا لت په کر نال او د پنجاب د ایالت د مالیر کو ټله په سېمهکـې ا سـتو ګنه لري. ([235])

## 92.1 د هند مالېرکوټله په سیمه میشته سر وانې

د مالیر کو ټله سېمه د هند د پنجاب ایالت د سنګرور د ولسوالۍ یا ډیسټرکټ پورې یوه اړوند ه سېمه د ه چې د هند د خپلواکۍ ۱۹۴۷ عیسوي کاله پورې د سروانیو پښتنو یو ریاست ګڼل کید ه او سروانې پښتانه د د غې سـېمېنـو ابان ول. که چیرې د مالېر کو ټلې د سر وانیو د نسب شجره وګورو نو د وی په اصل کې پښتانه بیټنې د ي چـېلـو مړی په افغانستان کې او سید ل بیا له هغه ځایه د سلطان شهاب الد ین غوري د واکمنۍ په وخت کې یې د د رابڼ او چـود هوان سېمې چې اوس د پښتونخوا په د بره اسما عیل خان کې د ي په خپله ولکه کې را وستلې.

په د غه وخت کې د سروانیو یو مشهور تن چې شیخ صد رالد ین نو مېد او په صد ر جهان مشهوراو ډېر علبـد او له خد ایه یې وېره د رلود له په ۱۴۶۹ میلا د ي کال کې چې د ۷۸۶ هجري کال سره سمون خوري د خپل اصلي ټا ټو بي

234تا ریخ حیات افغاني، پښتو ژباړه، ۳۱۶ مخ، د انش، پېښور

235http://en.wikipedia.org/wiki/Sherwani_tribe

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رابړ نه د هند وستان خواته د سیاحت لپاره رهي شو. کله چې د ما لېر سیمې ته ورسید او د ستلج د سیند دیوې ویالې پر غاړه یې چې جهوم یې بولي او اثار یې اوس هم لید ل کیږي یوه څپره ود انه او هلته د خد ای په عباد ت بوخت شو. په د غه وخت کې د هند پښتون واکمن سلطان بهلول لود ي لا واکمنۍ ته نه و رسید لی.

یوه ورځ سلطان بهلول لود ي د سر هند د سیمې نه ډهلي ته روان و چې پر د غه عبا د تځي با ند ې وربرابر شو او د شیخ صد ر جهان سر وانې زهد او تقوای پرې ډېره اغېزه وکړه او په زړه کې یې وویل که چېرې زه د ډهلي او اگرې واکمني تر لا سه کړم نو خپله لور به د ه ته ور نکاح کړم. ډهلي ته د رسید لو سره سم د سلطان بهلول لود ي ارمان پوره شو او د هند و ستان واکمني یې تر لا سه کړه. سلطان بهلول چې پر پښتو او پښتو نولۍ باند ې ټینگ ولاړ و پر خپلې پخو انۍ ژمنې یې وفا وکړه او خپله لور یې شیخ صد ر جهان ته ور په نکاح کړه او د هغه د گوزارې لپاره یې د ه ته ۱۲ ستر کلي او ۵٦ کو چنۍ سېمې ورکړې او هم یې د واد ه لپاره ټول سا مانونه اوشیان ورته ور ولیږل. شیخ صد ر جهان ورو سته بیا یو کلی ود ان کړ او مالېر یې نوم پرې کېښود چې همد ااوس هم په مالېر کو ټله سره شهرت لري.

د اسي ویل کیږي چې نو موړي شیخ ورو سته بیا د کپور تله سېمې د رئیس بهرام له لور سره هم واد ه وکړ چې د بهلول لود ي له لور نه یې د حسن او د بهرام د لور نه یې د عیسی او موسی په نامه د وه زامن پید ا شول.

شیخ صد ر جهان په ۱۵۱۵ عیسوي کال کې د ۷۱ کلو نو په عمر له د ې نړۍ نه ستر گې پټې کړي او په مالېر کو ټله کې خاورو ته وسپارل شو چې زیارت یې اوس هم د خا صوا و عا مو زیا رتځی د ی. د شیخ صد ر جهان تر مړ ینې ورو سته د د ه زوی حسن د خپل پلار په څېر فقیر انه ژوند تېراوه او د خپل پلار د مزار خد مت یې پر غاړه واخیست ا و عیسی او موسی د مالېر کو ټله د سیمې د ریاست او نوابۍ چارې پر غاړه واخیستې. مو سی کوم او لاد نه د رلود او بې او لاد ه مړ شو. عیسی هم په ۱۵۳۸ عیسوي کال کې وفات شو، خو د هغه تر مړ ینې وروسته د د ه یوا زینی زوی شاه محمد خان د ما لېر کو ټله د سیمې د نوابۍ چارې پر غا ړه واخیستلې. د شا ه محمد خان تر مړ یني ورو ستهپه ۱۵٤۵ عیسوي کال کې د هغه مشر زوی معد ود خان چې په خواجه اسحق مشهور د مالېر کو ټله د سیمې نواب شو.

د خواجه معد ود خان تر مړینې وروسته په ۱۵٦٦ عیسوي کال کې د مالیر کو ټله د ریاست چارې د د ه زوی نواب فتح محمد خان ته په لاس ورغلې. د نواب فتح محمد خان تر مړینې وروسته په ٤۱٦ میلاد يکالکې د د ه زوی نواب محمد بازید خان چې یو ډېر زړور سړی و د مالېر کوټله د سیمې نواب شو. محمد با زید خان څلور زامن د رلود ل چې فیروز خان، اختیار خان، سرور خان او حسین خان نو مېد ل. د محمد با زید خان تر مړینې وروسته د هغه مشر زوی نواب فیروز خان د د غې سیمې د نوابۍ پر گد ۍ ډډه ولگوله. د نواب بازید خان نه ورو سته نواب شیر محمد خان نواب شو. د ه هم اووه زامن د رلود ل چې د هغه تر وفات ورو سته د د ه ر زوی نواب غلام حسین خان د نواب په تو گه د ند ه تر سره کوله چې بیا تر هغه ورو سته نواب جمال خان نواب شو. تر نواب جما ل خان نه ورو سته په ترتیب سره یو په بل پسې د نوابۍ چارې نواب بهیکن خان، نواب بهاد ر خان، نواب عمر خان، نواب اسد الله خان، نواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزير خان، نواب محبوب عليخان، نواب سکند ر علي خا ن، نواب غلام محمد خان اونواب ابر اهيم علي خان ـته وسپا رل شوې.

په او سني وخت د د غوسړ واني نو ابا نو د کو رنۍ نه يو هم نصرت اکرام خان د ی چې د پنجاب په کا بينه کې د سپورټ او بد ني و زنې وزير د ی. ([236])

## 92.2 سر واڼي د قبيلې خيلونه

د د غې قبيلې ځيني ښنا خو نه ا و څا نګې په لا ند ې ډول د ي : سرپيال، سيني، بلي، جعفري، سوري، حسن خيل، هد يا يخل، سهيا، يو نس خيل، ايوب زي، د وي خيل، خضر خيل، زکوزي، يوسف خيل، متا خيل، پو پي زي، ناهر زي، اموټ، چنان زي، اجا خيل، هد و زي، مما خيل، بهد ين خيل، هوتي زي، هارون خيل، کز ولي، محمود زي، اميک، اليک، احمد خيل ګد ای، علي خيل، ظهر خيل، اغوک خيل، مموزي او نور. ([237])

# 93 سرپيال

سرپيال له اره بيټني پښتانه اود سر واڼيو پښتنو يو ښاخ ګڼل کيږي. د اسې ويل کيږي چې د سر واڼي قبيلې د سر پيال د ښاخ نه شيخ صد رالد ين چې وروسته په صد ر جهان سره مشهور شو او يو عابد پر هيز ګاره انسان و د خپل اصلي ټا ټو بي د راڼې نه چې د پښتونخوا په د ېره اسما عيل خان کې پروت د ی په ۱٤٦۹ ميلا د ي کال کې چې د ۷۸٦ هجري کال سره سمون خوري د هند وستان خواته د سياحت لپاره رهي شو.

کله چې د ما لېر سيمې ته ورسيد او د ستلج د سيند د يوې ويالې پر غاړه يې چې جهوم يې بولي او لشاري يې اوس هم ليد ل کيږي يوه څپره ود انه او هلته د خد ای په عباد ت بو خت شو. په د غه وخت کې د هند پښتون واکمن سلطان بهلول لود ي لا واکمنۍ ته نه و رسيد لی. يوه ورځ سلطان بهلول لود ي د سر هند د سيمې نه ډهلي ته روان و چې پر د غه عبا د تځي با ند ې وربرابر شو او د شيخ صد ر جهان سر واڼي زهد او تقواي پرې ډېره اغېزه وکړه او په زړه کې يې وويل که چېرې زه د ډهلي او اګرې واکمني تر لا سه کړم نو خپله لور به د ه ته ورپه نکاح کړم.

ډهلي ته د رسيد لو سره سم د سلطان بهلول لود ي ارمان پوره شو او د هند و ستان واکمني يې تر لا سه کړه. سلطان بهلول چې پر پښتو او پښتو نولۍ باند ې ټينګ ولاړ و پر خپلې پخو انۍ ژمنې يې وفا وکړه او خپله لور يې شيخ صد ر جهان ته ور په نکاح کړه او د هغه د ګوزارې لپاره يې د ه ته ۱۲ ستر کلي او ٥٦ کو چنۍ سېمې ورکړې او هم يې د واد ه لپاره ټول سا مانونه اوشيان ورته ور وليږل.

---

236ميزان، ٦٥ ګڼه، ۲ــ ميلاد ي، د مالېر کو ټله د سېمې افغا ني نوابان او د د وی ريا ست، د ډهلي چاپ، هند و ستان

237تاريخ حيات افغاني، ۳۱۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ صد ر جهان ورو سته بیا یو کلی ود ان کړ او مالېر یې نوم پرې کېښود چې همد ااوس هم په مالېر کو ټلــه سره شهرت لري. د اسي ویل کیږي چې نو موړي شیخ ورو سته بیا د کپور تله سېمې د رئیس بهرام له لور سره هـــم واد ه وکړ چې د بهلول لود ي له لور نه یې د حسن او د بهرام د لور نه یې د عیسی او موسی په نامه د وه زامـن پیـد ا شول. شیخ صد ر جهان په ۱۵۱۵ عیسوي کال کې د ۷۱ کلو نو په عمر له د ې نړ ی نه ستر ګې پټې کړ ي او په مالېر کو ټله کې خاورو ته وسپارل شو چې زیارت یې اوس هم د خا صوا و عا مو زیا رتځی د ی. ([238])

د شیخ صد ر جهان تر مړ ینې ورو سته د د ه زوی حسن د خپل پلار په ځېر فقیر انه ژوند تېراوه او د خپـــل پلار د مزار خد مت یې پر غاړه واخیست ا و عیسی او موسی د مالېر کو ټله د سیمې د ریاست او نوابۍ چارې پر غاړه واخیستې. مو سی کوم او لاد نه د رلود او بې او لاد ه مړ شو. عیسی هم په ۱۵۳۸ عیسوي کال کې وفات شو، خو د هغه تر مړ ینې وروسته د د ه یوا زینی زوی شاه محمد خان د ما لېر کو ټله د سیمې د نوابۍ چارې پر غا ړه واخیستلې. د شا ه محمد خان تر مړ ینې ورو سته په ۱۵٤۵ عیسوي کال کې د هغه مشر زوی معد ود خان چې په خــواجه اســحق مشــهور د مالېر کو ټله د سیمې نواب شو.

د خواجه معد ود خان تر مړینې وروسته په ۱۵٦٦ عیسوي کال کې د مالیرکــوټله د ریاســت چــارې د د ه زوی نواب فتح محمد خان ته په لاس ورغلې. د نواب فتح محمد خان تر مړینې ورو سته په ۱٦۰٤ میلاد ي کال کـــې د د ه زوی نواب محمد بازید خان چې یو ډېر زړور سړ ی و د مالېر کو ټله د سیمې نواب شو. محمد با زید خــان څلــور زلمــن د رلود ل چې فیروز خان، اختیار خان، سرور خان او حسین خان نو مېد ل. د محمد با زید خان تر مړینې وروسته د هغه مشر زوی نواب فیروز خان د د غې سیمې د نوابۍ پر ګد ۍ ډډه ولګوله. د نواب بازید خان نه ورو ستهنــواب شــیر محمد خان نواب شو.

د ه هم اووه زامن د رلود ل چې د هغه تر وفات ورو سته د د ه ر زوی نواب غلام حسین خان د نواب په تو ګه د ند ه تر سره کوله چې بیا تر هغه ورو سته نواب جمال خان نواب شو. تر نواب جما ل خان نه ورو سته په تر تیب سره یو په بل پسې د نوابۍ چارې نواب بهیکن خان، نواب بهاد ر خان، نواب عمر خان، نواب اسد الله خان، نواب وزیر خان، نواب محبوب علیخان، نواب سکند ر علي خا ن، نواب غلام محمد خان اونواب ابر اهیم علي خان.ته وسپا رل شوې. ([239])

په او سني وخت د د غوسې واني نو ابا نو د کو رنۍ نه یو هم نصرت اکرام خان د ی چې د پنجاب په کا بینه کې د سپورټ او بد ني و زنې وزیر د ی.

لنډه د ا چې د سر وانیو پښتنو د سر بیپال ښاخ اوس هم هند د پنجاب ایالت د ما لیر کو ټله په سېمه کې استوګنه لري. زه د د ې مقا لې لیکوال د غې سیمې ته د وه ځلې تللی وم. یو ځلې د ۱۹۷۵ میلاد ي کال د لوی اختر په و ر ځو کې کله چې هغه مهال مې په پنجاب پو هنتون کې چې د چند یګرهه په ښار کې پروت د ی خپلې زد ه کړې کولې او د مـــالېر

---

238تا ریخ حیات افغا نی، د پېښور چاپ، ۳۱۸، ۳۱۹، ۳۲. مخونه

239میزان، د ۲ــ میلاد ي کال د نوامبر ۳.، د ډهلي چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کو ټله د نوابانو د کورنۍ سره مې د د وی په محل کې چې په شیش محل سره مشهور و لید ل او د نـــواب کـــورنۍ میلمستیا راکړه. د ویم ځل د ۲... میلاد ي کال د د سمبر په میا شت کې کله چې ماد خپلې کو رنۍ سره د هند وستان په پلا زمینې ډهلي کې د مها جرت شپې او ورځې تېر ولې نو په یو ه علمي سیمینار کې د ګډون له پاره د پنجاب د پټیالې ښار پنجابي پو هنتون ته تللی وم نو د پنجابي پو هنتون له خوا د مالېر کو ټلې د تللو زمېنه بر ابره او هلته مو یـــوه ورځ تېره کړه او په هغه وخت کې مو د سروانیو د قبیلې د سرېپال ښاغ د نوابانو د کورنۍ د یوتن سره چې نصرت لکـــرام خان نومېد او د پنجاب په کابینه کې د سپورت وزیر و ولید ل. ([240])

# 94 سړبني

د غه قبایل د خپل ستر نیکه سړبن په نامه په سړبني یا سړبنیو پښتنو سره شهرت لري. سړبن په پښتنو کـــې خورا مشهور نیکه تېر شوی د ی او له پخوا زمانو نه مؤرخانو د د ه نوم او حال لیکلی د ی. په پښتني عنعنه کې هم د ا سړی خورا لوی پښتون او مشهور نیکه ګڼل کیږي. د د ې عنعنې تصد یق په پخوانیو مؤرخینو کې ابو الفضل علامي ( ۱ـ٦ هجري) د مغولي واکمن اکبر د د ربار مؤرخ په خپل تاریخي اثر ائین اکبري کې په د ې ډول کـــړی د ی چـــې " پـــه پښتنو کې د رې ورونه ببېڼی، سړبن او غرغښت ډېر مشهور نیکو نه د ي." ([241])

د روایتونو له مخې سړبن د قیس عبد الرشید زوی او د غرغښت او شیخ بیټني ورور د ی. ویل کیږي چـــې د سړبن نوم په اصل کې ابراهیم و، خو په سړبن مشهور شو. د د ې وجه د ا وه چې د د ه اولاد نه و او په د ې خبره به تل غمجن او پرېشانه و، نو ځکه ببټ نیکه د ه ته خپل زوی اسماعیل ورکړ. ([242])

سلیمان ماکو په خپل مشهور اثر تذکرت الاولیاء کې چې له (۲۱۲ هجري) وروسته لیکل شوی د ی د شیخ بیټني او د د ه د ورور سړبن ذکر د اسې کوي چې "نقل هسې کاند ي یارانو چې په روزګار د شیخ بیټني د د ه ورور چې سړبن نومېد ه او پر شیخ بیټني هم خورا ګران و، سړبن نه د رلود ل زامن او هر کله به یې ویل خپل ورور ته. بیټني خپـــل زوی اسماعیل ورکا او لوی سو د سړبن پر کاله. خد ای مهربان د اسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړل د ومره زامن چې اوس سو ګڼون د هغو..." ([243])

ویل کیږي چې د اسماعیل اولاد ه هم په سړ بنو ورګډیږي او ذکر یې په "مرات الافاغنه" کې د سړبني اولیـــا وو په لړ کې مو جود د ی.([244])

---

240د مقالې د لیکوال شخصي یاد ښتو نه

241ائین اکبري، لومړی ټوک، ۱۹۱ مخ

242پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۱۲٦٦ مخ

243عبد الحی حبیبي، د پښتو اد بیا تو تاریخ، د وهم ټوک، ٦۲ مخ، کابل ۱۳۴۲ کال

244پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۱۲٦٦ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړ بن د وه زامن د رلود ل چې د يوه نوم شر خبون يا ښر خبون (شرف الد ين) او د بل نوم خرښبون (خير الد ين) و. د ښرخبون (شرف الد ين) د ژوند د حالاتو کومه پته نشته، خو د خرښبون (خير الد ين) څه لږ شان حال په پټه خزانه کې مو جود د ی. د پټې خزانې مطابق شيخ خر ښبون په ٤١١ هجري کال کې وفات شوی د ی. ([245])

خرښبون هم د خپل تره (اکا) شيخ بيټني په څېر يو نېک او خد ای لمانځونکی انسان او د پاک خد ای په عباد ت به لګيا و. ويل کيږي چې د ی د کسي په غره کې او سېد ه. د رو ايتو نو له مخې د شيخ خر ښبون د ژوند انه په زمانه کې د هغه پلار او تره (ا کا) يعنې (سړبن او بيټ نېکه) لا ژوند ي وو او د وی ټول سره په يو ځای کې اوسېد ل، خو څه مود ه وروسته خر ښبون د خپل پلار او اکا په اجازت د خپلو اولاد ونو سره د کسي د غره نه د غوړې مرغې په لور په کډه لاړ او هورې مېشته شو.([246])

لنډه د ا چې د سړبن اولاد ه چې په سړ بنيو سره مشهوره د ه په لا ند نيو قبا يلو وېشلې شوې د ه :

ابد اليان، ترين، شيرانې، بابړ، هرېپال، جلوانې، غرشين، ميانه، بړيڅ، پوپلزي، بارکزي، اڅکزي، اسحاقزي، موسی زي، نورزي، اليزي، اد وزي، خاکوانې، ماکو، يو سفزي، مند ړ، ترکلانې يا ترکانې، ګګيانې، مو مند، د اود زي، غوريا خيل، څمکني، زيړاني، محمد زي، ملا ګوري، خيشکي، کتاني، مهمنزي، کاسيان، شينواري، ستورياني، سرکانې او نور...

# 95 سلطان خېل (غلځي)

د سلطان خېلو په نامه د غه قبېله غلځي پښتانه او د سليمان خېلو د قبيلې په لوی ټبر پورې اړه لري. د افغانستان نامتو محقق ښاغلی محمد ولي ځلمی په خپل اثر د غزني تاريخي جغر افيې کې د سلطان خېلو د قبيلې په اړوند د اسې ليکي :

سلطان خيل غلجي پښتانه او د سليمان خېلو په قبيلې پورې يوه اړوند ه قبېله د ه چې د غزني ولايت د سلطان خېلو په علاقد ارۍ کې استوګنه لري، نو ځکه د غه علاقد اري د سلطان خېلو قبيلې د استو ګنې له کبله په همد ې نامه نو مول شوې د ه. د سلطان خېلو د قبيلې زياتره برخه کوچيان او لږ شمېر يې مېشته خلک د ي. د سلطان خېلو د قبيلې زياتره برخه خلک ځمی په نورو ولايتو نو کې تېروي. د وی ډېر زړر، توريالي او په خپلو د ود ونو او رواجونو ټېنګ د ي." ([247])

---

245پټه خزانه، د محمد هوتک بن د اؤد تاليف، ۲۲مخ، ۱۳۳۹ هري، کابل

246غوړه مرغې د کلات په سهيلي برخه کې د سره غره له جنوبي اړخه پيليږي او د لويد يز خوا ته تر ارغستانه بيا د کوړک تر غره پورې د کاکړستان او کسي او سليمان غره پورې سېمه د ه.(ليکوال)

247محمد ولي ځلمی، د غزني تاريخي جغر افيا، ۱٦٨-۱٦٩ او ۱۷. مخونه، د کابل چاپ، ۱۳٦۲ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان خېلو د قبیلې د سیمې شمال ته د پکتیکا ولایت د ډېله او د غزني ولایت د اب بند ولسوالی، جنوب ته یې د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي چې پښتنا نه یې زرمله هم بو لي، ختېز ته یې کټواز او او منه او لو ید ېز ته یې د مقر ولاړې او به مو قعیت لري.

د سلطانخېلو د علاقد ارۍ اب او هوا په اوړي کې معتد له او په ژمي کې یخه د ه، واوره پکې اوري. په پسرلي او مني کې یې هوا معتد له او په د وبي کې وچه وي. اوبه یې د کارېزونو، چینو او رود ونو نه برابرېږي چې د ځبنلووړ د ي. د د ې سره سره چې د غه سېمه پرېما نه او به نه لري، خو بیا هم غنم، او ربشي، جوار، مشنګ او مې په پوره لند ازه پکې کرل کیږي.

همد اراز په اومنه، ډېله او خوشامند کې هم ډېر شمېر سلطان خېل کو چیان استوګنه لري.([248])

# 96 سلطان خېل (نیازي)

د سلطان خېلو په نامه د ویمه قبېله په اصل کې د نیازیو د قبیلې د سر هنګ او لاد ه د ه. تاریخ حیات افغـــاني او پښتا نه د تاریخ په رڼا کې مشهور تاریخي کتا بو نو هم په اتفاق سره وایي چې د سلطا ن خېلو قبېله د سر هنـــګ اولاد ه ګڼل کیږي چې په پیل کې د خپلې قبیلې د نورو خلکو سره د میا نوالي په سېمه کې مېشته وو، خو ډېر کلو نه د مخه په هغه ځای کې د کو رنیو شخړو په وجه د خټکو غره ته نږد ې مېشته شول او د عیسی خېلو په سلا او مشوره یې شـاړې ځمکې ابا د ې کړې. ([249])

د سلطان خېلو د قبیلې مشهورې څانګې د اد ي:

زنګي خېل، شهابي خېل، باجو خېل، جلو خېل، خد ر خېل، سامي خېل، نظم خېل، نظر خېل، سنجر خېــل، د اود خېل، هند ال خېل، مید اد خېل، پهاړ خېل، شېر خېل، ګد اخېل اواغزر خېل.([250])

# 97 سلېمان خېل

زمونږ پښت پوهان او توکم پېژند ونکي سلیمانخیل د غلجیود قبیلي د ټولنېز ګروپ نه یوه مهمه قبیله ګڼـي. د غلجیو په ټولنېز ګروپ کې د نورو قبیلو په پرتله د سلیمانخیلو قبیله د شمېرا و وګړو له مخې هم یوه لویه قبیله ګڼله شوې د ه چې د ټولو وګړو شمېر یې ۱۳ـــ تنه ښود ل شوی د ي. د سلیمان خیلو عنعنوي ټاټـوبی د پکتیکـا اوسـنی

248پښتنني قبیلې، ۱۷. مخ، د پېښور چاپ

249پښتانه د تار یخ په رڼا کې ۱۳۵۵مخ او تاریخ حیات افغاني ٦۳۵ مخ د پېښور چاپ

250پښتنني قبیلې، ۱۷۱مخ، د نسب ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایت د ی او زیاتره سلیمان خیل د د غه ولایت د کټواز، وازي خوا، میټاخان او د او منې په ولسـوالیوکـې لسـتوگنه لري.

د سلیمانخیلو د قبیلې یو شمېر خلک د پکتیا ولایت په مرکز گرد یز او د زرمت او ځمکنیو په ولسوالیو کې هم استوگنه لري او د اسي ویل کیږي چې د زرمت ولسوالۍ تقر یبانیمه برخه په تېره بیا سهیلي برخه یې د سلیمان خېلو نه ډکه د ه ([251]) د سلیمانخیلو یو شمېر ښا خونو او خیلو نو د خپل اصلي ټا ټوبي نه مهاجرت کړی او د ننگر هار ولایت د سره رود، حصارک او چپرهار په ولسوالیو او همد اراز د لغمان په ولایت کې مېشته د ي چې په نو موړو ولایتونـو کې د غه ښاخونه او خېلو نه د جبار خیلو، معروف خیلو، ستاني زیو، د ولتزیو، احمد زیو او بابکر خیلو پهـنـامهـیـاد یږي ([252]). همد اراز د لوگر، غزني، مید ان اوورد گو، بغلان، کند ز او کابل کې هم ډېر شمېر سلیما نخیل استوگنه لري. په للند ر، تیزین، جگد لک، گند مک، الیشنگ، د لوگر په التمور، سپیگه، سرخاب اوازره کې هم ســلیمانخېل اســتوگنه لري.

د کند هار ولایت په مرکز د کند هار په ښار کې هم یو شمېرسلیمان خیل غلجي مېشته د ي. په تېره بیـــا د د وی یو ه پښنه چې د ینار خېل نو میږي اوپه خپلو نومونو د کند هار د ښار په منځ کي کوڅې لري چې شـمیرئـېهـم ۲۰۰۰ کسانو ته رسیږي . د کند هار د سلیمانخیلو کې یو هم ملي پانگوال تیمورشاه خان احمد زی وچې په لومړي ځل یې پــــه افغانستان کې د کاغذ جوړولو فابریکه جوړه کړه. د اسي هم ویل کیږي چې د کند هار سلیمان خیل په اصل کې له کټوازه راغلي او د لته یې اوس شپږم نسل ژوند کوي. د کند هار د ینارخیل پښتانه اوس هم په کند هار کې د ځانگړي شــهرت څښتنان د ي او د خلکو تر مینځ له عقید وي پلوه د ځانگړي د رناوي نه بر خمن د ي. اوس هم د کند هار خلــک خپـل ماشومان د خورد و اوا ود و لپاره د ینارخیلو ته بیايې، په تېره بیا هغه ماشومان چې ژبې یې بند یږي او د خبرو کولو ستونزې لري د د ینارخیلو په خورد و یې ژبې پرانېستل کیږي. ([253])

پر افغانستان برسېره ډېر شمېر سلیمانخیل په پښتونخوا او هم د پاکستان د کراچۍ په ښار کې استوگنه لري.

یو شمېر سلیمانخیل د هند وستان په ختېز بنگال په تېره بیا کلکته (کولکته)، بمبئې (مومبای),د اسامپــه لیــالت چې سلیمانخیل یې اشام بولي، بیهار او اوړیسا کې استوگنه لري اوخپلې سود اگرېزي چارې او معاملې پر مخ بیايي.([254])

باید یاد ونه وکړو چې ستر بنگالي شاعر او لیکوال او پهاد بیاتو کې د نوبل د جایزې گټونکي رابینـــد رلنــات ټیگور (۱۸٦۱ .. ۱۹٤۱ زیږد یز) چې د کابلي والا کو مه کېسه لیکلې د ه او بیا په ۱۹۵٦ کال ترې یو فلم هم جوړ شوی د ی د یو تن پښتون رحمت خان کېسه د ه چې په اصل کې سلیمان خېل پښتون و. همد اراز د یوه بل پښتون سلیمانخېل جانباز

---

251تواریخ خورشید جهان، ۲۱۹-۲۲. مخونه

252معلومات مختصر د رباره اقوام وقبائل ولایات سر حد ي کشور-۷٤ مخ

253د ښنوا د ویباڼې د مشر او چلوونکي ښاغلي خالد هاد ي حید ري هغه معلومات چې د سلیمانخېلو د قبیلې په اړوندیــې زمــاپه واک کـــې راکړل

254د سلیمان خېلو د قبیلې په اړوند زما شخصي یاد د ښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغه د میرمنې شوسمیتا بینرجي نه هم هند یا نو په ۲ـ۳ کال کې یو فلم جوړ کړی دی. ([255])

د سلیمانخیلو د قبیلې ختېز ته د خروټو قبیله، جنوب ته یې د ډیورنډ کرښه، لوېدېز ته یې تره کي او شمال خواته یې اندړ موقعیت لري.

## 97.1 سلیمانخیلو د قبیلې ښاخونه او خیلونه

د سلیمانخیلو قبیله ډېرو څانګو، ښاخونو او خیلونو ویشلې شوې ده چې د ځینو نومونه یې دا دي:

احمد زي، صالح خېل، منزي، د ینارخېل، شاه توري، علي خېل، نظام خېل، شاه خېل، قلندر خېل، عیسی خېل، معروف خېل، بابکر خېل، جبارخېل، ستا نیزي، ستانکزي، موسی خېل، ټغر، کړوخېل، یحیي خېل، بادین خېل، اسماعیل زي، عبد الرحیم خېل، ډاسو، ګل خېل، منه خېل، سلطان خېل، نسو خېل، سر خان خېل، مموزي، مندوزي، خواجه خېل، نسو خېل، سدو خېل، د ولتزي، غني خېل، ګلداد خېل، ساغري، روکي، لنډیزي، ادین خېل، جلال زي، کلا خېل، محمود خېل، مشن خېل، پاینده خېل، ممارخېل، اتمانخېل، شېرپای، امېرخېل، متا خېل، غیبو خېل، ناخېل، فتح خېل، جاني خېل، حسن خېل، شبکي خېل، پیارو خېل، قطب خېل، مغل خېل او نور... ([256])

یو شمېر سلیمانخېل کوچیاني ژوند لري چې د ژمي په موسم کې د وزیرستان شنو او نسبتا تودو سیمو ته ځي او په دوبي کې د وازې خوا په شا او خواکې کیږدۍ وهي.

## 97.2 د سلیمان خېلو د کرنې ځمکې

سلیمانخېل زیاتره د کرنې او مالدارۍ په چارو بوخت دي. په کومه سیمه کې چې دوی استوګنه لري هغه ځمکه ډېره اواره او د اوبو ستونزې یې ډېرې دي، له همدې کبله ډېر خلک یې له کاریزونو نه ګټه اخلي. د تېرو څو لسیزو راهیسې د واټر پمپو نورواج هم پکې شته او خلک د همدې واټر پمپونو په وسیله خپلې ځمکې خړوبوي. د دوی د سیمې زیاتره ځمکې یو فصل حاصل ورکوي.اقلیم یې په ژمي کې سوړ او په دوبي کې تود دی.په شرنې او ځینو نورو بر خو کې خلک انګور، زرد الو، مڼې، هند وانې او ختکي کري. که چېرې د ولت وغواړي چې د دوی ځمکې د اوبو له پلوه خړوبې شي نو د اوبو د بند ونو د جوړولو امکانات پکې شته. ([257])

---

255د مقالې د لیکوال شخصي یا د ښتونه

256پښتني قبیلې، د پېښور چاپ، ۱۷٤ مخ

257نوموړی اثر، ۱۷۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 97.3 خوراک یې

سلیمان خېل په خوړو کې د غنمو له ډوډۍ نه ډېره ګټه اخلي. د د ې کبله چې د وی په مالد ارۍ هم بو خت د ي نو د کرو تو، شېد و، مستو، کو چو او هګیو نه هم استفاد ه کوي. د ژمي په مو سم کې د و چو میوو استعمال هم پکې رواج لري، خو د وریجو استعمال پکې لږ د ی.

## 97.4 جامي یې

د سلیما نخېلو د قبیلې خلک خورا غټې لو نګۍ په سروي چې زیاتره ژیړ بخون رنګو نه لري. د وی پر خپلو اوږ و څاد رو نه هم اچوي چې په خپله لهجه کې تازر بولي.

د ښځو جا مې یې په عمو مي تو ګه سرې او شنې د ي. په پېغلو نجونو او ځولنو ښځو کې یې د ګنډونواستعمالول هم شته. د وی په جامو کې ډېرې مرۍ هم استعمالوي چې د کمیسو نولستونې په زرتارو، لیسو او چر مو باند ې ښکلي کوي. د د وی پر تو ګونه ١٤ یا ١٥ ګزو ته رسیږي. ښځې یې په عمو مي ډول پنې په پښو کوي چې د وی یې په خپله لهجه کې کپۍ بولي.([258])

سلیمانخیل په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک د ي. د وی میلمه پا لو نکي او د علم او پو هې سره مینه لري. د وی د یني عالمانو او پیرانو ته ډېر د رناوی لري. د افغان- انګرېز په د ري ګو نو جګړو کې د انګریزي ښکیلاکګرو سره جنګید لي او هم یې د روسي یر غلګرو په ګونډو کو لو کې یې خپل هیواد نی رسالت سرته رسولی د ی.

## 97.5 ځیني مشهورې څېرې

د نورو پښتني قبیلو په څېر د سلیمان خېلو قبیلې هم په خپلې غېږ کې لیکوالان، شاعران او افسران رو زلي د ي چې د ځینو نو مو نه یې په لاند ې ډول د ي ([259]):

1. د پښتو ژبې نا متو شاعر او لیکوال ښاغلی سلیمان لایق
2. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په واکمنۍ کې د ژاند ارم او پولیسو قوماند ان ښاغلی اروابناد جنرال عبد الحکیم خان کتوازی چې یو ملي شخصیت و او بیاورو سته په پېښور کې شهید کړل شو
3. لیکوال او مترجم ښاغلی نظام الد ین سلیمانخیل چې د محمد هوتک پټه خزانه یې له پښتو نه جرمني ژبې ته ژباړلې د ه

258د ښاغلي محقق نظا م الد ین سلیمانخیل یاد د ښتونه چې زما په واک ې یې راکړي ول

259د سلیمان خېلو د قبیلې په اړوند زما شخصي یاد ښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. **د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په وخت کې د ننګرهار والي ښاغلی محمد ګل سليمانخېل**
5. **متقاعد جنرال ښاغلی حی ګل سليمانخيل**
6. **د پکتيکا پخوانی والي ښاغلی محمد اکرم خپلواک**
7. **په ولسي جرګه کې د پکتيکا ولايت د خلکو استازی ښاغلی ناد رخان کټوازی**
8. **د پښتو ژبې شاعر او ليکوال ښا غلی خيال محمد کټوازی**

# 98 سنټيا

**سنټيا له اره غرغښتي پښتانه د ي او د پښتنو کاکړو يو مشهور ښاخ ګڼل کيږي. د تاريخي رو ايتو نو پر بنسټ د وی د سنټ نيکه او لاد ه د ي.**

**د سهيلي پښتونخوا نامتو مؤرخ او فو لکلوريسټ پرو فيسور ولي محمد خان سيال کاکړ په خپل مشـــهور لثـــر پښتو او پښتانه په سهيلي پښتانه کې د سنټيا کاکړو په اړوند د اسې کښلي د ي :**

**" په کاکړو کې د شمېر له پلوه ترسنځر خېلو وروسته د سنټيا کـــاکړانو شـــمېر زيـــات د ی. د وی د ســـهيلي پښتونخوا په هند وباغ، کان مهتر زي، کچلاغ، هنه، سره غوړګۍ، سره خوله، نو حصار، غبرګ، غـــوځکي، خـــانوزي، بلوزي، رود ملازي، مستنګ او په ځېنو نورو ځا يو نو کې مېشته د ي."(260)**

**سنټيا کاکړ په لاند نيو خيلونو او ښاخونو باند ې وېشل شوي د ي :**

**پانيزي، مهترزي، بازيان، سارينګ زي، شهزي، ملازي او عيسی خېل.**

**سنټيا کاکړ زياتره د کرکيلې په چار وبوخت د ي. يو شمېر يې د سود اګرۍ چارې هم سر ته رسوي. د ســـــنټيا کاکړو د ود او د ستور د کاکړو نورو خيلو نو او ښا خو نو ته ورته د ی. د وی زړور، جنګيالي او په پښــــتني ننـــګ ولاړ خلک د ي.**

**د تاريخ په اوږد و کې سنټيا کاکړانو توري وهلي او تاريخي شخصيتونه او رجال يې پيد ا کړي د ي.**

**هيبت خان کاکړ چې د خانجهان لود ي له خوا د هند وستان د پنجاب د سامانا د سيمې حاکم و هم د سنټيا کاکړو نه و.(261) بايد وويل شي چې په سهيلي پښتونخوا برسېره ډېر شمېر سنټيا کاکړ په هند وستان کې هم استوګنه لري. سامانا**

---

260پروفيسور ولي محمد خان سيال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخوا کې، ٦٥ مخ، کوئټه، ١٩٧٦ کال چاپ

261پښتني قبيلې، ١٧٥– ١٧٦ مخونه، د پېښور د د انش چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس هم د هند د پنجاب ایالت د پټیالې د ولسوالۍ یو ښار ګوټی ګڼل کیږي. ([262])

# 99 سنځر خېل

زموږ پښت پو هان او تو کم پېژند ونکي سنځرخېل له اره د کاکړو یوه پښه بولي چې د غر غښتو پښتنو پــــه ټولنیز ګروپ پورې اړه لري. د روایتونو له مخې سنځر نېکه یو تورزن مشر او منلی روحاني شخصــــیت و چــــې د مغولو پر خلاف یې اوږد ې مبارزې کړي د ي او ویل کیږي چې د د ه مزار په کو سه کې د ی او ډېر شمېر خلک د د ه زیارت او مزار ته ورځي.کوسه د سهیلي پښتونخواد کاکړ ستان د سیمې په ژوب کې مو قعیت لري. ([263])

د سهیلي پښتونخوا نامتو مؤرخ او فولکلوریسټ ښاغلی ولي محمد خان سیال کاکړ په خپل اثر "پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې" د سنځر خېلو کاکړو په اړوند د اسې لیکلي د ي :

" د کاکړو د قبیلې نوابي او سرد اري له پخوا زمانو نه د سنځر خېلو په لاس کې د ه او د وی د شمېر له پلوه د کاکړو تر بل هر ټبره زیات د ي." ([264])

سنځر خېل په لاند نیو ښاخونو او ځانګو ویشل شوي د ي:

علي زي، عبد الله زي، کب زي، برن خېل، سنخېل، اتمانخېل، هرمزي، تیمني، عرب خېل، پڼېزون، نیســـي مکـــد يزي او د ومړان. ([265])

سنځر خیل تورزن، میلمه پالونکي، په علم او پو هې باند ې مین او په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک د ي. د وی په هروخت کې د ظلم او تیري او بهر نیو یر غلګرو او بلو سګرو په وړاند ې جنګید لي د ي په تېره بیاد مغولو او انګرېزانوپرخلاف د د وی مبارزې د پښتنو د تاریخ زرین با بو نه جوړوي چې موږ پښتا نه پرې ویاړو.

# 100 سوري

سوریان یا زوریان د پښتنو یوه لر غو نې قبیله د ه چې د اوسید و اصلي ځای یې د غور تاریخي سېمه د ه چې په مرکزي افغانستان کې پر ته د ه. د غه قبیله په اصل کې د لود یو پښتنو یوه پښه د ه او د پښتنو د نسبـــــه عنعنـــوي شجرو کې کښل شوي د ي چې د لود ي زوی سیاڼي د وه زامن د رلود ل چې یو یې اسماعیل او بل یې پړانګی نومېد ل

---

262 http://en.wikipedia.org/wiki/Samana

263 پښتني قبیلې، ۱۷۶ مخ، د پېښور چاپ

264 پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې، ٦٥ مخ

265 پښتني قبیلې، ۱۷٦ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د اسماعیل له د ریو زامنو نه یې مشر سور نومېده چې د ده نسل د سور، سوري او یا زوري په نامه یادیږي. ([266])

د غه خلک په پیل کې د مرکزي افغانستان د غور په غرونو کې اوسېدل، خو وروسته د شمېر ډېروالي او باهم جګړو او ځینو نورو عواملو د بېته اړایستل چې یو شمېر خلک یې له د غې سیمې نه په لېرد بد پیل وکړي. ځینې یې د هرېرود په واد یو کې مېشته شول، ځینې یې غزني ته ولېږد یدل او ځینې یې هم د سلیمان د غره ختیز د د لمان په سېمه کې مېشته شول. همد ا اوس هم د د امان په سیمه کې سوري پښتانه استوګنه لري. د د غې قبیلې خلک په غور، باد غیس او هرات کې د زوریانو په نامه سره مشهور د ي چې اوس هم ډېر شمېر زوریان یا سوریان په د غو ولایتونو کې مېشته د ي. ځیني یې هند وستان ته ولېږد یدل. د سوري واکمنانو لړۍ چې له اره له غوره پیل شوې د ه په هند وستان کې یې یوه ستره واکمني رامینځ ته کړه چې سوري شېرشاه یې بنسټ ایښود ونکی ګڼل کیږي.

د افغانستان نومیالی مؤرخ او مشهور لیکوال لوی استاد اروابناد علامه عبد الحی حبیبي د "پښتواد بیاتو تاریخ" په نامه اثر کې د سوري پښتنو په اړوند د اسې کښلي د ي :

"سوري یا زوري د پښتنو شاهانو یوه لر غونې کورنۍ د ه چې له د وی نه د پښتو ژبې د اسلامي د ورې ډېر اثار موږ ته راپا تې د ي او د غه سوریان د پښتنو په تاریخ کې ډېر اهمیت لري. سوري د غور یوه مشهوره قبیله د ه چې اوس هم شته او زوري یې بولي اود ا نوم خورا زوړ او لر غونی د ی او عربو تاریخ او جغرافیا لیکونکو هم سور د زور یا زوري په بڼه راوړی د ی. " ([267])

په اسلامي د وره کې لو مړنی مؤرخ چې د سوریا زور د نامه یاد ونه یې کړې د ه احمد بن یحیی مشهور په البلا ذري د ی چې د ۲۵۵ هجري کلو نو په شا او خواکې او سېد ه. وروسته نورو مؤر خینو لکه احمد بن سهل بلخي (مړ ۳۲۲ هجري) په خپل اثر کتاب الاشکال یا صورالاقالیم کې چې په ۳۰۹ هجري کې یې کښلی د ی، اصطخري په ۳٤۰ هجري کې په خپل کتاب المسالک والممالک کې او یاقوت په معجم البلد ان کې د سور او زور یا د ونه کړې د ه. ([268])

د اسلام د مخه هم سوریان د غور واکمنا ن تېر شوي د ي چې د د وی یوه کورنۍ د شنسبیانو په نامه یا د بد له، ځکه چې د شنسبیانو د شاهي کورنۍ لوی نیکه شنسب نومېد چې د خرنک زوی و.

پرد ې سر بېره د اسلام په پیل کې د سوري کورنۍ یو بل واکمن ماهوي سوري نو مېد چې په مرو کې واکمن واو د ساساني امپراتورۍ وروستنی واکمن د ریم یزد ګرد یې چې عربان یې یزد جرد بولي وواژه.

د مخه مو یاد ونه وکړه چې په غور کې د سوریا نو د شنسب کهول د اسلام په پیل کې د غور په غر ونو کې واکمني کوله چې په د غو واکمنانو کې یو هم امیر پولاد و چې د ابو مسلم معاصر او د هغه ملګری پا تې شوی د ی چې

266تاریخ حیات افغاني، ۴۰۳مخ، د پېښور چاپ

267عبد الحی حبیبي، د پښتو اد بیا تو تاریخ، لومړی او د ویم ټوک، ۴۳۲مخ، د انش خپرند ویه ټولنه، ۲۰۰۵کال، پېښور

268نو موړی اثر، ۴۳۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور مؤرخ منهاج السراج جوزجاني هم د منتخب تاریخ نا صري په حواله کښلي د ي چې امیر پولاد د لبو مسلم ۱۳۹ هجري معاصر و. د امیر پولاد زوی امیر کروړ نومېد چې د جهان پهلوان په نامه یاد ېد ه چې د تاریخ سوري لیکوال محمد بن علي البستي هم د د ه ستاینه کړې د ه او لیکي چې امیر کروړ جهان پهلوان ډېر زړور، اد یب او د قلم او تورې څښتن و.

که څه هم تاریخ سوري اوس نشته، خو د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک د شیخ کته متي زی غوریاخېل د "لرغوني پښتانه" په حواله د امېر کروړ سوري په اړوند د اسې لیکلي د ي :

"امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی و چې په ۱۳۹ هجري کال د غور په مند یش کې امیر شو او جهان پهلوان یې باله او د غور کلا ګاني او د بالشتان، خیسار او تمران ماڼۍ او بر کو شک یې ونېول او د رسالت له کهولهیېپه خلافت کې ډېر کومکو نه وکړل. امیر کروړ ډېر غښتلی پهلوان او په یوه تن له سلو جنګیالیو سره جنګېد ه، نو ځکه یې کروړ باله چې معنی یې د ه کلک او سخت. امیر کروړ په ۱۵٤ هجري کال د پو شنج په جګړو کې ووژل شو. "

د لته به بېځایه نه وي چې د امیر کروړ جهان پهلوان د هغې ویاړنې لومړني بیتونه رانقل کړو چې د خپلو سوبو په اړوند یې ویلې د ه ([269]) :

زه یم زمری پر د ې نړۍ له ما اتل نسته
په هند وسند وپر تخار او پر کابل نسته
بل په زابل نسته، له ما اتل نسته

# 100.1 د غور د شاهي کورنۍ نو میالي

د غور په سوري واکمنانو کې د الاند ینې کسان ډېر مشهور واکمنان او نو میالي تېر شوي د ي ([270]):

1. شنسب د خرنک زوی د ٤. او ٨. هجري په شا اوخواکې
2. امیر پولاد د شنسب زوی د ۱۳. هجري په شاوخواکې
3. امیر کروړ جهان پهلوان د امېر پولاد زوی ۱۳۹-۱۵٤هجري
4. امیر ناصر د امیرکروړ زوی د ۱٦. هجري په شااو خواکې
5. امیر بنجي د نهاران زوی د ۱۷. هجري په شااوخواکې
6. امیر سوري د ۲۵۳ هجري په شااوخواکې

269محمد هوتک، پټه خزانه، ۳٤ مخ، د ۱۳۳۹ کال چاپ کابل

270عبد الحی حبیبي، تاریخ مختصر افغانستان از ما نه های قد یم تا استقلال، ۱٦۵-۱٦ مخونه، کابل ۱۳٦۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. امیر محمد سوري د ٤۰٥ هجري کال په شا او خواکې
8. امیر بو علي د محمد سوري زوی د ٤٢٥ هجري ه شا اوخواکې
9. عباس د شیش زوی او د بو علي وراره د ٤٥۰ هجري په حد ود و کې
10. امیر محمد د عباس زوی د ٤٥۰ هجري په شا او خواکې
11. قطب الد ین حسن د محمد زوی د ٤٦۰ هجري په شااوخواکې
12. ملک الجبال عزالد ین حسین د قطب الد ین حسن زوی د ٥١۰ هجري کال په شااوخوا کې
13. قطب الد ین محمد د عزالد ین زوی مړ ٥٤١ هجري کال
14. بهاؤالد ین سام د عزالد ین زوی (٥٤٤ - ٥٥٤ هجري)
15. ملک شهاب الد ین خرنک د عزالد ین زوی د ٥٥۰ هجري په شااو خواکې
16. ملک شجاع الد ین د عزالد ین زوی د ٥٥۰ هجري په شااوخواکې
17. سلطان علاؤالد ین حسین جهانسوز عزالد ین زوی (٥٤٤ - ٥٥١ هجري)
18. سلطان سیف الد ین د عزالد ین زوی (٥٤٣ - ٥٤٤ هجري)
19. ملک فخرالد ین مسعود د عزالد ین زوی د ٥٤۰ هجري کال په شا او خوا کې
20.سیف الد ین محمد د جها نسوز زوی د ٥٥١ هجري کال په شا او خواکې
21. سلطان غیاث الد ین محمد سام (٥٥٨ - ٥٩٩ هجري)
22.سلطان معزالد ین محمد سام (٥٦٩ - ٦۰٢ هجري)
23.سلطان غیا ث الد ین محمود د غیا ث الد ین محمد زوی (٥٩٩ - ٦۰٧ هجري)
24.سلطان بهاؤالد ین سام د محمود زوی ٦۰٧ هجري
25.علاؤالد ین اتسز د جها نسوز زوی (٦۰٧ - ٦١١ هجري)
26.علاؤالد ین د رغور (٥٩٩ - ٦١٢ هجري)
27.ملک ناصر الد ین کزیو د شهاب الد ین خرنک زوی د ٦١٨ هجري کال په شااوخواکې
28.سلطان شمس الد ین محمد د فخرالد ین مسعود زوی د ٦٥۰ هجري کال په شااو خواکې
29.سلطان بهاؤالد ین سام د شمس الد ین محمد زوی (٥٨٧ - ٦۰٢ هجري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



30.جلال الد ين ابوعلي د بهاؤالد ين سام زوی (٦٠٢ - ٦١٢ هجري)

31. علاؤالد ين مسعود د بهاؤ الد ين سام زوی (٦٠٢ - ٦١٢ هجري)

32.علا ؤالد ين مسعود د شمس الد ين محمد زوی د ٦١١ هجري په شا او خواکې

د سوريانو د قبيلې مشهور مؤرخين، ليکوال او شاعران :

د سوريانو قبيلې په خپلې غيږ کې پياوړي مؤرخين، ليکوال او شاعران روزلي د ي. د لته به بيځايه نه وي چې د ځينومشهورو کسانويادونه يې وکړو:

1. محمد بن علي البستي د تاريخ سوري مؤلف:

- د غه تاريخ او مؤلف يې موږ ته د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک د لرغوني پښتانه په حواله راپيژني. په د ې تاريخ کې د لرغونو پښتنو په اړوند په تيره بيا د امير پولاد او د هغه د زوی د امير کروړ جهان پهلوان ۱۳۹ هجري په اړوند ډېر ګټور معلو مات لري.

2. شيخ اسعد سوري مړ ٤٢٥ هجري:

- د پښتو ژبې يو ډېر ښه شاعر و. د پلار نوم يې محمد و. د ی په غور کې اوسيد ه او د غور په سوري شاهي کورنۍ کې د ډېر د رناوي نه بر خمن و. نو موړي د امير محمد سوري په وير نه کې د ا قصيد ه ويلی د ه چې يوازې يو بيت يې رااخلو:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار

زمولوي هر ګل چې خاند ي په بهار

3. ښکارند وی غوري ٥٨٠ هجري :

- ښکار ند وی د غور و او پلار يې احمد د غور د فيروز کوه کوټوال و د ه يوه بوللهٔ په لاند ې ډول د ه ([271]) :

د پسر لي ښکلوونکو بيا کړه سينګارونه

بيا يې ولونل په غرونو کې لالو نه

4. د د ې کبله چې غوريان سوري پښتانه ول د د وی اولاد ه وروسته د غور د غرونو نه د افغانستان په بېلا بېلو بر خو کې مېشته شول او ځينو يې په هند و ستان کې سترې سوبې کړي د ي چې يو له هغو نه هم سلطان شهاب الد ين غوري وچې د ٥٧١ هجري کال نه يې د ٦٠٢ هجري کلونو پورې يې په هند و

271پټه خزانه، ۳۸ او ٤٨ مخو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستان باندې يې هم خپل راج چلاوه.

## 100.2 ښاخونه او څانګې

د سوري د قبيلې د ځينو ښاخونو او څانګو نو مو نه په لاندې ډول د ي : (272)

شاهوخېل، الاخېل، يونس خېل، تره کي، محمود زي، شېر خېل، د ولت خېل، شاد ي خېل، د اؤد خېل، اتمان، کوټي، بهرام، نورا خېل اونور...

## 100.3 استو ګنې سيمې

لکه چې د مخه مو وويل په پيل کې د سوريانو د قبيلې اصلي ټاټوبی د غور تاريخي سيمه وه چې وروسته د شمېر د ډېر والي او ياهم د نورو ير غلګرو ځواکونو د بريد ونو او يا هم د نورو عواملو له کبله نورو ځايو نو ته ولېږ د يد ل. په اوسني وخت کې سوريان د افغانستان د غور، باد غيس او هرات په ولا يتونو کې استوګنه لري چې په د غو ځايونو کې يې خلک د زوري يا زوريانو په نامه ياد وي.همد اراز د سليمان غره ختيز ته د د امان په سيمه کې د پاکستان د راولپنډۍ په چهچه کې او د هند و ستان د پنجاب د ايالت په بيجواره، د هريانا په ايالت اود اتهراپراد يش او بيهار په ايالتونوکې هم د د غې قبيلې خلک شته.

بايد ووايو چې د هند وستان په هند وانواو سکهانو کې هم د سوري په نامه قبيلې شته چې د کهتري اوکوهکران په کاسټونو پورې اړه لري او په پنجاب کې اوسيږي.

## 100.4 هند وستان کې د سوريانو واکمني

په هند وستان کې د پښتنوسوريانو د واکمنۍ بنسټ ايښود ونکی فريد خان و چې وروسته په شېرشاه سوري مشهور شو ځکه چې د زمري سره په يوازې وجنګيد اوزمری يې مړ کړ نو ځکه د شير خان لقب ورکړل شو او کله چې د هند وستان واکمن شو نو بيا يې د شېرشاه سوري لقب غوره کړ. شير شاه د حسن خان سوري زوی او د ابر اهيم خان سوري لمسی د ی.

په هند وستان کې د پښتون واکمن سلطان بهلول لود ي په خت کې ډېر شمېر پښتانه د روه له سيمې نه هند و ستان ته راغلل، ځکه د غه پښتون واکمن د روه يا د افغانستان پښتنو ته يو فرمان ليکلی و چې که هر پښتون هند و ستان ته ورشي نو د ی به منصبونه، خلعتو نه او جاګيرونه او په خپل پوځ کې به لوړ لوړ منصبو نه ورکوي. هماغه و چې د

272پښتني قبيلې، ۱۷۸ مخ، د پېښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهلول لود ي د د غه فر مان سره سم د فريد خان يا شير شاه سوري نيکه ابراهيم سوري د خپل زوی حسن خان سوري سره يو ځای د بهلول لود ي په واکمنۍ کې د منصبونو د تر لاسه کولو لپاره هند و ستان ته لاړل اوځمود ميې د حصار فيروزه په کلا کې تېره کړه. د غه سيمه اوس يوازې د حصار په نامه ياد ېږي ([273]) چې د شمالي هند د هريانا د ايا لت يوه ولسوالي د ه.

هريانا نن ورځ د شمالي هند وستان يو ايالت د ی چې د پنجاب، ډيلي، راجستهان، اتهر کهنډ، هيما چل پراد يش اواتهراپراد يش د ايا لتو نوسره ګډه پوله لري.

سوري شير شاه په ۱۴۷۹ عيسوي کال کې په حصار فيروزه کې چې د هند د هريانا په ايالت کې موقعيت لري د ې نړۍ ته ستر ګې پرانيستلې او پلار يې فرېد خان نوم پرې کېښود. د هند د پښتون واکمن بهلول لود ي د واکمنۍ په وخت کې کله چې جمال خان ته د جو نپور حکو مت لاس ته ورغی نو هغه د فريد خان پلار حسن سوري ته د خواص پور او ټانډه سيمې د جاګير په ډول ورکړې او د پنځه سوه ژوبله ورو او جنګياليو مېړو مشر يې وټا که.

فريد خان وروسته بيا اګرې ته لاړاو هلته د ولت خان لود ي ته چې په هغه وخت کې د سلطان ابر اهيم لود ي د سترو امراوو نه وورغی. د ولت خان لود ي نو موړی سلطان ابر اهيم ته ورو پېژاند او کله چې د فريد خان پلار حسن سوري مړ شو نو فريد خان ته د خپل پلار د جاګير فر مان ورکړل شو. کله چې لود ي سلطان ابر اهيم د مغولي بابر له لاسه د پاني پت په جګړه کې ووژل شواو پهاړ خان لوانی چې د لود ي سلطان ابر اهيم له خواد بيهار د ا يالت صوبه د ار واو خپلسری او ياغی شوی او خپل ځان ته يې د سلطا ن محمد لقب غور ه کړی ونو فريد خان هغه ته ورغی او د هغه له خوا منصب ورکړل شو.يوه ورځ فريد خان له سلطان محمد سره يو ځای ښکار ته لاړل چې نابېره يو زمری را ښکاره شو.

فريد له زمري سره مقا بله وکړه او پخپله توره يې هغه وواژه.سلطان محمد د د ه د زړورتوب نه ډېر خوشاله او د ه ته يې د شير خان لقب ورکړ او سلطان محمد ورځ په ورځ د د ه موقف لوړاوه ځو چې يې د خپل زوی جلال خان استاد وټا که. شيرخان وروسته خپل ځواک ډېرکړ او د پښتنو په مر سته يې مغولي واکمن همايون ماتې کړ.همايون ايران ته وتښتيد او شيرشاه د هند وستان واکمن شو اود حضرت اعلی لقب يې غوره کړ.

شير شاه په هند وستان کې د پښتنو د يوې د اسې پياوړي واکمنۍ بنسټ کېښود چې د هند وستان تاريخ پرې وياړي او د د ه تلپاتي خد متونه ياد وي. د شير شاه له مهمو کارونو نه يود او چې د بنګال د سونارګاون نه يې ترافغانستانه پورې سړک جوړ کړ او د سړک په د واړو غاړو ته يې ونې کښينولې ځو مساپران ځانونه د ګرمۍ نه خوند ي کړي. همد اراز يې په لاروکې کاروان سرايونه او جوماتونه جوړ کړل او ځاه ګانې يې وکيند لې چې مساپران ترې ګټه واخلي. د شيرشاه بل مهم کارد اوچې د پوستې او ډاګ سيستم يې په د اسې ډول تنظيم کړ چې ډېر چټک او ګړ ند ی و، ان نن ورځ هم هند يان په د ې معتقد د ي چې د شير شاه د ډاګ او پو ستي سيستم تر اوسني سيستم هم غوره

273تاريخ حيات افغاني، ۳-۴ او ۳-۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. شیر شاه په هند کې د ځمکو د اسې اصلاحات رامینځ ته کړل چې د د ه د ځمکې د اصلاحاتو د سیستم نه اوس هم ګټه اخیستله کیږي.

شیر شاه په هند وستان کې تقر یباشپږ کلونه په ډېر عد ل اوانصاف سره واکمني وکړه چې د د ه عصر د هند په تاریخ کې یوطلایي عصر ګڼل کیږي. په پای کې د ۹۵۲ هجري کال د ربیع الاول د میاشتې په د ولسمه نېټه د کالنجر د کلا د نیولو په وخت کې د باروتود اور له کبله ټپي او بیا وروسته مړشواو د هند وستان د بیهار ایالت په سهسرام کې ښخ شو. د د ه زیارت ته اوس هم ګڼ شمیر خلک ورځي اود د غه عاد ل واکمن روحـتـه د عقیـد تـنـذرانې ډالیـکـوي.د شیرشاه تر مړینې وروسته یې زوی سلیم شاه پا چا شوچې بیا وروسته یې د ولس کلن زوی فیروزخان ته واکمني په لاس ورغله، خو نو موړی د نظام خان د زوی مبارز خان له خوا چې د سوري شیر شاه وراره و ووژل شو او نوموړي د محمد شاه عد لي یا محمد شاه سوري په نامه ځواک تر لاسه کړ. تر هغه وروسته د د غې کورنۍ نور واکمنان لکه ابـــر اهیم شاه سوري، سکند رشاه سوري او عاد لشاه سوري په هند کې واکمني چلولې د ه.

د شیر شاه د زمانې مشهور کسان چې د سوریانو په قبیلې پورې یې اړه د رلود ه (274):

احمد خان سوري چې د شیر شاه میرنی ورورو، قطب خان سوري، بر مزید خان سوري اوکمال خـــان ســـوري چې د شیرشاه د واکمنۍ ستر امیران ول. جلال خان سوري، سکند ر خان سوري، سید خان سوري، غازي خان ســـوري، مبارک خان سوري، فتح خان سوري، محمد خان سوري، نظام خان سوري، مبارز خان سوري، مد ا سوري د شـــیر شـــاه میر نی ورور

## 100.5 سوریانو د واکمنۍ په اړوند مشهور کتا بونه

1. تاریخ د اود ي چې مؤلف یې عبد الله له اره پښتون او د مغولي واکمن جهانګیر معاصر د ی.(275)
2. تاریخ شیر شاهي د عباس خان سرواني لیکنه چې ډې کلونه وړاند ې په پښتو ټولنه‌کـــې د اروابنـــاد د کتور د ولت محمد لود ین له خوا ژباړل شوی و.
3. تاریخ شاهي د احمد یاد ګار اثر چې ماد د ې مقالې لیکوال تر جمه کړی، خو لا چاپ شوی نه د ی.
4. شیر شاه اور ان کا عهد د پروفیسر کالکارنجن قانو نګواثر په اردو ژبه.(276)

---

274احمد یاد ګا، تاریخ شاهي، د بینګال ایشیا ټیک سوسائټي، د اسماالرجال فهرست، ٤ـ٩-٤٤٦ مخونه، کلکته، هند وستان

275د اکتاب ماد د ې مقالې لیکوال د ۱۳٦۸ لمریز کال د لړم په میاشت کې له اردو نه پښتو ته ژباړلی وچې بیا په ۱۳۷ـ لمرېزکـــال د افغانســـتان د علومو اکیډیمۍ د پښتو ځیړنو د نړیوال مرکز له خوا د اریانا په مطبعه کې د ٤ـــ ټوکو په شمېر چاپ شو، خو په ۱۳۷۲ لمرېز کال کې د کابل په تنظیمي جګړو کې وسوځید او څه ټوکونه چې پاتې ول نو په هټیوکې د وکاند ارانو د پوړیو کار ځیني اخیست. د غه اثر وروسته بیا د ویم ځل لپاره د انش خپرند و یې ټولنې په ۲ـ۷ عیسوي کال کې په پېښور کې د ۱ــ ټو کو په تېراژ خپور کړ.

276 د غه اثرما په کابل کې تر جمه او یوه کاپي مې د افغانستان د علو مو اکیډیمۍ د پښتو ځیړنو بین المللي مرکز ته ورکړه، خـــو کلـــه چـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. افسانه شاهان هند ([277])

# 101 ساد ات یا سېد ان

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د بېلا بېلو قو مونو تر مینځ سید ان هم استوګنه لري او هیڅ یو د اسې کلی، بانډه او سېمه به نه وي چې هلته څو کوره سید ان پکې نه وي. د غه سید ان د افغانستان په بېلا بېلو سیموکــېپــه بېلا بېلو نو مو نو سره یاد ېږي. د بېلګې په تو ګه د افغانستان په ختیځو ولا یتو نو ننګرهار، کونړ او لغمان کې د پا چا یانو او یا پا چا صا حبا نو او د سید انو یا ساد اتو په نامه یاد ېږي. په ځینو ځا یو نو کې ورته اغا صا حــب او د افغانســـتان د خوست په ولایت کې ورته سید ګي وایي. په پښتونخواکې یې باد شاه یا باد شاه صاحب بولي. ([278])

په عمو مي تو ګه د افغانستان په هره سېمه او په تېره بیا د پښتنو په سیمو کې د غه سید انوتــه خلــک ډېــر د رناوی کوي، ځکه چې د اسلام د ستر پیغمبر محمد (ص) د لور بي بي فا طمې (رض) اد د حضرت علي کرم الله وجهه او لاد ه ګڼل کیږي. پښتانه د وی پیر خانه بو لي او ډېر د رناوی او عزت یې کوي.

همد اراز که څوک ناروغه شي نو د د م د عا او تعو یذونو لپاره سید انو ته ورځي او هغه پښتانه چې د کوم سید تر تعویذونولاند ې وي نو د کند هار په اصطلاح هغوی ته د روړیان وایي او د د وی نه ښا ښتونه او خورد ې هم اخلي. په پښتني سېمو کې د د غو سید انو یا پا چایانو سره پښتنو خپلوۍ او خیښۍ کړي د ي او د وی د پښتنو سره د اســـې نږد ې ا ړیکي لري او د اسې سره اخښل شوي د ي چې ګواکې هیڅ پښتون هم د وی له ځانه جلا نه ګڼي. د د غو سید انو نه پښتانه تل د خپل منځي شخړو او لا نجو په اوارولو کې مرسته غواړي او هره فیصله چې د وی وکــړيـنــو د واړو غاړو ته د منلو وړوي.

تاریخ حیات افغاني چې له نن نه ۱٤٥ کلو نه وړاند ې لیکل شوی د سید ا نو په اړ وند د اسې لیکي :

"د بني ها شمي قر یشو نه د حضرت امام حسن (رض) او حضرت امام حسین (رض) او لاد ې ته چې د پیغمـــبر (ص) لمسیان ول سید ان ویل کیږي. د افغانستان هیڅ یو لوی کلی نشته چې یو یاد وه کوره ساد ات د ې پکې نه وي.پـــه افغانستان کې سید انو ته د خپل معمول نوم نه پر ته خواجه، سید، میا، اغا، پاچا، صاحب، صاحبزاد ه او میر هم ولیـــي او

---

تنظیمي ټو پکیان پر کابل مسلط شول نو د چاپونو د د مولو لپاره یې سوځولی وا و له بد ه مرغه ما یې بله کاپي نه د رلود له، خــو خــبر شوم چې ښاغلی د کتور نثار احمد صمد هم د غه اثر له اردو نه پښتو ته ژباړلی د ی.

277 د غه اثر چاپ شوی نه د ی، یوازې یوه قلمي نسخه یې د بریتانیا په بریټش میوزیم کې خوند ي د ه مولف یې محمد کبیر د شیخ اسماعیل زوی د ی. کله چې زه په هند و ستان کې وم زما یوه د وست د د غه کتاب د قلمي نسخې مایکروفیلم زما په واک کې راکړ.کله چې اسټرالیا ته راغلم نو د اکتاب مې وژباړه اوس راسره د ی او که خد ای کول ډېر ژر به چاپ ته چمتو شي

278زما شخصي یاد د ښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته زيات د رناوي كوي ([279])."

## 101.1 افغانستان كې د پښتنو سيد انو د استوګنې سيمې

1. د كونړ ولايت د پشد د سيمې سيد ان: د غه سيد ان ډېر مشهور او خلک ورته ډېر د رناوي لري
2. د ننګر هار ولايت د رود اتو د و لسوالۍ د مزينې د سيمې پاچايان
3. د ننګر هار ولايت د سره رود د ولسوالۍ د سيد انوكلی
4. د ننګر هار ولايت د خوږيا ڼيو د سيمې پا چايان
5. د لغمان ولايت د عزيزخان كڅ او د تير ګړيو د كلي پاچايان
6. د كاپيسا ولايت د تګاب د ولسوالۍ سيد ان چې د تګاب مياګل جان اغا هم د همد ې سيد انو نه و
7. د پكتيا د ولايت سيد ان چې په ګرد يز او زرمت كې اوسي. د ستر سيد شيخ شاه محمد روحاني مزار هم په زرمت كې د ی چې ډېر اراد تمند ان لري
8. د خوست ولايت سيد ان چې د وی ورته په خپله لهجه كې سيد ګي وايي او د خوست په ډېكيكې استوګنه لري
9. د پكتيكا ولايت د ارګون د بر مل د سيمې سيد ان
10. د ميد ان او ورد ګو ولايت سيد ان
11. د كابل ولايت د د ه سبزولسوالۍ د پايمنار پاچايان چې د پايمنارد پا چا صاحب زيارت هم هلته د ی. همد اراز د كابل په لويد ېز كې د كلای قا ضي په سېمه كې د شاه اغا زيارت هم ډېر مشهور د ی چې ډېر شمېر خلک يې زيارت ته ورځي
12. د لوګر ولايت د محمد اغې، خرخ او كلنګار د سيمې سيد ان
13. د بغلان ولايت سيد ان
14. د كند ز ولايت سيد ان
15. د بلخ ولايت سيد ان
16. د پروان ولايت د هوفيان شريف سيد ان چې سيد جان اغا پكې مشهور شخصيت تېر شوی د ی

---

279تاريخ حيات افغاني، د پېښور چاپ ٤٥٥ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



17. د غزني ولایت سید ان.چې زیاتره یې په واغز کې استوګنه لري

18. د زابل ولایت سید ان

19. د ارزګان ولایت سید ان

20. د هېلمند ولایت سېد ان: د هیلمند ولایت د ګرمسیر سید ان چې د خاص روحاني فیض نه برخمن د ي او په نو موړې سېمه کې عام پښتانه ورته ډېر د قد ر په سترګه ګوري. د د ې ترڅنګ ښا د سیاه بند سـید ان چې اکثر خلک یې تور حلقي سید ان هم بولي د ولسي محبوبیت نه برخمن د ي اولـویه پیرخـانه لري. ([280])

21. د فراه ولایت سید ان

22. د هرات ولایت سید ان: چې په اصل کې د کونړ د پشد نه تللي د ي اود د وی نېکه مروارید اغا هلته ښخ د ی او زیارت ته یې ډېر شمېر خلک ورځي. د د وی د کورنۍ نه یو مهم تن توراغا نو مید ه. همد اراز د هرات ولایت د کرخ د ولسوالۍ سید ان او د هرات ولایت د انجیل ولسوالۍ د نوین د کلي سید ان هـم مشهور د ي

23. د باد غیس ولایت سید ان.

24. د کند هار ولایت سېد ان: د د ې سیمې سېد ان تذکره لاند ې په بله برخه کښې ورکړ شوې د ه.

لنډه د ا چې د افغانستان په هر ولایت، ولسوالۍ او سیمو کې سید ان شته د ي.

## 101.2 د کند هار ولایت سېد ان

د کند هار په ولایت کې د پښین سید ان ډېر مشهور د ي. په کند هار کې سید ان د ارغنـد اب، پنجـوائې، شـاه ولیکوټ، میوند، ډنډ، معروف، ارغستان او ښوراوک په ولسوالیو او د کند هار د ښار په مرکز کې میشته د ي چې پـه ارغند اب کي یې ځانګړې سیمې د سید انو کلا چه، صوف، د ه ماسوس او د ارغنـد اب د سـید لنـو لنګـر د ی د د ې ترڅنګ په کند هار ښار کې د سید انو په نوم کوڅې هم لري. که څه هم د کند هار د د ه ماسوس سید ان، خلـک لـه اره صاحبزاد ه خېل بولي خو اوس په سید انوسره یاد یږي.

### 101.2.1 کند هار د سید انو ځینې مشهورې کورنۍ

1. په کند هار کې د نومیالي غازي شاه اشرف اغا کورنۍ: سید شاه اشرف اغا د افغانستان د خپلـواکۍ هغـه

---

280د ښېنوا د ویبپا ڼې مشر ښاغلي خالد هاد ي حید ري را استول شوي معلومات

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومیالی د ی چې کله غازي امان الله خان د سقاوي اړود وړ په ترخ کې کند هار ته راغی نو د غه نومیالي اوباتد بیره پښتون سید یې ملا وروتړله او د شاه امان الله بیرغ یې پورته کړ او ترغزني پوري د ټولو سیمو په نیولو کې یې د شاه امان الله خان مر سته وکړه.

2. د کند هار د پنجوائي د سید محمد اغا کورنۍ چې په پنجوائي او شاوخوا سیموکې یوه نو میالۍ کورنۍ د ه اود د غې کورنۍ زیاتره غړي اوس هم په کند هار او پنجوایي کې میشته د ي.

3. د شاه ولیکوټ د ژوند ي شا ه اغا کورنۍ چې په کند هار اوشا او خوا سیموکې خاص اراد تمند ان لري.

4. د کند هار د مشهور جهاد ي شخصیت اروابناد حمید اغا کورنۍ.

5. په کند هار کې د یعقوب جان اغا کورنۍ چې د کند هار د سپیڅلې خرقې ته څیرمه مېشته د ه او هغه کوڅه چې د کند هار میوند عمومي واټ او د سپیڅلې خرقې د شمالي د روازه سره نښلوي د یعقوب جان اغا په نامه یاد یږي.

6. د کند هار د سید عظیم اغا کورنۍ چې د ښار په څلورمه ناحیه کې یې اوس هم یوه غټه کلاچه شته چې اوس د نیک محمد اغا په کلاچې سره یاد یږي. د د غه سید عظیم اغا یو ځوی سید محمد نسیم اغا د د جنوبي زون تنظیمه رئیس و.

7. د کند هار د اوسني قومي مخورسپین ږیري سید عبد الظاهراغا کورنۍ چې په ډیرو جرګوکې یې د کند هار د خلکو استازیتوب کړی د ی د د ې کورنۍ زیات شمیر کسان اوس په جنوبي پښتونخوا کوئټه کې میشته د ي .

8. د کند هار د ارغند اب د حسام الد ین جان اغا علمي او سیاسي کورنۍ چې په سیمه کې د پوره شهرت نه برخمنه د ه. د د غه حسام الد ین جان اغا زوم محمد سرورخان د کند هار نا ئب الحکو مه و.

9. د کند هار د مشهور روحاني شخصیت سید عبد الرحمن شاه اغا کورنۍ چې په کند هار کې د خاص د رناوي نه برخمنه د ه. ویل کیږي چې د سید عبد الرحمان شا اغا غورنیکه سید اد م اغاد پښین د عمرزي سید انو نه و چې وروسته د ملي قائد اعلیحضرت احمد شاه بابا په وخت کي په کند هار کې میشت شوی و او د هغه زوی سید غلام جان اغا د کند هار یو د لویو قومي مشرانو څخه و او د هغه زوی سید عبد الروف اغا د کند هار د سید انو مشر او خان پاتې شوي و . د سید عبد الروف اغا زوی سید عبد الرحمن شاه اغا چې د کند هارد لو یوروحاني شخصیتونو نه واونومو ړی لوم ړی کس و چې په کند هار کي یې یو عام میلمستون، ګلبڼ، د حیوانانو یو ژوبڼ اوا په لومړي ځل یو شخصي میوزیم جوړ کړی و. ویل کیږي چې نومو ړی ډیر سخي سړی و او د قاد ریه طریقې پیرو هم و. د کند هارمشهور روحاني شخصیت پیرمرچ اغا د د ه د اراد تمند انونه و او اواعلیحضرت محمد ظاهرشاه د هغه ژوبڼ او میلمستون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د سيل لپاره راته . د د ه کوټۍ اوس هم د سيد عبد الرحمن شاه اغا په نامه د کند هار په نوي ښارکـــې موجود ه د ه او د ې ته ورته يوه لويه کوټۍ يې د کند هار په د هيمراسي کې هم شته.د د وی اصلي ځای په کند هار کې د باميزو کوڅه د ه چې د بابيانو د کلاپه استقامت يې يو لوی احمد شاهي سرای اوس هـــم هلته د د ه په نامه شته.

10. د ه خواجه د سيد قد وس اغا علم پالونکې کورنۍ چې د کند هار د کاروان او منار کوڅو په مينـــځ کـــې ميشته د ه .

11. د ارغند اب د لنگر د سيد انو کورنۍ چې په سيمه کې د سيد انو يو د لوی نفوذ لرونکي کورنيونـــه د ه، د لنگر سيد ان چې عام کند هاريان ورته ځانگړی د رناوی لري د کند هار په ارغند اب، ميوند او کند هار ښار کې ميشته د ي .

12. د کند هار د مشهور تاجر سيد حبيب الله جان اغا کورنۍ چې د کند هار په ډنډ او نوي ښارکې ميشته د ه.

13. د زلخان د سيد انو کورنۍ چېد روسانو په وړاند ې ملي پاڅون کې يې هم د پام وړ ونډ ه د رلود ه د د غې کورنۍيو غړی سيد فضل الد ين اغا د يوې جهاد ي جبهې مشر پاتې شوی و.

14. د تابين د غازي سيد حيد ر اغا کورنۍ چې د کند هار د ارغند اب په سيمه کې ميشته د ه، سيد حيد راغا د ميوند په غزا کې د غازي ايوب خان ترڅنګ د انګرېز سره په پوره مېړانه وجنګيد او په هماغه ورځ په شهاد ت ورسيد.نوموړی د سيد انو د حيد رزو قبيلې ته منسوب و او د هغه زوی سيد عبد الغفار اغـــا د تابين د مشرانونه و.د سيد عبد الغفار اغازوی ډګروال سيد نجم الد ين اغا د سرد ار د اود خان شهيدلـــه نژد ې پوځي ملګرونه و او د جمهوري نظام په راو ستلو کې يې د سرد ار د واد خان سره پوره ملتيا د رلود ه. نوموړی لومړنی تن و چې په ارغند اب کې يې به خپلو هڅو سره د سيند پرغاړه د شاه اشرف ښونځی په عصري ډول جوړ کړ، د سيد نجم الد ين اغا زوی سيد خالدهـــاد ي حيـــد ري د پښـــتوژبي ليکوال او شاعر د ی چې د ښېنوا انټرنيټ پاڼې بنسټ يې ايښی او د غه پاڼه چلوي.

15. د د يلاوور د سيد سرور اغا کورنۍ: د غه کورنۍ د روسانو په وړاند ي په ملي‌پـــاڅون‌کـــي ډيـــري قرباني ورکړي د ي او د سيد سروراغا زوی شهيد امين الله اغا مشهور په لالاملنګ د کند هارله مشهورو غازيانو نه وچې په يوازي ډول به يې د روسانو پوره محاصره ماتوله. د کند هارچريکان نومي تاريخي اثر کې د د غه غازي ډيرې زياتې کارنامې راغلي د ي او په ۱۹۸۲ زېږد ېز کال کې د کند هار په ميانجوی سيمه کې د روسانو لخوا په مخامخ جګړه کې په شهاد ت ورسيد او د ميانجوی په جومات کې ښـــخ د ی. د لالا ملنګ يو ورور سيد طيب اغانوميږي.

16. د کند هار د فقير روحاني شخصيت پيرمرچ اغا کورنۍ چې په هېلمند او کند هار کې ميشته د ه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



17. د معروف د سيد انو کورنۍ: د غه کورنۍ د کند هار په معروف ولسوالۍ کې ميشته د ه چې په سېمه کې اڅکزي او علي زي خاص د رناوې ورته لري.

18. د بازګل اغا او سيد ګل اغاکورنۍ : چې د کند هار د سيد انو يوه مشهوره کورنۍ د ه او د ا ځلوېښت کاله کيږي چې په سعود ي عربستان کي ميشته د ه او په مد ينه منوره کې استوګن د ي.ويل کيږي چې د غه کورنۍ د افغاني حاجيانو سره هرکال معنوي مرستي هم کوي.

19. د سپين کوځي صاحبزاد ه کورنۍ چې زيارت يې د کند هار ښار په د وهمه ناحيه کې د ی او خلک ورته ډېر د رناوی لري.

20.د تور اغا کورنۍ چي زيارت ئې د سپيځلې خرقې سره نږد ې د ی او ډېر شمېر د روږيان لري.

21. د کند هار په د هله کې د سيد محسن اغا کورنۍ چې اوس په معصوم اغا سره شهرت لري. ويـــل کيـــږي چې د د غو سيد انو کورنۍ خپلې ډېرې ځمکې د د هلې د بند جوړولو ته ډالـــۍ کـــړې وې او د اهـــم مشهوره د ه چې سيد محسن اغا ته اعيحضرت غازي امان الله خان ډېر د رناوی د رلود او هغه به يې خپل پېر او مرشد باله. په هرو د ريوميا شتو کې به يې يو ځل کابل ته ورغوښت او د د ه د روحاني فيو ضا تو نه به يې ګټه او چتوله. د سيد محسن اغا نيکونه سيد ابد ال اغا او سيد ال اغا نو ميد ل چې لوی احمـــد شاه بابا هغوی ته ډېر د رناوی د رلود او کله يې چې د کند هار د ښار چې په هغه وخت کې د احمد شاهي ښار په نامه ياد ېد ه د جوړېد واراد ه او تکل وکړ نوابد ال اغا اوسيد ال اغا يې چې د واړه ورونــــه وو راوغو ښتل او د د وی په متبر کولاسونو يې د د غه ښار د بنسټ ډېره کېښنو دلــــه، د د وی کـــورنۍ اوس هم د ښار په باميزو کوځه کي ميشته د ه.

22.د سيد حسين اغا کو رنۍ چې د کند هار په د يمراسۍ کې ئې غټه کلا او س هم د سيد قا سم جان لغـــلپــــه نامه سره ياد ېږي.

23.د د ه ماسوس د غني جان اغا کورنۍ.

24.د ذاکر شريف د جهاد ي شخصيت سيد محمد جان اغا کورنۍ.

25.د ګلجه اباد اوسبزکار د سيد انو کورنۍ.

26.د مېر بازار سيد ان چې د کند هار خلک ورته ډېر د رناوی لري او خپله پير خا نه يې بولې.

## 101.2.2 کند هار سيد انو مشهور شخصيتونه

1. غازي شاه اشرف اغا چې په د ويم ځل يې په کند هار کې د غازي امان الله خـــان بيـــرغ پــــورتهکـــړه او ترغزني پورې يې ټولي سيمې بيرته د غازي امان الله خان تر ولکې لاند ې راوستلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. غازي سيد حيد راغا چې د ميوند په تاريخي غزا کې د افغان غازيانوسره يوځای په شهاد ت ورسيد .
3. غازي شهيد سيد امين الله اغا چې په لالا ملنګ مشهور و او په کند هاريانو کې د د جهاد د يو وتلي اتل په نوم شهرت لري۔
4. سيد محمد نسيم اغا چې د تنظيمه رئيس و۔
5. موسی کليم اغا چې د مشهورو جهاد ي شخصيتونو نه و اود کوټې په سرياب کې ښخ د ی .
6. روحاني شخصيت پير مرچ اغا چې اوس هم ژوند ي د ی او په جنوبي افغانستان کې د خلکو د ځانګړي د رناوي نه برخمن د ی۔
7. روحاني شخصيت شهيد سيد عبد الرحمن شا ه اغا چې په کند هار کې يې ژوبڼ او ميوزيم د رلود۔او هم هلته ښخ د ی .
8. د کند هار وتلی ولسي شاعر سيد عبد الخالق اغا
9. ډګروال سيد نجم الد ين اغا چې د سرد ار د اود خان د نږد ې ملګرونه و او د هغه سره د جمهوري رژيم په رامينځ ته کولو کې يې مهمه ونډه د رلود ه۔ نوموړي د جهاد په د وره کي هم د کند هارد مجاهد يد نو په فوځي روزنه کي د پام وړ ونډ ه د رلود ه.
10. خالد هاد ي حيد ري چې د پښتو ژبې يو ځوان ليکوال، شاعر او ژورنالست او د ښځـــوا د ويبپـــاڼـــې مسئول چلونکی د ی۔

## 101.3 پښتونخوا د سيمې سيد ان

1. د سوات د بو نير د سيمې سيد ان چې سيد علي تېر مذي چې په پير بابا سره شهرت لري هورې ښـــخ د ی اوټول پښتانه ورته زيات اراد ت او د رناوی لري۔
2. د باجوړ د سيمې سيد ان
3. د چترال د سيمې سيد ان
4. د د ير د سيمې سيد ان
5. د خيبر ايجنسی سيد ان
6. د کورمې ايجنسی سيد ان چې پښتانه او شيعه مذهبه د ي او د احمد زيو، د کرمان د سيد انو، د تېـــراه د سيد انو او د ماوړه د سيد انو په نامه شهرت لري۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. د اورکزیو ایجنسۍ سید ان

8. د د بره غازي خان سید ان

9. د پېښور د سیمې سید ان

10. د بنگښو د سیمې سید ان

11. د لکي مروت سیمې سید ان: چه د شېخ شاه روحاني اولاد گڼل کېږي و د ابا خېل، مټوري، و میچن خېل کلو کښې استوگن لري. د د ې نه علاوه د تاجي زو سېد ان هم په علاقه کښې قد ر لري. نامتو لیکـــوال و تاریخپوه ډاکټر سېد چراغ حسېن چه کوم نه گڼ شمېر کتابونه لکه د ود چراغ، تذکره پیر سباک، انوار چراغ، و د قیصو کتاب نالید لې بلا منصوب د ي، هم د ې سیمې نه د ې.

12. د شمالي وزیرستان سید ان ([281]): د شمالي وزیرستان سید انو ته په سېمه ابږه اصطلاح سید گي وایــــي چې د وی د د غې سیمې په ځوی، د ویگر، ډنډ، ورغړ، رباط اوشوال کې استوگنه لري او نن د پښتنود یوې قبیلې په تو گه مو جود د ي. سید گي په پیل کې په د وو بر خو ویشل شوي د ي چې ملکا خېل او ذکر خېل نو میږي اود قبیلوي اتحاد له مخې ملکا خېل د ابر اهیم خېلو وزیرو سره متحد او یو مو ټی د ې. د سید گي د قبیلې د خیلو نو او د استو گنې د سیمو نو مونه په لاند ې ډول د ي :

- ذکرخېل، شد اد خېل، ابا خېل، شومېر خېل، مولي خېل او مصري خېل چې په ډنډ او رباط کــې استوگنه لري
- شود ي خېل، لاد ه خېل، جبر خېل، ټول بیگ خېل، کبډي خېل، اتک خېل، رومي خېـــل،مـد ک خېل، سرورخېل، زوبر خېل، نظر بیگ خېل او اخوند خېل چېپـــه د ویگـــر او ځـــوی کـــې استوگنه لري
- میاگل خېل چې په د ویگر، ورغړ، ډنډ او شوال کې اوسیږي
- کاکا خېل، سره گنډه، تره کي گنډه، غوټې گنډه چې په ډنډ کې او سیږي
- ملکا خېل، بود ر خېل، مسیري خېل، ابیار خون خېل، گري خېل، خد ري، گرړخېـــل، میســـون خېل او خړه شوپه چې زیات شمېر یې په ځوی او لږ شمېر یې په د ویگر کې استوگنه لري
- همد اراز حکیم خېل په ډنډ او رباط کې استوگنه لري

13. سهېلي پښتونخوا سید ان: د سهیلي پښتونخوا سید ان په پشین، ژوب، چمن، لورلایي، او کـــوئټه کـــې استوگنه لري چې مشهور ښا خونه یې ښاد یزي، عمرزي، حید رزي او ابراهیمزي د ي.

---

281پښتنې قبیلې د پېښور چاپ ۱۷۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کوئټې په سید انو کې د سید عبد النافع اغا کورنۍ چې شاد یزي سید ان د ي د یاد ولـــوور د ي چې زیات شمیر مرید ان ئې په کوئټه، پښین چمن او نورو سیمو کې شته.
- په پښین کې د سید انو یوه بله مشهوره کورنۍ هم شته چې مشر یې د سرانانو علي اغا د ی چې یو ستر عالم، مد رس او د کویټې، پښین او کراچۍ په پښتنو او غیر پښتنوکـــې ډېـــر شـــمېر مرید ان اوارادا تمند ان لري.

باید زیاته کړو چې سید انو د هند په نیمې وچې باند ې د ۱۴۱۴ میلاد ي کال نه تر ۱۴۵۱ میلاد ي کاله پورې واکمني کړې د ه چې د د وی واکمني د سید انو د واکمنۍ په نامه سر ه یاد ېږي چې د ځینو مشهورو واکمنانو نو مو نه‌یـــې په لا ند ې ډول د ي :

خضرخان، سلطان مبارک شاه، سلطان محمد شاه اوسلطان علاؤالد ین ([282])

## 101.4 افغانستان و پښتونخوا کې د سید انو مشهور شخصیتونه

افغانستان و پښتونخوا کښې د سېد انو مشهور شخصیتونه په د ې ډول د ي ([283]) :

1. د ختیز نابغه علامه سید جمال الد ین افغاني
2. د پښتو ژبې لیکوال، شاعر او فیلسوف اروابناد استاد ښاغلی ګل پاچا الفت.
3. د اعلیحضرت محمد ظا هر شاه د واکمنۍ په وخت کې د عد لیې وزیرار وابناد ښاغلی سید شمس الد ین مجروح
4. د کابل پوهنتون استاد اروابناد شهید سید بهاؤ الد ین مجروح.
5. د قبایلو د وزارت پخوانی معین ښا غلی سید مسعود پو هنیار
6. د کونړونو پخوانی والي ښاغلی سید فضل اکبر
7. د کونړ او سنی والي ښاغلی سید فضل الله واحد ي
8. سیاسي شخصیت او لیکوال شهید ښاغلی سید یو سف میرني
9. په ولسي جر ګه کې د خوږیا نیو پخوانی استازی ښاغلی فاروق میرنی
10. د پښتو ژبې لیکوال ښاغلی سید حسین پاچا

---

282هند وستان پر اسلامي حکومت، د مفتي شوکت علي فهمي اثر ۳۵ـ - ۳۶ـ مخونه، د هلي

283زما شخصي یاد د ښتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



11. د پښتو ژبې شاعره، لیکواله او ویند ویه اغلې میر من مستوره شال
12. د پښتو ژبې لیکواله او ویند ویه اغلې میر من پروین علي
13. ستر روحاني شخصیت سید علي تر مذي مشهور په پیر بابا
14. د افغانستان د ملي محاذ مشر ښا غلی پیر سید احمد ګیلاني
15. ښاغلی سید اسحق ګیلاني
16. ښاغلې مېرمن فا طمه ګیلاني
17. د ننګرهار د لیسې پخوانی مد یر ښاغلی سید مقصود سعید ي
18. د ننګرهار د سره رود قومي مخور اروابناد معشوق جان اغا
19. ښاغلې د کتور کبرا مظهري مایار
20. د ښېنوا د ویب پاڼې بنسټ ایښود ونکی او مشر ښاغلی خالد هاد ي حید ري
21. د پښتو ژبې مشهور شاعر ښاغلی سید محمد طا هر بینا
22. د پښتو ژبې شاعر او لیکوال ښاغلی سید نورالله ځل

# 102 شلماني

زمور پښت پو هان او نسب پېژند ونکي شلماني له اره سړبني پښتانه ګڼي چې د مومند وپر ستري قبیلې ورګډېږي. د وی د پښتونخوا د خیبر ایجنسۍ کې د شلمان په د ره کې د تاترې په شا اوخواکې استوګنه لري او د د وی سېمه په لوی شلمان، کم شلمان ویشلې شوې د ه او د لنډي کوتل نه ۲۵ کیلو متره واټن لري او مشهور ښاخونه یې الیم زي، ترکزي او کم شلمان د ي ([284]).

د د وی په ګاونډ کې شینواري، اپرید ي او ملا ګوري مېشته د ي. د خیبر ایجنسۍ نه پرته ځینې شلماني په سوات، الا ډنډ، د ېر، باجوړ، بو نیر، شنګله، هریپور، ملکنډ، ډارګۍ، سخاکوټ، صوابۍ، چارسد ه او عمر زیو (هشتنګر) چې مانا یې اته ښارونه د ي او پښتانه یې په خپله ورځنۍ محاوره کې اشنغر بولي مېشته د ي. د اسې ویل کیږي چې د شلمانیو ځینې کورنۍ د ننګرهار ولایت د سپین غر په لمنه کې د پچیر اواګام د ولسوالۍ د تورې بورې په سیمه کې هم شته.

---

284پښتني قبیلې، د کتور لطیف یاد، ۱۸. مخ د د انش چاپ، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 102.1 استوګنې سیمې

په پښتونخواه کښې د شلمانو د استوګنې سیمې په دې ډول دي ([285]) :

1. په خیبر ایجنسۍ کې د وی د شلمان په دره کې استوګنه لري چې پېښور ته نږدې موقعیت لري.
2. په صوابۍ کې
3. په چارسده کې د عمرزیو او تور لنډي په کلیوکې چې نوښار ته نږدې موقعیت لري.
4. د ملکنډ ایجنسۍ په سخاکوټ، ډارګۍ، بټخېله، الا ډنډ، ډهیرۍ، تهانه او ګاټ کوټۍ کې.
5. د سوات په بریکوټ. مېنګوره، شېر پالم، جورا، خاري رای، سیجبان، بولکرای، برتهانه، پېشتونای، باربارو او سواتیه کې (چې د سوات او د بر تر مینځ پوله ده)
6. د شانګله په کوټکۍ او نورو کلیوکې.
7. د دیر په ټایمر ګړه، بلمباټ، ناوه ګۍ او چکدره کې.
8. د هزاره په هریپورکې
9. په بونېر کې

د شلمان کلمه د سلم، سریمان او سلیمان سره ډېره ورته ښکاري چې د پښتنو د یوې لرغونې سیمې (روه) نوم دی او د تاریخ حیات افغاني د روایت نه هم د شلمان او سلیمان اړیکه ښکاري.

تاریخ حیات افغاني د شلمانیو په اړوند داسې لیکلي دي :

"شلماني په پیل کې د کورمې د سیند په غاړو کې اوسېدل چې د شلمان د سیمې له کبله د وی په شلمانیو باندې مشهور شول. تردې وروسته د وی له دغه ځایه تېراه ته لاړل او بیا له دغه ځایه یې هم ولېږدېدل او بیا د پېښور په شااو خواکې په هشتنګر (اشنغر) کې مېشته شول. په پنځلسمې میلادي پېړۍ کې یوسفزیو د وی له دغه ځایه بې واکه او وشړل. اصلي علت یې دا او چې کله یوسفزیو د افغانستان نه پښتونخوا ته مهاجرت وکړ او د پېښور حدود و تهورسېدل نو د دلازاکو د قبیلې نه یې د خپلې ګوزارې لپاره یوه اندازه ځمکه وغوښتله هغوی هم یوسفزیو ته ځمکه ورکړه، خو کله یې چې د شلمانیو نه یې د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو غوښتنه وکړه نو شلمانیو هغوی ته مثبت ځواب ورنکړ. په پای کې یوسفزيو د دو ابې سیمې ته راغلل او د شلماني قبیلې سره یې چې له پخوانه یې د هشتنګر په سیمه کې یې خپل واک ټینګ کړی و په جګړې لاس پورې کړ. د جګړې په نتیجه کې شلمانیو ماتې وخوړه او د شلمانیو د قبیلې مشر چې خالو نومېد و وژل شو، خوبیا وروسته سلطان اویس سواتي هغوی ته د سوات

---

285 http://www.shalman.iwarp.com/whats_new.html

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیمې په الا ډنډ کې ځای ورکړ چې اوس هم یو شمېرشلماني د یو سفز یو په سېمه کې مېشته د ي. "([286])

شلماني ډېر میلمه پال او غیرتي خلک د ي. د وی د میلمنو لپاره ښې حجرې لري او د میلمنو ډېر قد ر کــــوي. شلمانیو په تاریخ کې ډېرې توري وهلي د ي. د وی د مغولو او انګرېزانو په وړاند ې په مېړانه جنګیــدلــي او خپـل پښتني رسالت یې سرته رسولی د ی. شلمانیانود مغولو پر خلاف د ایمل خان مومند او د ریاخان اپریــد ي د مبـــارزو ټینګه ننګه کړې د ه. ([287])

شلماني خوارېکښه خلک د ي او زیاتره د سو د اګریو په چارو بوخت د ي، ځکه چې سېمه یې غرنۍ او کرکېله پکې کمه د ه.په ټوله پښتونخواکې د شلمانیو مجموعي شمېر ۳___ تنه خلک ښود ل شوي د ي.

## 102.2 نامتو شخصیتونه

شلمانو کښې نامتو شخصیتونه په د ې ډول د ي ([288]):

1. راحت خان شلمانی چې د هند د نیمې وچې تر خپلواکۍ د مخه د شلمانیو نا متو مشر و او ویـــل کیــږي چې د ال انډیا د کانګریس د ګوند د مشر او د هند د لومړي وزیر پنډیت جواهرلال نهرو سره یې د هغه سفر په تر ځ کې چې پښتونخوا ته یې کړی و لید لي و او د پښتنو د راتلونکي برخلیــک پـــه اړه یـــې ورسره خبرې اترې کړې وې. نو موړی د ملکنډ ایجنسۍ د سخاکوټ د شلمانیو نه و.
2. اروابناد نیک عمل خان شلمانی
3. اروابناد حاجي زبیر شاه شلمانی
4. اروابناد ملک حضرت شاه شلمانی
5. اروابناد حکیم شاه شلمانی
6. اروابناد نیک شا ه شلمانی
7. اروابناد شا کر ا لله شلمانی
8. اروابنا د رحمن الله شلمانی چې په بابو مشهورو او د سرکایې بالا اوسید ونکی و.
9. اروابناد ملک رحیم شاه شلمانی
10. اروابناد ګلستان خان شلمانی

---

286تاریخ حیات افغاني، ٤٨ـ مخ، د د انش چاپ، پېښور

287پښتني قبیلې، ١٨ـ مخ

http://en.wikipedia.org/wiki/Shilman288

(c) ketabton.com: The Digital Library



11. ار وابناد زیبانشاه شلمانی

12. اروابناد زیرن شاه شلمانی

13. اروابناد محمد نثار شلمانی چې د ملکنډ ایجنسۍ د سخاکوټ د بازار اوسید ونکی و.

14. متوکل خان شلمانی د بهاما ډهیرۍ او سید ونکی.

15. گران باچا شلمانی

16. حبیب الله خان شلمانی

17. محمد سعید غمگین چې د پښتو ژبې شاعر او د ملکنډ ایجنسۍ د بټخیله د الا ډنډ او سید ونکی د ی.

18. بابا عبد الر حمن شلمانی چې د پښتو ژبې شاعر او د ملکنډ ایجنسۍ بټخیله د الا ډنډ او سید ونکی د ی.
۳-حیات افغاني، د د انش چاپ، پېښور، ۵۱ مخو نه.

19. شیخ گل صاحب شلمانی

20.اروابناد ملک غازي گل شلمانی وزیر خېل

21. فرېد شهزاد خان شلمانی د مټه د سجبان او سید ونکی سید کریم خان شلمانی

22.قاضي عبد الحی شاه شلماني

23.شهید قاضي عبد الکریم شاه شلمانی چې د انگرېزانو سره په جگړه کې په ۱۸۹۵ میلاد ي کال شهید شـــوی
واو مزار یې بای پاس تهاڼې ته نږد ې د ی.

24.محب گل شلماني

25.عمر رحمن شلماني

26.سید احمد خان شلماني

27.فضل کریم شلماني

28.پروفیسر خورشید روشن شلماني

29.ډاکټر احمد خان شلماني

30.فضل غفار شلماني

31. جمیل تاج شلماني

32.ارشد کریم شلماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



33.محمد امین خان شلماني

# 103 شملزي

زموږ پښت پو هان او نسب پیژند ونکي د شملزیو یا شمولزیو د قبیلې خلک غلجي پښتانـــه او دتـــو خــو د قبیلې یو ښاخ گڼي. د شملزیو د قبیلې خلک د زابل ولایت د شملزیوپه ولسوالۍ، د غزني په ولایت، د پکتیا ولایـــت د زرمت په ولسوالۍ کې چې زرمله یې هم بولي او د نیمروز ولایت د کنگ په ولسوالۍ کې استوگنه لري.[289]

د زابل ولایت د شملز یوولسوالي د همد ې قبیلې د نامه له کبله د شملز یو د ولسوالۍ په نامه سره یاد یـــږي. د شملزیو ولسوالي د زابل ولایت د د ربو نورو ولسوالیو یعنې اتغر، شینکۍ او نو بهار سره گډه پو له لري. همد اراز د شملز یو ولسوالي د ډیورنډ د کر ښې سره هم گډه پو له لري او د شملز یو د ولسوالۍ د خلکو مجمو عي شمېر ۳۳۳۵۱ تنه ښو د ل شوي د ي. په د غې ولسوالۍ کې د ناصرو د قبیلې خلک هم استوگنه لري.[290]

شملزي غیر تي، مېلمه پالو نکي، زړور او په پښتو او پښتو نوالې باند ې مین خلک د ي. شملزیو یو د نـــورو غلجیو قبیلو سره یو ځای د مغولو پر خلاف په زابل کې د ویاړه ډکې مبارزې کړي د ي. همد ارز د افغان- انگرېز په د رو گونو تاریخي جگړو کې هم د شملزیوونډه د رنه د ه. د روسي ښکېلا کرو او بلو سگرو ځولکـــونـــوپـــر خلاف د شملزیواو په مجمو عي تو گه د تو خیو مبارزې زموږ د ویاړلي هېواد په تاریخ کې په زرینو کر ښو ثبتې د ي.

د شملز یو د قبیلې خلک د زابل ولایت د نورو پښتنو په څېر د کر کیلې او مالد ارۍ په چارو بو خـــت د ي.د د وی په سېمه کې غنم او نورې غلې د انې کرل کیږي. همد اراز باد ام، انگور، منې او نور ډول ډول میوې هم پکې شـــته. ځمکې یې ز یاتره د کاېزونو په اوبو خړوبیږي، خو په وروستیو وختونو کې خلک د خپلو کر نې د ځمکـــو لپـــاره د واټر پمپونو نه هم گټه اخلي. د د وی د ود و نه او رواجو نه کټ مټ د هغې سیمې د نورو پښتنو قبیلو په څېر د ي.

د شملزیو ولسوالي د زابل ولایت د مرکز د کلات نه ۷۰ مېله واټن لري. له بد ه مر غه د افغانستان د ولت د غـــې سیمې ته هیڅ ډول پا ملر نه نه د ه کړې. نه پکې کوم روغتیایي مرکز شته چې خلک د خپلونارو غانو علاج پکې وکړي او نه هم د ولت د غې سیمې ته د بر یښنا، ښوونې او روزنې او نورو بر خو کې کو مه پا ملر نه کړې د ه، نو ځکه یې زیاتره خلک ډېر بېوزله او د پو هې له نعمته بې بر خې د ي. که څه هم چې د د غې قبیلې خلک د علم او پوهـــې ســـره مینه لري او زیات شمېرلیکوالان او شاعران یې په خپلې غېږه کې روزلي د ي. د د غې د لیکو الو او رو ښا نفکرانو نه یو هم ښاغلی حلیم شملزی د ی. برسېره پرد ې چې د پښتو ژبې یو ښه او تکړه لیکوال د ی، په د یني او مـــذهبي او د یني برخه کې هم د بشپړې پو هې خاوند د ی. د شملزیو د قبیلې ځینې نور مشهور کسان حاجي عز یز الله خان شملزی،

---

289 پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ۱۸۱ مخ، د پېښور د د انش خپرند ویه ټولنه.

290 http://en.wikipedia.org/wiki/Shamulzayi_District

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلام شملزی او عبد السلا م خان شملزي د ي.[291]

# 104 شيتک

د پښتنو قبيلو په ډله کې د کرلانيو په ټولنيز گروپ کې د شيتک قبيله ډېره مشهوره د ه. د شيتک د قبيلې نــه په مجمو عي توگه مقصد د وړ، بنوڅي او تني د ي.

ويل کېږي چې د د غې قبيلې مشر نيکه شاه فريد نوميد چې وروسته په شيتک سره مشهور شــو. نومــوړی د ککی زوی او د کرلاڼ لمسی د ی. په پيل کې د شيتک د قبيلې خلک د سليمان د غره په يوې لړۍ کې چې شوال نوميږي استوگنه د رلود ه چې اوس هم په د غه غره کې د خلکو پخوانی استوگنځی په ککۍ ميله [292] مشهور د ی. ويل کيږي چې د شيتک د ميرمنې نوم بانو يا بنو و او له همد ې کبله د وی په بانوزو يا بنو زيو باند ې مشهور شول چې وروســته د وخت په تېرېد و سره د غه کلمه د زيات استعمال په وجه په بنو څيو بد له شوه.[293]

شيتک د رې مير منې د رلود لې. د يوې مير منې اولاد ه يې تني او د وړد ي، د د ويمې مير منې يعنــې بــانو (بنو ) اولاد ه يې کيوي او سورانې او د رېيمې مير منې اولاد ه يې جيم يا زيلم او هويد نو مېــد ل چــې د د وی اولاد ه ډېره لږه او په کيوي او سورانې کې شا مله د ه.[294]

د وی په پيل کې د تو چي په جنوب کې د غره په لمنه کې او سېد ل، خو د سلطان شهاب الد ين غوري د واکمنۍ په وخت کې شيتکو د بنو په سېمه باند ې بريد ونه پيل کړل. د بنو د سيمې د تسميې وجه په اغلب گومان سره د هماغې ښځې يعنې د بنو د نوم له کبله د ی. کله چې شيتکو پر د غه ځای بريد وکړ نو په هغه وخت کې د لتــه منگــل او هنــي پښتانه اوسېد ل. د د ې حملو په نتيجه کې د شيتک په اولاد ه کې د کيوي او سو رانې اولس بريد ونه جاري وساتل چې بيا وروسته منگل او هني له د غه ځايه ولېږ د ېد ل. د هني د قبيلې لږ شمېر خلک د هند وستان خواته لاړل او يو شمېر د منگلو د قبيلې سره يو ځای د سپين غره په جنوب کې اباد شول. د هني او منگلو د قبيلې تر وتلو ورو سته د د غــې قبيلې خلک د خپل پېر په لار ښووونه د بنو سېمه په خپل منځ کې په د ې ډول سره وويشله چې د ميــری د مشــر زوی کيوي اولا د ې ته يې سهيلي برخه چې اوس په ميري سره مشهوره د ه ورکړه، د ککي اولاد ې ته يې تر ختيځو بر خو پورې چې په هغه وخت کې زياد ه اباد ه او ښه سېمه وه ورکړه، د کيوي د ويم زوی سمي ته يې تر نار پورې منځنــۍ برخه ځمکه او د سوراني او لا د ې ته يې د کورمې د رود شمال ته تر ټل پورې سيمې ورکړل شوې.[295]

291 د شملزيو د قبيلې په برخه کې د د ې مقالې د ليکوال شخصي ياد ښتو نه.

292مېله = (مېنه = ځای = ټا ټوبی) ليکوال

293پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ۳۶۹ مخ

294پښتني قبيلې، د د انش چاپ، پېښور ۱۸۱- ۱۸۲ مخونه.

295حيات افغاني، د د انش چاپ، پېښور، ۵۱. مخو نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شيتکو د اولاد ۍ يعنې د وړو، بنو څيو او تهيو ذکر د مخه په خپلو خپلو رد يفونو کې راغلی د ی.

# 105 شيرانې

که چيرې د شيرانيو د قبيلې د نسب شجره په غور سره وڅيړو نو جوته به شي چې د غه قبيله د سړبن په ټولنيز ګروپ پورې يوه اړونده قبيله د ه. د شيرانيو د قبيلې شمال ته د وزيرو قبيله، لو يد يځ ته يې ژوب او د مند و خيلو د قبيلې سيمه، جنوب ته يې د کاکړو قبيله او ختيز ته يې هغه قبايل مېشته د ي چې په د يره اسماعيل خان کې استوګنه لري.[296]

د روايتونو پر بنسټ شرخبون پنځه زامن د رلود ل يعنې شيرانی، ترين، پانه، بړيڅ او اورمړ. ويل کيږي چې شيرانی د شرخبون مشر زوی و، خو پلار يې د مشرۍ پګړۍ ترين ته ورپه سرکړې وه،[297] له همد ې کبله شيرانی د خپل پلار او ورونو نه خپه او يو پيغام يې کاکړ ته چې د د ه مورنی نېکه و په د ې شرحه ورواستاوه:

"زه د لته ډېر په تنګ شوی يم، راشه او ماله ځانه سره بو ځه!"

کله چې کاکړ ته د غه پيغام وررسيد ه نو د خپلو څو تنو زامنو سره د شرخبون کورته ورغی او ورته يې ويل چې شيرانی پرېږد ه چې زما سره لاړ شي. شرخبون پرد ې خبره راضي نه و، خو کله چې شيرانې په تللو باند ې ټينګار وکړ نو په د غه وخت کې ترين په غو سه شو او شر خبون ته يې وويل چې شيرانی پرېږد ه چې د کاکړ سره لاړ شي او که چيرې هغه د لته نه وي نو څه به وشي. په پای کې کاکړ، شيرانی له ځا نه سره بوت او شيرانې هم ژمنه وکړه چې د د ه اولاد ه د ې هيڅکله هم په سړ بنيو پښتنو کې نه شمېرل کيږي [298] او په د ې تو ګه د خپل مو رني نيکه يعنې د کاکړو په کورنۍ کې چې غر غښتي پښتانه د ي شامل شو او اوس په ښو او بد و کې د غر غښت د ټولنيزې ډلې سره اړيکي لري.

شيرانې د سهيلي پښتونخوا د شير انيو په ډيسټريکټ يا ولسوالۍ کې استوګنه لري چې د د غه ډيسټريکټ د خلکو ژبه پښتو د ه. د شيرانې د يسټريکټ د ژوب، د يره اسماعيل خان او مو سی خيلو د ولسواليو سره ګډه پوله لري. د شيرانيو سېمه د ګو مل جنوب ته پر ته د ه چې د سليمان غر هم د د وی په سېمه کې مو قعيت لري. د وزير ستان په څېر د د وی سېمه هم غر نۍ د ه. شيرانې زياتره د کرنې او مالد ارۍ په چارو بو خت د ي. که څه هم د کرنې ځمکې يې لږې او او به هم چند انې پکې ډيرې نه د ي خو خلک غنم، جوار، اوربشي، وريجي او تنباکو کري. هغه شيرانې چې په غر نيو سيمو کې ژوند کوي د وی د غرونو لمنې په للمي ډول سره کري. د د وی حيوانات غوايي،

---

296اضلاع، ايجنسي ها وقبايل ايالت پښتو نستان، ۹۲ مخ.

297پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ۱۲۷۷ مخ.

298حيات افغاني ۱۷۳-۱۷۶ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسونه او وزې د ي.

د د وی په غر نيو سيمو کې د جنغوزيو او انارو ونې هم شته چې خلک يې ټولوي او په بازارونو کې يې پلوري. همد اراز د د وی په غر نيو سيموکې ډول ډول وحشي ځناور، ژوي او مر غان شته چې په د غو ځناورو او ژوو کې وحشي ګډان، سوی، وحشي پيشوګانې، وحشي ليوان، ګيد ړې، وحشي وزې او هو سۍ شته.

## 105.1 مشهور کلي يې

شيرانې د پښتونخوا ايالت په د ېره اسماعيل خان او د سهيلي پښتونخوا د شيرانيو په ډيسټريکټ کې استوګنه لري، خو ځينو خلکو يې د موسی خيلو د ډيسټريکټ د سنغر سيمې ته چې اوس ورته تونسه شريف وايې ليږ د يد لي او د د غې سيمې د د رنګ په تحصيل کې ژوند کوي.شيرانيو د قبيلې مشهور کلي د اد ي [299] :

- لهار کلی
- کازا مليزي
- ستانو راغه
- چچوبي(څڅو بی)
- مير علي خېل
- ماني خوا
- سور لکۍ
- شنه پو نګه
- احمد ي د رګا
- لاوارا
- مرغ بل
- تور راغه
- د ب شيخان
- مغال کوټ

299 http://en.wikipedia.org/wiki/Shirani

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شين غر

## 105.2 مشهور ښاخونه او څانګې

د شيرانيو قبيله په لاند نيو ښاخو نو او څانګو ويشلې شوې د ه

- حسن خيل
- اوبه خيل
- کپيپ
- کرمانزي
- محمد زي
- سالار خيل
- مروت خيل
- سپند زي
- جوهر خيل

## 105.3 ميلمه پا لنه

شيراني ميلمه پا لونکي خلک د ي۔ د وی د خپلو ميلمنو ډېر قد ر کوي۔ د وی خپلو ميلمنو ته ډول ډول خونــــد ور خواړه تياروي۔ د وی په خوړو کې د لاند ي د غوښو، کړايي کباب، سره کړو غوښو، سابو او اوګړې نه ګټه اخلي۔

## 105.4 ښوونه او روزنه

که څه هم شيراني د علم او پو هې سره مينه لري، خو له بد ه مرغه د هغه ځای چاړواکي د غې مهمې مسالې ته کو مه ځانګړې پا ملر نه نه کوي، نو ځکه د ښوونځيو او تعليمي مو سسو د کموالي په وجه د د غه ځای ډېر خلک او په تېره بيا ځوانان او نجونې د علم او پو هې له نعمته بې برخې ساتل شوي د ي او خلک مجبورد ي چې خپل اولاد ونه او زامن د ديني او مذهبي مد ر سو ته وروليږي۔

شيراني په عمو مي تو ګه غريب خلک د ي۔ د د وی خلک زياتره د کرنې په چارو بو خت د ي، خو يو شــــمېر خلک يې د خليج په عربي هېواد ونو کې هم مزد وری کوي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيراڼي زړور او په خپلواکی مین خلک د ي. د انګریزي یر غلګرو په وړاندې یې له ویاړه ډکې مبارزې کړي د ي. د د غې قبیلې په نامتو مبار زینو کې یو هم ماشو خان شیراڼی و چې د انګرېزانو سره په جګـــړه کـــې د ژوب د سیمې په سلیازي نو مې سیمه کې شهید شوید ی.

د د بړه اسماعیل خان او د سهیلي پښتونخوا سر بېره یو شمېر شیراڼي د هند و ستان د راجستهان ایالت د ناګور شیراڼي اباد په سېمه کې استوګنه لري چې د د وی سیمې په څلورو محلو باندې ویشل شوي د ي یعنې، صو فیه، غـــو ثیه، نجمیان او نوري. همد ارز هلته څو کلي هم شته چې شیراڼي پکې استوګنه لري. د د غو کلیو نو مو نه په د ې ډول د ي :

- بر نیل
- بهینیاد
- د انتا
- حمید پور
- ډونګاري

مشهور لیکوال حافظ محمود خان شیراڼي او د هغه زوی اختر شیراڼي د راجستهان د ناګور د سیمې شـــیراڼي د ي. ویل کیږي چې شیراڼي هند وستان ته لو مړی ځل د مغول واکمن همایون په وخت او د وهم ځل د اکبر پاچا په وختو نو کې راغلي د ي. د هند د راجستهان ایالت د شیراڼیو نه سربېره یو شمېر شیراڼي د هند وستان د ګجـــرات د ایـــالت د واد نګـــــر، کالیګــــام او احمــــــد ابــــاد کـــې هـــــم اســــــتوګنه لـــــري.[300] په عمو مي ډول شیراڼي قبیلوي خصوصیات لري او د قوانینو تابع نه د ي.

# 106 شینواري

شینواری د پښتنو یوه مشهوره قبیله د ه چې د سړبن په ټولنیز ګروپ پورې اړه لري او د ســپین غـره‌پـه شمالي لمنو او د ننګرهار په جنوب ختیځ کې مېشته د ي. د د وی یوه برخه د پښتونخوا ایالت په لواړګی، څو کـــورنۍ یې د کوهاټ په ځنګلونو کې، پېښور، د کونړ ولایت په سره کمر، د پروان ولایت د شینوارو په ولسوالۍاو کشمیر کې هم استوګنه لري.

پښتانه د تاریخ په رڼا کې د شینوارو د قبیلې په اړه لیکي د ي:

لکه چې د د غې قبیلې د شجرې نه معلومېږي چې کاسیان په یوولسو څانګو وېشل شوې د ي چـــې د شـــینوارو

300 http://en.wikipedia.org/wiki/Sherani_District

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبیله هم په د وی کې شامله د ه. لکه چې د پټې خزانې د روایت نه معلومیږي د خرشبون په اولاد ه کې د کند او ځمند اولاد ه د غوړی مرغی نه د غزني، کابل او پېښور د واد ي له لورې مهاجرت پیل کړ، نو په د غه وخت کې کاسیان بېرته د سلیمان غره ته لاړل او هلته مېشته شول. البته د کاسیانو یوې قبیلې (شینواری) د خاښي خېلو سره مهاجرت وکړ او د خیبر په شمال او جنوبي غرونو کې مېشته شول.[301]

د شینوارو شمال لوېد یځ ته د خوګیانیو قبیله، شمال ته یې د کابل سیند او د مومند و قبیله، ختیځ ته یې د ډیورنډ کرښه تر لواړګی پورې امتد اد لري او د اپرېد یو د قبیلې سره پوله لري او جنوب خواته یې سپین غر موقعیت لري. د وی د ننګر هار ولایت د هسکې مېنې (د ه بالا)، مومند د رې، نازیانو، اچین، د وربابا، غني خیلو، سپین غر، رود اتواود چپرهار په ولسوالیوکې استوګنه لري.

د شینوارو قبیله په لومړی سر کې په د وو پلارو وېشله کېږي چې یوه ته سه پای او بل ته عبد الرحیم خېل وایي. چې سه پای مشر ورور او عبد الرحیم خېل کشر ورور د ی. مشر ورور په خپل منځ کې اوومتپی د ي؛ حسن خېل، حمزه خېل، الیاس خېل(لیاس خېل)، ریند اد خېل، حید رخېل، بابرخېل، سلیمانخېل او کشر ورور یې په د ې تپو وېشل شوې د ي او هغه علي شېرخېل، عد ل خېل او سنګوخېل د ي.

## 106.1 استوګنې سیمې او ځایونه

- حسن خېل: حسن خېل د هسکې مېنې د ولسوالی په اوغز، ګورګوری، پایی، شیخ مید ان، یاغی بند، شپوله او ګیزاره کې پراته د ي. یو شمېر حسن خېل په غوښت د ره کې هم استوګنه لري. ویل کېږي چې د حسن خېلو شمېر به (۱۶ــ) تنه وي.
- حمزه خېل: د وی په خپل منځ کې د وه تپي د ي چې یوه احمد خېل او بل یې مغد ود خېل د ي. احمد خېل اکثره په هسکه مېنه او لږ شمېر یې په تنګی، شرمښی او لرو احمد خېلو کې اوسېږي. مغد ود خېل په ګاګره، ګجنه، مریز، سنګوټا او راوګی کې استوګنه لري. .
- الیاس خېل: الیاس خېل چې لیاس خېل یې هم بولي اکثره په هسکې مېنې، ګیزاره، لږ شمېر یې د هسکې مېنې په تنګی او یو شمېر په نری اوبو کې اوسېږي او د جعفریانو په نامه څو کورنۍ یې بیا د کوچیانو په ډول ژوند کوي.
- ریند اد خېل: د مامند په تنګی، باغ، اچین او ګرد ی کې پراته د ي. د ا ښاخ په څلورو څانګو وېشل شوی د ی او د پاخېلو، الیکه خېلو، بام خېلو او خلیفه خېلو نه عبارت د ي.
- حید رخېل: د ا تپه په خپل منځ کې د وه پلاره د ي چې یوه ته ((نیمې د ر)) او بل ته ((ممه خېل)) ولیي. ممه

301ښتانه د تاریخ په رڼا کې ۱۳۲۶-۱۳۲۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خېل په لنډی، مورګی چینه، د اوښی، اسد خېلو، تریلی، مید انک، سره کلا او هجوم کلی کې مېشته د ي.

- سیلمان خېل: په توتګی، وچکتوټ او د کوشتل په کلیو کې اوسېږي.
- بابر خېل:د ا یوه کوچنی څانګه د ه چې یو شمېر یې په صند ق، بټن او چهل ګزي کې اوسېږي.
- علي شېرخېل: د ا د عبد الرحیم خېلو یوه څانګه د ه چې څه برخه یې په لواړګی او څه یې په افغانستان کې مېشته د ي. د وی په اوو تپونو باند ې وېشل شوې د ي او هغه له عیسی خېلو، باخېلو، تړخېلو، پیروخېلو، اش خېلو، خوګاخېلو او شود ن خېلو نه عبارت د ی.
- عد ل خېل:د ا هم عبد الرحیم خېلو یوه پښه د ه. د ا تپه په خپل منځ کې د وه پلاره د ي یعنې عثمان خېل او کرګوخېل.
- سنګوخېل:سنګوخېل په د رېو پلرونو باند ې وېش شوې د ي؛ ګد وخېل، څلورپلاری او غني خېل، سنګوخېل د مند تی نه تر غني خېلو پورې د نازیانو په د رو کې پراته د ي.[302]

له د ې کبله چې د شینوارو یوه برخه د خیبر د تاریخي د رې په شاوخوا کې استوګنه لري نو د خیبریانو په نامه سره هم یاد ېږي چې اورکزی او اپرېد ي هم په همد ې نومونو مشهور د ي. د تورخم او شمشاد سیمې هم د علیشېرخېلو شینوارو د استوګنې سیمي د ي. د لواړګی شینواری په خپلو خېلونو کې وېش د حجرې له مخې ترسره کوي چې اوس د هر خېل حجري په لاند ي ډول د ي:

- خوګاخېل (۱۷۲) حجرې
- شېخ مل خېل (٦٨) حجرې
- اش خېل (۲۳) حجرې
- مختارخېل (۲۱) حجرې
- غني خېل (۳۵) حجرې.

د لواړګی شینواری اکثره د سود اګری په چارو بوخت د ی او هغه ترانسپورتي تجارتی لارې چې د کابل او پېښور تر منځ چلېږي د همد ې خلکو په لاس کې د ي.[303] د لواړګی شینواري د افغانستان د شینوارو سره بنې اړیکې لري. د لواړګی د شینوارو شمال خواته شلمان، ختیځ ته یې ملاګوری او جنوب ختیځ ته یې اپرېد ي موقعیت لري. د لواړګی سیمه د تورخم نه د خیبر د اپرېد و تر پوله شپږ میله اوږد ه او د رې څلور میله پلنه د ه. شینواري په مېلمنه پالنه کې مشهور د ي. د د وی حجرې تل د مېلمنو او مساپرو پر مخ خلاصې وي. د حجرو تر څنګ یې جوماتونه هم

302پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ۱۸۶-۱۸۷ او ۱۸۸ مخونه، د پېښور چاپ

303اضلاع، ایجنسي ها وقبا یل ایالت پښتو نستان، ۵۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته، په د وی کې د جرګې سستم ډېر قوي د ي او اکثره خلک خپلې لانجې د قومي جرګولـــه لارې اواروي. دلـــواړګی شینواری اکثره خپلې جرګې په سپین جومات کې چې د لواړګی تر منځ د لويي هد يرې سره موقعيت لري جوړوي.

په شینوارو کې د نورو پښتني قبيلو په څېر د ننواتی د ود هم ډير قوي د ي چې ارو مرو يې قبلوي او منــــي يي. په د وی کې د سولې کولو د ود هم د پخوا په شان په خپل حال پاتې د ی چې (تيره) يې‌بـــولي او اپرېـــد ې ورتـــه (کانړی) وايي [304]

همد ا راز د باجوړو په الينګار، چمرکنډ، څاوګی، شېخ بابا او سره کمره کې هم شینواری استوګنه لري. د شيګل شینواری تقريباً د رې سوه کاله پخوا د ځينو عواملو له کبله د سره کمره خواته تللی د ي او د شيګل ځمکه يې له نورو قومونو څخه چې په هغه وخت کې کافران وو نيولی وه. د شينوارو راګ شيګل ته او د نورو قومونو څخـــه د شـــيګل نيول د شيخ بابا په مشری چې اصلي نوم يې (ذکريا) د ی ترسره شوې د ي. د د وی سره د شيګل په نيولو کې ماموند و هم ملګرتيا وکړه. شينواری د کافرانو د سخت مقاومت سره مخامخ شول په تېره بيا هغـــه وخـــت چـــې د کنـــډرو کلا محاصره شوه نو شېخ بابا امر وکړ چې ټول شينواری د ی د کلا د سوځولو لپاره يوه يوه ګېډۍ لرګي راوړي نوموړي کلا وسوځل شوه او شينواری بريالی شول چې وروسته شېخ بابا د شينوارو تر منځ شيګل وويشه چې‌پــه د ې ويــش کې اد رم (عبد الرحيم خېلو) ته کټه سيد، امان کوټ، ګربوړی، کنډرو، زېرېت ډاګ، ملاعلم کلی، شينکی، غرتنګـــی او شنګر شا ورسېد ل. سليمانخېلو ته چاکوړی، شينګرګل، نيم لاچی، سيمه لام، بنود يت، سورمل، برګلـــيـــی اوـمـــاټينه ورسېد ل. [305]

په لواړګی کې د عليشېرخېلو څانګې د ا د ي؛ خوګاخېل، شېخ مل خېل، پيروخېل، ميـــرد اد خېـــل، اش خېـــل، مختارخېل، غني خېل، پتمی خېل، بسی خېل، طالب خېل، سيد خېل، اشرف خېل، طوطی خېل، شربی خېل، بابی خېـــل، شد ان خېل، ماد ور خېل، مياخېل او عالم خانی. د ننګرهار په ولايت کې د شينوارو شمېر (۱۵۵۲۷) تنه، د کونړ په ولايت کې (۵ــ) تنه د لواړګی شينواری (۱۲۷۷ـ) تنه او د سره کمر شينواری (۱۳ــ) تنه بنود له شوې د ي.

د ننګر هار ولايت پر شينوارو سر بېره يو شمېر شينواري د کند ز ولايت په مرکز، د د شـــت ارچـــي، لمـــام صاحب او خان ابا د په ولسو اليو کې مېشته د ي. د پروان په ولايت کې هم د شينوارو په نامه يوه ولسوالۍ شته چې د او سيد ونکو شېر يې ۳۹ـ۵۷ تنه بنود ل شويد ي، خو په مجمو عي ډول په ټول افغانستان کې د شينوارو دقـــبيلې شـــمېر ٤ـــ تنه بنود ل شويد ي. همد اراز د غزني ولايت په قره باغ ولسوالۍ کې هم يو شمېر شينواري استوګنه لري. د کابـــل په سمټ خانه، کلای زمانخان، ششد رک او د ه خد ايد اد کې هم ډېر شمېر شينواري استوګنه لري.

شينواري په هېواد مين خلک د ي. د وی د تاريخ په اوږد و کې د هېواد د هر غليم اوير غلګر په وړلنـــد ې‌پـــه مېړانه جنګيد لي د ي او د خپل ګران هېواد افغانستان د د فاع لپاره يې خپل هېواد نی رسالت سر ته رسولی د ی.

---

304 پښتانه، ۱۸ـ – ۱۸٦ مخونه، کابل، ۱۳٤۹ کال.

305 د پښتنو ټولنيز – اقتصاد ي جوړښت، ۲۸، ۲۹ او ۳ـ مخونه، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 106.2 نامتو شخصیات

د شینوارو قبیلې په خپلې غیر کې په افغانستان اوپښتونخوا کې ډېر نامتو شخصیتونه روزلي د ي۔ په د غـــو شخصیتونو کې شاعران، لیکوالان، انجنیران، ډاکتران، محققین، پوځي جنرالان او صاحبمنصبان، قا ضـــیان او ځینـــي مشهور قو مي شخصیتونه په لاند ې ډول د ي۔

1. د پښتو ژبې نا متو شاعر ښاغلی اروابناد امیر حمزه خان شینواری چې پښتانه ورته د د رناوي له کبله حمـــزه بابا وایي۔
2. اروابناد ښاغلی سرمحقق د وست شینواری چې د پښتو ژبې د اد بیاتو، گرامراوژبپوهنې په برخه کې یې ستر خد متونه کړي د ي۔
3. اروابناد ښاغلی سر محقق محمد اکبر معتمد شینواری چې نامتو محقق او متر جم و۔
4. اروابناد ښاغلی محقق خیر محمد ساد چې په پښتو ژبه یې ډېر اثار لیکلي د ي۔
5. اروابناد ښاغلی محقق شهزاد ه زیارنچې په پښتو فولکلوریکه برخه او په تېـــره بیـــا د شـــینوارو دقـــبیلې د نرخونو، رواجونو او ځلو په برخه کې یې ډېرې مقالې لیکلي د ي۔
6. اروابناد ښاغلی ډاکټر جکړ شینواری چې یو علمي شخصیت و او په پښتو ژبه یې ډېر اثار کښلي د ي۔
7. ښاغلی ډاکټر ماه خان شینواریچې د پښتو ژبې یو تکړه محقق او څېړونکی د ی۔
8. اروابناد ښاغلی رفیق شینواری چې د پښتو مو سیقۍ ته یې د قد ر وړ خد متونه کړي د ي۔
9. ښاغلی حبیب الله زړه سواند چې د پښتو ژبې ښه شاعرد ی۔
10. ښاغلی سلطان جان کلیوال
11. ښاغلی انجنیر ستانه میر زهیر شینواري
12. ښاغلی قاري استاد بر کت الله سلیم چې په افغانستان کې د سپیڅلي قران نامتو قاري د ی۔
13. ښاغلی مثل خان شینواری
14. ښاغلی عبد الو کیل سوله مل شینواری
15. ښا غلی چټک شینواری چې د پښتو ژبې شا عر د ی۔
16. اروابناد ښاغلی فضل هاد ي شینواری چې په شینوارو مولوي صاحب باند ې مشهور او د سترې محکمې رئیس و۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



17. ښاغلی د کتور محمد ابر اهیم شینواری چې ښه لیکوال، د سیاسي مسا یلو شنونکی اوژورنالیست د ی۔

18. اروابناد ښاغلی ماما زرغون شاه شینواری چې مجرب عسکري صاحب منصب و۔

19. په ولسي جر گه کې د شینوارو د خلکو استازی ښاغلی ببر ک شینواری۔

20.په ولسي جر گه کې د خلکو استازې اغلې ملالۍ شینوارې۔

21. د افغانستان د کریکټ د بورډ غړی ښاغلی سمیع الله شینواری۔

22.ښاغلی هنر غیرت

23.ښاغلی ډاکټر بر هان الله شینواری

24.ښاغلی شمله د ار خان شینواری

25.ښاغلی غلام نبي شینواری

26.ښاغلی اجمل شینواری

27.د محاکمو پخوانی رئیسا رواښاد حبیب الله خان شینواری

28.اروابناد قاضي شیند ي گل خان شینواری۔

29.ښاغلی قا ضي محب الله خان شینواری

30.انجنیر هو ښیار شینواری۔

31. په ولسي جرگه کې د شینوارو د خلکو استازی ښاغلی ډاکټر عصمت الله شینواری[306]

32.د افغانستان مشهور لیکوال، ژورنالیست او مبتکر کارتونیست ښاغلی هژبر شینواری۔

33.ښاغلی مراد شینواری

34.ښاغلی عبد المحمد شینواری

35.ښاغلی قاضي کمال شینواری چې د پښتو ژبې ښه لیکوال او متر جم و۔

په پښتونخوا کې د شینوارو مشهورې څیرې په لاند ې ډول د ي :

1. ښاغلی انجنیر اعظم خان شینواری د ورسک د ډیم مشر انجنیر

2. د وفډا مشر ښاغلی ذاکر شینواری

3. سیا ستوال ښاغلی ناظر خان شینواری

---

306زما (د د ې مقالې د لیکوال) شخصي یاد د ښتونه۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. ښاغلی بریګیډر قیوم شېر شینواری
5. سیا ستوال ښاغلی شهباز ګل شینواری
6. د پولیسو افسر ښا غلی اسرار خان شینواری[307]

د ۱۳۸۳ کال په پیل کې یو شمېر شینوارو د کابل د ښار د باغ علیمرد ان په سیمه کې غونــډه وکــړه اودیــوې قومي شورابنسټ یې کیښود چې د شینوارود قومي شوراپه نامه ونومول شوه چې نوموړې شورابیاد همــدې کــال د چنګاښ په میاشت کې په رسمي توګه د عد لیې وزارت د سیاسي ګوند ونو او ټولنیزو سازمانونو په ریاست کې ثبــت اوراجستر اوپه فعالیت یې پیل وکړ. نوموړې شورا خپل یوځانګړی ویبسایټ (ویبپاڼه)هم لري چې پته یې په دې توګه د ه www.shinwari.org.د دې شورامرکزي د فتر د کابل ښار د قوای مرکزد اریانا کارتې د شینواري مارکیټ پــه د ریم پوړ کې د ی اوولایتی د فتر یی د ننګرهارولایت د مرکزجلال اباد د ښار د پوهنتون روغتون ته مخامخ مــوقعیت لری. د اشوراځانته یوه اساسنامه اونشان هم لري.

# 107 طوطا خېل

د پښتني قبیلو د پېژند نې په لړ کې د اڅل ګرانو لو ستو نکو ته د تو تاخېلو قبېله چې د طو طاخېلو په بڼه هم راغلې د ه د رپېژنم. د توتا خېلو قبیله په اوسني وخت کې د پکتیا ولایت د مهمو قبیلو نه شــمېرله کیــږي. د پښــتني عنعنوي او روایتي شجرو پر بنسټ تو تاخېل له اره د پښتنو د غلجیو په ټولنیز ګروپ او ډلې پورې یــوه اړونــد ه قبېله د ه او د اند ړو د قبیلې یو ښاخ ګڼل کیږي.[308]

د توتاخېلو د قبیلې خلک د پکتیا ولایت د سید کرم په ولسوالۍ کې د احمد زیو د قبیلې د خلکوترڅنګ ژونــد کوي. د اسې روایتونه شته چې توتاخېل په لو مړي سر کې د غزني ولایت د اند ړو په سیمهکــې ژونــدکــاوه، چــې وروسته د ځینو بېلا بېلو عواملو په وجه د خپلې استو ګنې او سنی سیمې ته لیږ د ید لي د ي.[309]

توتا خیل زړور، جنګیالي، غیر تي، میلمه پالو نکي او په پښتو او پښتونولی باند ې مین خلک د ي. د هېــواد د خپلواکۍ په د ړي ګونو جګړو کې یې د پکتیا د نورو پښتني غیرتمنو قبیلو په څېــر یــې د انګریــزيیــر غلګــرو ځواکونو پر خلاف د ویاړه ډکې مبارزې کړې د ي او کله چې روسي ښکیلاګرو او بلو سګرو زموږ په ټا ټوبې ګران افغانستان باند ې د وحشت نه ډک برید وکړ نو د توتاخېلو د قبیلې شاه زلمیو هم خپل هیواد نی رسالت په ښه تو ګه تر سره کړ.

---

307http://en.wikipedia.org/wiki/Shinwari_tribe

308معلومات مختصر د رباره اقوام وقبایل سر حد ي کشور، ۵۳ مخ.

309پښتني قبیلې، د دکتور لطیف یاد تالیف، ۱۹ـ مخ د پېښور د دانش چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تو تا خېلو د قبيلې خلک زياتره خلک د کرنې اومالد ارۍ په چارو بوخت د ي، خو ځينې يې د سود لګرۍ چارې هم پر مخ بيا يي. هغه خلک يې چې د کرنې او مالد ارۍ په چارو بوخت د ي نو د وی غوايي، غولګانې، پسونه، وزې او ميږې هم ساتي.

د تو تا خيلو د قبيلې رواجونه او د ود ونه کټ مټ د هغو قبيلو په څېر د ي چې د وی ورسره ژوند کوي په د وی کې پښتني د ود ونه او په تېره بيا د جرګې سيستم پياوړی د ی او خلک خپلې لانجې دقومي جرګولـه لارې اواروي.

د د غې قبيلې ځينې کورنۍ د پکتيا ولايت په مرکز ګرد ېز او ځينې يې په کابل کې هم استوګنه لري.

# 107.1 مشهور شخصيتونه

د توتا خېلو قبيلې په خپلې غيرړ کې ځينې نامتو شاعران، استاد ان او د علم او پو هې لارويان روزلي د ي چې د ځينو نومو نه يې په لاند ې ډول د ي:

1. د کابل د پو هنتون استاد ښا غلی پو هند وی نسيم ګل تو تاخېل
2. د کند هار د پو هنتون رئيس ښاغلی ډاکتر حضرت مير تو تاخيل[310]

د ۱۳۵٤ لمرېز کال د سر شميرنې له مخې د پکتيا په ولايت کې د تو تا خېلو د قبيلې د خلکو شمېر ۲۲۳٤. تنه ښود ل شوي د ي چې ښايي اوس به يې په شمېر کې څو برابره زياتوالی راغلی وي.[311]

# 108 علي خېل

که چيرې د پښتنو د نسب شجره يا د نسب ونه په غور سره تر څيړنې لاند ې ونيوله شي نو جوته به شي چې علي خېل د غلجيو پښتنو په ټولنيز ګروپ کې يوه مهمه قبېله د ه، ځکه چې سليمان چې او لاد ه يې د سليمان خېلو پـه نامه سره ياد ېږي د هغه د ويم ورور علي نو ميد چې اوس د هغه او لاد ه په علي خېلو سره مشهوره د ه.

تاريخ حيات افغاني چې له نن نه ۱٤٦ کلونه وړاند ې ليکل شوی د ی د علي خيلو غلجيو په اړوند د اسې ليکلي د ي :

" د زرمت سېمه چې پښتانه يې زرمله هم بولي نيمايي او سيد ونکي يې علي خېل د ي. پا تې علي خېل په مقـر او نورو سېمو کې استوګنه لري. د علي خېلو د مند وزي د ښاخ يوه څانګه اسما عيلزي د ي چې د وې وړې څانګې يې

310 د توتا خېلو د قبيلې په اړوند زما شخصي يا د د اښتونه
311 پښتني قبيلې، ۱۹. مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيد ن خېل او چند ړ خېل نو ميرړي چې د د رې کو ټي په نامه سره هم ياد ېږي چې د خوست په سېمه کې د د وی څلور سوه کورنۍ مېشته د ي."[312]

د علي خېلو د قبيلې نورې ښاخونه د اد ي :

ممو زي، مش خېل، يوسف خېل، علي خان خېل، علي شېر خېل، مند وزي، کريم خېل، مشي خېل، نوروز خېل، باړي خېل، ازاد خېل، کړو خېل، خيري خېل، جباري خېل، اد م خېل، جانو خېل، اخوند خېل، سر مست خېل، ازارخېـــل، بنګي خېل، فرار خېل، فتح خېل، د ريا خېل، نيکنام خېل، ميرزاخېل، ګيد ازي، زيبا خېل، عمر خېل، پارو خېل، سلطاني، اسماعيلزي، پيراخېل، مقرب خېل، تتي خېل، شکي خېل، ملککي، شالي خېل، شهباز خېل، فاطمه خېل، نيک زنخېل، تــــاو خېل، کشي خېل، هبت خېل، محمد خېل، مقام خېل، پيرخې، جوري زي، غو رګي، مير خانخېل، د وري خېل، کمال خېل، اعظم خېل، سني خېل.[313]

يو زيات شمېر علي خېل د پکتيکا ولايت په مرکز شرنه کې هم استوګنه لري چې د د وی شــمېر د ۱۳٦. لمريــز کال د سر شميرنې له مخې ۳٦۸٤۸ تنه د ی چې ښنا يې اوس به يې شمېر ترد ې لا نور هم زيات وي.

د غزني په ولايت کې د علي خېلو د قبيلې خلک د د غه ولايت په مرکز او هم د مقر، ګيلان، قره باغ او د اب بند په ولسواليو کې استوګنه لري چې په نو موړي ولايت کې د ۱۳٦. لمريز کال د سر شمېرنې پر بنسټ د د وی مجمو عي شمېر ۳۲۸٤۸ تنه ښود ل شوی د ي چې ښنايې اوس به يې شمېرډېروي.[314]

د ننګر هار د ولايت مرکز جلال اباد ښار ته نږد ې د علي خېلو په نامه يو کلی شته. همد اراز د هنــد د پنجــاب ايالت په جلند هر کې هم د علي خېلو د قبيلې خلک شته. د سهيلي پښتونخوا د ژوب په سېمه کې هم د علي خېلو پهـنــامه يو ښا رګو ټی شته، خو هغه علي خېل چې د پکتيا ولايت د ځا ځيو په ولسوالۍ کې استوګنه لري هغه د ځا ځيو په قبيلې پورې اړه لري. هغه علي خېل چې په وزير ستان کې استوګنه لري هغه د وزېرو د قبيلې يوه څانګه د ه.[315]

علي خېل زړور، جنګيالي، ميلمه پا لونکي او په پښتني ننګ او غيرت ټينــــګ خلـــک د ي. د وی ډېــر ښــــه اس ځغلوونکي د ي او په نېزه بازۍ او سانګې وهلو کې مشهورد ي.

لنډه د ا چې په ټول افغانستان کې د د وی شمېرد ۸۳٥٤۳ تنو په شا او خواکې اټکل شوي وو چې ښنا يې اوس بــــه يې شمېر خورا زيات وي.

---

312تاريخ حيات افغاني، ۲۸۷-۲۸۸ مخونه، د د انش چاپ، پېښور.

313د ياد شوی اثر د ۲۸٦ مخ د نسب ونه.

314پښتني قبيلې، ۱۹۱-۱۹۲ مخونه، د د انش چاپ، پېښور.

315 د د ې مقالې د لېکوال شخصي ياد د اشتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 109 عمر خېل

د پښتنې قبيلو د پيژند لو په لړ کې د اځل يوه بله قبېله د رپېژنو چې عمر خېل نو ميږي او د غلجيو پښتنو په ټولنيز ګروپ پورې اړه لري۔

د عمر خيلو د قبيلې خلک د لغمان ولايت د مرکز پورې اړوند ه چهارد هي او همد اراز د ميد ان ولايت د نرخ په ولسوالی، د کند ز ولايت د علي اباد په ولسوالی او د بلخ ولايت د شولګرې او بلخ په ولسواليو کې هم استوګنه لري۔

عمر خېل زياتره د کرنې او مالد ارۍ په چارو بوخت د ي، خو څرنګه چې د د غې قبيلې خلک د علم او پوهې سره زياته مينه لري نو زياتره يې د ولتي د ند ې هم لري۔[316]

عمر خېل د نورو پښتنو قبيلو په څېر ميلمه پا لونکي، په هېواد مين اوپه پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک د ي۔د عمر خېلوقبيلې ډېرپوهان، ډاکټران، انجنيران، ليکوال او د علم اوپو هې د د ګر نا متو کسان ټو لنې ته وړاند ې کړي د ي۔

د عمر خېلو د قبيلې نامتو کسان د اد ي :

1. اروانباد عبد الکريم عمر خېل چې د لغمان ولايت د چهارد هي د سيمې د عمر خيلونه و او د اعليحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍپه وخت کې يې د حکمرانۍ او ولايت د ند ې تر سره کړي د ي۔
2. د کتور عبد الکبير رنجبر چې د اروانباد عبد الکريم عمر خېل په کورنۍ پورې اړه لري۔ نوموړی مورخ، ليکوال او د ډېرو علمي مقالو خاوند د ی۔ د د کتور نجيب الله د حکومت په وخت کې د افغانستان د علومو د اکيډيمۍ رئيس او په تېره د وره کې د ولسي جر ګه کې غړی هم و۔
3. د کتور عبد البصير رنجبر چې د افغانستان بانک رئيس و۔
4. عبد الصمد ازهر چې په هند کې د افغانستان د د ولت سفير و۔[317]

د ۱۳۵٤ کال د مرکزي احصا ئيې د سر شميرنې پر بنسټ د لغمان ولايت د عمر خېلو د قبيلې د خلکو شمېر ۲۱۸۸ تنه ښود ل شوی و چې ښايې اوس به يې په شمېر کې ډېروالی راغلی وي۔[318]

---

316 د کتور لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۱۹۲ مخ، د پېښور چاپ۔

317 د مقالې د ليکوال (لطيف ياد ) شخصي ياد ښتونه۔

318 معلومات مختصر د رباره اقوام وقبائل سر حد ي کشور، ٤۲۵ مخ، د کابل چاپ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 110 عیسی خېل

عیسی خېل له ا ره د پښتنو د لود ي قبیلو پورې یوه اړونده قبیله ده او د لود ي د زوی نیازي اولاده ګڼله کیږي. نیازي د خپلو د ریو مېر منو نه د رې زامن د رلود ل چې با هي، جمال او خاکو نو مېد ل. عیسی په اصل کې د خاکو زوی و چې د ده اولاده د عیسی خېلو په نامه سره یاد یږي.[319]

په پیل کې د نیازیو قبېله چې عیسی خېل یې یوه څانګه ګڼله کیږي د افغانستان د غزني ولایت د شلګر په سېمه کې مېشته ول چې وروسته د اندړو او نورو غلجیو قبیلو د غلبې په وجه له د غه ځایه لېږد ید لو ته اړ بستل شول او د سلیمان د غره ختیزو بر خو او د ټانک په سېمه کې مېشته شول.د شلګر د سیمې نه د د وی د لېږد ید و اصلي وجه د اوه چې د د وی شمېر لږ وو او د غلجیو قبیلو سره یې د مقابلې توان په ځان کې نه لېد ه. په د غه وخت کې د وی زیاتره د پوونده او سود اګرو په ډول ژوند کاوه او لږه اند ازه د کر کیلې په چارو هم بو خت ول.[320]

هغه وخت چې بهلول لود ي په ۱۴۵ زېږد یز کال کې د هند وستان واکمن شو، نو د خپل ځواک د پیاوړتیا لپاره یې د افغانستان یا روه نه د خپلې قبیلې خلک او نور پښتانه د نوکرۍ او نورو پو ځي د ند و د تر سره کو لو لپاره هند و ستان ته ور وغو ښتل او په هند و ستان کې یې د پښتنو د مېشته کېد و لپاره یو ځانګړی فرمان جاري کړ.په د غه وخت کې د نیا زیو د قبیلې ډېر بنا خونه او څانګې هند و ستان ته وکو چېد ل او د لو د یانو په د ربار کې یې لوړ لوړ منصبونه او د ند ې تر لا سه کړې. همد اراز د هند وستان د بل پښتون واکمن سوري شېر شاه په وخت کې هم ډېر نیازي پښتانه په شاهي د ربار کې لوړ لوړ منصبونه تر لا سه کړل چې د هغوی له ډلې نه هیبت خان نیازي او عیسی خان نیازي چې اولاده یې په عیسی خېلو سره شهرت لري د سوري شېر شاه د واکمنۍ په وخت کې د خپل لیا قت او پو هې په وجه د امارت رتبې ته ورسېد ل او د ومره شهرت یې تر لا سه کړ چې هیبت خان نیازي ته د سوري شېرشاه له خوا د اعظم همایون خطاب وشو او د پنجاب صو بد ار یې وټاکه او عیسی خان نیازی د شېر شاه سوري د د ربار ځانګړی سلاکارو چې ورو سته د سلیم شاه سوري سره په جګړه کې ووژل شو.[321]

## 110.1 د عیسی خېلو د قبیلې بنا خونه

د عیسی خېلو د قبیلې ځینې مشهور بنا خونه د اد ي:

اپو خېل، زکو خېل، میرزو خېل، سنځله خېل، خواجه خېل، علي خانخېل، لنډو خېل، خاني خېل، د لو خېل، کربوس خېل، ممون خېل، باد ین زي، پیرالي خېل، پهاړ خېل، یعقوب خېل، فتح خېل، صاحبو خېل، بیرم خېل، او ریه

---

319 تاریخ حیات افغاني، د پېښور چاپ، ۳۱٤ مخ.

320 د کتور لطیف یاد، پښتني قبیلې، د د انش چاپ، پېښور، ۱۹۳ مخ.

321 تاریخ حیات افغاني ٦۲۷-٦۲۸ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خېل، ملتاني خېل، عمر خېل، سيد خېل، سارنگ خېل، چهنگي خېل، شيخ عمر خېل، غازي خېل، صابو خېل، شيخ احمد خېل، عثمان خېل، د رپه خېل، عمر خېل، احمد خېل، شيخ مهلي خېل، احمد خېل، سيد خېل، حرزاخېل، سكندر خېل، خضر خېل، شيخ فريد خېل، عمر خاني، شېر خاني، سليم خاني، جلال خاني، بهايي خاني، ماچهي خاني، پهاړ خېل، شمسي خېل، نورنگ خېل، سيد و خېل، سرور خېل، غالي خېل، سهالت خېل، زمان خېل، بهادر خېل، همل خېل، جهته خېل، د رويش خېل.[322]

## 110.2 د قبيلې حال د تاريخ په رڼا کې

لکه چې د مخه وويل شول په پيل کې عيسی خېل د افغانستان د غزني ولايت د شلگر په سېمه کې اوسېدل چې بيا وروسته د اندړو او نورو غلجيو د غلبې په وجه يې خپله سېمه پر ښېنود له او د سليمان غره په ختېزو لمنواو ټانک کې مېشته شول. تر هغه ورو سته د نيازيو او له هغې جملې نه د عيسی خېلو د قبيلې ډېر خلک په ۱۴۵. زېږد ېز کال کې د هغه فرمان له مخې چې لودي ټولواک سلطان بهلول پښتنو ته د هند و ستان د تلو لپاره جاري کړی وډېر شمېر يې هلته ولېږدېدل او هيبت خان نيازي، قطب خان نيازي او عيسی خان نيازي د سوري شېر شاه د واکمنۍ په وخت کې لوړلوړ منصبو نه تر لاسه کړل، خو ورو سته بيا هيبت خان او عيسی خان نيازی د سليم شاه سره مقابله وکړه، خو هغوی ماتې وخوړله او د نيازيو قبيله د عيسی خان او هيبت خان تر مشرۍ لاندې وتښتېدل او د د هن کوټ سيمې ته چې د سنده د رياب په لويد يزه څنډه کې پرته ده ورغلل.

د تاريخ حيات افغاني ليکوال محمد حيات خان له نن نه ۱۴٦ کلونه وړاندې په دې اړوند داسې ليکلي دي :

"په ۹۵٤ هجري کال کې خواجه اويس سرواڼي چې د سليم شاه سوري د پوځ پر مشرۍ مغرور و او د نيازيو د ټکولو لپاره رورغلی و په لومړي ځل يې د هيبت خان نيازي او عيسی خان نيازي د زړورتيا له کبله ماتې وخوړله، خو د ويم ځل يې د تازه د مو لښکروپه ملگر تيا هغوی له د هن کوټ نه پر شا وتمبول او عيسی خان نيازي او هيبت خان نيازي د خپلو ملگرو سره د راولپنډۍ په شمالي غرو نو کې د گهگړو قبيلې ته پناه يوووړه، خو شاهي‌پوځ او لښکرو په د غه ځای کې هم د هغوی د تعقيب نه لاس وانه خيست او تر د وو کلو نو پورې گهگړو هم د شاهي لښکرو سره جگړې وکړې. کله چې گهگړ و هم ماتې وخوړه نو نيازي د ځمکو اوځايو نو د تر لا سه کو لو لپاره کشمير ته لاړل او کله چې د کشمېر واکمن پوه شو چې د وی د ډهلي د سوري واکمن سليم شاه د قهر او غضب وړ گرځېد لي د ي نو د هغوی مخه يې ونيوله او د وی تر مينځ سخته جگړه وشوه چې په پای کې عيسی خان او هيبت خان نيازي د خپلو ځو تنو زامنو او ورونو سره ووژل شول او د هغوی سرونه په ډېرې بير حمۍ نه د د وی د تنو نو جلا او د نورو بند يانو سره د سليم شاه سوري د ربار ته ولېږل شول.[323]

---

322 نوموړی اثر، د ٦٣. مخ د نسب ونه (شجره)

323 تاريخ حيات افغاني، ٦٢٨ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې الو ګو لو په پای کې چې کوم نیازي او په تېره بیا عیسی خېل بچ پاتې شول هغوی په ټانک کې د خپلې قبیلې سره یو ځای شول، خوتر څو کلو نو وروسته په د غه سېمه کې د لو حاني(لواڼي) د قبیلې د غلبې په وجه د نیا زیو د قبیلې ښنا خو نه له د غه ځا یه د د امان سېمې ته چې اوس یې مروت بولي لا ړل اوتقر یبا دېرش کلونه د مروتو په تهل کې اوسېد ل. د پهاړ خېلو د سیمې تر څنګ د کو رمې د رود او د ګمیله د ویالې تر مینځ د نیا زیو لوی کلي پر اته وواو د مد ي سر هنګ په نامه یو تن د د وی مشر او لوی شتمن و.

په د غه وخت کې د نیازیو قبیلې د سیمې ځمکې سره ووېشلې، خو د مهیار ښاخ ترې بې بر خې پاتې شو د مهیار ښاخ په د غه خبرې سخته واشیې وښود له او د مروتو نه یې د مر ستې غو ښتنه وکړه او پر د غې پلمې مروتو پر نیا زیو یر غل وکړ او د نیازیو لاس یې له د غې سیمې نه لنډ کړ او د تهل په سېمه کې چې د وی یې اوس مروت بو لي د وی پخپله استو ګن شول او نیازي په متفرق ډول سره خواره واره شول.عیسی خان نیازي اته زامن د رلود ل. کله چې د عیسی خان او لاد ه د نیازیو د پاتې قبیلې سره د تهل مروت نه د ټاک سیمې ته تلل، نو د وی پر هغې سیمې با ند ې قبضه وکړه چې اوس هلته د لکي روت سیمه د ه چې د ګمیل د رود شمال او د کورمې د رود سهیل ته موقعیت لري. کله چې نیازي د مروتو له خوا د د غه ځایه وایستل شول نو په هغه وخت کې د د ره تنګ نه راووتل اولومړۍ په ممیت کې په یوه ځای کې مېشته شول او بیا یې د کورمې د رود په سهیلي برخه کې یو کلی جوړ کړ چې په ټیټې مینې سره مشهورو.

همد اراز د وی د سند د د ریاب پر غاړه نور کلي هم اباد کړل. کله چې بیا د عیسی خېلو د د وو څانګو ممو خېلو او زکو خېلو تر مینځ د ښمني را مینځ ته شوه نو عیسی خېل سره خواره واره شول او بیا په ۱۸۸۵ بکر ماجیتي[324] کال کې د عیسی خېلو د قبیلې مشر احمد خان د عیسی خېلو په نامه نوې قصبه جوړه کړه اود د وی سېمه د عیسی خان نیازي د نامه په وجه په عیسی خېلو سره ونو موله شوه. کله چې عیسی خېل د لو مړي ځل لپاره د عیسی خېلو په نامه نوې سیمه کې مېشته شول، نو هیڅ ویاله د کورمې د رود نه نه وه ورایستل شوې او د لوړو ځمکو نه به ټیټو ځمکو ته د یوه لرګي په ذریعه چې د وی ترنا باله او به بهید لې او ځمکې به یې خړو بولې، نو ځکه په د ې سیمه کې د ترنا په نامه یاد ېد له چې په عامو خلکو کې د تر نه په نامه مشهوره وه.هغه وخت چې عیسی خېلو پر د غې سیمې خپلې واکې ټینګې کړې نوشیخ فرېد چې د شیخ مهلي زوی او د عیسی خېلو د ممون خېلو په ښاخ پورې یې اړه د رلود ه اود ډېر ښه نیت خاوند او خد ای پالونکی انسان و د عیسی خېلو د ټولې قبیلې ښاخونه را وغو ښتل او د عیسی خېلو ټوله سېمه یې په لاند ې ډول د د وی تر مینځ وویشله:

ممون خېلو ته یې یوه برخه، باد ین زیو ته یې یوه برخه، زکو خېلو ته یې یوه برخه او اپو خېلو ته یې یوه برخه ورکړه چې د غه ویش پر څلورو ښا خو نو باند ې عملي شو.

---

324 بکر ما جیتي سنه د هند د اوجین د راجاد بکر ما جیت د نوم له کبله د ه.نوموړې په ۵۷ قبل ا لمیلاد کې پر ساکانو بري وموند.د لتر عیسوي سنې ۵۷ کاله مشره د ه.(یاد )

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د عیسی خېلو اصلي ښا خونه پورتني ښا خو نه ول، خو د وی په پلو منځو نو کې بیا په شپاړسو بېر خو باندې د غه ویش د کو چنیو ځانګو تر مینځ ترسره کړ.

د افغاني واکمنانو په تېره بیا د راني واکمنانو په وخت کې به چې لښکر ته اړتیا لید له کېد له نو عیسی خېلو به د د غو څلوروښا خو نو لښکر ورته برابراوه.

که څه هم عیسی خېلو د پخوانیو زمانونه د مروتو سره شخړې او لانجې د رلود لې، خو سره له د ې هم چې عیسی خېل د شمېر له مخې تر مروتو لږ ول د مروتو له لا سه مات نه شول ځکه چې د شخړو او جګړو په وخت کې په مجموع کې ټول نیازي او د هغې نه د عیسی خېلو د قبیلې ټول ښا خونه سره یو موټی کېد ل.

همد اراز که څه هم په پیل کې د عیسی خېلو د قبیلې د ښاخونو تر مینځ شخړې او لانجې لرې وې او خلکو د شخړو او لا نجو نه ډ ېره کوله، خود د راني احمد شاه د واکمنۍ په زما نه کې د د وی تر مینځ د قبیلې د سرد ارۍ او مشرۍ بر سر اختلا فونه ر او ټوکېد ل او د وی په خپلو منځو نو کې پر د وو ګوند ونو وویشل شول یعنې سنځله خېل، ممون خېل او با د ین زي په یوه ګوند کې وو او زکو ځېل په بل ګوند کې.

د د راني وا کمنۍ په وخت کې د عیسی خېلو مشهور مشران او سرد ارن په لاند ې ډول وو:

د لیل خان، خان زمان اواشپر خان.

همد اراز د انګرېزانو د واکمنۍ په وخت کې د د وی مشهور مشران عالم خان، سرفراز خان، عبد الله خان، غازي خان، شېر خان، حسن خان، محمد خان، نوازخان، خان زمان او حسین.

په او سني وخت کې عیسی خېل د پاکستان د پنجاب د میانوالۍ د ډسټرېکټ (ولسوالۍ)یو تحصیل د ی او د عیسی خېلو ښار د د غه تحصیل مرکز د ی. همد اراز کمر مشاني او کالا باغ هم همد لته مو قعیت لري.

میانوالي تر ۱۱۹ عیسوي کاله پورې د پخواني صوبه سرحد او اوسنۍ پښتونخوا یوه ولسوالي وه چې بنو یې مرکزو، خو بیا د بنو نه جلا او په پنجاب پورې وتړل شوه. د عیسی خېلو د تحصیل د وګړو شمېر ۷۶۳. تنه د ی او ۴۳ کلي لري.همد اراز د کالا باغ د و ګړو شمېر ۵۸۲٤ تنه ښود ل شوي د ي. د عیسی خېلو د تحصیل خلک د پښتو ژبې سر بېره په سرائیکي ژبه هم ګړیږي.[325]

د عیسی خېلو سېمه د ابا سین یا سند د ریاب په اوږد و کې تر د برشو میلو نه زیاته غځېد لې د ه، سوریې د ولس میله د ی او په د ریو خواوو کې لوړو غرو نو په غېږ کې نیولې د ه. د وی سیمه ډېره حاصلخېزه د ه چې پرېمانه او به او ګڼ شمېر نفوس لري او ډېر ښه کښت پکې کیږي.[326]

325 http://en.wikipedia.org/wiki/Isakhel_Tehsil

326 مونټسټوارټ الفنستن، د کابل سلطنت بیان، د پوهاند محمد حسن کاکړ او سر محقق نصرالله سوبمن ژباړه، د ویم ټوک، ٤٧ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 111 غلجي يا غلزي يا غرزي

غلجي په افغانستان کې تر د رانيو ورسته د پښتنو د ويم سترتـولنيزګـرو پ د ی چـې د پښـتني شـجرو اوروايتونو له مخې د بي بي متو او لاد ه ګڼل کيږي چې د بيټ نيکه لوروه. د غلجي د قبيلې نوم د خلجـي، غلـزي او غرزي په بڼو سره هم راغلي د ی.[327]

د غلجيانو په اړوند تاريخ پو هانو او ختيځ پيژند ونکو بېلا بيلې ليکنې کړي د ي. ځينې د وی ترکان او غزان بولي چې د غز نو يانو او سلجو قيانو د واکمنيو په وخت کې ا فغا نستان ته راغلي او د غزني او زابلستان په سيمو کې مېشت شوي د ي. ځينو بيا د وی د مغولي چنګيزخان د زوم خالج خان د نامه له کبله د وی خلجيان ګڼلي د ي او ځينو هم د وی د هفتا ليانوبقايا او پا تې شوني بللي د ي.

د افغانستان نامتو مؤرخ اروابناد علامه عبد الحی حبيبي د پښتواد بياتو په تاريخ کې د غلجيو پښتنو په اړوند د اسي کښلي د ي:

"خلجي، غلجي يا غلزي په اصل کې غرزی د ی چې په د ري ژبه کې يې کو هزاد بولي يعنې د غرو خلک چې د ا کلمه په غرچ، غر چه، غلچه او نورو ډېرو تا ريخي کلما تو کې شته او کله (غ) په (خ) هم او ښتی د ی او غلجی، خلجی شوی د ي او غلجي له لر غو نو زما نو د غزني په غرو او رغو کې اوسي او د زاولستان يا اوسني زابل پخواني خلک د ي."[328]

بار تولد وايي:

"د غرج، غرچ يا غرش کلمه يوه پخوانۍ ار يا يي کلمه د ه چې د مر غاب په ټا پو کې د اريا ئيانو استو ګنځي ته ويل کيږي."

تو ماشک عقېد ه لري چې:

د ګر Gar يعنې غر کلمه لر غونې با کتري کلمه د ه او غر چه د غزني د اريايي او سېد ونکو نوم د ی او له د ې کبله خلج، غرج او غر چ د غره زوی يا غرزی د ی.غر اوس هم په پښتو کې يوه ژوند ۍ کلمه د ه. د اوسـتا پـه"هـوم يشت" کې غر د ګيري په بڼه راغلی د ی چې په خرد ه اوستا کې هم ليد ل کيږي او په سنسکرېت کې هم ګير او ګيـري د غره په مانا د ی. ان عربانو پخواني ګر شاه ته د (ملک الجبال) لقب ورکړی و چې په عربي کې جرشاه د ی. په پښتو کې غر ځه، غر ځنی د غرني په ماناد ی چې د غر چه، غلچه او غلجي نوم هم له هغه ځايه راوتلی د ی.

عربي جغرافيا ليکونکو هم د ې ټکي ته اشاره کړې د ه چې غر د جبل په مانا د غر شستان او غـر جسـتان پـه

327 د کتور لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۱۹۷ مخ، د پېښور چاپ.

328 علامه پو هاند عبد الحی حبيبي، د پښتواد بياتو تاريخ لومړی او د ويم ټوک، ٤-٥ مخ، د پېښور چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخي نو مو نو کې د خيل و. ياقوت د البشاري په حواله وايي: چې غرج په اصل کې د غره په ماناد ی او خراساني مؤ رخينو چې د اکلمې له خپلو هېواد والو نه اوريد لي د ي هم د غر جستان نوم په اصلي بڼه غر ستان ليکلي د ی چې غر ستان د غره د اوسيد ونکو او د وی د استو گنې د ځای نوم د ی.

زمونږ د هېواد مشهور مؤرخ منهاج السراج جوزجاني د عربي مؤر خينو پر خلاف د غر جستان او غرشستان پر ځای غر ستان ليکلی د ی او د طبقات نا صري په زړو نسخو کې هم ثو واره غر ستان ليد ل کيږي.[329]

په هر حال غلجی يا غلزی يو پخوانی او لر غونی نوم د ی چې مانا يې د غره زوی د ی او د پښتنو غلجيانو لو مړنی نيکه غلجی با با و چې د رې زامن يې د رلود ل چې توران، تولر او بولر نو مېد ل چې د زامنو نو مونه يې هم زړو او لر غو نو اريايي نو مو نو ته ورته والی لري. د تور کلمه په اوستا کې هم شته او د انوم تر او سه هم په پښتو ژبه کې په بېلا بېلو بڼو (تور، تورانی، تورک، توری او توره کي) شته. همد اراز بولر يا بلور يوزوړ تاريخي نوم د ی چې د ګېلګته نيولی د نورستان تر سېمو خلکو باند ې اطلا قېد ه او د بارتولد په وينا تر اوسه پورې هم د هغه ځای ځينې تور پوښه قبايل ځانونه بلور بولي او د اکلمه تر اتلسمې پېړۍ پورې په چيني کتا بو نو کې ليد له کېد له.

د افغانستان په تاريخ کې د غلجيو قبيله ځکه د زيات اهميت نه بر خمنه د ه چې د وی د اتلسمې عيسوي پيړۍ په پيل کې د ميرويس خان هوتکي ۱۷ـ۹ـ۱۷۱۵عيسوي تر مشر تابه لاند ې وشول کولای چې په کند هار کې د صفويانو بيګلر بيګي ګرګين له مينځه يوسي اود يو خپلواک ملي د ولت بنسټ کيږد ي.

همد اراز د همد ې کورنۍ يو بل واکمن شاه محمود هوتکي په ۱۷۲۲ عيسوي کال کې ايرانی شاه حسين صفوي د واکمنۍ نه را وپرزاوه او پخپله د اصفهان پر تخت کښيناست.

غلجيانوپه هند کې هم واکمني چلولې د ه چې بنسټ يې د سلطان جلال الد ين غلجي له خوا په ۱۲۹. عيسوي کال کې ايښود ل شوی واورپسي د د غې کورنۍ نورو واکمنانو لکه:

سلطان علا ؤالد ين غلجي، سلطان قطب الد ين مبارکشاه غلجي، محمود غلجي او غياث الد ين غلجي په خپل وار سره پر هند و ستان واکمني کړې د ه.

د پښتو ژبې مشهور شاعر او د توري اوقلم خاوند ستر خوشال خټک په خپل کليات کې په هند کې د غلجيانو د واکمنۍ بنسټ ايښود ونکی سلطان جلا ل الد ين ۱۲۹.ـ۱۲۹۶ عيسوي په زغرد ه او صراحت سره غلجی بللی د ی لکه چې وايي:

بيا سلطان جلا ل الد ين پر سرير کښيناست چې په اصل کې غلجی د ولايت و[330]

329 قد رت الله حد اد، غرزی، غلجي او خلجی د تاريخپو هانو له نظره، د کابل مجله، ۳ ګڼه، ٤١ مخ، ۱۳۳۸ کال.

330 د خو شال خان خټک کليات، ٦٦٩ مخ، د کند هار چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 111.1 د غلجيو د قبيلې وېش

لکه چې د مخه وويل شول د غلجيو د ټولنيز ګروپ لوی نيکه غلجی بابا و. د غلجيو ټولنيز ګروپ په لو مړي سر کې په د وو سترو بنا خو نو ويشل شوي د ي چې لو مړی يې توران او د ويم ابر اهيم د ی.

د د ې لپاره چې توران د غلجي مشر زوی و نو ځکه د غه ښاخ لو مړی د رجه ګڼل کيږي. د توران ښاخ په د وو څانګو ويشل شوی د ی چې لو مړی يې هو تک او د ويم يې تو خی د ی چې د غه د وه عمد ه ښا خونه بيا پر نورو ېرو څانګو باند ې ويشل شوي د ي.

د غلجي د ويم زوی ابراهيم د وه زامن د رلود ل چې د هغه د شپږولمسيانو نه شپږ لوی ښا خونه رامينځته شوي د ي يعنې: سليمانخېل، علي خېل، اکا خېل، سهاک، اند ړ او تره کي.

د غلجيو د ټولنيز ګروپ مهمې قبيلې په لا ند ې ډول د ي:

هوتک، توخي، اند ړ، سليمانخېل، احمد زي، ابراهيم خېل، تره کي، اټوال، اد ين خېل، اکاخېل، الياس خېل، خروټي، امرخېل، اوريا خېل، حسين خېل، هود خېل، بابکر خېل، جبارخېل، کړو خېل، معروف خېل، ستانکزي، ستاني زي، پياروخېل، د ولت زي، د ستو خېل، څلوزي، زاري خېل، ټغر، جلال زي، څينزي، خد رزي، د رېکوټي، د فتاڼي(د وتاڼي)، د ينارخېل، زير ماني، ساک، سلطان خېل، شملزي، توتا خېل، اد ريمزي، علي خېل، عمر خېل، عيسی خېل، قلند ر خېل، کورم خېل، ګاړي، ملا خېل، ملک زي، نا صر، يو سف خېل، رستم خېل.

## 111.2 د غلجيو د قبيلې د استو ګنې سيمې

په اوسني وخت کې غلجي قبايل په افغانستان کې يوه پر اخه سيمه په ولکه کې لري چې د د وی د استو ګنې سيمې زابل، غزني، پکتيکا، ميد ان ورد ګ، لوګر، کابل، پروان، د پکتيا ځينې ولسوالی، د کابل او ننګر هارتر مينځ واد ی اولغمان او ننګر هار د ي.همد اراز د افغانستان په شمالي ولا يتونو لکه بغلان، کند ز، بلخ، تخار، سمنګانو، جوزجان، فارياب، سرپل، بلخ او هم د باد غيس او هرات په شاAوخواکې هم غلجي پښتنا نه استوګنه لري.

د افغانستان سر بېره ډېر شمېر غلجي په نورو هيواد ونو کې هم استوګنه لري. د تاريخ حيات افغاني په قول: د ايران په کرمان، نرمان، شمير جنس، اصفهان، د ازبيکستان په بخارا، هند وستان او د روسيې په د اغستان کې هم غلجي پښتانه استوګنه لري، خو د وی خپل د ود، د ستور او ژبه له لاسه ورکړې د ه[331]

په افغانستان باند ې د روسانو تر ير غل وروسته ډېر شمېر غلجي پښتانه پښتونخوا، سهيلي پښتونخوا او پاکستان ته لېږ د يد لي د ي چې ډېر شمېر يې په پېښور او کوئيټه کې د افغاني کډوالو په پنډغالو او يا هم په

331 تاريخ حيات افغاني، ۲۹۱ مخ، د پيښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصي او كرايي كورونوكې ژوند كوي. نورشمېر يې د پاكستان په نورو لو يو ښارونو په تېره بيا په كراچۍ كې په مزد وريو او خواريو او غر يبيو اخته د ي.

د غلجيو د ټولنيز گروپ د هرې قبيلې پېژند نه په خپل خپل رد يف كې شوې د ه.

# 112 غرغښت

غر غښت د پښتنو په قبيلو كې يو مشهور ټولنيز گروپ د ی چې په د غه ټولنيز گروپ پورې يو شمېر قبيلې، ښاخونه، څانگې، خيلونه او پښې تړ لې د ي چې پښتانه يې غر غښتيان هم بولي. غرغښت په پښتنو كې يو مشهور نيكه تېر شوی د ی او له پخوا زما نو نه مؤرخانو د د ه نوم او حال ليكلی د ی. په پښتني عنعنه كې هم غر غښت يو خورا لوی پښتو ن او مشهور نيكه گڼل كيږي. د د ې عنعنې تصد يق په بهرنيو مؤ رخينو كې ابو الفضل علامي (۱۔ ٦ هجري) چې د مغولي واكمن جلال الد ين محمد اكبر د د ربار نا متو مؤرخ اكبر او د شيخ مبارك ناگوري زوی او د مغولو د د ربار د ملك الشعرا ابوالفيض فيضي ورورد ی په د ې ډول سره كوي :

" په پښتنو كې د رې ورونه بيټنی، غرغښت او سړبن ډېر مشهور نيكونه د ي." [332]

د تاريخي روايتو نو پر بنسټ غر غښت د ۳۸۸ هجري كال په شا او خوا كې ژوند ی و.

پرو فيسور ولي محمد خان سيال كاكړ په خپل مشهور اثر" پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخواكې" د غر غښتي پښتنو په اړوند د اسې كښلي د ي :

" غرغښت په اصل كې له د وو كلمو نه مركب د ی چې غر او غښت د ی او د غه زړه اريايي كلمه د گور گښت، گر گښت او غر گښت نه راوتلې د ه چې مانا يې د غرو گر ځيد ونكي يا په بله ژبه د غرو او سيد ونكي او موږ غر غښتيان د غروال او غر زيو په نو مو نو سره هم ياد ولای شو."[333]

د روايتونو له مخې غرغښت نيكه د رې زامن د رلود ل يعنې د اني، بابي او مند و چې په د وی كې د د اني د اولاد ې شمېر د نورو په پر تله زيات د ی او د د اني په اولاد ه كې د كاكړو قبيله ډېره مهمه گڼله كيږي.[334]

غر غښتي پښتانه نه يوازې د ا چې په افغانستان، سهيلي پښتونخوااو پښتونخواكې مېشته د ي، بلكې د پاكستان د پنجاب په چهچه او هزاره او هند وستان كې هم ډېر شمېر غر غښتيان مېشته د ي.

---

332 ابوالفضل علامي، ائين اكبري، لومړی ټوك، ۱۹۱ مخ.

333 پروفيسور ولي محمد خان سيال كاكړ، پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخواكې، ۳۷ مخ.

334 تاريخ حيات افغاني، ۲۴۹-۲۵۔ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مجموعي ډول د غر غښتي پښتنو په ټولنيز ګروپ کې د الاند ينۍ قبيلې ډېرې مشهوري د ي:[335]

1. ساپيان
2. کاکړ
3. ناغر
4. د اوي
5. ګد ون يا جد ون
6. بابي
7. مند و خيل
8. پني
9. خوند ي
10. لود ين
11. مشوانې

# 113 غرشين

غرشين د پښتنويوه مشهوره او ستانه قبيله د ه. د تاريخ حيات افغاني ليکوال ډپټي محمد حيات خان له نن نه ۱٤٦ کلونه وړاند ې د غر شين قبيلې په اړه د اسې کښلي د ي:

" د غر شين د قبيلې د تسميې د وجې په اړوند د اسې ويل کيږي چې د د غې قبيلې ستر نيکه يو ډېر منلی او خد ای لما نځونکی انسان وچې د خپلې د عا له کبله يې يو وچ غر شين کړ، نو له همد ې کبله د د ه اولاد ه په غـــر شـــين سره مشهوره شوه. غرشين زياتره د کند هار په غر نيوسيموکې مېشته د ي اود وی ته خلک په د رنه ستر ګه ګوري. د غر شين د قبيلې څوکورنۍ د راولپينډۍ د بر هان د سيمې په غر شين نو مې ځای کې هم استوګنه لري. چې د د غـــې قبيلې نه لعل شاه يو ډېر ښه او منلی سړی و. "[336]

د پښتنو د غر شين قبيلې پورې تړلی يوستر شخصيت ملکيار غر شين د ی چې د ۵۸. هجري په شا او خوا کې يې ژوند کاوه چې د پښتنو مؤ رخانو د د ه نوم په خپلو مشاهيرو کې راوړی د ی او مشهور مؤرخ نعمت الله هروي پــه

335 http://en.wikipedia.org/wiki/Gharghasht

336 تاريخ حيات افغاني، ۱۷۸ مخ، د انش خپرند ويه ټو لنه، پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل تاریخ مخزن افغا ني کې لیکلي د ي چې ملکیار غر شین د شیخ ابو بکر طوسي معا صر و او په ډیلي کې یو ځـــای د رلود چې سلطان شها ب الد ین غوري د ملتان د یر غل په وخت کې د ه ته ور بخښلی و او د د ه مر قد هم هلته د ی.[337]

د نعمت الله هروي د د ې روایت نه څو سوه کاله د مخه سلیمان ماکو ٦١٢ هجري چې د پښتو ژبـــې لـــه پخوانیـــو لیکوالو او نثر لیکو نکو نه د ی د ملکیارغر شین په اړوند اسې لیکلي د ي:

" نقل کاوه شي چې په روزگار د غازي شهاب الد ین چې په ډیلي کې هغه ستر واکمن ځا ټوبی ورو ښاند ه او هم هورې مړ شو. نقل کاوه شي چې په جوبله (جګړې) کې مسلمانان تر شا ولاړل او کفارو بری وکړ. لیـــرې‌نـــه وه چـــې مسلمانان شي د کفارو په کتارو (نېزو) پو پنا او د ښنه (د ښمن) بری وکړي، نا څا په شیخ ملکیار راغی او پر د ښمن یې یر غل وکاوه او ډېر زښت یې ووژل. نرو مسلما نا نو هم د ملکیار تر اړخ توري وکښې او سره ومرورل یې د ښــــنه، ستر څښتن د وی ته په مېړانه د شیخ ورکړله سو به او بری چې پخوا هم نه وه په برخه شوې د چا، هیڅکله په هیڅ ځای کې"

د سلیمان ما کو له د ې بیانه جو تیږي چې ملکیار غر شین یو غښتلی او تو ریالی سړی وچې د تـــورې او اد ب له څښتنانو نه واود سلطان شهاب الد ین سره یې په جګړو کې ملګر تیا کو له. سره له د ې چې ملکیار غر شین د جګـــړو د ډګر اتل و اد بي ذوق یې هم د رلود. نوموړی پخپله هم شاعر و او د نورو پښتنو شا عرانو اشعار یې هم لو ستل.

ویل کیږي چې د جګړې په ډګر کې کله چې شیخ مکیار غر شین د سلطان معزالد ین د لښکرو ســـرمیـــو ځـــای جنګېد ه او نږد ې وچې د سلطان لښکرې ماتې وخوري نو د ې توریالي اد یب د لښکرو د مورال د لوړلو لپاره‌یـــوه د ننګ او غیرت نه ډکه سند ره و ویله چې ژوبله ور راوپارېد ل او پر د ښمن یې بری تر لا سه کړ.سلیمان ماکو لیکي: په جوبله کې ملکیار د ا پاړکي وویل چې غا زیان وپارېد ل او په څېر د زمر یو ورتوی شول:[338]

څښتن مو مل د ی        اوس مو یرغل د ی
هېواد د بل د ی        غازیانو ګورئ
څښتن مو مل د ی

توري تېرې کړئ        د ښن مو پرې کړئ
منګولې سرې کړئ        څله به تښتو
څښتن مو مل د ی

که ټینګ کړو زړونه        پر برې یونه

337 پوهاند علامه عبد الحی حبیبي، د پښتواد بیاتو تاریخ، لومړی او د ویم ټوک، ٥١. مخ، د انش خپرند ویه ټولنه، پېښور

338 د سلیمان ماکو تذ کرت الاولیا، د ملکیار غر شین حالات.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زمري يو نه اسلام را څخه د ی

ښښتن مو مل د ی

غازيانو راشئ ټول شا اوخواشئ

د شهاب په ملا شئ د ښن مو غوڅ کړئ

ښښتن مو مل د ی

ملکيار غرشين په ډيلي کښې اوسېد ه او هماغلته مړشو او په د غه ښار کې د شيخ ابوبکر طوسي له مزاره سره يو ځای ښخ د ی. د شيخ ابوکبر طوسي مزار په اوسني وخت کې د پورانا کلا او د پرګتهي ميد ان تر مينځ په يوه لوړ ځای کې موقعيت لري.[339]

# 114 غوريا خېل

چې د استا د نامې بوی اخلي حميد ه!

څه به نه وي خوش د ماغه غوري، خښي

(حميد بابا)

زموږ پښت پو هان او تو کم پيژند ونکي غوريا خېل سړبني پښتانه ګڼي او د پښتنو د عنعنوي شجرو پر بنسټ غورياخېل د سړبن د زوی خر شبون اولاد ه د ه. ويل کيږي چې خر شبون د ري زامن د رلود ل کند، جمند يا ځمند او کاسي. کند بيا د وه زامن د رلود ل يو يې غری يا غوريا نو مېد چې د هغه او لاد ې ته غورياخېل ويل کيږي او د ويم زوی يې خښی يا خوخي نو مېد چې د خښي او ښاخي خېلو په نامه سره هم ياد ېږي چې يوسفزي، مند ړ او تر کلاڼي يې اولاد ه د ه.

د روايتونو پربنسټ غوريا څلور زامن د رلود ل: لومړی د ولت يار چې د نوموړي له اولاد ې نه د مو مند و او د اؤد زيو د وه مهم ښا خونه مينځ ته راغلي د ي، د ويم زوی يې خليل و، د ريم يې ځمکنی او څلورم يې زيړان نو مېد چې اولاد ه يې د زيړانيو په نامه ياد يږي.[340]

د اسې مستند او تاريخي روايتونه شته چې په پيل کې غوريا خېل د کند هار په ارغستان کې مېشت ول چې وروسته بيا د غزني سهيلي او لو ېد يزو برخو ته وليږد ېد ل چې غا لبا به د غه وخت د ۹۱. هجري کال په شا او خواکې

---

339 د ځينو پښتو زړو لغاتومعناوې په قو سو نو کې تو ضيح شوي د ي (ياد )

340 پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، ۲_ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچې په کابل کې د بابر د واکمنۍ لومړۍ شپې او رځې وې. د اسې ویل کیږي چې په هغه وخت کې د د غې قبیلې ټول خلک پووند ه او د مالد ارۍ په کارونو بوخت ول، خو څرنګه چې وروسته د د غې قبیلې د خلکو په شمېر کې زیاتوالی راغی نود وی بیا له غزني نه د کابل شا اوخواته راولیږد بد ل.[341]

د پښتنو د تاریخ مؤلف اروابناد قاضي عطا ؤالله خان د غوریا خېلو پښتنو په اړوند د اسې لیکلي د ي:

" مومند و، خلیل او د اؤد زیو ته غوریاخېل وایي. غوریاخېل د ۱۴۵. عیسوي کال په شا اوخواکې د غزني لوید یز ته د تر نک سیند پر غاړو اوسېد ل چې بابر په خپل تزک کې د غوریا خیلو د قبیلې د استو ګنې ځایونه د مشد او سمګانه کلي ښود لي د ي او تر څېړنو وروسته د ا جوته شوه چې نو موړي کلي د غزني جنوب ته پراته د ي. کله چې بابر د غلجیو د سیمې د ویش لپاره په ۱۵-۷ عیسوي کال کې غزني ته روان شو او د سرد ه په مقام کوزشو(سرد ه ۲۵ یا ۳. میله د غزني سویل ته موقعیت لري) نو بابر وایي چې ما ته خبر وشو چې د مو مند وځینې قبیلې په مشد او سمګانه کې پرتې د ي. امیرانو ماته وویل چې د د وی لوټ کول په کارد ي، خو بابرو ایي چې ما ورته وویل چې موږ خپل رعیت ته نقصان رسول مناسب نه ګڼو."[342]

لکه چې د مخه وویل شول غوریا خېل لو مړی د کند هار په ا رغستان کې ا وسېد ل بیا له هغه ځایه غزني او له غزني نه کابل ته راولیږد بد ل.

د تاریخ حیات افغاني د لیکنې پر بنسټ وروسته بیا غوریا خېل له کابله ننګر هار ته ولېږد بد ل او ننګر هار ته تر تلووروسته یې چې کله په شمېر کې نورهم زیاتوالی راغی د خیبر د تاریخي د رې له لارې پېښور ته ولېږد بد ل او د د لا زاکو د قبیلې سره چې لا د مخه یې پر پېښور باند ې قبضه ټینګه کړې وه د سلطان پورې په سیمه کې چې خلکوو رته په هغه وخت کې جنګ پوره هم و یله د غوریا خېلو او د پښتنو د لا زاکو تر مینځ خو نړۍ او سخته جګړه پېښه شوه. د یوه روایت له مخې میرزا کا مران د د ې لپاره چې د غوریا خېلو ځواکمنه قبیله د همایون سره د جګړې لپاره د ځان ملګرې کړي په د غه جګړه کې یې د غوریا خېلو سره مر سته وکړه چې په پایله کې د لا زاکو ماتې وخوړله چې ځینې خلک یې د جګړې په ډګر کې ووژل شول او ځینې یې هم د هزار خانې په نهر کې ډوب شول. که څه هم د غه نهر د ومره ډېرې او به نه د رلود لې چې څوک د ې ډوب کړای شي، خو د تصاد ف له مخې په د غه ورځ د د غه نهر په پورتنۍ برخه کې د ومره ډېر باران اورید لی و چې د د لا زاکو جنګیالي یې ډوب کړل.[343]

پر د لا زاکو باند ې د غوریا خیلوتر د غې سوبې او بر یالیتوب وروسته د غه سیمه د مو مند و، د اؤد زیو او خلیلو لاس ته ورغله او د لازاک د لنډي سیند نه پورې وتل او د لنګر کوټ په میره او نورو ځا یو نو کې مېشته شول. بیا وروسته هغه وخت چې د یوسفزیو مشر خان کجو و نو د غوریا خېلو او یو سفز یو تر مینځ د شیخ ټپور په سیمه

---

341 حیات افغاني، ۲۳۶- ۲۳۷ مخونه، د ښنور چاپ.

342 د پښتنو تاریخ، قاضي عطاؤالله خان، لو مړی ټوک، کابل ۱۳۵٦

343 حیات افغاني، ۲۳۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې سخته جګړه شوه او غو ر یا خېلو ته سخت زیان ورسید، په تیره بیا د غوریا خیلو د قبیلې د خلیلود ښـاخ خلــک چې ډېر جنګیالي وو زیات شمېر کسان یې ووژل شول، خو د د وی د ماتې سره سره بیا هم یوســـفزیو د د ې جرئـت ونکړ چې د د وی پر سیمو باند ې قبضه وکړي. د د غې قبیلې ملک یا خان ته په پېښور کې غوریا خېل ارباب وایي.[344]

د پښتنو ستر شاعر رحمن بابا (۱۶۵ـ-۱۷۱۵)، ستر مؤرخ او قانونپوه اروابناد قاضي عطا ؤ الله خان (۱۸۹۵-۱۹۵۲)، او د خد اي خد متګارو د تحریک غړی ژبپوه او فیلا لو جیسټ اروابناد حسین بخش کو ثر غوریا خیـــل (مـــړ ۱۹۹ـ) د غوریا خیلو پښتنو قبیلې ته منسوب ول.[345]

د اخبره هم د یاد ونې وړ د ه چې د خپل اصلي ټا ټوبي نه د غوریا خېلو د لېږد په وخت کې د د وی یو شـــمېر په غزني، لو ګر، کابل او ننګر هار کې پا تې شول چې د ځینو اولاد ه تر اوسه هم په د غو سیمو کې شته.

د غوریا خېلو د سترې قبیلې د بېلا بېلو ښاخونو لکه مومند و، خلیلو، څمکنیو، د اؤد زیو او زیړ انیو یاد ونه د د ې مقالو په لړ کې په الفبایي تو ګه سره شوې د ه.

# 115 کاسي

زموږ پښت پوهان او توکم پېژند ونکي، کاسیان د پښتنو د سړبن په ټولنیز ګروپ پورې یوه اړوند ه قـــبیله ګڼي. د پښتنو د عنعنوي شجرو له مخې کاسي د شر خبون زوی او د سړبن نیکه لمسی د ی. شر خبـــون د رې زلمـــن د رلود ل چې کند، زمند (ځمند )ا و کاسي نو مید ل.[346]

د کاسیانو د قبیلې زیاتره خلک د سهیلي پښتونخوا په مرکز کوئیټه او کچلاغ کې اوسي.

د پښتونخوا نا متو مؤرخ سید بهاد رشاه ظفر کاکا خیل په خپل مشهور اثر "پښتانه د تاریخ په رڼا کې" د کاســـي پښتنو په اړوند د اسې کښلي د ي:

" د پټې خزانې د روایت نه معلومیږي چې د خر شبون په اولاد ه کې د کند او زمند (ځمنـــد ) اولاد ه د غـــوړې مرغۍ نه لومړی د غزني او ورپسې د کابل او پېښور د واد ۍ په لور مها جرت وکړ. په د غه وخت کې کا سیان ښېرته د سلیمان غره ته لاړل او هلته مېشته شول، البته د د وی یوه قبیله چې شینواري د ي د خاښي خیلو سره مها جرت وکړ او د خیبر په غر نیو سیمو کې میشته شول چې تر اوسه پورې هم هما غلته اوسیږي."[347]

"د پښتنو قبیلو د شجرې او مېنې" په نامه اثر کې د کا سیانو پښتنو د قبیلې په اړوند د اسې راغلي د ي:

---

344 نوموړی اثر ۲۳۷ مخ.

345 **http://en.wikipedia.org/wiki/Ghoria_Khel**

346 د کتور لطیف یاد، پښتني قبیلې، ۲ـ۴ مخ.

347 پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۱۳۲۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د تاریخونو په حواله ویل کیږي چې کا سیان نږد ې اووه سوه کلو نه پخوا د سلیمان له غره نـــه د کچلاغ پـــه سیمه کې مېشته شول اوورپسې د کوئټې ښار ته راولیږد ید ل. د کا سیانو لو مړني خانان د عر ب خیلو مشـــران وو. ورپسې د انګرېزانود واکمنۍ په وخت کې د کا سیانو د قبیلې مشري ارباب خیلو ته ولیږد ید له چې اوس په کو ئټــه کې ډېر مشهورد ي."[348]

په کوئټه کې د کا سیانو کلي د د وی د ښاخونو او خیلونو په نومو نو سره شهرت لــري د بیلګــې پــه ډول د علمو چوک چې د ملک عالم خان کاسي د نامه په وجه د علمو د چوک په نامه سره یاد ېږي اویا هم سمن ګلي چې مشر یې عثمان خان کاسي و او همد اراز احمد خان زي چې پخوانی ارباب یې نواز کاسي و.

د کاسي د قبیلي خلک خپل مشران د ملکانو او اربا با نو په نامه سره یاد وي. د سمنګلی کلی چې دکـا ســیانو د یوه مشر نیکه سمن خان په نامه سره په سمن ګلي سره یاد ېږي او د کا سیانو د ۸. په شا وخواکې کورنۍ پکــې ژونــد کوي.[349]

په ۱۸۹۵ میلاد ي کال کې چې په کو ئټه کې کو مه زلزله وشوه او د کوئټې په ښار کې یې لویه تبا هي راوستله نود بد ه مرغه د کا سیانو د قبیلې خلکو ته پکې د سر د رانه زیا نونه ور ورسید ل چې ویــل کیـــږي د د وی دټــول نفوس اوومه برخه ژوند ي پا تې شول او پا تې نور یې د زلزلې قر باني شول.

کاسیان په عمومي تو ګه میلمه پالونکي، ننګیالي، توریالي او په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک د ي. د وی د ښو کړو وړو څښتنان او په علم او پو هې ډېر مین خلک د ي اود نورو پښتنو په تناسب د علم او پو هې کسان پکې ډېر د ي.

تاریخ حیات افغاني تقر یبا ۱٤٦ کلونه وړاند ې د کاسي د قبیلې د ښا خونو شمېر ۱۱ ښود لي د ي چې د ځینو نـــو مو نه یې په لاند ې ډول د ي:

الوزي، ژمریاني، محمد زي، موسیغ، سیرون، کیتران، سام، سلټ، همړ، شینواري.[350]

د کاسي قبیلې د ځینو مشهورو کسانو نو مونه د اد ي:[351]

1. ارباب عبد الظا هر کاسي
2. میر ایمل کاسي
3. شهید غلام حسین کاسي

---

348 د پښتنو قبیلو شجرې او مېنې، د پو هنوال محمد عمر روند میا خیل تالیف، ۲۱۳، ۲۱٤او ۲۱۵مخونه.

349 د د ې مقالې د لیکوال (د کتور لطیف یاد ) شخصي یاد اشتونه.

350 تاریخ حیات افغاني، د د کتور لطیف یاد او فرهاد ظریفي پښتو ژباړه، د پیښور چاپ، ۲٤۷-۲٤۸ مخونه.

351 http://wiki.answers.com/Q/Kasi_tribe_of_pashtun

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. نواب ارباب محمد عمر کاسي
5. نواب ارباب خد اید اد خان کاسي
6. ارباب عبد القاد ر کاسي
7. د رمحمد کاسي
8. ډاکتر عبد القیوم کاسي
9. ډاکتر عبد الملک کاسي
10. ملک ګل زمان کاسي

# 116 کاکازي

کاکازي چې لوی ماموند یې هم بولي له اره ترکلاڼي یا ترکاڼي پښتانه د ي او د ماموند و د قبیلې یو ښاخ ګڼل کیږي او ترکاڼي په اصل کې ښاخي خیل پښتانه د ي چې د پښتنو د سړبن په ټولنیز ګروپ پورې اړه لري.

د تاریخي روایتونو پر بنسټ یوسفزي، مند ړ او ترکاڼي یا ترکلاڼي په مجموعي ډول د ښخي یا ښاخي خیلو پښتنو په نامه سره یاد یږي. د اسي ویل کیږي چې د د وی اصلي ټاټوبی د کند هار د ار غستان په حد ود وکې د غونډان او سره غره په شا اوخوا کې سیمه وه چې وروسته بیا د ځینو ټولنیزو عواملو په وجه له هغه ځایه لومړی د غزني د مقر سیمې ته او تر هغې وروسته د کابل شا او خوا ته ولیږد ید ل. په هغه وخت کې مغولي میرزا الغ بیګ د کابل واکمن و. تر څه مود ې وروسته د ښاخي خیلو او میرزا الغ بیګ تر مینځ اړیکي مخ په خرابېد و او ترینګلي شوې. همد ا وجه و چې میرزا الغ بیګ د یوسفزیو او په مجموع کې د ټولو ښاخي خېلو اته سوه تنه مشران میلمانه او وروسته تر هغوی یې د وی بې وسلې او بیا یې ټول له تیغه تېر کړل.[352]

ترد ې خواشینوونکي او زړه بو ګنونکې پېښې وروسته ښاخي خېل د ننګر هار خواته ولیږ د ید ل.ترکلا ڼیو په لغمان کې واړول او یو سفزي، ګګیاڼي او اتمانخیل [353] په ننګر هار کې او سېد ل. وروسته د غه د رې واړه قبیلې د خیبر د تاریخي د رې له لارې لو مړی پېښور او بیا د خپلو استوګنې په او سنیو سیمو، سوات، د یر او با جوړ کې مېشته شوې. تر کلا ڼي هم څه مود ه وروسته میرزا الغ بیګ ته د لغمان د خلکو د شکایت په وجه له هغه ځا یه ولیږ د ید ل او با جوړ ته لا ړل چې تر او سه پورې هما غلته مېشته د ي.[354]

352 د کتور لطیف یاد، پښتني قبیلې، ۸۱ مخ، د پېښور چاپ.
353 اتمانخیل په اصل کې کرلاڼي پښتنا نه د ي.
354 پیر معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خاني، ٦-٧ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لغمان کې د ترکلانیو د مېشته کېد و او بیا له هغه ځایه د د وی د لیږد په اړوند ډېر تاریخي مستند رو ایتو نه شته، د بېلګې په ډول ابوالمحمود مو لوي هد ایت الله سود روي وزیر اباد ي په خپل کتاب هد ایت افغا ني [355] کې او خان روشن خان په تذکره خان روشن خان کې [356] د کاکا زیو او په مجموع کې د تر کلا نیو د قبیلې یاد ونه کړې د ه او ویلي یې د ي چې د وی د لغمان په سره کلا او سه صد ه کې او سید ل چې د سه صد ه په نامه کلی تر او سه هم د لغمان پـــه ولا یت کې شته۔

لکه چې د مخه مو وویل کاکازیو ته لوی ما موند هم وایي۔ لوی ما موند د ماموند و د سیمې په جنوب خـــتیز او جنوب لوید یز کې مېشته د ي۔ په ختیز کې د لو یو ما موند و او سا لارزیو تر مینځ برېد (حد ) د ملا سید غر د ی او د لو یو او وړو ما موند و تر مینځ برید لوی خوړ د ی۔[357]

د لویو ماموند و یا کا کا زیو د مشهورو خیلو نو نومونه په لا ند ې ډول د ي: [358]

د ولت خېل، خلوزي، مسعود خېل، عمر خېل، یوسف خېل، سلیمان خېل او مغد ود خېل۔

1. په افغانستان کې د کا کا زیو یا لویو ما مو ند و د استو ګنې سیمې د اد ي : کاکازي یا لوی ماموند د افغانستان د کو نړ ولایت په مرورې، شوړتن، بر کانې، د انګام او پیچ د ره کې او سیږي۔
2. په پښتونخوا کې: کاکا زي یا لوی ما موند د پښتونخوا د باجوړ ایجنسۍ په غاښي، شبنتر، ذکي، کټوټ، ګیـــري، زري، ترخو، لغړۍ، کالوزۍ، کره، موخه او میانه کې او سیږي۔ همد اراز په پېښور او ایبټ اباد کې هم استوګنه لري۔
3. په سهیلي پښتونخوا کې: د سهیلي پښتونخوا په کو ئټه او پښین کلي کا کا زي کې۔
4. په پاکستان کې: یو ډېر شمېر کاکازي د پاکستان په لاهور، کراچۍ، کشمیر، جهیلم، بهلوال، سرګود ا، سیالکوټ، د یره غازي خان، چکوال، عیسی خیلو او موسی خېلو کې استوګنه لري۔
5. په هند وستان کې: په هند و ستان کې کا کا زي د پنجاب ایالت په ګرد اس پور، بابل چاک، فیض الله چاک، ست کو ها، وزیر چاک او د هاریوال کې استوګنه لري۔

د کاکا زیو د ځینو مشهورو کسانو نو مو نه په لاند ې ډول د ي: [359]

1. د پاکستان ډېټې اډېټور جنرال ریحان ملک

---

355 هد ایت افغاني معروف په تاریخ کاکازي، د مولوي هد ایت الله سود روي وزیر اباد ي تالیف، په اردو ژبه ۱-۷-۱۱۷ مخونه، ۱۹۳۳کال، د وزیر اباد چاپ، لاهور۔

356 تذکره خان روشن خان، ۱۷۶ -۱۷۷ مخونه۔

357 د پښتنو ټولنیز-اقتصاد ي جوړښت، ۳۲۵ مخ، د پښتو ځېړنو نړیوال مرکز، ۱۳۶۲ کال، کابل۔

358 http://en.wikipedia.org/wiki/Kakazai

359 http://en.wikipedia.org/wiki/List_of_Kakazai_people

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. بهاد ر یار خان سیاسي شخصیت او د محمد علي جناح ملګری
3. غلام احمد بلور
4. منیر احمد خان
5. ډاکټر اشفاق احمد
6. جسټیس عبد الو حید خان
7. اسما جها نګیر
8. شعیب ملک د پاکستان د کر یکیټ ټیم پخوانی کپټان
9. ډاکټر رضوان ملک

# 117 کاکړ

زموږ پښت پوهان او توکم پیژند ونکي کاکړ د پښتنو د غرغښت په ټولنیز ګروپ پورې یوه اړونـد ه‌قـبیله ګڼي. د پښتنو د عنعنوي شجرو د روایا تو له مخې د غر غښت د زوی د اني په څلورو زامنو کې کا کړ تر ټو لو مشرو چې اولاد ه یې نن په یوه لویه او پر اخه سیمه کې پر اته د ي.

د یوه بل روایت پر بنسټ کاکړ د کاک نیکه او لاد ه د ه چې د هغه د نامه له کبله په کاکړو سره مشهور شــوي د ي او د اسې ویل کیږي چې کاک نیکه یو زاهد او نیک انسان و چې د سلطان غیا ث الد ین غوري د واکمنۍ په وخت کې وفات شو او مزار یې د هرات د جامع جومات ته څېر مه د ی.[360]

په پخوانیو زړو تاریخي متو نو کې د کاکړو اصلي او پخوانی ټا ټوبی د کا کړ ستان په نامه یاد شــوی د ی او تر اوسه پورې د سهیلي پښتونخوا خلک د ژوب او بورې تاریخي ناوې د کا کړستان په نامه یاد وي.

په تاریخ حیات افغاني کې د کاکړو د سیمې په اړوند د اسې راغلي د ي:

" د کاکړو د ملک شمالي خواته د غلجیو د سیمې جنو بي برخې پر تې د ي، شمال لوید ېز ته یــې د ارغســتان سیمه او هم د توبې هغه برخه مو قعیت لري چې اڅکزي د رانیان پکې او سیږي. لوید ېز او سهیل ته یې د بلو چســتان سیمه د سپینو ترینو د علا قې یوه برخه او د سلیمان غره یو ښاخ پروت د ی. د کاکړو ټوله سېمه له هرې خوانه د سلو میلو په اند ازه پلنوالی لري او ټوله سېمه یې غرنۍ او د غرونو له خوا احاطه شوې د ه او تر ټو لو لوړ غر یې د شمال نه جنوب خواته غځید لی د ی. که چیرې د د غه غره د لوید یزې خوانه څوک شمالي خواته راشي نو لو مړی به د سیو

---

360 د کتور لطیف یاد، پښتني قبیلې، ٤۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناد اغ سیمې ته راورسیږي چې یو لوړ مید ان د ی چې یوازې د ځارویو د څرولو لپاره مناسب ګڼل کیږي، خو لوید یز ته یې ډېرې لو یې واد ي ګانې چې د غرونو تر مینځ پرتې د ي شته چې په هغو کې د تورې مرغې، برشور، ترین، توګي او هنه واد ي ګانې ډېرې مشهورې د ي." [361]

اروابناد استاد عبد الرؤف بینوا په خپل مشهور اثر پښتونستان کې د کاکړو سیمې د اسې راپېژني: [362]

1. د برشور واد ي یا د ره: د غه واد ي له لوړې چینې نه پیل او د پشین تر سیمې پورې غځید لې د ه، شمال ته یې د توبې سیمه د ه. په د غې د رې کې د کاکړو د قبیلې د تره غري او سنتیا بناخونه اوسیږي.

2. د هنه د ره: د هنه واد ي د شال د علاقې سره لګید لې د ه. د اعلاقه د افغانستان د ټولواک اعلیحضرت احمد شاه بابا ابد الي له خواد قلات والي نصیر خان ته د د ه د هغه خد متونو په بد ل کې ورکړل شوې وه چې د ه ورته سر ته رسولي ول.

3. د کنچوغې د ره: د ایوه تنګه د ره د ه چې د کنډ د غره لوید یز ته پرته د ه چې ډېرې بنې ځمکې لري او زیاتره ځا یو نه یې بنه اباد د ي. د پسرلي په مو سم کې د د غې د رې غرنۍ سیمې شنې او له ګلانو نه ډکې وي. د کنچوغې د واد ي پورتنۍ برخه تنګه، خو کښتنۍ بر خې یې په تد ریج سره پراخیږي او تقر یبا د ېرش میله اوږد والی لري. په د ې سیمه کې د کاکړو د قبیلې د سنتیا بناخ استوګنه لري اود د ې سیمې خان په ورګس کې اوسیږي.

4. د بوري سیمه: د ایوه بنه اباد ه او زرخېزه سیمه د ه. یورود هم پکې بهیږي. د د غه ځای ځمکې په غر نیو ویالوسره خړوبیږي په د ې سیمه کې د کاکړو د قبیلې د ولس بنا خونه اوسیږي چې په د غو د ولسو بنا خونو کې د اري خیلو د بناخ د خلکو شمېر زیات د ی.

په پو رتنیو سیمو سر بېره توره مرغه، ترین او تو ګي یې هم مشهورې د رې او سیمې د ي.

پرد ې برسېره د سهیلي پښتونخوا په لا ند نیو سیمو کې هم کا کړ ژوند کوي: [363]

1. د کوئیټې په هنه، غبرګ .کچلاغ، سره غوړګی، نوی کلی اوکوټوال کې. د

2. د زیارت په ړرند ه، ورچوم .احمد ون، ګوګی، چونګی، کڅ، منه، چینه، سنځاوی، ریګوړه، سملن اوپوځ .بغاوه کې.

3. د مسلم باغ په کان مهتر زی، تور غبرګی اوچرمیان کې.

4. د کاریزات په خانزی، بلوزی، شرنه، ګوال، خانی، زرغون اورود ملازی. کې.

---

361 تاریخ حیات افغاني، پښتو ژباړه د لطیف یاد او فر هاد ظریفي، ۲۵۱ مخ.

362 پښتو نستان، د اروابناد عبد الرؤف بینوا اثر، ۱۳۷ مخ، ۱۳۳. کال، د کابل چاپ.

363 د پښتنې قبیلې شجرې وپیژ نئ په فیس بوک کې د بنا غلي محمد فاروق خان کاکړ مقاله "د کاکړو قبیله"

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. د سيوي‌په کړک، خجک، زرد الواوکهوست کې.

6. د ږوب په شيرک کلا، مرغه کيبزی، شاهيغالو، پلن کلی، بند ات موسی زی، قمر دين، لاکا بند، لغبرگی، سورکڅ، مينا بازار، زاروزي، زرد او مسافر پور کې.

7. د کلای سيف الله په گوال حيد رزی، شرن جوگيز، تريخ کلی، سيب زي، باران کلی.چارگل برج، تانيشپه، تنگی زيرت، کلی چينه، سنځل بند .باغ اوانځرگی کې.

8. د .لورلايي په بوری، پټانکوټ، زنگي واله، پوټی.ټاټی، باور، د رگی شبوزي، ميختز، کينگری، راړاشم، ږړ کاريز، رود لين، خانکی، اصغر لون، اونوا کلی کې.

9. د پشين په سرانان، ياروبرشور اوتوبه کاکړي گانگلزی کې.

10. د چمن په نورک سليمانخيل، مئ زی، حبيب ز، .عبد الرحمان زی اومجک کې

## 117.1 د کاکړو د قبيلې ښاخونه

د کاکړو قبيله په ډېر زياتو ښا خونو او څانگو با ند ې يشلې شوې د ه خو د لته به د د غې قبيلې د ځينو مشهورو ښاخونو ياد ونه وکړو:

### 117.1.1 سنځر خېل

د رواياتو له مخې سنځر نيکه يو تورزن مشر او منلی روحاني شخصيت و چې د مغولو پر خلافې اوږد ې مبارزې کړي د ي او يل کيږي چې د د ه مزار د ژوب په کوسه نومي ځای کې د ی چې ډېر شمېر خلک د د ه مزار ته ورځي.

پروفيسر ولي محمد خان سيال کاکړ د سنځر خېلو کاکړو په اړوند په خپل کتاب" پښتو او پښتانه‌په سهيلي پښتونخوا کې" کې د اسي ليکي:

"د کاکړونوابي او سرد اري له پخوانه د سنځر خېلو په لاس کې د ه او د وی د شمېر له پلوه د کاکړو تر بل هر ټبر زيات د ي."

د سنځر خېلو ښاخ په لاند نيو څانگو او خيلو نو باند ې ويشل شوی د ی:

علي زي، عبد الله زي، کب زي، برن خېل، سنخېل، هر مز ئي، تيمني، عرب خېل، پنيزون، نيسي، کد يزي او د ومړان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 117.1.2 سنتیا

د اهم د کاکړو یو ښاخ د ی. د تاریخي روایتو نو له مخې د وی د سنتې نیکه او لاد ه د ي. د تاریخ په اوږد و کـــې سنتیا کاکړانو ډېرې تورې وهلي او تا ریخي رجال او شخصیتونه یې پید ا کړي د ي. په کا کړو کې د شمېر له پلوه لـــه سنځر خیلو وروسته د سنتیا کا کړو شمېر زیات د ی. هیبت خان کاکړ چې د خانجهان لود ي له لوري د سمانا حـــاکم او د مخزن افغاني په تالیف کې لویه برخه لري د سنتیا کا کړو نه و.

د وی په هند وباغ، کان مهتر زي، کچلاغ، هنه، سره غوړگی، سره خوله، نو حصار، غبر ګ غو ځکی، خانوزي، بلوزي، رود ملازي، مستنګ او په ځینو نورو ځایو نو کې میشته د ي.[364]

د کا کړو د سنتیا ښاخ په لاند نیو خیلو نو ویشل شوي د ي : پانیزي، مهتر زي، بازیان، سا رینګ زي، شموزي، ملا زي او عیسی خېل.

## 117.1.3 تره غري

د کاکړو د غه ښاخ د کاکړ ستان د بوري د تاریخي ناوې په موسی خېل تحصیل کې مېشته د ي. په کند هار، زابل، سیوۍ او د غزني په ولایت کې له پخوانه موسی خېل کا کړ استوګنه لري.

## 117.1.4 کسایي

کسایي د کاکړو ښاخ د ی چې د شال په د ره کې استوګنه لري، خو احمد شاه ابد الي د ا د ره د بلو څو مشر نصیر خان ته د هغه د خد متو نو په بد ل کې ورکړې وه.اوس د غه د ره د بلو چستان یوه برخه ګڼله کیږي.[365]

همد ارازپه بیلا بیلو تاریخي منا بعو او اثارو کې د کاکړو د قبیلې شجرې کښل شوي د ي چې د ځینوښا خو نو نو مو نه یې د اد ي: سام خېل، یونس خېل، موسی زي، تره غري، سر ګړي، د رپي خېل، جلال خېل، ختن خېل، چرمي خېل، زڼغوزي، سپین، سوران، عیسی زي، یعقوب زي، شاد ي خېل، با جو خېـــل،لیـــوب خېـــل، منـــد وزي، شـــاد زي، انګوزي، فاطمه زي، انوزي، الیاس زي، تاجوزي، مما خېل، با جو خېل، سالار خېل، سود ان زي، علي خېل، برات خېل، هرم زي، اتمان خېل، کیوي، خضر خېل، عبد لزي، شازي، زکوزي، مرزي، غوري زي، ملي زي، امیزي، ابر اهیـــم زي، انوزي، محمد زي، رجر زي، حسن خېل، یا سین خېل، احمد زي، کمالزي، ابو سعید زي، مرد ان زي، اد و خېل، شـــکور خېل، سنتیا، پا نیزي، مهترزي، بازیان، سارینګزي، شموزي، عیسی خېل، موسی خېل، سنځر خېل، تره غري، کســـایي،

---

364 پرو فیسر ولي محمد خان سیال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې ۷۷-۷۸ مخونه.

365 قاضي عطاؤالله خان، د پښتنو تاریخ، ۲۸ مخ، د کابل چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښيزون، موسی زي، د رپي خېل، سام خېل او نور...[366]

## 117.2 د کاکړو قبیلې ته یوه ځغلنده کتنه

په سهيلي پښتونخوا کې د کاکړو د قبیلې خلک په مجموعي تو ګه د کرنې او مالد ارۍ په چارو بو خت د ي، خو د د وی د کر نې ځمکې د د وی ورځنۍ اړ تیاوې نه شي پوره کولای. ځینې کاکړ کو چیاني ژوند لري او د خپلو رمـو او ګلو په د رلود لو خپل ژوند پر مخ بیایي.ځینې خلک یې د سو د اګر یوپه چارو هم بو خت د ي. د د وی د ود ونه او رواجونه کټ مټ د د وی د نورو پښتنو ګاونډیو قبیلو په څېر د ي.

کاکړ زړور، غیرتي او په پښتني ننګ او ناموس ټینګ خلک د ي. د وی همد اراز میلمه پالو نکـي د ي. د وی سپین زړي اد د زړه او خو له خبره یې یوه وي. د کاکړو خلک د اتڼونو او مو سیقۍ سره ډېـره مینـه لـري. د د وی کاکړۍ غاړې ډېرې مشهورې د ي.

کاکړ په علم او پو هې مین خلک د ي له همد ې کبله د ه چې د د وی په قبیله کې ستر عالمان، پو هان، شـاعران، مورخین او لیکوالان تیر شوي او اوس هم شته د ي.

د سهیلي پښتونخوا نه پر ته ډېر شمېر کاکړ په افغانستان، پښتونخوا، پاکستان، هند و ستان او ایـران کـېـهـم استوګنه لري.

په افغانستان کې کاکړ د افغانستان په بېلا بیلو ولا یتونو لکه کند هار، هیلمند، زابل، هرات، غـور،فـراه،بـاد غیس، فاریاب، سر پل، مزار شریف، کند ز، تخار، کابل، پروان، ننګر هار او لغمان کې استوګنه لري.

1. د کند هار ولا یت کا کړ: د د غه ولا یت په مرکز کند هار، پنجوایي، ارغند اب، پا شمول او ځینو نورو ولسو الیو کې استوګنه لري.
2. د هرات ولایت کاکړ: د د غه ولا یت په مرکز هرات او همد اراز د اوبې، پښتون زرغون، کرخ، ګذرې، اد رسکن او انجیل په ولسو الیو کې استوګنه لري.
3. د هیلمند ولایت کاکړ: د د غه ولایت په مرکز لشکر ګاه، ناوې، ناد علي، مار جې او ځینو نورو ولسوالیوکـې او سیږي.
4. د باد غیس ولایت کاکړ: د مرغاب په ولسوالیو کې د کاکړو په نامه یوه سیمه شته چې زه د د ې مقـالې لیکـوال هلته تللی یم او له نږد ې مې لید لې د ه چې خلک یې زیاتره د پسونو او رمو له لارې خپلهګـوزارهکـوي اود کرنې د لږو ځمکو په د رلود لو سره خپل ژوند مخته بیایي.

---

366 حیات افغاني، پښتو ژباړه، د ۱۵. مخ شجره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. د فاریاب کاکړ: د فریاب او سر پل د ولایت په بیلا بیلو ولسوالیو کې هم یو شمېر کاکړ استوګنه لري.

6. د کند ز ولایت کاکړ: د کوند وز په مرکز د امام صاحب، خان اباد، د شت ارچي، چارد ره، علي اباد اوکلای ذال په ولسوالیو کې هم ډېر شمېر کا کړ استوګنه لري. چې د ځینو مشرانو نو مو نه یې غلام محمد خان، صالح الدین خان، وکیل میرزااو رئیس عبد الله د ي.

7. د تخار ولایت کا کړ : د د غه ولایت په مرکز او د خواجه بهاوالد ین، د رقد او خواجه غار په ولسوالیو کې استوګنه لري.

8. د ارزګان ولایت کاکړ: د د غه ولایت په مرکز او ځینو نورو ولسوالیو او په تېره بیا د چار چینو په سیمه کې استوګنه لري.

9. د زابل ولایت کا کړ : د د غه ولایت په ځینوو لسو الیو او له هغې جملې نه د شهر صفا په ولسوالۍ کې استوګنه لري.

10. د پروان ولایت کا کړ: د د غه ولا یت د غو ربند په ولسوالۍ کې د خیشکو د قبیلې په ګا ونډ کې استوګنه لري.

11. د غور ولایت کا کړ: د د غه ولایت په مرکز او ځینو نورو ولسوالیو کې استوګنه لري.

12. د کابل ولایت کاکړ: د کابل ولایت د سروبي په ولسوالۍ کې هم یو شمېر کاکړ پښتنا نه استوګنه لري.

13. د لغمان د ولایت کا کړ: د د غه ولا یت په مرکز د مهترلام د ښار پورې اړوند د د یوې او عمر زیو په کلیو کې استوګنه لري چې د افغانستان ستر مورخ پو هاند محمد حسن کا کړ د همد ې سیمې کاکړ پښتون د ی.

14. د ننګرهار ولایت کاکړ: د د غه ولایت د سره رود، بهسود و او چپر هار په ولسوالیو کې استوګنه لري. د چپر هار کاکړو ته خلک په د رنه ستر ګه ګوري او د ستانه وو په نامه د د وی د رناوی کوي.

## 117.3 د هند وستان کاکړ

په پښتنو کې به یوه د اسې لو یه او کو چنۍ قبیله نه وي چې د هند و ستان په بېلا بېلو سیمو کې د ې شتون ونه لري د د ې له کبله چې پښتانه د لر غو نو زمانو نه د سود اګریزو چارو د تر سره کو لو او نورو خواریو او مزد وریو لپاره د ې هېواد ته تلل او له بلې خوا هند د افغانستان په ګا ونډ کې یو هیواد و چې مور. تل ورسره ښې اړیکي د رلود ل. له بله پلوه د تاریخ په اوږد و کې ډېرو پښتنو واکمنانو پر هند و ستان واکمني کړېد ه چې ښې بیلګې یې غلجیان (خلجیان)، لود یان او سو ریان د ي. د د غو واکمنیو په وخت کې ډېر پښتانه د منصبونو او د پو ځي دند و د تر لا سه کو لو لپاره د ې هیواد ته تللي د ي چې ځینو یې نو موړو پښتني واکمنا نو ته د چو پړ په بد ل کې ډېر جاګیر ونه هم تر لا سه کړي د ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیر نگیانو نه د هند و ستان د خپلواکۍ تر وخته یعنې د ۱۹۴۷ زېږد بز کاله پورې یوازې په هند وستان کــې ۵۔ پښتني ریا ستو نو شتون د رلود چې د د غو ریا ستو نو مشري به یوه پښتون نواب ته ورپه غاړه وه چې د د غــو ریا ستونو په لړ کې کولای شو چې د بهو پال، ټونک، فرخ اباد، رامپور، ملیر کو ټلې او ځینو نورو نو مو نه واخلو۔

کاکړ هم د نورو پښتنو په څېر د هند و ستان په بېلا بیلو بر خو کې میشته د ي۔ لکه د تاریخ حیات افغــاني پــه قول چې له ننه ۱۴٦ کلو نه وړاند ې لیکل شوی د ی د هند و ستان د هاریانا د ایالت د رهتک د ضلعې په کو هــانهـنــو مې سیمه کې د کاکړو د اولاد ې د علي خیلو له ښاخ نه د ابو سعید زي ځانګه او نور کاکړ استوګنه لري۔ ویل کیږي چې پــه هند کې د پښتون واکمن سلطان ابر اهیم لود ي د واکمنۍ په وخت کې د عبد المالي یا عبد العلي ابو سعید زي کــا کــړ د سهیلي پښتونخوا د بوري له سیمې نه له خپلو د ریوو روڼو سره هند و ستان ته لاړ او په کو هانه کې میشــته شــو۔ د سلطان ابر اهیم لود ي تر مړینې وروسته نو موړی ښږرته خپل اصلي ټا ټوبي بوري ته ستون شو، خو د هغه د وه نور وروڼه له نورو کاکړو سره هلته پاتې او هما غلته میشته شول چې په هغه وخت کې د وی شمېر ۳۰۰ تنه ښود ل شــوي د ي۔

همد اراز د تاریخ حیات افغاني د لیکنې پر بنسټ د هند د اتهر پراد یش د ایالت د بلند شهر په ولسوالۍ کې هم د پښتنو ۹٦ سیمې شته چې په هغو کې ۱۲ سیمې یې زیا تې مشهورې د ي او هلته هم ګڼ شمېر پښتانه کا کړ اوسي، په تېره بیا د د وی زیات شمېر په خو رجه نو مې سیمه کې هم مېشته د ي چې شمېر یې د ٤__ کسا نو په شا اوخواکې اټکل شوی د ی۔[367]

همد اراز د هند په بینګال، د کن او د راجستهان د مرکز په جیپور کې هم کا کړ استوګنه لري۔

په د ې وروستیو کې د هند وستان د جیپور په ښار کې د هند ي پښتنو له خوا د ''کاکړي ګلد ان'' پهـنــامهـیــوه ټولنه هم رامینځ ته شوه چې موخه یې په د غه سیمه کې د پښتو ژبې او د پښتني د ود او د ستور ژوند ي ساتل او ود ه د ه.د د ې ټولنې بنسټ ایښود ونکې شیلپي بترا د ه چې ځان پښتنه کا کړه بولي او د پښتو ژبې او د کاکړو پښتنو د د ود او کلچر را ژوند ي کول غواړي۔

## 117.4 د کاکړو د قبیلې مشهور شخصیتونه

1. مولوي حبیب الله مشهور په محقق کند هاري۔
2. د پښتو ژبې ستر لیکوال، محقق او نو ماند مورخ اروابناد علا مه عبد الحی حبیبي چې په سلګو نو کتابــونه او په زرګو نو علمي مقا لې یې کښلي د ي۔
3. د پښتو ژبې شاعر پیر محمد کا کړ۔

367 نوموړی اثر، ۲٦۵ مخ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. د پښتو ژبې شاعر د وست محمد کاکړ.
5. د پښتو ژبې شا عر شمس الد ين کاکړ.
6. د پښتو بو ستان منظو مه شاعره زر غونه کاکړ.
7. د افغانستان وتلی مؤرخ پو هاند ډاکټر محمد حسن کا کړ.
8. اروابناد پو هاند عبد الغفار کاکړ.
9. عبد العلي اخند زاد ه کا کړ.
10. د افغانستان د خپلو اکۍ د لارې ملي مبارز حاجي محمد ايوب کاکړ.
11. شهيد ملک احد کاکړ چې په ۱۸۹۳ زبرد يز کال کې په پښين کې د انګريزانو له خوا شهيد شو.
12. ميا عبد الحکيم کاکړ مشهور په نانا صاحب.
13. سخي خان احمد خان د سهيلي پښتونخوا د کچلاغ د سيمې پا نيزی کاکړ.
14. د سهيلي پښتونخوا نامتو ليکوال او مؤرخ پروفيسر ولي محمد خان سيال کاکړ.
15. د پښتو ژبې ليکوال خانزمان کاکړ.
16. د پښتو ژبې ليکوال محمد فاروق خان کاکړ.
17. شهيد مولوي عبد الغفار بر يا لی کاکړ.
18. عبد السلا م جو ګيزی.
19. ډاکټر کرام الد ين کاکړ.
20. خان محمد سرور خان کا کړ.
21. د ميرويس خان هو تکي د پوځ مشر يو نس خان کاکړ.
22. ملک حا جي نور علي کا کړ.
23. ملا د اد الله کاکړ.
24. ډاکټر فيض الله کاکړ.
25. ملا بورجان کاکړ.
26. سرد ار شاه وزير کا کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



27.ایډوکیټ عزیز الله خان کاکړ مشهور په عزیز ما ما.

28.عبد الغني خان غنو کاکړ پا نیزی.

29.خان محمد سرور خان کاکړ.

30.ملا محمد رباني.

31. د افغانستان د پوځ پخوانی جنرال هاشم خان کاکړ.

32.د پیرنګیا نو پر خلاف مبارز شهید شیر جان کاکړ چې په ژوب کې اعد ام شوی و.

33.سرد ار شیرک کاکړ.

34.سرد ار شاه وزیر کاکړ.

35.ډاکټر صاد ق فطرت نا شناس.

36.جنرال عبد الو حید کاکړ.

37.فرید احمد کاکړ.

38. عبد الله احسان کاکړ (د لراوبر پښتوویب پاڼې مسول چلونکی)

39.فریبا احمد ي کاکړ (په ولسي جرګه کي د کند هار د خلکو استازې) [368]

# 118 قلند ر خېل

زمونږ پښت پو هان او توکم پیژند ونکي قلند ر خېل د سلیمان خیلو د لوی ټبر پورې یو اړوند ه ښاخ ګڼــي. د قلند ر خېلو د قبیلې زیاتره خلک د کټواز په سېمه کې ا ستو ګنه لري چې د غزني په سهیل کې د د ېرشو میلو په واټن پرته د ه.[369]

د کټواز شمال ته د اند ړو سېمه، جنوب ته یې اورګون، ختیز ته یې ګرد یز او زرمت او لویدېــزتــه‌یــې د غزني لویه ناوه پر ته د ه.

د کټواز د ځمکو لسمه برخه په کاریزونو او به کیږي او پا تې ځمکه یې د د ښت اومال څړ په ښه د ه چې په د ې وروستیو وختو نو کې د ځینو سو د اګرو او هغو کسا نو له خوا چې په هند کې یې پیسې بند ېکــړي د ي د کټــواز د

368 **http://en.wikipedia.org/wiki/Kakar**

369 مونټ ستيوارټ الفنسټن، د کابل سلطنت بيان، پښتو تر جمه د پوهاند محمد حسن کاکړ او نصرالله سوبمن، د ويم ټوک، ۱۳۶ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکو يوه برخه يې د ژورو شاه ګانو او واټر پمپونو په لګولو سره تر کرنې لاندې نيـــولې ده او د ډاډ وړ حاصـــل ځيني اخلي.مهم حاصلات يې غنم، جوار او پاليزونه دي.[370] د قلند ر خېلو ځمکې زياتره يو فصله دي يعنې په يوه کال کې يو ځل تريې حاصل اخلي. د د وی د سيمې هوا په ژمي کې خورا سړه او په د وبي کې خورا توده ده. ميـــوي يـــې انګور، زرد الو، منې، هند وانې او خټکي دي.

قلند ر خېل په خوړو کې د غنمو له ډوډۍ نه ډېره ګټه اخلي. د دې کبله چې د وی په مالد ارۍ هم بو خـــت دي نو د کور تو، شېد و، مستو، کو چو او هګيو نه هم استفاد ه کوي. د ژمي په مو سم کې د و چو ميوو استعمال هـــم پکـــې رواج لري، خو د وريجو استعمال پکې لږد ی.

د قلند ر خېلود قبيلې خلک خورا غټې لو نګۍ په سروي چې زياتره ژيړ بخون رنګو نه لري. د وی پر خپلو اوړو څاد رو نه هم اچوي چې په خپله لهجه کې تازر بولي.

د ښځو جا مې يې په عمو مي تو ګه ســـرې او شـــنې دي.پــــه پېغلـــو نجونـــو او ځولنـــو ښـــځوکـــې يـــې د ګنډونو استعمالول هم شته.د وی په جامو کې ډېرې مرۍ هم استعمالوي چې د کميسو نولستونې په زرتارو، ليسو او چر مو باندې ښکلي کوي. ښځې يې په عمو مي ډول پنې په پښو کوي چې د وی يې په خپله لهجه کې کپۍ بولي.

قلند ر خېل په پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک دي.د وی ميلمه پا لو نکي او د علم او پو هې سره مينه لري. د وی د ديني عالمانو او پيرانو ته ډېر د رناوی لري.

د افغان- انګرېز په د ري ګونو جګړو کې قلند خېل د انګريزي ښکيلا کګرو سره جنګيد لي او هم يې د روسي ير غلګرو په ماتولو او ګونډو کولو کې يې خپل هيواد نی رسالت سرته رسولی د ی. يو شمېر قلند ر خېل کو چيـــاني ژوند هم لري.

له بد ه مر غه چې د افغانستان يوه رژيم هم د کټواز سيمې ته پا ملر نه نه د ه کړې چې هلته د هغه ځای د خلکـــو لو مړنۍ اړتياوې لکه: روغتون، کلينيک، سړ کونه، د اوبو بند ونه او د نجونو او هلکانو ښوونځي جوړ کـــړي چـــې خلک تر اوسه پورې د ژوند انه د د غو ټولو لو مړنيو اړتياوو د د رلود لو نه بې برخې د ي.

پر افغانستان برسېره ډېر شمېر قلند ر خېل په پښتونخوا او هم د پاکستان د کراچۍ په ښار کې استوګنه لري.

يو شمېر قلند ر خېل د هند و ستان په ختيز بنګال په تېره بيا کلکته (کولکته)، بمبئي (مومبای)، د اسام په ايالت چې د وی يې اشام بولي، بيهار او اوړيسا کې استوګنه لري او خپلې سود اګرېزي چارې او معاملې پر مخ بيايي.[371]

---

370 د غزني تاريخي جغرافيا، د محمد ولي ځلمي تاليف، ١٦-١٦١ مخونه، ١٣٦٢ کال، کابل.

371 د قلند ر خېلو د قبيلې په اړوند د دې مقالې د ليکوال (د کتور لطيف ياد ) ياد د اشتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 119 قوال خېل

لکه څرنګه چې د یوسفزیو، ګګیا نیو او ترکلانیو پښتنو د پیژند نې په برخه کې راغلی د ي په هغه وخت کـــې چې خانښي خېل او غو ریا خېل په مجموع کې او په تیره بیاد یوسفزیو قبیله په ځانګړي توګه د کند هار د شاوخوا سیمو نه د کابل خواته راو لیږد ید ل و په هغه وخت کې مغولی واکمن سلطان ابو سعید د کابل د حکومت واکد ار و. په همـــد ې وخت کې د خانښي خیلو لوی مشر ملک سلیمان شاه وچې د ملک تاج الد ین زوی او د ملک رځړ لمسی و. کله چې مـــرزا الغ بیګ پاچا شو، ملک سلیمان شاه خپله لور مرزا الغ بیګ ته په نکاح کړه. په پیل کې د یوسفزیو او میرزا الغ بیګـــتـــر مینځ اړیکې ښې وې خو وروسته بیا ترینګلې شوې او ورپسې د یوسفزیو او میرزا الغ بیـــګـــتـــر مینـــځ مخـــالفتونه رامینځ ته شول.

میرزا الغ بیګ هم د یوسفزیو پښتنو پر خلاف پلمې لټولې تر څو یوه ورځ یې د یوسفزیو پښتنو اته سوه تنه مشران میلمانه کړل او په ډېر چل او د وکې سره یې د خپلو کسانو له خوا د وی ښې وسلې کړل او غو ښتل یې چې د غه ټول کسان له مینځه یوسي چې په پای کې یې همد ا سي وکړل.[372]

د تواریخ حافظ رحمت خاني مولف پیر معظم شاه په خپل کتاب کې د یو سفز یو د مشرانو د بند ی کیـــد و پـــه اړوند د اسي لیکلي د ي :

" کله چې د یوسفزیو د غه مشران په هغه میلمستیاکې چې میرزا الغ بیګ ورته جوړه کړې وه ښې و سلې او بند یان شول نو د د غو بند یا نوپه ډله کې یو تن قد وت المکاشفین شیخ عثمان بن موتي مولیزی هم شا مل و. نومـــوړی د هغه وخت له لو یو ولیانو نه شمیرل کید ه او د یوسفزیو ولس ورته ډېر عقید ت او اراد ت د رلود. په د غه وختکـــې چې مېرزا الغ بیګ د غه کسان ښې وسلې او بند یان کړي ول نو د یوسفزیو یوتن نامتو شیخ او د رویش (تورقـــوال) چې د یوسفزیو د مولیزي ښاخ نه و او کند هار ته د سیاحت لپاره تللی و هم په د غه وخت کې د ربار ته راغی، په د غه وخت کې شیخ عثمان غږ کړ چې تور قوال هم راغی او په د غه پېښه کې راسره شریک شو."[373]

لنډه د ا چې میرزا الغ بیګ د ملک احمد ه پرته د یوسفزیو پښتنو د غه اته سوه تنه مشران ټول له تیغـــه تېـــر کړل.

چې ویل کیږي د کابل په سیاه سنګ کې د یو سفز یو له د غو وژل شوو مشرانود مړو نه یوه لویه هـــد یـــره جوړه شوه. هغه یو سفزي چې له د غه مغولي ناتاره بچ پاتي شول له کابله ننګرهار ته او بیا له غه ځایه د خیبر د تاریخي د رې له لارې پیښور او بیا له هغه ځایه د سوات په سیمه کې میشته شول.

---

372 حیات افغاني، ۱۲٦ مخ، د د انش چاپ، پیښور.

373 تواریخ حافظ رحمت خاني، د پیر معظم شاه تالیف، ۲٤ مخ، پښتو اکېډیمي، پیښور یونیورسټي، پبلیک ارټ پرېس، پیښور، ۱۹۷۱ع کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوسني وخت کې هم د يوسفزيو د موليزي په څانګه کې يوه ډله شته چې د همدې تورقـوال اولاده ده او د قوال خېلو په نامه سره هم ياد بېږي.[374]

د افغانستان د لغمان د ولايت د مرکز مهترلام پورې يو اړونده کلی شته چې د قوال خيلوپـه نـامه سـره يـاد بېږي.[375]

# 120 کړو خېل

کړوخېل له اره غلجي پښتانه دي چې ځانونه په احمد زيو ور ګډوي چې زياتره يې د کابل ولايت په شا اوخـوا سيمو لکه خورد کابل، خاک جبار، چکړيو او د بت خاک په شا اوخواکې تر سروبي ولسوالۍ پورې ميشته دي.

د کړو خيلو قبيله پر پنځو خيلو نو ويشلې شوې ده او د غه خيلونه په دې ډول دي: عنايت خېل، عبـد اللّـه خېل، د وران خېل، شريف خېل او ولي خېل.

عنايت خېل چې د کړو خېلو د قبيلې تر نورو خيلو نو په پر تله يې شمېر زيات دی او د مشـر زوی اولاده ګڼل کيږي هم په پنځو کو چنيو ځانګو ويشله شوي ده چې نو مونه يې دا دي:

فتح خېل، رحمن خېل، د لوړ کورنۍ، د طلب کورنۍ او د نذير کو رنۍ چې د غه څانګې زياتره د کابل ولايـت د خاک جبار په ولسوالۍ کې استو ګنه لري، خو د دوی نه يو شمېر يې د لوګر، کند ز او تخار په ولا يتو نو کـې هـم استو ګنه لري. همد اراز د کړو خيلو د قبيلې د شريف خيلو څانګه هم پر د وو خيلو نو ويشل شوي دي چې فقير خېل اوګود ر خېل نو ميږي.[376]

د اسې مستند روايتو نه شته چې کړو خېل د امير شير علي خان د واکمنۍ له زمانې نه د مخه په نيمه کو چـي ډول ژوند کاوه او ځمکې يې نلرلې. په هغه وخت کې جبار خېل په هغه سيمه کې اوسېد ل چې نن ورځ يې خـاک جبـار بولي. هماغه و چې د کړو خېلو او جبار خېلو تر مينځ چې هغی هم د غلجيو پښتنو يوه قبيله وه خپل منځي اختلافات را مينځ ته شول. د د غو اختلا فا تو خبر امير شير علي خان ته ورسيد.

امير شير علي خان د کړو خيلو او جبار خيلو د قبيلو مشران چې سعد الله خان کړوخيل او غازي ې اوارې کړي، چې د واړو غاړو د امير شير علي خان امر ومانه او سوله يې سره وکړه. د دې سولې د تړون له مخې د خـاک جبـار سيمه کړو خيلو ته ورکړل شوه او د هغې په بد ل کې يې د ننګر هار ولايت پورې اړونده سيمو جوکان او حصارک کې يې جبار خيلو ته ځمکې ورکړې.

---

374 پښتني قبيلې، د د کتور لطيف ياد اثر، ۲ـ۳ مخ.

375 د د کتور لطيف ياد شخصي ياد د اشتونه.

376 لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۲۱٤ مخ، د پېښور چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځر نګه چې په هغه وخت کې د کړو خیلو د قبیلې خلکو په خپل مینځ کې ډېر ټینګ یو والی د رلود نو د امیـــر شیر علي خان موخه او مقصد د او چې په خاک جبار کې د انګر یزي ښکیلاکګرو په وړاند ې یوه پیاوړې د فاعي کر ښه رامینځ ته کړي او د انګریزانو په ټکولو کې فعاله ونډه واخلي چې همد اسـي‌هـم وشـــول‌ـکـړو خیلـــو د انګریـــزي ښکیلاکګرو سره ډېرې جګړې وکړې او د کابل په بالا حصار کې یې د نورو پښتنو ملي مبارزینو ســـره‌یـــو ځـــای د کیوناري په وژلو کې هم ستره ونډه واخیستله.

## 120.1 د وه وروستیو پیړیو کې کړو خیلو مشران

لکه چې د مخه وویل شول چې د کړو خیلو د قبیلې یو ښاخ عنایت خېل و چې په کړوخیلو کې د‌قـــبیلې مشـــر توب تل د عنایت خېلو د ښاخ په یوې څانګې فتح خېلو پورې اړه د رلود له چې په د وو وروستیو پیړیو کې د د غـــې قبیلې ځینې مشران په لاند ې تو ګه د رپېژ نو:

علي مد د کړوخېل، د هغه زوی سعد الد ین کړو خېل چې په سعد و کړوخېل سره یې شهرت د رلود، د سعد الد ین کړو خېل زامن هریو محمد رحیم کړوخېل او محمد شاه خان کړوخېل ول (چې د افغانستان په تاریخ کې پـــه غـــازي محمد شاه خان) سره هم شهرت لري اود انګریزي ښکیلا کګرو یو سر سخته د ښـــمن و. د محمـــد رحیـــم زوی بیرګـــډ عمراخان او د غازي محمد شاه خان کړوخېل زوی کر نیل میرد اد خان کړ وخیل. د پورتنیو مشرانو وروسته د د غـــې قبیلې مشري د محمد رحیم خان کړو خیل د لمسیانو او د میر د اد خان کړو خېل د زامنو په لا س کې وه.[377]

د ضیا الملت والد ین ا میر عبد الر حمن خان ۱۸۸. - ۱.۱۹ زیږد یز د واکمنۍ په وخت کې کړو خیـــل تبعیـــد او فرار شول، ځکه چې هغوی امیر عبد الر حمن خان د واکمن په تو ګه ونه مانه او هغه ته یې بیعت ونکړ. د د غې قبیلې یو شمېر د پښتو نخوا د تیراه د د وتوی سیمې ته ولیږد ید ل.

همد اراز یو شمیر کړو خیل د ارګون په میر زکه او د ننګر هار په شینوارو کې هم د امیر عبد الر حمن خـــان د پو ځ سره وجنګېد ل، خو کو مه سو به یې په بر خه نه شوه او د ماتې سره مخا مخ شول.

د امیر عبد الر حمن خان تر مړ ینې وروسته یې چې زوی سراج الملت والد ین ۱.۱۹ – ۱۹۱۹ زیږد یز واکمني تر لا سه کړه د کړو خیلو د قبیلې خلکو ته یې فر مانو نه ولېږل چې با ید بېرته خپلو اصلي سیمو او مېنو ته را ســـتانـــه شي چې د نو موړي فر مان له مخې کړو خیل د خپلې استو ګنې اصلي سیمو ته را ستانه شول.

کړو خیل غیر تي، میلمه پا لونکي او په علم او پو هې مین خلک د ي. د وی د هیواد په خپلـــو لکـــی مـــن او د پښتو او پښتو نولۍ سره زیاته مینه لري. د افغان- انګرېز په د ري ګو نو جګړو کې د د وی ځلاند ه اوتـــاریخي‌ـکـــار نامې ځر ګند ې د ي. د کړوخیلو د قبیلې زیاتره خلک د کرنې او مالد ارۍ په چارو بو خت د ي، خو یو شمېر خلک یې

---

377 د اغلې نو شیروان کړو خېل نه د کړو خیلو د قبیلې په اړوند معلومات.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولتي د ند ې هم لري.

د کړو خیلو د قبیلې یو شمېر نا متو کسان په لا ند ې ډول د ي:

1. د کړو خیلو د قبیلې قو مي مشر ښاغلي ولي خان کړو خیل.
2. د افغا نستان په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو استازې اغلې شینکۍ کړو خېل.
3. افغان ژورنالیست ښاغلی د انش کړو خیل.
4. د ښځو د حقو قو مد افعه اغلې نو شیروان کړوخیل[378]

د لته به بیځایه نه وي چې د کړو خیلو د قبیلې د ملي اتل او د انګریزي ښکیلا کګرو پـر خلاف د ملـي مبارز غازي محمد شاه خان په اړوند هغه شعر ولولو چې د د ه په ستا ینه کې ویل شوی د ی او د هغه وخت سند ر غاړو به هم وایه:

کـوزلـه لنـدنــه ګورکیــان [379] راغلـــل    پــه پښـتو نخـوا کــې یــې حملــې کــړې
محمـد شـاه خـان غـازي ورمـاتې رسـالې کـړې    د کـړو خیلـو پـر ځولنـانو یـې نـارې کـړې

غازي محمد شاه خان

ورونو راپاځئ په وطن یـې سترګې سـرې کـړې    بیاپـرې ځولنـانو د ټوپکـو سـرې لمبې کـړې
محمد شاه خان غـازي چـې الله اکبر نـارې کـړې    د باجوړ اوبـه یـې بیاپـه وینـو سـرې کـړې

غازي محمد شاه خان

پـه هغـې ورځـې یـې ورګـډې رسـالې کـړې    له سـینه پـورې یـې خیمـې د ود او لمبې کـړې

378 د کړو خیلو د قبیلې په اړوند زما (لطیف یاد ) شخصي یا د ښتونه.

379 ګورکه چې کله کله د ګور کهه په بڼه هم لیکل شوي د ي له اره د نیپال هېواد د ګورکهه قبیلې ته منسوب د ي او په همد ې نا مه په نیپال کـې یوه ولسوالۍ هم شته چې د همد ې خلکو د استو ګنې اصلي ځای ګڼل کیږي. کله چې انګرېزان د هند په نیمې وچې واکمني کـوله پـه ۱۸۵۷ زیږد یز کال د هند و ستان ټول ولسونه او پرګنې که هند وان ول او که مسلمانان په ګډه سره د پر نګیانو پر خلاف پا څون وکړ چې ډېـر شمېر یې شهید ان شول چې د ۱۸۵۷ کال پاځون ته د هند و ستان په تاریخو نو کې ایام غد ر هم ویل کیږي. ګو رکهه چې ډېر جنګیـالي او د نښې په ویشتلو کې مهارت د رلود انګرېزانو په خپل پوځ کې برتني یا استخد ام کړي وو. همد غو ګو رکه وو د ۱۸۵۷ کال په پا څون کـې د انګرېزانو په ګټه ډېر خلک ووژل. ګورکهه و نه یوازې په هند وستان کې د انګرېزانو لپاره وجنګید ل، بلکې انګرېزانو پـه افغـا نستان، پښتو نخوا، بر ما، بوټان او ان د تر کیې په هېواد کې هم د خپل ځان په ګټه وجنګول. په لو مړۍ نړیواله جګړه ۱۹۱٤– ۱۹۱۸ کـې د وه سـوه زره تنه ګورکه د انګرېزانو په پوځ کې شتون د رلود. د ګورکهه پو ځیان د هند تر خپلواکۍ ۱۹٤۷ کاله پورې په هند و ستان کې انګرېزانـو ته ښه خد متونه وکړل او هغوی هم پرې ډېر باور د رلود. د هند تر خپلواکۍ وروسته د ګورکهه و پوځیان اوس هم د هند په پوځ کې شـته چې ګورکهه ریجمنټ یاپلی پوځ یې بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له انګریزلنونه‌یې میمې [380] را ستنې‌کړې            له پر نګیانو سره‌یې‌نرمې بیا پنځې‌کړې

**غازي محمد شاه خان**

د پرنګیانو په چو نیو یې حملې کړې            نویې ور تشې بیاتوبرې‌کړې
د مشهد یو، د کلد ارو یې ولجې کړې            د بابوګانو خیټې‌یې خیرې‌په نیزوکړې

**غازي محمد شاه خان**

د باجوړ له سینه‌یې‌پورې چې حملې‌کړې            د پر نګیانو یې پلتنې ور ستنې کړې
د شنو زمریانو‌یې سواتیانو نند ارې‌کړې            د ګورکیانو په خیمو یې ولولې کړې

**غازي محمد شاه خان**

# 121 کرلاڼي

د پښتنو یو مهم ټولنیز ګروپ کرلاڼي پښتانه د ي چې ډېرې مشهورې پښتني قبیلې په د غه ټولنیز ګروپ پورې اړه لري. د کرلاڼ نوم په هغو تاریخونو کې چې د هند وستان په مغولي د ورې پورې اړه‌لري لکه د عباس سرواڼي (۹٤۷ هجري) په شیر شاهي تاریخ یا تحفه اکبر شاهي کې، د شیخ رزق الله د هلوي (۸۹۷ – ۹۸۹ هجري) په واقعات مشتاقي کې، د جهانګیر د د ورې د مؤرخ عبد الله (۱۰۳۷ هجري) په تاریخ د اود ي[381] کې، د احمد یاد ګار (۱۰٥٤ هجري) په تاریخ سلاطین افا غنه کې چې په تاریخ شاهي سره هم شهرت لري، د خواجه نعمت الله (۱۰۲٤ هجري) په تاریخ خانجهاني کې او د محمد کبیر په افسانه شاهان هند [382] کې د کران کرران او کراني په بڼه هم راغلی د ی.

---

380 د انګرېزانو میر منې

381 تاریخ د اؤد ي د عبد الله تالیف د ی چې د هند د مغولي واکمن نو رالد ین جهانګیر د واکمنۍ ۱۰۱٤ - ۱۰۳۷ په وخت کې لیکل شوی د ی. د غه کتاب ما د ې مقالې لیکوال په ۱۳٦۸ لمریز کال کې د افغانستان د علومو اکېډیمۍ د پښتو څېړ نود نړیوالمرکز د سپا رښتنې له مخې په کابل کې د سوري شیر شاه د زوکړې د ٥۰۱ کلیزې د نړ یوال سیمینار لپاره وژباړه چې په هماغه کال د اریانا په مطبعه کې د ٤ـــ ټوکو په شمېر چاپ شو. د غه کتا ب د د ویم ځل لپاره د د انش د خپر ند وېې ټو لنې له خوا په ۲۰۰۷زیږ د یز کال کې د پښتو نخوا په مرکز پېښور کې د ۱ـــ ټو کو په شمېر چاپ شو.

382 افسانه شا هان د محمد کبیر اثرد ی چې مو رنۍ نیکه یې د پښتنو د سوریانو په قبیلې پورې اړه لري. د غه اثر په هند کې د سور ي او لو د ي پښتني واکمنا نو او په بینګال کې د پښتني کر لاڼي واکمنانو په اړوند لیکل شوی د ی ا وتر او سه لا چاپ شوی نه د ی. د قلمي نسخو مایکرو فلمو نه یې د لند ن په برېتیش میوزیم، د هند وستان د علیګر د پو هنتون په کتا بتون په ۱/ ۹ شمېره او په نوي ډیلي کې د ایران د علم او فر هنګ د خونې په نور مایکرو فیلم سینټر کې شته. ماد د غې مقا لې لیکوال د غه کتاب د علیګړ د پو هنتون د میکرو فیلم نه رانقل او پښتو ته مې ژباړلی د ی، خو لا تر او سه مې چا پ کړی نه د ی. چې د د غه اثر د کتا بت کال ۱۱۸۹ هجري د ی. (لطیف یاد )

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کرلاڼيو په اړوند په بيلابيلو تاريخي کتابونو کې مختلف افسانوي روايتونه شته دي، د بيلگې په توگه تاريخ حيات افغاني په دې اړوند داسې ليکي :

"د دلازاکو د قبيلې خلک چې د کرلاڼي پښتنو يو پياوړی ښاخ گڼل کيږي په دې اند دي چې د کرلاڼ پلار سيد قاف نوميد چې د نسب شجره يې په اتم پښت کې حضرت امام حسين (رض) ته وررسيږي. د خټکو د قبيلې خلک د کرلاڼ پلار هوني بولي او خپله شجره هم د سړبني پښتنو سره گډوي. شيتک عقيده لري چې کرلاڼ د کوم شهزاده زوی و. همدارنگ د خوږيانيو د قبيلې خلک عقيده ښکاره کوي چې کرلاڼ د عبد الله اورمړ زوی و. د کرلاڼي د اولادې ځينې خلک وايي هغه وخت چې کرلاڼ نومی ماشوم دې نړۍ ته سترگې پرانيستلې نو په هغه ځای کې کوم لښکر يوه شپه تم شوی او بيا له هغه ځايه تللی و او دغه ماشوم بيا د اورمړو د قبيلې د يوه تن له خوا چې عبد الله اورمړ نوميد د اوسپنې تر يوې کړايي لاندې وموندل شو، نو ځکه د کړايي د نوم په وجه يې کرلاڼی نوم پرې کيښود [383] او د دې لپاره چې عبد الله اورمړ کوم نارينه اولاد نه درلود کرلاڼی يې په زويتوب ونيو او دده روزنه او پالنه يې وکړه چې د کرلاڼ نه بيا دوه زامن پيدا شول چې يو يې کودی او بل يې ککی و خو لکه چې د مخه وويل شول چې پورتني روايتونه افسانوي بڼه لري او يو روايت له بله سره هيڅ ورته والی نلري.

د افغانستان نوميالی مؤرخ لوی استاد ارواښاد علامه عبد الحی حبيبي په خپل اثر د "افغانستان لنډ تاريخ" کې ليکي:

"په پښتني نسب نامه کې د کرلاڼ يا کرلاڼي په نامه يوه بله څانگه هم شته چې د وی د پښتنو له هغو دريو نورو څانگو سړبن، غرغښت او بيټنيو سره خپلوي لري او سوچه پښتانه دي. " [384]

د پښتو ستر شاعر خوشال خان خټک هم د کرلاڼيو او په مجموع کې د ټولو پښتنو ترمينځ د خپلوۍ د اړيکو په اړوند داسې يو شعر لري:

پښتون په اصل سړبنی دی
يا غورغښتی دی يا بيټنی دی
لودي، غلجي د بيټ له لوره
په سړبن پورې بيا کرلاڼی دی
(خوشال خان)

زما (د دې مقالې ليکوال) په اند کرلاڼي هغه پښتانه دي چې د نورو پښتني ټولنيزو گروپونو لکه (سړبن، غرغښت او بيټنيو) سره خپلوي لري او هم کرلاڼي پښتانه هغه پښتانه دي چې د کرکيلې او کرنې په چارو بوخت دي،

---

383 حيات افغاني، پښتو ژباړه د دکتور لطيف ياد او فرهاد ظريفي، ۳۲۱ مخ، د پيښور چاپ.

384 پوهاند عبد الحی حبيبي، د افغانستان لنډ تاريخ، ۱۸٤ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همد ې کبله د کرلاڼي کلمه د کر او کرنې سره اړخ لګولای شي.[385]

په تا ریخ حیات افغاني کې چې د کرلاڼیو د نسب کومه شجره راغلې د منو د بناخونو، خیلونو او څانګو نومونه یې په د ې ډول راغلي د ي:

کود ی، ککی او بیا موسی زي، منګل، توري، هني، ورد ګ، د لازاک، اورکزي، موسی خیل، جاني خیل،لوري خیل، یعقوب خیل، ذکریا خیل، امازي، یاسین خیل، مند یزي، ماني زي، مو ني زي، حید ر زي، حسي زي، حسني زي، احمد خیل، وتک زي، عمر خیل، یحیي زي، سمر زي، سلطان خیل، امبره خیل، لبنکري خیل، حاجي میر خیل، میر وعظ خیل، بډا خیل، ناغه خیل، بر هان، خوګیاڼي، سلیمان، شیتک، اپرید ي، خټک، ځد راڼ، اتما نخیل، میرل خیل، خوجړه، مو ګی، کمال خیل، علي زي، مسوزي، د ولت زي، اسماعیل زي، لشکر زي، محمد خیل، ستاري خیل، فیروز خیل، نپیرونې، سه پای، عبد العزیز خیل، ماني خیل، بر احمد خیل، بید اد خیل، اصغر خیل، صبوره خیل، احمد خیل، ساوزي، مست علي خیل، سلار خیل، خوید اد خیل، علي خواجه خیل، سید خیل، میر زای خیل، رابیا خیل، ممازي، ابا خیل، خد ي زي، علي شیر زي، ماموزي او پاړي.[386]

په او سني وخت کې کرلاڼي پښتانه پر ډېرو قبیلو ویشل شوي د ي چې د ځینو مهمو قبیلو نومونه یې د اد ي:

د لازاک، اورکزي، منګل، هني، ورد ګ، اپرید ي، خټک، ځد راڼ، اتمانخیل، خوږیاڼي، پړبه، عبد الرحمن یا د رمان، ځاځي، توري، وزیر، مسید یا مسعود، ګوربز، د وړ، تڼي، شیتک، بنوځي، بنګښ، مقبل، سبري، مند وزي، اسماعیل خیل، زموخت یا زویمشت اوسبري چې د غې قبیلې بیا په ډېرو خیلونو، بناخونو او ځا نګو باند ې ویشل شوي د ي.[387]

کرلاڼي پښتانه نه یوازې په افغا نستان کې اوسي، بلکې په پښتونخوا، پاکستان او په هند کې هم استو ګنه لري. کرلاڼي پښتانه په عمو مي ډول د ډیورنډ د پولي د واړو غاړو ته په د اسې سیمو کې پراته د ي چې د پوځي او سوق الجیشي پلوه ډېر اهمیت لري، له همد ې کبله د ه چې کرلاڼي قبیلې د پولې د واړو خو اووته د د واړو هیواد ونو افغانستان او پاکستان په برخلیک کې مهم رول لوبوي چې د غه واقعیت همد ا اوس هم موږ په عملي توګه ګورو او انکار ترې نه شو کولای.

کرلاڼي پښتانه په مجموع کې تورزن خلک د ي. د وی د خپل هیواد افغانستان سره ژوره مینه لري د سکند ر، چنګیز، انګریز، روس او تر او سني وخته پورې واخله د وی د بلو سګرو او تیري کو نکو ځواکونو پر خلاف په میړانې راپورته شوي د ی. له همد ې کبله د د وی رول د د ې هیواد په سیاسي او ټولنیز بر خلیک کې له پا مه نه شو غورځولای او ډېر مهم ګڼل کیږي.

---

385 وګورئ، پښتنې قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ۲۱۱ مخ، لمن لیک.

386 حیات افغاني، ۳۲۳ مخ د کرلاڼیو شجره.

387 پښتنې قبیلې، ۲۱۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 121.1 د هند په بنګال کې د کرلاڼي پښتنو واکمني

که څه هم په هند کې د پښتني لود یانو په وخت کې کرلاڼیو پښتنو یو شمیر پو ځي د ند ې د رلودلې، خو د وی په هغه وخت کې د ومره مشهور نه وو. د د وی د شهرت انګازې هغه وخت خپرې شوې چې په هند کې سوري واکمنانو واکمني د رلوده او په اصل کې په هند کې د کرلاڼي قبیله د خپلو د وو نامتو شخصیتونو یعنې تاج خان کرلاڼي ۱۵٦٤ زیږد یز او سلیمان کرلاڼي ۱۵۵۵-۱۵٦۱ زیږد یز چې د جمال خان کر لاڼي زامن وو له کبله مشهوره شوه.[388]

## 121.1.1 تاج خان کرلاڼي

تاج خان کرلاڼی د هند په بیهار او بنګال کې د کرلاڼي پښتنو د واکمنۍ بنسټ ایښود ونکی.

د هند په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د تاج خان کرلاڼي او سلیمان کرلاڼي نومونه چې د سوري شیر شاه پوځي جنرالان وو د قنوج په جګړه کې لید لای شو. د ا هغه جګړه وه چې شیر شاه د مغولي واکمن همایون پر خلاف ګټلې وه او د غو د وو تنو کرلاڼیو د هغه خد مت په بد ل کې چې شیر شاه ته یې کړي وو د شیرشاه له خوا د وی ته په خواص پور، ټانډه او د جنوبي بیهار په سیمو کې جاګیرونه ورکړل شول.

د غه د واړه ورونه ډېر هو ښیار او ځیرک اود ډېر ې پو هې اوسیاسي تد بیر خا وند ان ول او شیر شاه د د واړو قد ر او د رناوی کاوه او په تیره بیا د تاج خان کرلاڼي وړتیا او بیسارې پوهې پر شیر شاه ډېره اغیزه کړې وه او نو موړی یې د خپل زوی جلال خان چې وروسته یې د اسلام شاه لقب د رلود ښوونکی او استاد ټاکلی و.

د اسلام شاه د واکمنۍ په وخت کې هم تاج خان د ډېر ځواک څښتن و او ډېر اعتبار یې پرې کاوه ان ترد ې چې د خپلې مړینې په وخت کې یې هم نو موړی ته د خپل نابالغ زوی فیروز شاه روزنه او پا لنه سپارلې وه. د ې له کبله چې پر اسلام شاه باند ې تاج خان ډېر ګران و او پرد ه یې ډېر اعتماد کاوه، نو هغه امیران چې د اسلام شاه سره جوړ نه وو د تاج خان په مخالفت کې ولاړ وو. کله چې بیا عاد ل خان د اسلام شاه پرتخت کښیناست نو د تاج خان کر لاڼي لپاره خبره نوره هم ګرانه شوه. د د ې لپاره چې تاج خان یو مد بر او د ستر ځواک څښتن و، نو عاد ل شاه په څر ګند ه تو ګه د هغه سره د خپلو اړیکو خرابول نه غو ښتل، خو په پټه او په زړه کې یې نوموړی نه خوښید ه.

وروسته بیا چې د د ه په وړاند ې د عاد ل شاه او نورو امیرانو په کړووړو کې بد لون رامینځ ته شو نو د ی هم په چو په خو له د عاد لشاه له د رباره وتښتید او جنوبي بیهار ته لاړ. په ۱۵۵۷ زیږد یز کال کې چې د محمد شاه سوري زوی بهاد رشاه د عاد ل شاه پر خلاف برید وکړ نو تاج خان یې ملګر تیا کوله.

د عاد ل شاه تر مړینې وروسته چې بهاد ر شاه بیهار په خپله ولکه کې راووست، نو تاج خان یې د د غې صوبې ګورنر وټاکه.

---

388 سید بهاد ر شاه ظفر کا کا خیل، پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ٦٤. مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کال ۱۵٦٤ زېږ. د يز کې تاج خان کر لاڼي پر بينګال بريد وکړ او د بينګال او بيهار صوبې د ده په ولکه کې راغلې او په دې ډول يې د هند په ختيز کې د کرلاڼيو پښتنو د واکمنۍ بنسټ کېښود.

لکه چې د مخه وويل شول چې تاج خان کرلاڼی يو مد بر پښتون او د سياست په رموزو پوه سړی و. هغه په دې پو هيد ه چې مغولي واکمن جلا ل الد ين محمد اکبر د بيهار او بينګال د نيولو سره ځومره ډېره ليوالتيا لري، له همد ې کبله نوموړي له پيله د ا پا ليسي غوره کړه تر څو په بيهار او بينګال کې خپله واکمني ټينګه او مستحکمه نکړي نو د مغو لو سره ډغرې وهل څه اسا نه کار نه د ی. همد ا وجه وه چې نو موړي د مغولو د ختيزو صوبود وايسرا ی خانزمان سره د وستانه اړيکي ټينګ کړل، خوژوند ورسره ملګر تيا ونکړه او د بينګال تر سوبې وروسته په ۱۵٦٥ زيږ د يز کال کې مړشو.

بايد زياته کړو چې مؤرخينو د تاج خان کرلاڼي د پوهې، زړورتيا او تد بير ډېره ستا ينه کړې د ه. د هند د مغولي واکمن جلال الد ين محمد اکبر د د ورې د مشهور مؤرخ او د منتخب التواريخ د مولف ملا عبد القاد ر بد ايوني ۹٤٧ - ۱_۳ هجري په قول تاج خان کرلاڼی په پښتنو کې يو پوه، مد بر او فاضل شخصيت تير شوی د ی.[389]

## 121.1.2 سلېمان کرلاڼي

د تاج خان کرلاڼي تر مړينې وروسته د هغه ورور سليمان کر لاڼی (۱۵٦٥ - ۱۵۷۲ زيږد يز) د بينګال او بيهار د واکمنۍ پر ګد ۍ کښيناست.

په ختيز هند وستان کې د سليمان کر لاڼي د واکمنۍ د وره يوه روښانه او ځلاند ه د وره ګڼل کيږي. سليمان کر لاڼی هم د خپل ورور تاج خان کر لاڼي په څېر يو مد بر او هو ښيار سيا ستپوه و. د ی د تا ج خان کر لاڼي د پا ليسۍ لاروی واو هغې پا ليسۍ ته يې نوره هم ود ه ورکړه.سليمان کر لاڼي د خپل ورور تا ج خان کر لاڼي په څېر د مغولو د وايسرای خانزمان سره خپلې اړيکې خوږې کړې. د ه په بينګال کې د پښتنو د يوې پياوړې واکمنۍ په جوړولو کې ستر رول ولو باوه. سليمان کر لاڼی په د اسې وخت کې د چارو واګې ونيولې چې د سوري قبيلې بيلا بيل ښا خونه او ځانګې لو مړی د خپل منځي جګړو او بيا د مغو لو سره د جګړو له کبله ځپل شوې وې او پښتانه په عمو مي تو ګه بې مشره پاتې ول او د غه د سيا سي واک نه بې برخې پښتانه چې د يوه ليډر شيپ په تلا ش کې ول د سليمان کر لاڼي پر شا اوخوا راټول شول او نه يوازې يې د هغه په د ربار کې يې منصبو نه تر لا سه کړل، بلکې د سليمان کر لاڼي سياسي او پو ځي قوت يې نور هم پياوړی کړ.

سليمان کر لاڼی يو ډېر پر هيز ګاره، په علم او پو هې مين او نياو من واکمن و. د د ه د عصر ټول مؤ رخين په د ې خبرې سره يوه خوله د ي چې نو موړی يو پر هيزګار او عاد ل واکمن و او د عالمانو او پو هانو ډېر د رناوی او قد ر يې کاوه او تل به د عالمانو او پو هانو په ټولي کې نا ست وو او د د وی د عالمانه ارشاد اتو نه به يې خوند اخيست.

---

389 http://en.wikipedia.org/wiki/Taj_Khan_Karrani

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بد ایوني په قول کله چې اکبر پا چا د دې خبرې نه خبر شو چې سلیمان خان کر لاڼی په د ومره زیاته اند ازه د عا لمانو قد ر او د رناوی کوي، نو د هغه په زړه کې هم د ا تلو سه او لیو التیا پید ا شوه چې هغه د ې هم یو د اسې ځای جوړ کړي چې عالمان او پو هان پکې راغونډ او ناسته پاسته ولري او په فلسفې او مذهبي مسائلو بحثونه وکړي.

د واکمنۍ په چارو کې هم سلیمان خان کر لاڼی یو بې تعصبه انسان و. د ه د مسلمانانو او هند وانو سره مساوي چلند کاوه.د د ه د واکمنۍ په وخت کې هند وان په ډېرو مهمو د ولتي د ند و گو مارل شوي وو.یو بنگالی هند و رامانند ا گوها او د هغه زامن بها یا نند ا، گونند ا او سبا نند ا لوړې د ولتي څوکۍ د رلود لې او ان چې د وزارتونو د ند ې بې هم تر لا سه کړې. د بها یا نند ا زوی سري هاري د سلیمان د زوی د اؤد خان کر لاڼي د کو چنیوالي ملگری او د وست و. کله چې د اؤد خان کر لاڼي د واکمنۍ د چارو واگې تر لا سه کړې نو د سري هاري رتبه او منصب نور هم لوړ شو. د اؤد خان هغه ته د وزیر اعظم د ند ه ورکړه او د هغه سلا او مشورو ته به یې په د رنه ستر گه کتل.

1. د اوړیسا سوبه

د سلیمان خان کرلاڼي د واکمنۍ د وخت یوه مهمه پېښه د اوه چې اوړیسا فتحه شوه او د بینگال په واکمنۍ کې یې شا مله کړه. په هغه وخت کې د اوړیسا صو به یا ایالت د یوه هند و راجا په ولکه کې وه او ابر اهیم خان سوري چې د هر ځای نه نا هیلې شوی او د سیاسي ځواک نه بې بر خې سا تل شوی وهغه اوړیسا د صوبې واکمن یا راجا ته پناه وړې وه او د هغه ځای راجا هم نو موړي ته په د ې شرط پناه ورکړې وه چې د سلیمان خان کر لاڼي پر خلاف به جگړه کوي او بینگال او بیهار به ورته فتحه کوي. سلیمان کر لاڼی هم د ې وضعې او حالت نه ښه خبر و او د یوه منا سب وخت په لټه کې و.

په ۱۵٦۷ زیږ د یز کال چې مغولي واکمن جلا ل الد ین محمد اکبر د راجستهان پرچتو رگړ بلند ې پر پوځي عملیا تو بو خت و سلیمان کر لاڼی د خپل زوی بایزید مړ ۱۵۷۲ زیږد یز او خپل یوه جنرال کالا پهاړ تر مشرۍ لا ند ې پر اړیسا برید وکړ او تر یوې خو نړۍ جگړې وروسته سلیمان کر لاڼي ته د اوړیسا سو به ور په بر خه شوه او د غه صو به یې د بینگال په واکمنۍ کې شا مله کړه. د د ې سوبې په تر سره کولوسره نه یوازې د سلیمان کر لاڼي د واکمنۍ لمنه پر اخه شوه، بلکې له مالي پلوه هم ډېر پیاوړی شو. سلیمان کر لاڼي په او ړیسا کې خپل یو وفاد اره وزیر میا لود ي چې په لود ي خان سره هم مشهور و د اوړیسا د گورنر او خپل بل جنرال قتلو خا ن لواڼی (لو ها ڼی) یې د پورې د سیمې گورنر وټا که.

لکه چې د مخه وویل شول اکبر پا چا د خپلې واکمنۍ له پیله د ا هوډ کړی و چې په هر ډول کید ای شي باید په هند کې پښتانه د سیاسي ځواک او برم نه بې بر خې کړي او د همد ې مو خې د تر لا سه کو لو لپاره یې مو قع لټوله.

د سلیمان کر لاڼي واکمني د اکبر پا چا په ستر گو کې یو اغزی و او د ی یې نشو زغملای. له بلې خوا سلیمان کر لاڼی هم یو مد بر او د سیا سي پو هې خاوند و او تر څو یې وسه رسید له د پو ځي زور از مو ینې نه یې ځان لیرې ساته او په د ې لړ کې یې ډېره محتا طا نه پا لیسي غوره کړې وه، سره له د ې چې د هغه په واکمنۍ کې د بینگال، بیهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اوړیسا په څېر زر خیزه سیمې او صو بې شا ملې وې او د هغه مالي وسایل او پو ځي ځواک ډېر پیاوړی و.

په ۱۵٦۷ زیږ د یز کال کې کله چې د هند د ختیزو سیمو لپاره د مغو لي حکومت وایسرای خانزمان ووژل شـــو، نو سلیمان کرلاڼی له د ې کبله خپه شو چې د د ه سره یې خوږې اړیکي د رلود لې، خو سلیمان کر لاڼي بیا هــم د خپــل پوه او تجر به لرونکي وزیر لود ي خان په سلا او مشورې سره هغه زړې پا لیسی ته د وام ورکړ او د مغولو د نـــــوي وایسرای منعم خان سره یې هم د وستانه اړیکي ټینګ کړل او تر هغه پورې چې ژوند ی و د خپل تد بیر او سیاسيـپــو هې په وجه یې په بینګال کې یې د پښتنو لپاره یوه پراخه او پیاوړي واکمني رامینځ ته کړه او پښتنو امیرانو ته یـــې د چارو اګې سپارلې وې، تر څو چې د مغولو د ربار ته لاړ نه شي او د ستر خو شال بابا په خبره د مغولو د منصبو نو په هوس نه شي. د ا یو حقیقت د ی چې د سلیمان کر لاڼي تر مړینې وروسته د پښتنو یو والي ته سخت زیـــان ورســـید، ځکه د د ه تر مړ ینې وروسته یې زامنو هر یوه بایزید خان کر لاڼي او د اؤد خان کر لاڼي د خپل پلار د پا لیســـیـپــر خلاف ګا مو نه او چت کړل.[390]

2. د کوچ بیهار سوبه

د سلیمان خان کر لاڼي په وخت کې د کوچ بیهار د نیولو لپاره نو موړي خپل لوی پو ځي افسرکالا پهاړ ولیـــږه. کالا پهاړ د براهما پورترا د سیند نه هم ور تیر شو او د کاماتا جنرال شوکلاد هواجا چې د کو چ بیهار د واکمـــن وشـــوا سنګها د ریم زوی یې مات کړ او تر تیجپور پور ې یې چې اوس یې د ینا چپو ر بولي او د بنګله د یش هېـــواد یـــوه ولسوالي د ه پر مختګ وکړ اوپه د ې تو ګه کو چ بیهار هم فتحه شو.[391]

لنډه د اچې سلیمان کر لاڼی یو عاد ل او سوله خو ښوونکی واکمن و چې د د ه د واکمنۍ په وخت کې د بینګـــال او بیهار خلک خو شاله وو. نوموړی په ۱۵۷۲ زیږ د یز کال کې له د ې فاني نړۍ نه ستر ګې پټې کړې.

## 121.1.3 بایزید خان کرلاڼی

هغه وخت چې سلیمان خان کر لاڼی د ۱۵۷۲ زیږد یز کال د اکتوبر په میاشت کې وفات شو نو د هغـــهپـــر ځـــای بایزید خان کر لاڼی (۱۵۷۲ زیږد یز) د بینګال پر تخت کښیناست. تر تخت کښینا ستلو وروسته هغه د خپل پلار سلیمان خان کر لاڼي پا لیسي او تګلاره پر یښود له او خطبه او سکه یې په خپل نا مه جاري کړه. با یزید خان کر لاڼي نه یـــوازې د واکمنۍ په چارو کې د خپل پلار تګلاره پر یښود له، بلکې د هغو پښتنو امیرانو سره یې هم مخالفت پیل کړ چې د د ه د پلار د واکمنۍ په وخت کې یې ستر ستر منصبو نه د رلود ل. د د ې پا یله د ا شوه چې ټول پښتانه امیران له د ه نه په ډار

کې شول او د د ه پر خلاف یې ساز شو نه او منصو بې جوړې کړې چې مشري یې د سلیمان خان کر لاڼي یوه

390 http://www.banglapedia.org/httpdocs/HT/S_0593.HTM

391 http://en.wikipedia.org/wiki/Sulaiman_Khan_Karrani

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال قتلو خان لوانړي (لوهاڼي) ته ور په غاړه وه. د همدې سازشونو په نتيجه کې با يز يد خان د خپل اوښي هنسو نو مې له خوا د خپلې واکمنۍ په اتلسمه ورځ ووژل شو. د با يزيد وژنې د پښتنو اميرانو تر مينځ قبيلوي شخړو او تعصباتو ته لمن ووهله او اميران په خپلو کې په جلا جلا ډلو سره وويشل شول او د تخت د نيولو لپاره د رڼې تنه کلند يد ان ود ريد ل چې د غو شخړو او لا نجو ته د سليمان خان کر لاڼي وفاد اره وزير ميا لود ي د پای ټکی کيښود او هغه د اچې د سليمان خان کر لاڼي د ويم زوی د اؤد خان يې د واکمنۍ لپاره مناسب تن وباله او په د ې تو ګه د اؤد خان کر لاڼي د بينګال د پښتون واکمن په تو ګه د واکمنۍ پر ګد ۍ کښيناست[392]

## 121.1.4 د اؤد خان يا د اؤد شاه کر لاڼی

لکه چې د مخه وويل شو د اود خان کر لاڼی (۱۵۷۲- ۱۵۷۶) د خپل ورور با يزيد خان تر وژلوو روسته د بينګال د کرلاڼيو پښتنو پر تخت تکيه وکړه چې په د ې برخه کې لود ي خان د د ه سره مر سته وکړه او نور پښتانه اميران يې په د ې خبرې قا نع کړل چې د اؤد خان د واکمنۍ لپاره يو منا سب شخص د ی.

لود ي خان يو ريښتينی پښتون وچې د ټولو پښتنو يو والی يې غو ښت.د د ه د تد بير او پو هې په وجه تر ډېره حد ه پورې په پښتنو کې يو والی رامينځ ته شو. د اؤد خان کرلاڼي هم تر يوې مود ې پورې د لود ي خان سلا او مشورو ته غوږ نيوه، خو د ې حا لت ډېر د وام ونکړ. د اؤد خان يو احسا ساتي ځوان و او ويل به يې چې زه د ومره پر اخه واکمني لرم او بيهار، بينګال او او ړيسا زما د واکمنۍ په ولکه کې د ي نو زه د اکبر پا چا نه په څه کې کم يم. هماغه و چې د خپل ورور با يز يد خان په څير يې خطبه او سکه په خپل نامه جاري کړه او د مغولود حکومت په څېر خپلو وزيرانو او امير انو ته يې القاب ور کول او ځان يې په هند وستان کې د يوه جلا او خود مختاره واکمن په تو ګه اعلان کړ.

اکبر پا چا چې د د ه د پلار سليمان کر لاڼي له وخته د پښتنو واکمني نه شوه زغملی نو ځکه يې خپل وايسرای منعم خان ته امر وکړ چې پر بيهار بريد وکړي. لکه چې د مخه وويل شول د بايزيد خان کرلاڼي تر وژلو وروسته په پښتنو کې يووالی کمزوری شوی و، که څه هم د لود ي خان د تد بير او سياسي پوهې په بر کت د غه پښتانه سر ملګري شانته راغونډ او يو مو ټی شوي وو، خو د ځينو اميرانو تر مينځ لا هم مخا لفتونه او تر بګنيو شتون د رلود.د ې مخا لفتونو د د اؤد خان کر لاڼي په زړه کې شکو نه راپيد ا کړل او په پا يله کې يې لو مړی د لود يخان زوی او تر هغه وروسته يې د هغه پلار لود ي خان وواژه. د لود ي خان او د هغه د زوی وژنې نه يوازې د پښتنو يووالي ته سخت زيان ورساوه، بلکې د هغه په وژنې سره د مغولو په وړاند ې يو لوی خنډ هم له مينځه ولاړ اود ا يو د اسې حقيقت د ی چې د مغو لي د ربار مؤرخ ابو الفضل هم پرې اعتراف کوي او ايي:

"د ا د اکبر پا چا نيکمر غي وه چې د هغه د ښمن د اود خان کر لاڼي پخپله لود ي خان وواژه اود ا هغه کار و چې

392 http://www.banglapedia.org/httpdocs/HT/B_0365.HTM

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکبر پا چاپو ځیانو د ډېرو هلو ځلو سره سره هم نه شو تر سره کولای. "[393]

د پو رتني خبر ې نه د ا جوتیږي چې لود ي خان د ځو مره ستر شخصیت خاوند و چې مغولي واکمن اکبر هم د هغه نه ویره د رلوده او د هغه د ځپلو په فکر کې و. د تاریخي مستند و روایتو نو پر بنسټ د اؤد خان کر لاڼي، میالود ي یا لود ي خان د قتلو خان لواڼي، ګجر خان کر لاڼي او سري هاري چې د د اؤد خان د کو چنیوالي ملګری و په لمسون وواژه. د لود ي خان تر وژنې وروسته قتلو خان لواڼي ته د وزارت د نده او سري هاري ته د و ک الت د نده ورکړل شوه. قتلو خا لواڼي او سري هاري نه یوازې چې د لود ي خان په وژنه کې لاس د رلود، بلکې د غو د واړو امیرانو په ډېرو نازکو شیبو کې د خپلو شخصي ګټو لپاره د مغولي د ربار سره سازشو نه هم وکړل او د د اؤد خان کر لاڼي د واکمنۍ بیړۍ یې ډوبه کړه.

د د اؤد خان کر لاڼي له خوا د لود ي خان وژنې په پښتنو کې ډېره ستره بې اتفاقي رامینځ ته کړه. اکبر پا چا خو هسي هم پښتنو ته په او بو کې خولې خولې کید ه او د اسې ښه وخت په لاس ورغلی و چې باید له هغه نه یې ګټه اوچته کړې وای. همد او چې اکبر پا چا د جو نپور ګورنر منعم خان په د ې کار وګوماره چې بلید د د اؤد خان سره جګړه وکړي. ویل کیږي چې د اؤد خان ۱٤___ تنه پلي سر تیري، ٤___ تنه سپاره، ۲___ توپک اوتوپونه او ډول ډول وسلې، ۳٦__ جنګي ها تیان او په سلګونو جنګي بیړۍ د رلود لې او په خپل پو ځي ځواک ډېر نازید ه او ځان یې د د ې جوګه ګاڼه چې د اکبر پا چا سر ه وجنګیږي. هماغه و چې منعم خان په ۱۵۷۳ زیږد یز کال کې د یوه لوی پوځ سره پر بیها ر برید وکړ.

که څه هم د اود خان کر لاڼي د مغولو سره د مقا بلې لپاره یو ستر پوځ د رلود، خو هغه پټنې ته لاړ او په پوځي کلا اوچاونې کې پا تې شو. مغولي پو ځونو کلا محا صره کړه، خو مغو لي پو ځو نو د غه محاصره نه شوه ما تولی.

په پای کې په ۱۵۷٤ زیږد یز کال کې پخپله اکبر پا چا په د اسې حال کې چې د وه نور جنرالان تود رمل او مان سینګ هم ورسره ملګري ول پر حاجي پور برید وکړ، ځکه چې د اؤد خان او د پټنې د کلا محصو رینو ته به خواړه او د جګړې سامان الات د حا جي پور نه رارسید ل. اکبرپا چا د حا جي پور سیمه تر یوې سختې خونړۍ جګړې نه وروسته فتحه کړه چې د حا جي پور په نیولو سره د پښتنو زړونه مات شول، خو سره له د ې هم د اؤد خان کر لاڼی د کلا پر یښو د لو ته تیار نه و. ویل کیږي چې هغه په نا خبرۍ کې نشه کړل شو او په هماغه شپه یې د کلا نه راویو ست او د بینګال خو اته یې بوته. ویل کیږي چې د کلا د خالي کو لو کار ګوجر خان کر لاڼي ته سپارل شوی و او په د ې کار سره پښتنو ته ډېر زیان ورسید. هغه د اچې مغو لو د شپې په توره تیاره کې د سیند بند مات کړ او د ومره او به ډېرې شوې چې د پښتنو د پوځ ډېر شمېر هاتیان او اسونه د مغولو د پوځ لا س ته ورغلل او ډېر شمېر پښتانه په سیند کې لا هو شول او ډېر شمېر هم د مغولو د تورو په ګوزارونو ووژل شول او پا تې یې ژوند ي ونیول شول.

---

393 پښتا نه د تاریخ په رڼا کې، ٦٤۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مغو لو له خواپټنې د کلا ترنيو لو وروسته په ۱۵۷٤ زيږ د يز کال کې مغولو له پښتنو نه سراج ګړهـــه، مــو نګهير، بهاګلپور او کول ګنګ او نورې ډېرې سيمې ونيولې.

تر د ې ماتې وروسته د اود خان کر لانی بينګال ته لاړ اود بينګال د خوند ي ساتلو لپاره يې د تيلو ګړهي د ره پياوړې کړه. د ا د ره د لر غو نو زما نو راپد بخوا د شمالي هند نه بينګال ته د ور ننوتلو د روازه ګڼله کيد له. د د ې د رې د خوند ي سا تلو لپاره سوري شيرشاه د خپلې واکمنۍ په وخت کې يوه کلا هم جـوړه‌کـړې وه. مغـولي واکمـن اکبراګړې يعنې خپلې پلا زميښې ته د ېېرته ستنيد و په وخت کې منعم خان د بيهار او بينګال ګورنر وټاکه او تود رمل يې هم ورته پر ښبود څو له د ه سره مر سته وکړي. په د غه وخت کې د مغولي پوځ مشر منعـم خـان‌هـم د اود خـان تعقيباوه او د خپلو پو ځو نو سره يې ځان د تيلو ګړهي د رې ته وروړساوه، خو منعم خان ته پرد ې د رې باند ې تير يد ل څه اسا نه خبره نه وه. د منعم خان په د غې ستو نزې کې د سيمې ځينو ځمکه والو مر سته وکړه او هغـه‌تـه‌يـې بينګال ته د ننوتلو لپاره يوه بله پټه لاره ور وښو د له.منعم خان هم خپلې پو ځې ډلګۍ له د ې لارې د بينګال خـو لتـه وليږلې. کله چې د تيلو ګړ هې د رې د ساتنې پو ځيانو چې د د اؤد خان کر لانې له خوا په د ې د ند ې ګومـارل شـوي وو د ا حالت وليد نو د تيلو ګړ هي د ره يې پر يښود له او د تيلو ګړ هي د ره د کو مې جګړې پر ته د مغولو د پوځ په ولکه کې راغله. د مغولو له خواد تيلي ګړ هي د رې نيول په حقيقت کې د ټول بينګال د نيولو په مانا و. د اؤد خان کـــر لانی چې د د ې حالاتو نه خبر شو نو خپله پلا زميښه يې د ټانډې نه ستګاون ته وليږد وله، خو منعم خان د ۱۵۷٤ زيــږ د يز کال د سپتمبر په ميا شت کې يې ټانډه او ستګاون هم ونيول او په بينګال کې يې خپل وړاند ې تګ ته د وام ورکړ.

په کال ۱۵۷۵ زيږد يز کال کې د توکاري په سيمه کې چې اوس د بينګال د ميد ناپور په ولسوالۍ پورې اړه لري د مغولو او پښتنو تر مينځ يوه خو نړۍ جګړه وشوه او سوبه د پښتنو په بر خه شوه چې په د ې جګړه ې د د اؤد خان پوځي جنرال ګو جر خان ښه وځليد، خو له بد ه مر غه پښتانه پو ځيان د غليم د پوځ په ولجو را ټولولو بو خت شول. مغولي پوځ چې د د وی د غه حالت وليد نو بيا يې پر د وی بريد وکړ چې په پا يله کې ډېر پښتانه پو ځيان ووژل شول

او ډېر شمېر د مغو لو پو ځيانو ته ژوند ي په لاس ورغلل چې د پښتنود ا ټول جنګي بند يان د منعم خان پـــه امرووژل شول او د د وی د ککريو او سرونو نه يې اتيا لوړې منارې جوړې کړې.

د ې ماتې د پښتنو پوځي او جنګي مورال او د د اؤد خان پوځي پياوړتيا ته سخت زيان ورساوه. مغول چـــې د پښتنواو د اؤد خان کر لاني په حال ښه خبر وو، نو د اؤد خان ته يې د يوې شيبې لپاره د ساه ايستلو مجال او وخت نــه ورکاوه او تر د ې ما تې وروسته د اؤد خان کرلا نی د کټک کلا ته لاړ اوهلته يې پناه يوړه او د مغولو سره يې د سولې د خبرو غو ښتنه وکړه او د سولې خبرې اترې پيل شوې. که څه هم مغولو جګړه ګټلې وه، خو جګړو د وی هم ځپلـــي وو نو د وی هم مجبور شول چې د د اؤد خان سره د سولې خبروته غاړه کيږد ي. په پای کې د د وی تر مينځ يو تړون لا سليک شو چې د هغې له مخې د اؤد خان کر لاني د بيهار او بينګال صو بې مغولو ته ورکړې او د اوړيسا صو بــــه د د اؤد خان سره پا تې شوه، خو پښتنو اميرانو په بيهار او بينګال کې د مغولو ځواک ونه مانه او په د غو سيمو کې يې‌لـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغولو سره جنگونه کول، په تېره بیا د بینګال شمالي او د بیهار جنو بي برخې د پښتنو په لا س کې وې.

تر د ې تړون شپږ میا شتې ورو سته منعم خان د ۱۵۷۵ کال د اکتو بر د میا شتې په ۲۳ نېټه مړ شو. د منعم خان تر

مړ ینې وروسته د اؤد خان بیا د بیهار او بینګال د نیولو هوډ وکړ، هغه په ډ بړې چو پټیا ســر مېــر بینګــال برید وکړ او خپله زړه او پخوانۍ پلا زمېښه ټانډه یې بیا په خپله ولکه کې راوسته او د تیلو ګر هي د ره یې هــم بنــه پیاوړې کړه. د د اؤد خان کرلاڼي د ې نا ببره برید ونو په بینګال کې مغولي پو ځو نه وویرول او هغوی د جګړې نـــه پر ته بینګال

اکبر پا چا چې په خپلې د ارالخلا فه یا پلا زمېښې اګره کې د د ې پېښو نه خبر شو نو د خا ن جهان او تود ر مل تر مشرۍ لاند ې یې یو ستر پو ځ د بینګال د بیا نیولو لپار ه وګو ماره او د غه پوځ د ۱۵۷۵ زیږ د یز کال د نوامبر په

میا شت کې د اګرې نه د بینګال په لور ورروان شو او بها ګلپور ته نږد ې د بینګال نه د مغو لو تښتید لی پوځ هم ورسره یو ځای شو، خو د ې تښتید لي پوځ د ومره ویرې اخیستی و چې د نوي پوځ سره په سختۍ د بینګال د تلو لپاره چمتو شو.

د ځلې د اؤد خا ن کر لاڼي د تیلي ګړ هي د پیاوړتیا لپاره ۳... تنه پښتا نه ګو مارلي ول، خو د یوه خــونـــړۍ جګړې په ترڅ کې مغول په د ې وتو انېد ل چې د ا مهمه د روازه ونیسي. خانجهان د ټانډې خواته مخه کړه او د اؤد خان د د ه سره د مقا بلې لپاره د راج محل د ره نیولې وه او د لته د اؤد خان کر لاڼي خپل ځواک د ومره پیاوړی کړی و چې مغول پو ځو نه یې پوره اووه میا شتې ایسار او ځای پر ځای تم کړل. د ې اووه میا شتني ایسارتیا، د خوړو کموالي او د پر له پسې بارانونو اوربښت د مغولي پو ځو نو زړونه وغورزول.

پرد ې بر سیره مغولي پوځ چې زیات شمېر یې سني مذ هبه ول د حسین قلي بیګ چې اکبرپــا چــا ورتــه د خانجهان لقب ورکړی او شیعه مذ هبه و تر مشرۍ لاند ې جګړې کو لو ته تیار نه ول او د ا د اسې عوامل ګڼل کید ای شي چې د د اؤد خان کر لاڼي په ګټه وو. خانجهان چې د خپل پوځ حالت د رک کړ نو سمد لاسه یې د اکبر پا چا نه د خوراکي تو کو او پوځیانو د ور لیږلو غو ښتنه وکړه او اکبر هم هغه ته سمد لاسه خوراکي توکي او سا مان الات او پو ځیان ور ولیږل.له بلې خوا خانجهان د د اؤد خان کر لاڼي د وه مشهور امیران یعنې سري هاري او قتلو خان لواڼی د ځان پلو یان کړ ل. د اد واړه کسان هغه خلک وو چې د اؤد خان د د وی په لمسون او شیطانۍ خپل نامتو او مد بر وزیر لود ي خــان وژلی و. په د ې حسا سه شیبه کې چې د د اؤد خان کر لاڼي اود ټو لو پښتنو ژوند، عزت او نا موس له خطر سره مخــا مخ و، د د اؤد خان د د غو د ووتنو یاد و شوو امیرانو غد اري یو نه بخښنل کید ونکی جرم ګڼل کیږي. ویل کیږي چې سري هاري د مغولو د پوځ جنرال خانجهان ته د د اؤد خان کر لاڼي د واکمنۍ مهم سند ونه او پو ځي پټ رازونه ور ښر ګند کړل او مغو لي جنرال د هغه سره د اژمنه وکړه چې په بد ل کې به ورته د جیسور سیمه د جا ګیر په ډول ور کوي. سري هاري نه یوازې د اچې مهم سند ونه او پټ پو ځي رازونه د مغولو په واک کې ورکړل، بلکې په د ې نا زک وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یې د د اؤد خان کر لاڼي ټوله خزانه په کښتۍ کې بار کړه او په پټه یې د خپل جا ګیر سیمې جیسور ته ورســوله او خپل ورور یې هم له ځانه سره بوت. په همد ې تو ګه قتلو خان لواڼي هم د مغو لو سره ژمنه وکړه چې په جګړه کې به د مغو لو په ګټه کار کوي چې په بد ل کې ورته مغولو په اوړیسا کې د جاګیر د ورکولو ژمنه وکړه.

د مغو لو سره د راج محل ترجګړې د مخه د اؤد خان کر لاڼي ته د ا پته ولګید له چې سري هاري چې د ه پــرې اعتبار او باور د رلود له د ه سره غد اري کړې، نو د ی په د ې خبره د و مره نا هیلی او نا امید ه شو چې سمد لاســه د راج محل په ډګر کې د مغو لو سره جګړې ته چمتو شو. د ا فیصله کوونکې جګړه د ۱۵۷٦ زیږد یز کال د جــولای د میـا شتې په ۱۲ نیټه د راج محل په ډګر کې وشوه. د هند ي تا ریخو نو په قول په د غه جګړه کې د اؤد خان کر لاڼی پخپلــه د یوه زمري په څیر د مغولي د ښمن سره تر پا یه وجنګید.

د راج محل جګړه د کر لاڼي پښتنو او مغو لو تر مینځ وروستنۍ فیصله کوونکې جګړه وه. له بد ه مر غه په د غه جګړه کې د د اؤد خان کر لاڼي د پو ځ یو ډېر تو ریالی افسر جنید خان چې هغه هم کر لاڼی پښتون اود د اؤد خـــان کر لاڼي له تر بورانو نه ګڼل کید ه هم د جګړې په پیل کې ډېر سخت ژوبل شو، خو سره له ې هم چـــې ژوبـــل و پـــه میړانې سره و جنګید، خو ورو سته بیا د مغو لو له لا سه ووژل شو. همد اراز په د غه جګړه کې د د اؤد خان کر لاڼي د پوځ یو بل نو میالی افسر کا لا پهاړ هم سخت ژوبل شو. د د ې پیا وړو افسر انو په وژلو سره د جګړې په ډګــرکــې د پښتنو پو ځیانو مورال کمزوری او پښې یې سستې شوې او ماته یې وخوړه. په د غه وخت کې د اؤد خان کر لاڼی چې د زمري په څېر جنګېد ه د مغو لي د ښمن لا س ته ورغی. مغولي جنرال خا نجهان د د ه د وژلو امر وکړ چې تر وژلـــو ورو سته یې سر له تنې غوڅ او د اکبر د ربار ته ولیږل شو.

د راج محل جګړې په ختیز هند یعنې بینګال، بیهار او اوړیسا کې د پښتنو واکمنۍ ته د پای ټکی کیښود.

د تاریخ خانجهاني ۱۰۲۱ هجري د لیکوال نعمت الله په قول د راج محل په ډګر کې د پښتنو د مــاتې ســبب د د اؤد خان کر لاڼي سره د د ه د د وو تنو امیر انو یعنې قتلو خان لوا ڼي او سري هاري غد اري وه.

د هند د منځنیو پیړ یو د تا ریخ د یوه زد ه کوونکي په تو ګه زما د د ې مقالې د لیکوال په اند که څه هم پخپله د اؤد خان کر لاڼی یو زړور واکمن و خو ځینې سترې تیر وتنې یې هم کړې د ي چې زه یې ځینې بیلګې په لاند ې ډول پر ګو ته کوم:

1. د اؤد خان کر لاڼي با ید د خپل پلار سلیمان کر لاڼي پا لیسي تعقیب کړې وای او ډېر احسا سا تي ګا مو نه یې نه وای او چټ کړي د مغو لو سره یې د سازش او نرمۍ لاره غوره کړې وای.
2. د ه باید پر خپلو د وو تنو لوړ پورو چا رواکو یعنې قتلو خان لوا ڼي او سري هاري باند ې د ومره زیا ت باور او اعتبار نه وای کړی.
3. د اود خان باید د قتلو خان لو انې او سري هاري په لمسون خپل نامتو امیر لود ي خان نه وای وژلای، ځکه چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لود ي خان چې کوم خد متو نه د ه ته کړي و هغه يې با يد له ياد ه نه واى ايستلي.

4. د اؤد خان بايد هيڅکله هم د مغو لو سره د سولې په تړ ونو باور نه واى کړاى، ځکه چې مغول په هر وخـــت او شيبه د ې ته چمتو وو چې د پښتنو ځواک وځپي [394]

# 122 کسايي

کسايي د کاکړو د قبيلې يو ښاخ د ى چې د سهيلي پښتو نخوا د شال په د ره کې اباد او مېشته د ي. ابد الي احمـــد شاه با با د شال د ره د بلو څو مشر نصير خان ته د هغه خد متونو په بد ل کې چې د ه ته يې کړي وو ورکړه. اوس د غه د ره د بلو چستان يوه بر خه ګڼله کيږي.[395] د کسايي د ښاخ يا د ونه د مخه د کا کړو د قبيلې په بر خه کې شوې د ه.

# 123 کوټي

محمد حيات خان له نن نه ۱٤٦ کلو نه وړاند ې په خپل مشهور اثر تاريخ حيات افغاني کې د کو ټي د ښاخ په اړوند د اسې ليکلي د ي:

"د کو ټي ښاخ خلک له اره سيد ان د ي خو وروسته په وصلي تو ګه په بيټنيو کې ورګډ شول، ځکه چې د بيټ نيکه لمسى د وړسپون زوى ابر اهيم د يوه سيد زوى په زويتوب ونيو ه او هغه يې لوى کړ. د غه ما شوم کوټي نو ميد چې د کو ټي ښاخ هم د د ه په نوم ونو مول شو. کو ټي د ابر اهيم د اصلي زوى د وتا ټي نه نيمه بر خه وا خيســـتله او د بيټنيو د قبيلې په يوې کورنۍ کې يې واد ه وکړ چې د محسن شاه او حسن شاه په نامه د وه زامن ترې پيد ا شــــول. محسن شاه د جنګ شاه او فيروز شاه په نامه د وه زامن د رلود ل، نو ځکه د بيټني له قبيلې نه وشميرل شو، خو سره له ې هم د وى ته سيد ان وايي او په بنو کې يوه سيمه شته چې ورته "کوټي ساد ات" وايي چې او س هم د د وى اولاد ه او نسل هلته استو ګنه لري چې څانګې يې د ميري خېل، سيني خېل او د ولت خيلو په نا مه سره يا د يږي. ويل کيږي چې د د وى ښځې، وجود او نور فزيکي جوړښت د بيټني قبيلې له نورو ښا خونو او څانګو سره تو پير لري. [396]

---

394 د د اؤد خان کر لاڼې د واکمنۍ په اړوند زما (د د ې مقالې د ليکوال )يا د د اشتونه

395 قاضي عطاؤالله خان، د پښتنو تاريخ، لو مړى ټوک، ۲۸. مخ، د کابل چاپ

396 محمد حيات خان، حيات افغاني، ۲۷۲ او ٤٥٤ مخونه، د پيښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 124 کورم خېل

د وی له اره غلجي پښتانه د ي او ځانونه په سليما نخيلو ورګډوي. د د وی يو شمېر د ننګر هار په ولايت مرکز جلال اباد په ښارکې استو ګنه لري. په نوموړي ولايت کې د ۱۳۶. زيږ د يز کال د سر شميرنې له مخې د د وی تول شمېر ۲۳٤.تنه ښود ل شوي د ي [397] چې ښايې اوس به يې په شمېر کې د وه برابره زياتوالی راغلی وي.

# 125 ګاړي

ګاړي له اره غلجي پښتانه د ي. يو شمېر يې د ننګر هار په ولايت او يو شمېر يې هم د بغلان ولايت په ځينو کليو کې مېشته د ي.

هغه شمېر ګاړي چې د ننګر هار په ولايت کې مېشته د ي نو د د غه ولايت د حصارک غلجايې په ولسوالۍ کې استو ګنه لري او په نو موړې ولسوالۍ کې د ۱۳۶. لمريز کال د سر شمير نې له مخې د د وی تول شمېر د ۱۹۸. تنو په شا او خواکې ښود ل شوي د ي چې ښايې اوس يې شمېر د هغې سر شمير نې په پر تله د وه ځلې زيات شوی وي. د بغلان او ننګر هار ولا يت د ګاړو سر ېېره پا تې ګاړي د افغانستان په بېلا بيلو ولا يتو نو کې په خواره واره ډول استو ګنه لري.[398]

# 126 ګبري

ګبري په اصل کې تر کلاڼي پښتانه د ي، د پښتنو د سړبن په تو لنيز ګروپ يا ډلې پورې اړه لري او د سالا رزيو د قبيلې يو ښاخ شميرل کيږي، خو د د وی په اړه جلا جلا نظريې هم شته. د پښتنو د ځينو تو کم پو هانو په لند کله چې په شپاړسمې زيږد يزې پيړۍ کې تر کلا نيو د با جوړ سيمه ونيوله، نو د باجوړ په ګبر نومې سيمه کې ګبر يا کا فران (غير مسلمانان) او سيد ل [399] او څه وخت چې تر کلا نيو د ګبر سيمه له د وی نه ونيوله نو د ګبر اوسيد ونکي يې مسلمانان کړل چې او سني ګبري د هغو ګبر د اوسيد ونکو اولاد ه د ه، خو د ځينو نورو په اند څه وخت چې تر کلا نيو د ګبر سيمه ونيوله د ګبر او سيد ونکي غير مسلمانان د با جوړ شمال د انګام او نورو د رو ته وتښتيد ل او په ګبر کې کافران پا تې نشول.

---

397 د کتور لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۲۱۸ مخ، د پيښور چاپ

398 د کتور لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۲۱۸ مخ، د پيښور چاپ

399 د پښتنو تو لنيز اقتصاد ي جو ړښت، ۲۲۹ مخ، د افغانستان د علومو اکيډيمي، د پښتو څيړنې نړيوال مرکز، کابل، ۱۳٦۲ لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باجوړ د سیمې د ځمکو د ویش په وخت کې د سالار زیو یوه خیل ته د ګبر سیمه په ویش کې ورسید له چې د وخت په تیرېد و سره د غه خیل د د غې سیمې د نا مه له کبله د ګبر یو په نا مه ســره شــهرت وموند. د پښـتني د قبیلوي شجرو پر بنسټ ګبري په ختهه سا لارزي د ي، خو د ځای په ارتباط ورته ګبري ویل کږي.

ویل کیږي چې ګبري د سالارزیو سره یو ځای د کونړ د انګام ته راغلي د ي او د سالارزو ســره یــو ځــای او سیږي او اکثریت یې خپلې ځمکې لري او سالارزي هم د وی خپل سیالان ګڼي.

پاتې د ې نه وي چې د لغمان د الینګار په د ره کې د د غه ولایت د مرکز پورې یو اړوند ه کلی شته چې ممکـــن تر کلا ڼې اوسي، ځکه چې کله د کابل واکمن مغولي میر زا الغ بیګ د یو سفزیو اته سوه مشران په کابل کې له تیغه تېـر کړل، نو یو سفزي، ګګیاڼي، اتمانخیل او تر کلا ڼي د کا بله راو کو چید ل، یوسفزي، ګګیاڼي اواتمانخیل ننګر هــار او بیا له هغه ځا یه د خیبر په تاریخي لاره پیښور ته لاړل، خو تر کلا ڼیو په لغمان کې واړول.څه مود ه وروسته تر کلاڼي هم میرزا الغ بیګ ته د لغمان د خلکو د شکایت په وجه له هغه ځا یه ولیږ د ید ل او با جوړ ته لا ړل چې تر او سه‌پـوري هما غلته مېشته د ي.[400]

# 127 ګګیاڼي

ګګیاڼي له اره سړ بڼي پښتانه د ي او په بنا خي خیلو ورګډیږي. ویل کیږي چې د ا قبیله د خپلې مـور ګـاګۍ د نوم په وجه په ګګیا ڼیو سره مشهوره شوې د ه. د پښتني عنعنوي او د ود یزو روایتو نو پر بنسټ شیخا او مر جانې د وه زامن د رلود ل چې یو یې مند نو مید چې او لاد ه یې یو سفزي او مند ړ د ي او د بل نوم یې مک و.مک یوه لور د رلود له چې ګاګۍ نو مېد له او د زیر کي په نا مه یو تن ورسره واد ه کړی و چې د ګاګۍ او لاد ه اوس د هغې د نامه‌لـه بله په ګګیا ڼیو سره مشهوره د ه، خو د مک اولاد ه ډېره نه شوه او هغه هم په ګګیا ڼیو ورګډیږي.[401]

د تاریخي مستند و رو ایتو نو پر بنسټ د ګګیا ڼیو لو مړنی استو ګنځی د کند هار د ار غستان په حد ود و کې د غونډان او سره غره په شا و خو اکې د غوړې مر غۍ سیمه وه. ګګیا ڼي د ځوار لسمې زیږ د یزې پیړۍ په پیل کې د یو سفز یو. مند ړو او تر کلا ڼیو (تر کا ڼیو) سره یو ځای چې هغوی هم بنا خي خیل ول د تر ینو پښـتنو دقـبیلې د زور او فشار له کبله د خپلې سیمې پر یښود لو ته اړا یستل شول او له هغه خا یه لو مړۍ غز ني او ورو سته د کابل ور شو ګانو ته ولیږ د ید ل. په هغه وخت کې په کابل کې مغو لي واکمن میر زاالغ بیګ د کابل واکد ارو.

میرزالغ بیګ په پیل کې په مجمو عي تو ګه د بنا خي خیلو قبیلو سره بنه چلند کاوه، خو په پای کې‌یــې د یــو سفز یو او ګګیا ڼیو تر مینځ یې بې اتفاقي واچو له او ورو سته یې بیا د ګګیا ڼیو سره پو ځي مر سته وکړه او هم یــې

---

400 پیر معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خاني، ٦-٧ مخونه

401 د کتور لطیف یاد، پښتني قبیلې، ٢١٩-٢٢. مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل پوځ ته امر وکړ چې د یو سفز یو په وړاند ې د ګګیا نیوملګر توب وکړي. میرزا الغ بیک په د ې تو ګه غو ښتل چې پښتانه په خپلو مینځو کې سره وجنګوي او د د وی یو والی او پو ځي ځواک مات کړي. یوسفز یو هم د میر زا الغ بیګ او ګګیا نیو سره په جګړې لاس پورې کړ چې په پا یله کې میر زا الغ بیګ ماتې وخوړه. په پا ی کې میـــر زا الـــغ بیګ بله چاره ونه لید له اوڅو تنه سړي یې یو سفز یو ته ور ولیږل او د د وی ملکان یې را وغو ښتل او د هغوی ډېر عزت او د رناوی یې وکړ. یوسفزي د میرزا الغ بیګ په د غه چل ول و غو لېد ل او هره ورځ به یې له د ه ســره تــګ راتګ کاوه.[402]

میرزا الغ بیګ چې ډېر زیر ک سړی و د ا ځل یې بله د وکه رامخته کړه. یوه ورځ یې د یو سفز یو د قبیلې اته سوه مشران او ملکان په د اسې حال کې میلمانه کړل چې ټول بې وسلې ول. پرته له یوه تن نه چې محمود نو مېـــد او د محمد زوی او د یو سفز یو د قبیلې د چغر زي د ښاخ نه و له ځانه سره په پټه یوه چاره راوړې وه. د میلمستیا په وخت کې محمود د میرزا الغ بیګ په بد نیتۍ و پو هید او خپلو نورو ملګرو ته یې وویل که ستا ســو څــو ښــه وي زمــبه میرزاالغ بیګ ووژنم، خو نورو ملګرو یې د ی له د ې کاره منعه کړ او ورته یې وویل چې باید د د ه د مالګې حـــق اد ا کړي، ښایي د ی له موږ سره بد ي ونکړي.[403]

ویل کیږي چې په د غه وخت کې د چنګا په نوم یو تن ګګیانی چې د یو سفز یو سره یې سخته د ښمني د رلود له د کابل مغولي واکمن میرزا الغ بیګ ته د اسلا او مشوره ورکړه چې په د ومره ډېر شمېر د یو سفز یو مشران چـــې بې وسلې د ي بیا په لاس نه شي د رتلای باید وخت غنیمت وګڼي او ټول ووژنې. میر زا الغ بیګ هم د چنګا د غه ســلا او مشوره ومنله او ټول یو سفزي یې ونیول او د یوه تن ملک احمد نه پر ته چې هغه هم د نورو وژل شوو مشر انو او ملکانو په غو ښتنه بچ پا تې شو پاتې ټول د یو سفزیو مشران او ملکان یې ووژل او له تېغه یې تېر کړل.

د یو سفزیود د غو اته سوه ملکانو او مشر انو تر وژل کېد و ورو سته یو سفزي، تر کلا نې او ګګیانې د کابل له شا اوخوانه په ډېر بیوزلي حالت کې وشړل شول او د ننګر هار خواته وکو چید ل.

هغه وخت چې په کابل کې د مغولو د کورنۍ ځواک مخ په زوال شو نو پښتانه ترین په کند هار او د هغه په شااو خواکې ډېر پیاوړي شوي وو چې په نتیجه کې غو ریاخیل [404] هم د بټه اړ ایستل شول چې د هغوی له لا سه هغه سیمه پر یږد ي نو هغوی هم د خا ښي خیلو لاره تعقیب کړه. تر غوریا خیلو وړاند ې د ننګر هار په سیمه کې ګګیانې او مهمنزي اباد شوي وو.[405] د غوریا خیلو په راتلو سره ګګیا نیو د ځان لپاره د لو یې سیمې د پید ا کو لو هلې ځلې پیل کړې. تر کلا نیو هم په د غو ورځو کې یوه ډله د حالا تو د معلو مولو لپاره با جوړ ته ولیږله. ګګیا نیو هم د تر کلا نیو په سیالۍ

402 پیر معظم شاه، تواریخ حافظ رحمت خاني، پیښور، پښتو اکیډیمي، ٦-٧ مخونه

403 حیات افغاني، د پیښور چاپ، ۱۹٦ مخ

404 غوریا خیل په اصل کې سړ بې پښتانه د ي او (مو مند و، د اود زیو، خلیلو، څمکنیو او زیړ انیو) ته په مجمو عي ډول غو ریا خیل ویـــل کیږي. (لیکوال)

405 مهمنزي په اصل کې سړ بني پښتانه د ي او د خر شبون د زوی د زمند اولاد ه د ه. د وی په اشنغر کې او سیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ځيني کسان وليږل، خو د تر کلا ښيو له لا سه يې ماتې وخوړله او بېرته راستانه شول. کله چې د ګګيا ښيو لاس د با جوړ نه لنډ شو نو د مهمنز يو په سلا او مشوره يې خپل سپين ږيري او مشران يو سفز يو ته په ننواتې ورولېږل او د يو سفز يو د ملک احمد نه يې د استو ګنې لپاره ځمکه وغو ښتله. ملک احمد چې د ښنا خي خيلو تر مينځ يې اتحـــاد او يو الى غوره باله نو د د وى ننواتې يې ومنله او د وى ته يې د وى د استو ګنې لپاره د د ولبـــې ســـيمهپـــه واک کـــې ورکړه.

ګګيا ښيو ته چې کله د استو ګنې لپاره د د وابې سيمه په لاس ورغله نو د وى په ډله ايز ډول ډلې ډلــې او تــپې تپې د کړپې له لارې د و ابې ته راغلل او هلته ميشته شول. د د و ابې په سيمه کې د ګګيا ښيو تر ميشته کيد و ورو سته د وى د د لا زاکو سره د اسې چلند غوره کړ چې ملک احمد هم پرې خپه شواود د وى د مر ستې نه يې لاس واخيست. تر د ې وروسته د د لا زاکو او ګګيا ښيو تر مينځ په ګل بيلې نو مي ځاى کې چې د د اود زيو په سيمه کې پروت د ى جګړه وشوه چې په د غې جګړې کې ګګيا ښيو د د لا زاکو له لاسه ماتې وخوړه. د ګګيا ښيو د غه ماتې ملک احمد د ښتـــه اړيـــو ست چې قبا يلې اتحاد او يو والى را مينځ ته کړي او د د لا زاکو سره يوې وروستۍ فيصلې ته ور سيرې.

د د ې وجه د اوه چې د د لا زاکو د لا سه يو سفزي هم په تنګ ول او همد او چې ټول يو سفزي، مند ړ، ګګيانړي، مهمنزي او ګد انه په يو سلا او مشوره يو لښکر جوړ کړ او د د لا زاکو پر خلاف يې جګړه پيـــل کـــړه چـــې د د واړو خواوو تر مينځ د کاټلنګ او شهباز ګړۍ تر مينځ جګړه وشوه. د اخون د رويزه په قول په د ې جګړه کـــې اتمـــانخيلو ډېره ميړانه ښکاره کړه او د لا زاکو ماتې وخوړه.[406]

په اوسني وخت کې ګګيانړي پيښور ته نږد ې د خيبرپښتو نخوا د هنګو د و لسوالۍ يا ډسټريکټ پورې اړوند ه سيمې د و ابې کې ميشته د ي چې له پيښوره ۱.۱ کيلو متره يا ۶۳ ميله واټن لري. د وابه ښکلي غرونه لري چـــې ډېـــرې ونې پکې د ي. په د و ابه کې د ښنا خي خيلو، تور غالي، سور غالي، ترکانړي، ميري خيل، مند راخيل، مزنړي او حيد ر خيلو قبيلې هم استوګنه لري. د ستر روحاني مشر او ستانه غني نيکه مزار هم هلته د ى.[407] تاريخ حيات افغاني ۱۴۶ کلونه د مخه د ګګيا ښيو د خلکو شمېر پنځه زره کورنۍ ښود لي د ي.[408]

# 128 ګنډه پور

ګنډاپور له اره سړ بني پښتانه د ي او د د وى د لوى يا مشر نيکه نوم ستورى يا ستوريانى د ى چې په تاريخي کتا بو نو کې د استر يا نى يا او ستراني په بڼو هم راغلى د ى. د پښتنو د د ود يزو شجرو پر بنسټ ستو رياني پنځـــه

---

406 سيد بهاد ر شاه ظفر کاکا خيل، پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ۳۲۳ مخ

407 **http://en.wikipedia.org/wiki/Doaba,_Khyber_Pakhtunkhwa**

408 حيات افغاني، ۲۳۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زامن د رلود ل چې ترى(ګنډا پور)، شيخى، مريړى، امرا او همړ نو مېد ل چې په د وى کې د تري، شيخي، مريړي او امرا او لاد ې ته په مجمو عي ډول ګنډاپور وايي او د ستور ي يا ستور ياني پنځم زوى همړ او لاد ه د خپل لوى نيکـــه ستور ي د نا مه له کبله په ستور ياني سره مشهوره د ه.[409]

محمد حيات خان په خپل مشهور اثر حيات افغاني کې د ګنډا پور د قبيلې په اړوند د اسې ليکلي د ي:

" په پيل کې د ستوري د قبيلې ټول ښا خونه د لويد يز افغا نستان په ستورياني (ځاه) نومې ځاى کې چې د کند هار په شمال ختيز کې د اوو منز لو په واټن پروت د ى استو ګنه د رلو د له او د ستور ي د ټولــو زامنـــونـــهـــترى (ګنډاپور) ډېر ښا يسته و چې پر هغه باند ې د شير انې د قبيلې د مشر يوه پيغله لور مينه شوه او هغه نجلــۍ د خپـــل مور او پلار له خوښې او رضا پرته د ګنډ اپور کو رته لاړه او کنډ اپور له هغې سره د نکاح کو لو نيت وکړ، خو د ګنډ اپور پلار ستوري او د هغه نورو ورو ڼو د ى له د ې کاره منعه کړ او له ګنډاپورنه خپه شول او له هغه سره يې خپلـــې اړيکي پرې کړې. ترد ې ورو سته چې ګنډا پور په ستور ياني (ځاه) کې د خپلوورو ڼو او پلار نه مرور شونـــو پـــه ترد ې نومي ځاى کې يې چې د ستورياني (ځاه) نه د وه لنډ منزله واټن لري استو ګنه غوره کړه ." [410]

لنډه د اچې کله ګنډ ا پور په ترد ي نو مي ځاى کې استو ګنه غوره کړه نود کر ښې په چارو بو خت او کا ريـــز ونه يې جوړ کړل او د خپلې هغې مير منې نه يې چې په مينتوب يې ورسره واد ه کړى و د د ريو زا منو خاوند شـــو چې ابراهيم، حسين او عمران نو ميد ل اوڅلورم او لاد يې يوه لوروه چې خوبۍ نو مېد له او د خپلې بلې مير منې نه يې د يعقوب په نا مه زوى وزيږېد. هغه و خت چې ترى يا ګنډاپور په ترد ي کې مړ شو نو د هغـــه زوى لبـــر اهيـــم د ګنډاپور يانو مشر وټاکل شو او کله چې بيا شيخي، امرا او مريړي د ګنډاپور د نسل او شتو زيا توالى او پـــر مختـــګ وليد، نو په ستورياني (ځاه) کې يې خپله استو ګنه پر ښنود ه او په ترد ي کې د نورو پاتې ګنډا پور يانو سره يو ځاى شول چې تر د ې وروسته له د وى سره په ګټې او تاوان کې شريک شول.[411]

د مغولي واکمن شاه جهان د واکمنۍ په وخت کې د پښتنو د يوې قبيلې مروتو او د و لت خيلو تر مينځـيـــوه جګړه وشوه چې مروتو د غه جګړه وګټله اود د ولت خيلو قبيله د ټانک د سيمې نه په وتلو مجبو رشول او د د ولـــت خيلو د قبيلې لوى خان خانزمان د ګنډاپور يانو نه د مر ستې غو ښتنه وکړه او مرو ت يې له خپلو سيمو نه وشړل. تر د ې سوبې ورو سته بياد خانز مان په غو ښتنه ګند اپو ريان د روهړي په سيمه کې استوګن شول. د ګنډاپور شمال ته د د ولت خيلو قبيله، جنوب ته يې ميا خيل، لويد يز ته يې د سليمان غر او لمر خاته ته يې د يره اسماعيل خان مـــوقعيت لري.[412] د تاريخي روايتونو پر بنسټ د وى په ۱۷ ليږ د يزې پيړۍ کې له افغا نستانه د خپلې استو ګنې اوسنۍ سيمې ته ليږ د يد لي د ي. يو شمېر ګنډاپور اوس هم د افغا نستان د غزني په ولايت کې د تره کو د قبيلې تر څنګ اســـتو ګنـــه

---

409 د کتور لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۲۲۲ مخ، د پيښور چاپ

410 حيات افغاني، ٤٤١ مخ، د پيښور چاپ

411 نوموړى اثر، ٤٤١ مخ

412 پښتانه د تاريخ په رڼاکې، ۱۳۹۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري.

ګنډاپور زړرور او میړني خلک د ي.د وی د ننګې ونې لري او پیاوړي او غښتلي خلک د ي. په د وی کې د جر ګو سیستم شته او خلک خپلې لانجې او شخړې د جرګو مرکو له لارې اواروي. د د راني احمد شاه بابا د واکمنۍ په وخت کې د ګنډاپور د قبیلې ډېر خلک د د ه په پوځ کې د ند ې د رلود لې او د هغه د واکمنۍ په وخت کې د ګنډاپور د قبیلې د وسله والو میړو شمېر د ولس زرو تنو ته رسید ه.

ګنډ اپور په عمو مي ډول د کر نې او سو د اګرۍ په چارو بو خت د ي. حاصلات یې غنم، جــوار، بــاجري او ډول ډول ترکارۍ د ي.په پخوا وختو نو کې به د وی په د و بې کې له د امانه لوید یز افغا نستان ته راتلل او د لته به یې د بز ګرۍ لارې چارې او د اوبو د بند ونو د جوړولو کارونه زد ه کول او سو د اګري به یې هم کوله چې په پا یله‌کــې ګنډ اپوریان په روړې کې د ډېرو ځمکو څښتنان شو ل اوپه ځمي کې به یې هند وستان ته‌تــګ رلتــګ کــاوه.د وی څاروي اوښان، غوایي، خره، وزې او پسونه د ي.

## 128.1 د ګنډاپور د قبیلې خیلونه او څانګې

د ګنډاپور قبیله په لاند نیو خیلو نو او څا نګو ویشلې شوې د ه: [413]

1. ابراهیم زي
2. حسین زي
3. مو سی زي
4. یعقوب زي
5. راني زي
6. خوبي زي
7. د رې پلاره

### 128.1.1 ابراهیم زي

ابر اهیم زي د ګنډاپور د قبیلې یو مشهور ښاخ د ی چې زیاتره په کلا چي، لوني او ماد ي کې او سیږي. نورنګ خان ابر اهیم زی د د غه ښاخ مشر و. نو موړی په ملتان کې د سکهانو پر خلا ف جنګید لی د ی او په لکهي مروت‌کــې د جاګیرونو خاوند و چې سرای نورنګ لکهي مروت د د ه د نا مه له کبله په همد ې نامه سره یا د یږي.

د ابراهیم زي څانګې د اد ي:

413 تاریخ حیات افغاني د ٤٤. او ٤٤٣ مخونو شجرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



10. د ربې پلاره
11. احمد خيل
12. فتو خيل
13. جبيل خيل
14. قند و خيل
15. مند اد ک خيل
16. سيد ان خيل
17. حولت خيل
18. عبد لزي

## 128.1.2 حسين زي

د حسين زي څانګې د اد ي

1. ډوړ خيل
2. عمر خيل
3. سکند ر خيل
4. شهو خانخيل
5. نظام خيل
6. بازيد خيل
7. زاولي خيل
8. تاجي زي
9. ماني خيل
10. عالي خيل
11. جلي خيل

## 128.1.3 يعقوب زي

د يعقوب زيو خيلو نه په لاند ې ډول د ي

1. شاه خيل
2. د ا نه خيل
3. سروان خيل
4. پيرا خيل
5. احمد خيل
6. خواجي خيل
7. مريې
8. موسى زي
9. ناصر خيل
10. نتو زي
11. پيراخيل
12. راناخيل
13. شاکي
14. شهزاد خيل
15. ياکخيل يا يحيي خيل
16. قد م خيل
17. سليما ن خيل
18. مهتر خيل
19. اختيار خيل
20. شبي خيل
21. بهاد ر خيل
22. محمد خيل
23. اختي خيل
24. بهلول خيل
25. د اد ي خيل
26. حيات خيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 128.1.4 عمران زي

د عمران زيو خيلو نه د اد ي

1. عيسى خيل
2. سلطان خيل
3. سيد ان خيل
4. عثمان خيل
5. ميرا خيل
6. پا مک خيل
7. د ولت خيل
8. شهاب الد ين خيل
9. باره خيل
10. گنڼ خيل
11. نصرت خيل
12. زرني خيل
13. رشيد خيل
14. الله د اد خيل
15. حيد ر خيل
16. سيد خيل
17. غنڼ خيل

## 128.1.5 خوبي زي

د خوبي زي خېلو نه د اد ي:

1. ضحاک زي
2. سکند ر زي
3. خليل خيل
4. عبد ل خيل
5. کمال خيل
6. ملا خيل
7. حيات خيل
8. بابر خيل
9. جمک خيل
10. شد اد خيل
11. علي زي
12. بهای خانخيل
13. اند ک خيل
14. باقر خيل
15. ميد اد خيل
16. حفيظ خيل
17. ايسپ خيل
18. زرنيخيل
19. کو هک زي
20. غوراني
21. مر هيل
22. رڼازي
23. نور احمد خيل

## 128.1.6 د رې پلاري

د د ې پلاره خيلو نه په لاند ې ډول د ي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. سفر زي
8. نیکال خیل
9. غزن خیل
10. با زید خیل

## 128.2 د ګنډاپور د قبیلې د استو ګنې او سنی سیمې

ګنډاپوریان په او سني وخت کې د ګو مل د د ریاب پر ښنډه په کلا چي کې چې د پښتو نخوا په د ېره ا سما عیل خان کې مو قعیت لري ژوند کوي چې د ابا سین په لو ېد ېزه ښنډه، د خیبر پښتو نخوا په جنو بي بر خه او د ســــهیلي وزیر ستان سره پو له لري. حیات افغاني ۱٤۷ کلونه وړاند ې د د وی شمېر ۳. زره تنه ښود لي د ي او نن ورځ د د وی شمېر د ۷. او ۹. زرو خلکو تر مینځ اټکل شوی د ی. د ګنډ اپو ریا نو د استو ګنې مشهور ځای کلا چي د ی چـــې ویــل کیږي د ګنډاپور یا نو د قبیلې د مشر بارا خان په وخت کې ابا د شوی و د کلا چي ښار د د یوالو نو په ذریعـــه احــاطه شوی د ی او د پلان له مخې جوړشوی ښار د ی. د کلا چي د ښار د چاکو ګانو جوړولو صنعت، لاسي صنایع او د طلایي د ارو ښپلیو جوړول د ځانګړي شهرت نه بر خمن د ي.

د کلا چي د ښار مشهورې محلې د اد ي:

1. د شاکي محله
2. د ابر اهیم زي محله
3. د حسین زي محله
4. د یعقو بزي محله
5. د موسی زیو محله (شمالي خوا)
6. د مو سی زیو محله (جنوبي خوا)
7. د باراخیلو محله
8. د جعفر زیو محله
9. د کمال خیلو محله
10. د خد ر خیلو محله
11. د جتن والا محله
12. د عثمان خیلو محله
13. د نتو زیو محله

د کلا چي د ښار نه بهرې محلې د اد ي:

1. د رانا زیو محله
2. د زرني خیلو محله
3. د بهلول خیلو محله
4. د خود بستي محله
5. محله چو ټي
6. لوني یا قاسم اباد
7. محله هارون اباد

د کلا چي د ښار ګېټونه (د روازې):

1. شاکي ګېټ
2. ماد ي ګېټ
3. عثمان خیل ګېټ
4. جتن والا ګېټ
5. میتهو ګېټ
6. مد ی خان ګېټ

په کلا چې کې د ګنډا پور یا نو کلي په لاند ې ډل د ي:

1. ماد ي
2. هت هالا
3. ټکـــــــــــواړه چې د عمران زیو ګنډاپوریانو د ازاد خان د خانۍ په وخت کې اباد شوی د ی
4. لـــــــــــوني

چې د سلیمان غره په خـــتیزو لمنو کې د لوني د ســـیند پـر غـاړه مـو قعیـتـلـر ي او ګنډاپوریان د د غه ســـیند د او بو نه د خپلو ځمکو د خړوبـــو لو لپاره ډېره ګټه اخلي

5. روړي
6. قلنـــــــــــــدر

لوید بز د ولت پور

7. کوند و کوټ
8. زرکاني
9. کنوري پوټا
10. ګاره عبد الله
11. ګاره مد ا
12. کوټ ظفر

د ګنډاپوریانو ژبه پښتو د ه، خو په سرائیکي ژبه هم خبرې کولای شي.

د ګنډا پوریانو مشهور او نو میالي کسان:

1. نورنګ خان ابر اهیم زی
2. زمان خان ابر ا هیم زی
3. ګلد اد خان
4. قا لو خان
5. ازاد خان چې ټکواړه د د ه په وخت کې اباد ه شوې وه
6. جبیل خان
7. سرور جان خان ابر اهیم زی
8. سرد ار شاه جهان خان
9. اورنګزیب خان باراخیل
10. محمد رمضان خان رانا خیل
11. محمد حیات خان
12. عنایت الله خان ګنډا پور
13. حق نواز خان ابر اهیم زی

د ګنډاپوریانو علمي شخصیتو نه [414]:

1. حاجي غلام سرور خان ګنډاپور چې د پېښور د اسلا میه سکول لو مړنی سر ښوونکی و
2. شیر محمد خان ګنډاپور د تواریخ خو رشید جهان لیکوال چې ابراهیم زی ګنډاپور و

414 http://en.wikipedia.org/wiki/Gandapur (د فبرورۍ لومړۍ نیټه ۲_۱۲ کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. ډاکټر محمد جانخان ګنډاپورچې په اټو میک انر جی‌کې یې پي‌ایچ‌ډي کړې وه
4. ا مین الله خان ګند ا پور د تار یخ سر زمین ګومل مؤ لف
5. فقیر نو رمحمد د رساله رو هي ژبا ړونکی
6. عطا ؤالله خان عطا بهاد ر خیل د پارسي ژبې شاعر
7. طا هر کلا چوي د پښتو ژبې شاعر چې د مینې غېږ، د حسن لمن او مضراب یې لیکلي د ي
8. قاد ر د اد خان د تاریخ ګنډا پور لیکوال
9. ثناؤالله شمیم د پښتو ژبې شاعر
10. صلا ح الد ین ابر اهیم زی د اردو ژبې د د وو کتا بو نو مؤلف
11. شاه عالم خان ګنډاپوري د پښتو ژبې شاعر
12. عبد الر حمن خان ګنډا پور کما ل خیل
13. سید احمد اختر د اردو ژبې شاعر
14. الله نواز افق د اردو او سرائیکي ژبو شاعر

# 129 ګوربز

که چیرې د ګوربزو د قبیلې د نسب شجره په غور سره وګورو نو جوته به شي چې ګور بز د کرلانیو پښتنو په ټو لنیز ګروپ پورې اړه لري او د وزیرو د قبیلې یو ښاخ شمیرل کیږي. د شجرو پر بنسټ د وزیرو د قبیلې لوی نیکه وزیر د سلیمان زوی د وه زامن د ر لود ل چې یو یې لالی او بل یې خد ری نو مید ل. خد ری چې د وزیر مشـــر زوی و د د ریو زامنو خاوند و چې تر ټولو کشری زوی یې مبار ک نو مید چې ګوربز د مبارک زوی و او دګـــوربز اولاد ه د هغه د نامه له کبله په ګوربزو سره مشهوره شوه.[415]

که څه هم ګو ربز د و زیرو د قبیلې یو ښاخ د ی، خو او س د د ې لپاره چې د وزیرو د قبیلې نه جلا استو ګنه لري او په د ود ونو او رواجونو کې یې هم سره لږ شا نتې تو پیرونه شته نو ځکه د د وی یاد ونه‌پـــه جلا ډول ســـره کوو.

محمد حیات خان په خپل اثر حیات افغاني کې د ګوربزو په اړوند د اسې لیکلي د ي:

415 لطیف یاد، پښتني قبیلې، ۲۲٤ مخ، د پیښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په پيل کې ګوربز د مسعود و (مسید و) وزیرو سره یو ځای د هغوی د غره په شمالي بر خه کې میشته ول، لکه چې د شکتو په د ره او د بابړو په غره کې تر او سه پورې هم ځینې پخواني سپین ږیري وزیر د ګوربزو د قبیلې د اوبو د ویالو او د هغوی د کورو نو نښې نښانې ښيي.اوس تر د وه سوو کلونو [416] زیاته موده تیره شوې د ه چې ګوربز له د غې سیمې نه وتلي د ي او له هغه ځا یه د د وی د تللو وجه د اسې ښو د لې شوې د ه چې د ګبر په غره کې لو مړی د بيټنيو پښتنو د ورګاړي ښاخ استو ګنه د ر لود له چې ورو سته بيا ګوربزو پر د وی یر غل وکړ او د ګبر غر یې ترې ونیوه، تر هغه وروسته د بيټنيو د قبیلې د کچین ښاخ پر ګوربزو برید وکړ او د د واړو‌تر مینځ‌تر سختو خو نړیو جګړو وروسته د ګوربزو قبیلې ما تې وخوړله او د ګبرغر بیا د بيټنيو لاس ته ورغی او د د ې لپاره چې ګوربز په د غو جګړو کې کمزوري شوي ول، نو له د ې کبله د وزیرو د سیمې په لو ید یزو او شمالي څنډو کې، د خوست د سیمې د جنوب ختیز او د د وړو د سیمې په شمال لوید یزو غر نیو سیمو کې میشته شول چې د د وی په د غې غرنۍ سیمه کې د ژمي په د وو میا شتو کې واورې اوري." [417]

ګوربز په اوسني وخت کې د افغانستان د خوست ولایت د ګوربزو په ولسوالۍ کې استو ګنه لري چې نو موړې ولسوالي د تنیو اومند وزیو د و لسوالیو سر ه ګډه پوله لري. باید وویل شي چې ګوربز په ختیزه او لوید یزه بر خه کې د پښتونخوا سره هم ګډه پو له لري.

که څه هم ګوربز بیو زله او غر یب خلک د ي، خو میړني، جنګیالي او په پښتني ننګ او غیرت کې تکړه خلک د ي. د د وی فزیکي جوړښت، ښې، خیرې او رنګونه د و زیرو د قبیلې د خلکو په څیر د ي.که څه هم ګوربز د وزیرو د قبیلې سره په ګټه او تاوان کې شریک نه د ي، خو هغوی خپل ورونه ګڼي.ګوربزو په پخوا وختونو کې د وزیرو د قبیلې پر نر خونو او څلو باند ې عمل کاوه، خو اوس نو موړي نر خو نه او څلي د د وی له خوا نه عملي کیږي. [418]

حیات افغاني افغاني له نن ۱۴۷ کلونه وړاند ې د ګوربزو د قبیلې د وسله والو میړونو شمیر ۱ـــ تنه او د د ې قبیلې مجموعي شمېر یې ۱۱ـــ تنه ښود لی د ی، خو په ۲ـ۶ زیږ د یز کال کې د ګوربزو د قبیلې مجمو عي شمیر ۲۳۲ـ تنه ښود ل شوي د ي.

416 محمد حیات خان خپل تاریخ حیات افغاني په ۱۸۶۵ زیږ د یز کال لیکلی د ی چې په د ې حساب سږ کال چې ۲ـ۱۲ زیږ د یز کال د ی او سنۍ سیمې ته د ګوربزو د قبیلې له راتګ نه تقر یباشا او خوا ۳۵ـکلونه تیر یږي

417 حیات افغاني، ۴۲۷ مخ، د پیښور چاپ

418 معلومات مختصر د رباره اقوام وقبایل ولایات سر حد ي کشور، ۶۹ مخ، د کابل چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 129.1 د ګوربزو د قبیلې ښاخونه

د ګوربزو قبیله د زود ین (ضیاؤ الد ین) او نصر الد ین په نامه په د وو تپو (طا یفو) ویشلې شوې د ه چې بیا د غه د وې تپې په لاند نیو ښاخونو ویشل کیږي.

د نصر الد ین ښا خونه د اد ي:

1. سرګلي
2. شیر خیل
3. ماني خیل
4. کد ي خیل
5. کاوي خیل
6. ګلک خیل

د زود ین (ضیاؤالد ین) ښا خونه په د ې ډول د ي:

1. نیزي خیل
2. نواب خیل
3. بیباخیل
4. ژونوال
5. ګنډي خیل
6. خري خیل
7. لنډي خیل
8. بورپه خیل
9. بیکي خیل
10. پریت خیل
11. جپکه ګنډه
12. پیري ګنډه
13. بیړي ګنډه

## 129.2 د ګوربزو مشهور کلي

انډیرلی، بګي خیل، ملایانو کلی، د پښانو کلی، شهید کلی اونور...

## 129.3 خوراک یې

د ګوربزو د قبیلې خلک زیاتره په خو ړلو کې د جوارو، غنمو، ړد نو، کورتو، شید و، مستو،کو چو او پیروي نه ګټه اخلي، خو خلک یې زیاتره د جوارو نه پخ شوې ډوډۍ خو ښوي.

### 129.3.1 میوي یې

د ګوربزو د قبیلې په سیمه کې مټک(چار مغز)، مڼې، مند تې (زرد الو)، انګور، الوچې، توتان، ګو رګورې، پورګي او مو مانړې ډیرې پید ا کیږي چې له د غو میوو نه یې ځینې په تازه او ځینې یې په وچ ډول خوړل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 129.4 د ګوربزو جامې

د ګوربزو د قبیلې د نارینه ووخلکو پو ښاک د وزیرو او د خو ست د خلکو د جا مو پــه څیــر د ي. د ښــځو کمیسونه یې د ۱. متره نه نیولې تر ۲. مترو پورې ګن وي. همد اراز ښځې یې سره، سپین او تور ټیکري هم په سروي. همد اراز د د وی میر منې د مزرو څپلۍ هم په پښو کوي.

## 129.5 لاسي صنعت

د ګوربزو د قبیلې خلک د مزرو نه ښکلې او ښا یسته ټو کرۍ ګانې (شکرونه)، پړي، څپلۍ، ترنګړ، د کټ بوڼ او د خرو کتې جوړوي.[419]

# 130 لالي یا لیلي وزیر

لکه چې دنسب له شجرې نه څر ګندیږي لالي یا لیلي وزیر دپښتنو په کر لاڼي ټو لنیز ګروپ پورې اړه لري او لالی دخدري ورور او دوزیرو دقبیلې یو ښاخ شمېرل کیږي چې دخپلې قبیلې د پا تې بر خې نه رابیلــه شــوې [420] او دسپین غره په شمالي او لویدیزه بر خه کې او سیږي او دوزیرو دقبیلې نه ددوی دجلا والي په اړه داسې ویل کیــږي چې لالی دوزیر زوی دخپل پلار سره د شوال په غره کې او سیده چې د هغه له لاسه د شیتکو پښتنو له اولادې نه یو تن ووژل شو.

په دغه وخت کې لالی دبدل اخیستلو له ویرې د شوال سیمه پر ښودله او دخوږ یاڼیو سیمې ته لاړ او هلتهــیــې واده هم وکړ.[421]

تاریخ حیات افغاني له نن نه ۱٤٦ کلونه دمخه ددوی دوسله والو کسانو شمېر پنځه زره تنه ښودلي دي.

همداراز د نوموړي تاریخ د مؤلف د لیکنې پر بنسټ د لالي وزیر اولاده د ننګر هار په سپین غره کې اوسیږي.[422]

---

419 د افغانستان د علومو اکیډیمۍ د ژبو اواد بیاتو د مرکز د علمي غړي ښاغلي سر محقق میر احمد ګوربز له خوا د ګوربزو د قبیلې په اړوند هغه معلومات چې زما په واک کې یې راکړل

420 پښتانه دتاریخ په رڼا کې، ۱۳۹۵ مخ

421 حیات افغاني، ٤۲۸ مخ

422 نو موړی اثرد ۳۵۸ مخ شجره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 131 لواڼي

دلواڼي قبيله چې نوم يې په تاريخونو کې دلوهاني، نو هاني او نو حاني په بڼو هم راغلی دی په لودي پښتنو ورګډېږي. دپښتانه دتاريخ په رڼاکې دکتاب ليکوال سيد بهادرشاه ظفر کا کا خيل د لو اڼي په اړوند داسې کښلي دي:

" لواڼي هم لودي پښتانه دي. داسماعيل زوی نوحان له خپلو دوو مير منو نه شپږ زامن درلودل او داسې ويل کيږي چې دده اصلي نوم نوح و چې ووسته په نوحان يا لواڼ سره مشهورشو او اولاده يې نن ورځ دلواڼيو په نامه سره ياديږي، خو پښتانه يې په خپلو ورځنيو خبرو اترو کې دلو حاني، نوهاني يا لواڼي په نامه يادوي."[423]

## 131.1 د لواڼيو د قبيلې ښاخونه او څانګې

د پښتنو قبيلو د دوديزو شجرو پر بنسټ لواڼي دوې مير منې درلودلې چې يوه يې شيرۍ او بله يې تورۍ نو ميد له. دلواڼي د لومړۍ مير منې شيرۍ نه يوزوی وزيږيد چې مروت نو ميږي او نن ورځ دمروتو قبيله دپښتنو يوه مشهوره قبيله ګڼله کيږي چې دمروتو دښاخ خلکو ته سپين لواڼي هم ويل کيږي چې اوس مروت په لکهي مروت، ټانک او بنو کې اوسيږي.لواڼي دخپلې دويمې مير منې تورۍنه پنځه اولادونه درلودل چې مماخيل، مياخيل، تتور، هوداو تيج دي چې بيا له دغو پنځو زامنو نه نورې ډيرې څانګې رامينځ ته شوې دي او دوی ته تور لواڼي هم ويل کيږي، خو دتورو او سپينو لواڼيو نو مونه او س په دوی کې زيات رواج نلري.[424]

## 131.2 دلواڼيو داستو ګنې سيمې

په افغا نستان کې لواڼي دغزني ولايت د شلګر، اندړواوقره باغ په ولسواليو کې استو ګنه لري چې ٥ـ کوره په شلګر او. ٣ـکوره په قره باغ کې او سيږي.[425] دزابل او کند هار په ولا يتو نو کې هم دوی په خواره واره ډول ژوند کوي. دافغانستان په شمالي ولايتونو لکه بد خشان، تخار او کندز کې هم لواڼي شته. دسهيلي پښتونخوا په دکي او سيوۍ کې هم يو شمير لواڼي ميشته دي. ددوی يو شمير دځمکو څښتنان او يو شير يې هم کو چياني ژوند لري، ځينې يې په سوداګريزو کارونو بو خت دي. همداراز دپښتونخوا په ټانک، لکهي مروت او بنو کې هم لواڼي استو ګنه لري.په پخوانيو زمانو کې لوا ڼيو دهندوستان او مر کزي اسيا تر بخارا او سمر قنده پورې تګ راتګ کاوه او سوداګريز کارونه يې سر ته رسول.

423 حيات افغاني ٣ـ٦-٣ـ٧ مخونه

424 پښتانه دتاريخ په رڼا کې، ١٣٤٧-١٣٤٨ مخونه

425 پښتو او پښتانه په سهيلي پښتو نخواکې، ٤٥٦ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هند کې دلودي او سوري پښتنو واکمنانو په وخت کې لواڼیو په هندوستان کې ډېر پر مختګ وکړ، په تیره بیا دسلطان بهلول لودي دهغه فرمان له مخې چې پښتنو ته یې ولیږه ډېر شمیر پښتانه چې لواڼي هم پکې ول هندوستان ته لاړل، هلته یې لوړ لوړ پو ځي منصبونه او جا ګیر ونه تر لا سه کړل چې یو زیات شمیر لواڼي پښتانه اوس ه دهند دګجرات په ایالت او دهند په نورو سیمو کې استو ګنه لري. په هندو ستان کې دلودي واکمنانو په وخت کې دځینو مشهورو پو ځي کسانو نو مونه چې دلودیانو دسلطنت په ټینګښت کې یې ور سره مر سته کړې وه دادي: [426]

1. نصیرخان لو اڼی
2. دریا خان لواڼی
3. شهباز خان لواڼی

همدارازپه پخوانیو وختو نو کې دپښتونخوا د ټانک په سیمه کې په لو اڼیو کې ډېر پیاوړي مشران تیر شوي دي چې نو مو نه یې دادي: [427]

1. جلال خان
2. موسی خان
3. فیروزخان
4. بر مزید خان
5. محمد خان
6. شیرخان
7. دلیل خان
8. دولت خان
9. شهباز خان
10. غازي خان
11. حیات خان
12. قتال خان
13. خمریز خان
14. صاحب خان
15. سلیم خان
16. اکبر خان
17. هیبت خان
18. الله داد خان
19. خداداد خان
20. صاحبداد خان
21. سرورخان
22. نواب شهنوازخان

همداراز په لو اڼیو کې دپښتو ژبې دمشهور شاعر دولت لواڼی نوم هم بابد یاد کړو چې دپښتو ژبې مشهور شاعرا و ددیوان څښتن و چې دیوان یې له نن نه ۲۵ کلونه وړاندې دافغا نستان دعلو مو اکیډیمی چاپ کړی دی.

لنډه داچې لواڼي دافغا نستان او هند دنیمې وچې په تاریخ کې یوه مشهوره قبیله ده، په تیره بیاپه هند کې دلودي او سوري واکمنیود دورې په تاریخونو کې یې دپام وړ کارونه تر سره کړي.

426 تاریخ شاهي معروف به تاریخ سلاطین افاغنه، دفهرست الرجال برخه

427 حیات افغاني، د ۳-۷ مخ شجره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 132 لودي

لودیان په اصل کې متوزي پښتانه دي. د پښتنو دتاریخي ر وایاتو او دودېزو شـجروپـر بنسـټ دلودیـانو دقبیلې لوی نیکه ابراهیم نومیدچې نو موړی په لودي سره مشهور شو. نوموړی دشاه حسین غوري او دبیـټ نیکـه دلور بي بي متو زوی دی. بي بي متو دوه زامن درلودل چې یو یې غلجی ا وبل یې ابراهیم و چې بیا یې پـه لــودي سره شهرت و موند. دا چې ابراهیم ولې په لودي مشهور شو یو روا یت شته او هغه دا چې کله چې بیټ نیکه علیه الـــر حمه د خپل کلي نه دخپلې استو ګنې غر نۍ سیمې ته ستو ن شو نو خپلې میر منې ته یې وویل چې بسم الله کـړه او دپخوانې نغري نه اور راو با سه ا و ډوډۍ پخه کړه او ماته یې راوړه چې پخپلو لمسیانو یې وویشم چې راته څر ګنده شي چې زما په لمسیانو کې کوم یو ډېر بختور دی؟ کله چې د بیټ نیکه میر منې هغه ډوډۍ پخه کړه نو دبي بي متـــو کو چني زوی ابراهیم هغه ډوډۍ واخیسته او په منډه یې خپل نیکه بیټ نیکه ته وړوړه او په مخ کې یې ورته کیښودله. بیټ نیکه ډېر خو شاله شو او ورته یې وویل چې ابراهیم لوی دی، همدارازبیټ نیکه ابراهیم ته دوعا هم وکړه چې لـــه هغې ورځې نه ابر اهیم په لودي سره مشهورشو چې اولاده یې دلودي او یا هم دلودیا نو په نامه سره یا دیږي.[428]

## 132.1 دلودیانو دقبیلې ښاخونه

دلودیا په ښا خونو کې سیاڼي، نیازي، دوتاڼي، لواڼي، پړانګي، سوري او مروت مشهوردي چې بیا هر ښاخ په نورو ډېرو څانګو یشل شوی دی.

لودیان نه یوازې دافغا نستان دغزني ولایت په شلګر، اندړو، قره باغ او دزابل په کلات او کند هار کې استو ګنه لري،[429] بلکې په پښتو نخوا، دپاکستان دپنجاب په لاهور اوهمداراز په کراچۍ او دهندوستان د اتهراردیش او بیهار په ایا لتونو کې هم استو ګنه لري.

زموږد ګران هیواد افغا نستان پیاوړی اوستر مورخ اروابنادعلامه عبد الحی حبیبي دپښتو اد بیاتو دتاریخ پـــه لو مړي او دویم ټو ک کې په ختیز افغا نستان او ملتان کې د لودي پښتنو د ځینو واکمنانو یادونه کوي او لیکي :

"لودیان هم دپښتنویوه مشهوره کورنۍ ده چې دواکمنۍ او مشرتابه مرکز و او له ۳_ هجري نه وروســته پــه ختیزه پښتو نخواکې ددې کورنۍ دواکمنانو نو مو نه اوربدل کیږي چې دلودیانو دغه کورنۍ نه شیخ حمیدلودي پــر لغمان، ننګرهار، پیښور او تر ملتانه واکمني درلودله او ترده وروسته نصر لودي چې دهغه زوی و پا چا شو او ملتان یې دسلطنت مر کزو. کله چې غزنوي محمود پر ملتا ن بر ید وکړ نو دشیخ حمید لودي لمســی داودلــودي دهمــدې

---

428 حیات افغاني، ۲۷۵ مخ، دپیښور چاپ

429 پښتانه دتاریخ په رڼا کې، ۱۳۴۷-۱۳۴۸ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ نه په ملتان کې واکمن و. غزنوي محمود داود ونیوه، غزني ته یې راووست او دغورک په کلا کې یې بندي کړ چې بیا هما غلته مړ شو." 430

همداراز له دغې کورنۍ نه شیخ رضي لودي دشیخ حمید لودي وراره او نصر لودي دپښتو ژبې ښه شاعران ول چې پټې خزانې د هغوی احوال او دشعرونو بیلګې راوړې دي. په همدې تو ګه علي سرور لودي ۹٦ زیږدیز په شاوخواکې اوسېده او دلودي دقبیلې دشا هو خیلو دڅانګې پورې یې اړه درلوده دهندوستان دسترو ادیبانو او عارفانو نه ګڼل کیږي چې په ملتان کې ا وسیده. دلودیا نو دلو یو مو رخینو نه یو هم داخبار لللودي دکتاب لیکوال احمدلودي دسعید لودي زوی دی چې د ٦٨٦ زیږدیز کال په شا اووکې یې ژوند کاوه چې دملتان دلودي واکمنانو احوال یې لیکلی دی.

له بلې خوا پښتنو لودیا نو په هندوستان کې یوه لو یه واکمني درلوده چې له ۱٤٥۱ زیږدیز نه تر ۱٥۲٦ کلونو پورې یې پا چاهي کړې ده چې په هند کې ددغې کورنۍ دواکمنۍ بنسټ ایښودونکی سلطان بهلول لودي ۱٤٥۱-۱٤٨۹ زیږدیزدی چې تر هغه ووسته سلطا ن سکندر لودي ۱٤٨۹-۱٥۱۷ زیږدیز او تر هغه وروسته بیا سلطان ابر اهیم لودي ۱٥۱۷-۱٥۲٦ زیږدېزه پورې واکمنان ول.






ابراهیم خان لودي، تاج خان لودي، خانخانان لودي، دریا خان لودي، دولت خان لودي، مبارک خان لودي، سعید خان لودي، سید خان لودي، قطب خان لودي، محمد خان لودي، دسلطان سکندر لودي زوی محمو دخان لودي، همایون لودي، ملک کالالودي، باربکشاه لودي، مبارکشاه لودي، عالم خان لودي، نظام

430 د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی او دوهم ټوک، ٤٥۷-٤٥٨ مخونه، د پېښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان لودي، جمال خان لودي، يعقوب خان لودي، فتح خان لودي، موسى خان لودي، جلال خان لودي، حسين خان لودي، اسما عيل خان لودي، خانجهان لودي اواعظم همايون لودي.[431]

د لودي پښتنو د ووستي واکمن سلطان ابراهيم لودي مزارد هند په پا ني پت کې

لنډه داچې لودي پښتانه نه يوازې په افغا نستان او پښتونخوا کې مشهوره قبيله ده، بلکې په هندوستان کې هم دوی يوه پياوړې پښتني واکمني در لودله.

# 133 لودين

دپښتني د ودېزو شجرو پر بنسټ لودين غر غښتي پښتانه دي چې دافغا نستان په بيلا بيلو سيمو او ولا يتونو کې ميشته دي ،

دلودين د قبيلې خلک دافغا نستان د ننگر هار ، کند هار ، زابل، کندز ، بلخ، هرات، لو گر او کابل په ولا يتونو کې استوگنه لري ،

دننگر هار په ولايت کې د لو دين دقبيلې خلک ددغه و لا يت دکامې او کوز کو نړ په ولسواليو کې او سيږي ،همداراز دلو گرولايت لودين ددغه ولايت دمحمد اغه او پل علم په ولسواليو کې ميشته دي ، په همدې ډول دبلخ ولايت لو دين ددغه ولايت د مرکز مزار شريف او دد ولت اباد په ولسوالۍ کې استوگنه لري ،

د لو دين دپښتنو پا تې بر خه د غلجيو پښتنو په سيمو کې په خواره واره ډول سره اوسيږي. يوشمېر لو دين د سهيلي پښتو نخوا د مرکز کو ئيټې په شا او خواکې هم استو گن دي ،

پاتې دې نه وي چې دننگر هار په ولايت کې ميشته لو دين چې ددغه ولايت په کامې او کوز کو نړ ولسواليو کې استو گنه لري، ددوی شمېرد افغا نستان مرکزي سر شميرنې دادارې له خواچې په ۱۳٦۰ ليږديز کال کې تر سره شو ۱۱۸۹ تنه ښودل شوي دي چې ښا يې اوس يې په شمېر کې ډېرز يا توالی راغلی وي ،[432]

دلودين قبيلې پخپلې غيږ کې ډېر پو هان او نا متو کسان روزلي دي چې کولای شو دلا ند نيو کسا نو نو مو نه ياد کړو:

1. ښاغلی سر محقق اروابناد ډاکټر دولت محمد لو دين چې دپښتو ژبپو هنې په بر خه کې يې دافغا نستان دعلو مو په اکيډيمۍ کې د قدر وړ کارونه کړي دي ، دده دژباړل شوو کتابونو نه د عباس سروانې د شير شاهي تاريخ او هم د ټام ساير نو مو نه اخيستلی شو ، بايد زياته کړو چې اروابناد دافغانستان د علو اکيډيمۍ دپښتو

431 تاريخ شاهي، داحمد يادگار تاليف، دفهرست الرجال برخه، د ۱۳۳۹ زيږديز کال چاپ، کلکته

432

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیړودنړیوال مر کز رئیس او دعلومو اکاډیمۍ د مر ستیال په تو ګه هم دندې سر ته رسولي دي ۰

2. د لودین د قبیلې پورې اړوند بل تن ښاغلی جاوید لودین دی چې ا وس دافغانستان د بهر نیو چارو پـــه زارت کې سیاسي معین یا مر ستیال دی ۰ نو موړي په لویې بر یتانیا کې په حقوقو او سیاسي علو مو کې خپلې لوړې زده کړې پای ته رسولي دي او په کا ناډا او ناروې کې دافغا نستان دلوی سفیر په تو ګه یې هم دندې سر تـــه ر سولې دي ۰

3. د لودین د قبیلې پورې اړوند بل تن ښاغلی ډاکټر عزیز الله لودین دی چې دهرات ولایت دلو دینانوـــه دی او د څه مودې لپاره دافغا نستان د ټو لټا کنو دخپلواک کمیشن (کمیسیون) مشر واوا وس دافغا نستان د فساد ســره دمبارزې داداري مشر دی ۰

4. همدارازدلودین په قبیلې پورې اړوند بل تن ښا غلی جنرال عتیق الله لو دین دی چې پو ځي زده کړې لــري او دلو ګر ولایت دمحمد اغې دولسوالۍ دلودین په قبیلې پورې اړه لري ۰نو موړی تر څه مودې پورې دلو ګـــر دولایت دوالي په تو ګه هم دنده سر ته رسولې ده ۰ [433]

لنډه داچې لودین په افغا نستان کې یوه مشهوره پښتني قبیله ده ۰

# 134 ما کو

که چیرې د ما کو پښتنو دنسب شجره وګورو نو دوی سړ بني پښتانه او د درانیو دپنجپای په ښاخ پـــورې اړه لري ۰ ددوی د وګړو شمېر لږ دی ۰ ددوی یو شمېر په کند هار او یو شمېر هم دنورزیو پښتنو سره یو ځای میشته دي.

یو شمیر ماکوان دهرات او غزني په ولایتو نو کې هم استو ګنه لري ۰ په کند هار کې دماکو دقبیلې دخلکو شمېر په ۱۳۶۵ لمریز کال کې ۱۵۵۷٤ تنه ښودل شو ي ول، چې ښایې اوس یې په شمېر کې ډېر زیا توالی راغلی وي ۰ د کند هار په ولایت کې دماکو دقبیلې خک د دامان او ار غستان په ولسوالیو کې ا ستو ګنه لري ۰ دهرات په ولایت کـــې دمـــا کـــو دقبیلې خلک ددغه ولایت دانجیل، کشک او دکرخ په ولسوالیو کې میشته دي چې په نو موړي ولایت کې په ۱۳۶۵ لمریز کال کې ددوی ټول شمېر ۲٦۸۸ تنه ښودل شوي دي چې ښا یې اوس به یې په شمېر کې ډېر زیاتوالی راغلی وي . [434]

تاریخ حیات افغاني لیکي چې په غز ني کې هم د ماکو دقبیلې څو کلي شته چې دخاګوانیو دقبیلې دکلیو تر څنګ پر اته دي اوسیمه ایز خلک دغه د خاګوانې د قبیلې خلک هم دخاګوانې ما کوانو په نامه یادوي ۰ [435]

---

433 دلو دین دقبیلې په اړوند زما(ډاکټر لطیف یاد) شخصي یادداشتونه

434 پښتني قبیلې، ۲۳۱مخ

435 معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل سرحدي کشور، ۱۰، ۹۳، ۱۰۹، ۱۱۰ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټول افغا نستان کې د ۱۳٦٥ کال د سر شمیرنې پر بنسټ ددوی شمېر ۱۸۲٦۲ تنه ښودل شوي دي چې ښایې اوس به یې په شمېر کې دوه ځلې زیاتوالی راغلی وي، [436]

# 135 مامو ند

د پښتني شجرو پر بنسټ مامو ند ښخي یا خوښي یا خاخي خیل پښتانه دي چې دتر کلا نیو پښتنو یو ښاخ ګڼل کیږي چې دسړبني پښتنو په ټولنیز ګروپ پورې اړه لري .

مامو ند په لو مړي سر کې په دوو مهمو ښا خو نو ویشل شوي دي:

1. لوی مامو ند چې کاکازي هم ورته وایي [437]
2. واړه مامو ند

دمامو ندو لوی اکثریت د پښتونخوا په باجوړ ایجنسۍ کې استو ګنه لري .ددوی ختیز ته سالارزي اوشمال ته یې دانګام ا وشمال لویدیز خواته یې د شورټن او مرورې درې اولویدیز ته یې چارمنګ او جنوب ته یې د ښار ریاست پروت دی .لوی ما موند دمامو ندو دسیمې په جنوب ختیز او جنوب لویدیز ته او واړه ما مونددمامو ندوپه شمال او لویدیز کې میشته دي .په ختیز کې د لویو ما موندو او سالارزیو تر مینځ برید لوند خوړ دی .[438]

دلویو ما موندو د خیلو نو نومونه دادي:

1. مسعود خیل
2. مغدو دخیل
3. عمر خیل
4. یوسف خیل
5. سلیمان خیل
6. خلوزي

دوړو مامو ندو خیلونه دادي:

1. بړوزي
2. اوریا زي
3. برم کازي

د مامو ندو ځمکې په عمو مي ډول غنم، اوربشې، نسک او مشنګ کري ځکه چې للمي دي.د مامو ندو هوا معتدله

---

436 تاریخ حیات افغاني ۱۵۲ او ۱۵۹ مخونه

437 پښتانه، تومړی ټوک، ۷۳ مخ

438 دپښتنو ټولنیز –اقتصادي جوړښت، ۲۲٥ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده .په کو م ځای کې چې د چینو اوبه شته نو هلته د شفتالو، توتانو او ما لټو باغونه هم شته.په با جوړ کې د مامونــــدو شمیر ۸۰۰۰۰ او دافغا نستان د کو نړ په ولایت کې ددوی شمیر ۱۸۳۹۱ تنه ښودل شوي دي .[439]

## 135.1 استوګن سیمې (لوی ماموند)

دلویو ما موندو ځیني خیلونه د مرورې په دره کې هم استو ګنه لري. دوړو ما مونــدو ځینــي خیلــونه پــه شورتن، دانګام او دپیچ درې په وټه پور کې میشته دي او برسیره پر دې د ما موندو ډیر شمیر کورونه د کونړ ولایت په سیمه کې هم پراته دي.

واړه ماموند د سالارزیو نه وروسته دانګام ته راغلي دي .دوی د جنوب له خوا د څړ ځایونو په هڅه دګوریګـا غرونو ته را وختل او دلته یې بانډې جوړې کړې. دمالدارۍ سره یې دګوریګا په دره کې ځمکــې واخیســتې او دلتــه میشته شول.د ګوریګا ما موند د ځمکوالۍ نه پرته رمې هم لري.په ما ماموندو کې اوبه لږې دي او زیاتره ځمکــې یــې للمي دي .

### 135.1.1 افغانستان

په افغا نستان کې دلویو ما موندو کلي دادي : کاکازي یا لوی ما موند دافغا نستان دکو نړ ولایــت پــه مــرورې، شوړتن، بر کاڼې، دانګام او پیچ دره کې او سیرې ۰

### 135.1.2 پښتو نخوا

کاکا زي یا لوی ما موند د پښتو نخوا دباجوړ ایجنسۍ په غاښي، شبنتر، ذکي، کټــوټ، ګیــري، زري، ترخــو، لغړی، کالوزی، کړه، موخه او میا نه کې او سیرې ۰ همداراز په پېښوراو ایبټ اباد کې هم استو ګنه لري .

### 135.1.3 سهیلي پښتونخوا

دسهیلي پښتونخوا په کو ئټه او پښین کلي کاکازي کې .

### 135.1.4 پا کستان

یو ډیر شمیر کاکازي دپا کستان په لا هور، کراچۍ، کشمیر، جهیلم، بهلوال، سر ګودا، سیالکوټ، دیره غازي خان، چکوال، عیسی خیلو او مو سی خیلو کې استو ګنه لري ۰

439 دپښتنو ټولنیز –اقتصادي جوړښت ۲۲۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 135.1.5 هندوستان

په هندو ستان کې کا کا زي دپنجاب ايالت په گورداس پور، بابل چاک، فيض الله چاک، ست کو ها، وزير چاک او دهاريوال کې استو گنه لري.

## 135.2 استوگن سيمې (واړه ماموند)

دوړو ماموندو کلي دادي:

1. څپري
2. موضي
3. کگي
4. وړوکی خرکی
5. بانډه
6. شاهي تنگی
7. لوی خرکی
8. بدان
9. ډمه ډوله
10. ډبر

## 135.3 نوميالي

دکاکا زيو دځينو مشهورو کسانو نو مو نه په لاندې ډول دي: [440]

1. رېحان ملک (د پا کستان ډپټي اډيټور جنرال)
2. بهادر يار خان (سياسي شخصيت)
3. غلام احمد بلور
4. منير احمد خان
5. ډاکټر اشفاق احمد
6. جسټيس عبد الو حيد خان
7. اسما جها نگير
8. شعېب ملک (د پا کستان د کريکيټ ټيم پخوانی کپتان)
9. ډاکټر رضوان ملک

440 ويکيپيډيا، کاکا زي قبيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 136 محمد زي

دغه قبیله په افغانستان کښې د محمدزیو، محمدزایې، او محمدزیانو په نومونو سره هم یادېږي. که چیرې د محمدزیو د قبیلې د نسبونه په غور سره وڅیړو نو جوته به شي چه دغه قبیله د سړبن په ټولنیز ګروپ کښې شامله ده او د درانیانو د زیرک د ښاخ د بارکزیو د څانګې پورې اړه لري. وئېل کېږي چه د محمد نیکه مزار د کندهار ولایت دارغستان په ولسوالی کې دې.

لکه څنګه چه د درانیانو په مبحث کښې مو ولوستل د پوپلزیو په ښاخ کې د سدوزیو قبیلې د ۱۷٤۷ زیږدیز کال نه تر ۱۸۱۸ زیږدیز کاله پورې په افغانستان کښې واکمني درلودله او کله چې وزیر فتح خان په ۱۸۱۸ زیږدیز کال کې مړشو نو د سدوزیو او محمدزیو تر مینځ د افغانستان د تخت د نیولو پر سر جګړې رامینځ ته شوې.

د محمدزیو په قبیله کې د سردار پاینده محمد خان د نامه له کبله د پاینده خیلو کورنی ډیره مشهوره وه . نوموړی د حاجي جمال خان زوی و .حاجي جمال خان د ایراني نادرشاه افشار په پوځ کې سردار و .کله چې نادر شاه افشار له مینځه لاړ نودی د افغانستان د تخت لپاره دی ډیر هیله من و او حقیقت هم دادی چې نوموړي د سدوزو د حکومت په زمانه کې په دولتي چارو کې لوی لاس درلود.[441]

د محمدزیو د دواکمنۍ بنسټ ایښودونکی امیر دوست محمد خان دی چې په امیر کبیر (ستر امیر) سره هم شهرت لري، او د سردار پاینده خان کشر زوی دی.

د محمدزیو په کورنۍ کې لاندیني واکمنان تیر شوي دي:

1. امیر دوست محمد خان
2. امیر شیرعلي خان
3. امیر محمد افضل خان
4. امیر محمد اعظم خان
5. امیر محمد یعقوب خان
6. ضیاء الملت والدین امیر عبدالرحمن خان
7. سراج الملت والدین امیر حبیب الله خان
8. الغازي اعلیحضرت امان الله خان

441 پښتنې قبیلې، ۲۳۵-۲۳٦ او ۲۳۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



9. اعلیحضرت محمد نادرشاه

10. اعلیحضرت محمد ظاهرشاه

11. په افغانستا کې د جمهوري نظام موسس شهید سردار محمد داودخان.

په افغانستان کې دمحمد زیو دقبیلې واکمني ددوست محمد خان په کورنۍ کې د ۱۹۲۹ زیږدیزه پورې دوام وکړاو دویم ځل په ۱۹۲۹ زیږدیزکال کې هغه وخت پیل شو چې دسقاو زوی حبیب الله ماتې وخوړله او پا چاهي او دچارو واګې د اعلیحضرت غازي محمد نادرخان په لاس کې کښیوتې.

تر اعلیحضرت غازي محمد نادرخان وروسته دهغه زوی اعلیحضرت محمد ظاهرشاه او په هغه پسې دهغه دتره زوی سردار محمد داودخان حکومت کړی دی چې د ۱۹۷۸زیږدیز کال داپریل په میاشت کې دیوې پو ځي کودتا په پایله کې دمحمد زیو د کورنۍ نه دتل لپاره ځواک له لاسه ووت.

محمد زي د افغانستان په بیلا بیلو ولایتونو لکه: کابل، کندهار، هیلمند، هرات، ننګرهار، کندز، تخار، لغمان، بغلان، فاریاب او بلخ کې استو ګنه لري. په عمومي ډول خلک محمد زیو ته سرداران وایې ځکه چې پر افغانستان باندې دغې کورنۍ زیاته موده حکومت کړی دی.

په نوموړوولایتو نو کې دمحمد زیو داستو ګنې سیمې دادي:

1. د کندهار په ولایت کښې: محمدزي د کندهار ولایت په مرکزاو ددغه ولایت د میوند، پنجوایي، ارغنداب، ارغستان او معروف په ولسوالیو کې استو ګنه لري.له نن نه ۳۰ کلونه وړاندې په کندهار کې ددوی شمیرد ۳۳ زره تنو په شاو خواکې اټکل شوی و[442] چې ښایې دغه شمیر به اوس دوه چنده وي.

2. په کابل کې : یوزیات شمیر محمدزیان په کابل کې هم استو ګنه لري، خو د ۱۹۷۸زیږدیز کال د غوایي تر کودتا وروسته ددوی ډیرې کورنۍ اروپا، امریکې او آسترالیا ته ولیږدیدلې.

3. دننګرهار په ولایت کې: محمد زیان دننګرهار ولایت په مرکز دجلال آباد آبادپه ښار او دکامې، سره رود، خوګیانیو او بهسودو په ولسوالیو کې استوګنه لري.[443]

4. د هیلمند په ولایت کې: محمدزیان دهیلمند ولایت په مرکز لشکرګاه او ددغه ولایت دنهر سراج او نادعلي په ولسوالیو کې استوګنه لري.

5. دهرا ت په ولایت کې: دهرات په ولایت کې محمد زیان ددغه ولایت په مرکز او داوبې په ولسوالۍ کې اوسیږي.

---

442 معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سر حدي کشور .۹۱-۹۲ مخونه

443 نوموړی اثر ۲۷- ۲۸ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. دروزګان په ولايت کې: يو شمير محمدزي ددغه ولايت په مرکز تيرين کوټ کې هم استوګنه لري.

پټه دې نه وي چې يو شمير محمدزي په پښتونخوا، سهيلي پښتونخوا، پاکستان او دهندوستان په پنجاب او ددغه هيواد داتهراپرديش ايا لت دديره دون په ښار کې هم استوګنه لري. له نن نه ۳۰ کلونه وړاندې په ټول افغا نستان کـــې د محمدزيو شمير ۵۰ زرو تنو ته رسيده .

لنډه داچې محمد زيو د ۱۸۲۸ زيږديز کال نه تر ۱۹۷۸ زيږديز کلونو پورې چې ۱۵۰کلونه کيږي‌پـــه افغانســـتان باندې واک چلولی دی.

# 137 متون

د متون سيمه دخوست ولايت دښار په شمال کې پرته ده او اوس متون دخوست ولايت يواداري واحد يا ولسوا لۍ ده .متون په اصل کې د کومې قبيلې نوم نه دی، بلکې ديوه روحاني شخص نوم دی چې د متون د غونډۍ پر ســـر ښخ دی او دهغه دنا مه له کبله ددې ځای خلک د متونو په نامه يا ديږي.

په متون کې مختلفې او بيلا بيلې پښتني قبيلې سره يو ځای او د يوه قبيلوي واحد په تو ګه رامينځتـــه شـــوي دي چې هره برخه يې دونډې په نامه بلل کيږي چې د متونوالو دغه ونډې په لاندې ډول درپيژندل کيږي :

1. درود دښۍ غاړې متون : چې پکې ورغه کلی، کوړيون، درې کوټې، منډې خيل او موني يـــوه يـــوه ونډه لري.
2. درود دکيڼې غاړې متون : جش خيل، دري خيل، پټوره، احمد خيل او شاري خيل يوه يوه ونډه لري.

همداراز ګونډې يوه نيمه ونډه، منګس يوه ونډه، مندي خيل يوه نيمه ونډه او مټک يوه ونډه لري.[444]

متون مېلمه پالونکي او په پښتنې ننګ او غېرت ټينګ خلک دي. دوئي د علم او پوهې سره مينه لري. يو شمېر خلک ئې سرکاري ملازمتونه لري او يو شمېر ئې هم د خليج په عربي هېوادونو کښې په خواريو مزدورۍ بوخت دي. د متون د ولسوالی د خلکو مجموعي شمېر ۱۶۰۲۱۴ تنه ښودل شوي دي.

# 138 متي زي

متي زي په اصل کې سړبني پښتانه دي او په غوريا خيلو پښتنو ورګډېږي.د تاريخي روايتونو پر بنسټ شيخ متي د عباس زوی، د عمر لمسی او د خليل کړوسی و. خليل بيا د غوريا او غوريا د کند زوی او د خرښبون لمســـی و

444 پښتني قبيلې، ۲۳۳-۲۳٤ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خربښون د حضرت سړبن قدس الله سره له زامنو نه و.

د پټې خزانې د کتاب په روایت شیخ متي په(٦٢٣ لیږدیز) کې زیږیدلی او په(٦٨٨ لیږدیز) کې د ٦٥ کلونو په عمر د ترنک پرغاړه وفات شوی دی. د ده مزار د کندهار شمال ختیز ته په ٥٠ میلی کې پر یوې غونډۍ پروت دی چې کلات یې بولي او دی په کلات بابا سره شهرت لري .شیخ متي خپل ژوند د ترنک پر غاړو او د غونډان په غره او د کلات په شا اوخوا کې تیر کړی دی. د شیخ متي کورنۍ د پښتونخوا په خلیلو غوریا خیلو کې خورا مشهوره ده.[445]

پښتنو مورخینولکه نعمت الله په مخزن افغاني کې، اخوند درویزه په خپل تذکرةالابرار والاشرار کې او ډېټې محمد حیات خان په تاریخ حیات افغاني کې دشیخ متي یادونه کړې ده. د پټې خزانې مولف وایې چې شیخ متي لوی زاهداوعابد او پر خدای مین انسان و، عالم او د دین مرشد واوروحاني ژوند یې کاوه.

شیخ متي په پښتنو کې دخپلو لوړو اخلاقو او عرفاني شهرت له کبله دبابا په لقب یادیږي.شیخ پخپله کورنۍ کې علماوادب او زهد اوتقوا په میراث پریښوداو دده تر مړینې وروسته له دغې کورنۍ نه ستر شاعران او لیکوالان راووتل.

په پښتنو کې د شیخ متي کورنۍ د متي زیو په نامه سره یادیږي او دده له زامنو نه حسن او یوسف ډیر مشهوررول چې دیوسف زوی شیخ کټه یو ستر ولي او د(لرغوني پښتانه ) دکتاب مولف د ٧٥٠ لیږدیزکال په شاوخوا کې تیر شوی دی. ددغې کورنۍ نه بل ستر عالم شیخ قدم بن محمد زاهد بن میردادبن سلطان دی.شیخ قدم د ٩٦٢ لیږدیز کال په شااوخوا کې ژوندی و او وو دهند دپنجاب ایالت په سر هند کې وفات شوی دی او هلته ښخ دی. دده زوی شیخ قاسم مشهورولي او دتالیفاتو خاوند وچې په ٩٥٦ زیږدیز کال کې زیږیدلی و اودده مشهور کتاب تذکره اولیای افغان دی.دشیخ قاسم له زامنو نه شیخ کبیر بالاپیر هم په تقوا او عرفان کې مشهوررو چې دنو موړي زوی شیخ امام الدین په ١٠٢٠ لیږدیز کال کې زیږیدلی او تاریخ افغاني او اولیای افغان دده په لاس لیکلي کتابونه دي.دهمدې علمي کورنۍ وروستنی مولف او شاعر میا نعیم و چې په ١٢٣٠ لیږدیز کال کې یې دکندهار په ناکودک کې ژوند کاوه.

دشیخ متي بابا دکلا م یوه بیلگه:

پر لویو غرو هم په دښتوکې
پلوی سهار په نیمو شپوکې
په غاړه غر او په شپیلکو کې
بیا دویرژلو په شپیلو کې
تول ستا دیاد ناری سوری دي
داستا دمینې نندارې دي
جنډې زرغون که په بیدیادي

445 د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی او دویم ټوک، ٥٣٣-٥٣٤ مخونه، دپیښور چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبـــر بـــڼ خـــواته پـــه خنـــدا دي
ترنـــک چـــې خـــړ دی پـــه ژړادی
دلتـــول اغيـــز دمينـــې ســـتا دی
وګړيـــــو! ولـــې مـــتي ژاړي
ســـورې يـــې اورئ غـــاړې غـــاړې
څـــه غـــواړي څـــه وليـــې څـــه بـــاړې
خپـــل تـــون او كـــوروكلی غـــواړي
چونې چـــې بيـــل شـــي نيمـــه خواشـــي
تـــل يـــې دبـــڼ پـــرلـــور ژړا شـــي

د متي زيو اولادې وروسته په ليږد پيل وکړ او په پيښور او بدني کې ميشته شول چې له هغوی نه لوی لـــوی پښتانه را مينځ ته شول[446]، خو تر څه مودې وروسته ددغې قبيلې ځينې خلک له هغه ځايه بيرته دکنـــدهار شـــاوخوا او دزابل دتر نک غاړو ته راغلل .دشيخ متي کورنۍ په خليلو غوريا خيلو کې ډيره مشهوره ده.يو شمير مـــتي زي پـــه زابل، د غزني په شلګر او دکندهار په شاوو خواکې استو ګنه لري[447].په زابل کې دشيخ متي بابا عليه الرحمه په نامـيـــوه ليسه هم شته .

# 139 موشياني

مشاني يا موشياني په اصل کې دنيازيو پښتنو يوه څانګه ده چې په لوديو پښتنوورګډيږي او دپښتنو دمتوزيو پښتنو په ګروپ کې شامله قبيله ده. دمشانيو لوی نيکه موسی نوميد چې نوموړی دخاکوزوی او دنيازي لمســـی و. [448] دتاريخ حيات افغاني دليکنې پر بنسټ دموسی نوم په عامو خلکو کې دډير استعمال او کارونې پـــه وجـــه پـــه مشـــاني، موشاني يا موشياني سره مشهور شو[449].

مشانی زياتره د پاکستان د پنجاب ايا لت د ميانوالي د ډيسټريکټ(ولسوالۍ) د عيسی خيلو په تحصيل کې ميشته دي او دوی زياتره په کمر مشاني کې اوسيږي چې دغه ځای دمشانيو قبيلې دلوی نيکه موسی خان دنامه له کبله په همدې نامه سره شهرت لري.دکمرمشاني ګردچاپيره کوچنی ښارګوټي راتاوشوي دي چې دغه ښارګوټي مکروال، سلطان خيل،

---

446 پټه خزانه، ۱۲ مخ، ۱۳۵٦ کال، دکابل چاپ.

447 پښتني قبيلې ۲۳٤-۲۳۵ مخونه، دپيښور چاپ

448 پښتنی قبيلې، ۲۴۹ مخ، دپيښور چاپ .

449 حيات افغاني، ٦۳۵ مخ، دپيښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترک، عیسی خیل، ناصروالا، چپري، کوټ چنډنه، بورزي سیدان والي، منډه خیل اوکلاباغ دي. کمر مشاني د منرالونو د سوداګرۍ له کبله هم مشهور ځای دی. همداراز مشاني په، کمر مشاني پکه، خانباغ سراجیه،کوټ چنډنه، کونډیان، ماري، میانوالی ښار، موچ، موسی خیل، جنوبی مظفرپور، نایمال، پایخیل، پیپلان، روکړي اوشادیه‌کې‌هم استوګنه لري[450].

حیات افغانی لیکي:

مشانی لومړی دسرهنګو دقوم سره چې دسند ددریاب په ختیزه برخه کې میشته شول لکه چې اوس هم دداود خیلو مشانیو ښاخ په داود خیل نومې ځای کې او دمونډي ښاخ په ټیټي کې چې په میانوالي کې‌موقعیت‌لري میشته دي.پاتې مشاني دسند دریاب لویدیزې برخې ته راغلل او هلته میشته شول[451].

مشاني دمروتو او عیسی خیلو په دښمنیو کې دمروتو دقبیلې ملګري وواو اوس په دادی خیلو او شادی خیلو سره شهرت لري[452]. په پخوانیو وختونوکې ددوی تر مینځ کورنی دښمنۍ ډیرې وې اوشادی خیل په یوه ګونډی او داودخیل په بله ګوندي کې وو.

تاریخ حیات افغاني لیکي: چې مشاني قبیلې خلک لویدیزته دختکو تر غره پورې سیمو باندې ولکه لري. ددوی د هغه ځمکو نه پرته چې دسیند پر غاړه پرتې دي نورې ځمکې یې ښې نه دي .

دمشانیو دقبیلې ځینې ښاخونه په لاندې ډول دي :

داود خیل، شادي خیل، شهبازخیل، تاني خیل، بنګي خیل، وټه خیل، یاروخیل، الله خیل، عمرخیل، منداخیل، ننوزي، کمالزی، موسی خیل، کاسی خیل، لوحاڼ خیل، شموخیل، موندیخیل، نهړخیل، استان خیل، ملندرخیل، عالم شیر خیل، بارکي خیل، نواب خیل، نصیر خیل، سر مست خیل، باني خیل، غازي خیل، سبحان خیل، میري خیل، نذري خیل، محمو دخیل، ببو خیل، ګلشي خیل، احمد خیل، بارګل خیل، مهرګل خیل، یارګل خیل، هاتي خیل، شمل خیل، جهان خیل، جنجو خیل، جبو خیل، عثماني خیل، جلوخیل، حنان خیل، پهللوان خیل، مرزاخیل، شریف خیل، اسماعیل خیل، زعفر خیل، عبدلي خیل، شاهو خیل، علي خیل، سلیمه خیل، لعل بیګ خیل، محمد خان خیل، ګل بیګ خیل، صدري خیل، الله یارخیل، جعفر خیل، بیخاني خیل، ګل بیګ خیل، رهنمای خیل او فتح خان خیل .

د مشانیودقبیلې ټول شمیر داویازره تنو په شاو خواکې اټکل شوی دی[453].

---

450 ویکیپیډیا، .کمر مشاني، **http://en.wikipedia.org/wiki/Kamar_Mushani**

451 حیات افغاني ۶۳۵مخ.

452 پښتنانه دتاریخ په رڼا کې، ۱۳۵۵ مخ.

453 حیات افغاني، دمشاني دنسب ونه ( شجره )، ۶۳۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 140 محسود

مسید یا مسعود په کرلاڼیو پښتنو کې یوه مشهوره او جنګیالی قبیله ده.که چیرې ددغې قبیلې دنسب ونه (شجره ) په غور سره تر څیړنې لاندې ونیسو نو څرګنده به شي چې دوزیرلو مړنی زوی خدري درې زلمن درلودل چې موسی، محمود او مبارک نو میدل چې موسی یې په درویش سره مشهور شو او دمحمو د زوی مسعود نومیده چې اولادې ته یې مسعود یا مسید وزیر هم ویل کیږي.[454]

ددغې قبیلې لویدیز او جنوب ته احمدزي وزیر، شمال ته یې اتمانزي وزیر او دختیز خواته دبیټنیو دقبیلې سره پوله لري.ددوی سیمهپه جنوبي وزیرستان کې پرته ده او دافغا نستان سره کومه ګډه پوله نلري[455].

د مسیدو دقبیلې اصلي ځای دبر مل غر وچې دسلیمان غره یو ښاخ ګڼل کیږي او هغه وخت چې ددغې قبیلې په شمیر کې زیاتوالی راغی نو په دغه وخت کې دغې قبیلې دخپل یووالی په زور په خپلو ګا وندیانو باندې بریالی او له دغه ځایه یې پرمختګ ته دوام ورکړاو تر ټولو دمخه دسلیمان دغرنیو سیمو نه شوال او دهغه ش اوخوا سیمې ددوی لاس ته ورغلې چې تر دې وړاندې هلته شیتکو پښتنو او نور و استوګنه درلودله.په همدې وخت کې داورمړ قبیله چې په کانیګروم او نورونږدې سیمو کې میشته وه زیاتره دافغانستان دلوګر ولایت او نوروسیمو ته لاړل او لږ شمیرېې په دغه ځای کې پاتې شول .په دغه وخت کې مسیدو اوو زیرو ته ښه موقع په لاس ورغله او پر هغوی یې یرغل وکړاو په لومړني برید کې یې دبدر او شهیر سیمې ونیولې او په کانیګروم کې هغو اورمړو چې ددوی سره مقابله وکړه دمسیدو له خواماتې وخوړله . وروسته یې دبیټنیودقبیلې خلک هم دټانک ددرې او دهغه شاو خواسیموتهپر شا وتمبول او پخپله یې پر دغو خایونو خپله ولکه ټینګه کړه. ددوی سیمه دکوهاټ نه تر دیره اسماعیل خانهپورې غځیدلې ده او دسیمې او ږدوالی یې (۱۴۰ ) میله دی.[456]

دمسیدو دقبیلې ښاخونه، خیلونه او څانګې :

مسیدپه دریو سترو ټپو ویشل شوي دي چې علی زي، شمن خیل او بهلول زي نو میږي .

علی زی په لاندنیو ښاخونو ویشل شوي دي :

منزي، شهی خیل، سلطاني، پټوني، خونخیل، بي بي زي، استوني، باروميِ، پاتي خیل، شامیري، کانجیري، دړاکي، سلیمي خیل، ګورخیل، مل خیل، بیچي خیل، خونخیل، بهادرخیل، کاروړي، ګدي خیل، ملک دیني، پریدي، بروی خیل، کی خیل، درې پلاره، لنګر خیل او وزیر ګي.

---

454 حیات افغاني، ۳۵۷ مخ . دپیښور چاپ

455 اصلاع، ایجنسیها وقبایل ایالت پښتونستان، ۱۱۶ مخ، د قو مونو او قبایلو چارو وزارت.

456 حیات افغاني، ۳۵۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشمن خیلو ښاخونه دادي : حالي خیل، چارخیل، بودین زي، ګالي شي .

دبهلول زیو ښاخونه او خیلونه دادي :

ایمل خیل، عبدلي، باند خیل، ملک شي، شینکي، نظر خیل، نانو خیل، درمن خیل، ګیګا خیل، هیبت خیل، جلا ل خیل، ګیګاډري او امر خیل .

همداراز ددوی دنورو ځینو ښاخونه نو مونه دادي :شمن خیل، بدن زي، قاسم خیل، عبدل خیـــل، دري خیـــل، غالب خیل، پهاړخیل، جمال خیل، شلیل خیل، پارخیل، رحیمداد خیل، شادی خیل، مریم خیل، تپی خیل، بویکي، عثمان خیل، یوسف خیل، باروند خیل، چهار خیل، ګاري خیل، علی خیل، شو مای، هیرال خیل، کاکا خیل، بلبـا خیـل،تـاجي خیل، خوجي خیل، حیدری خیل، جمال خیل، ووجی خیل، نمبري خیل، ماما‌ل خیل، تال خان خیل، پیر محمد خیل، ببري خیل، مالي خیل، قاسم خیل، بنګال خیل، شري خیل، مولي خیل، یار محمد خیل، نظام خیل، ناظم خیل، توري خیل، شاه عالم خیل، غوزي خیل، زری خیل، بجال خیل، ملا خیل، شیر خان خیل، کوی خیل، دتي خیل، ککهي، مرکي خیـــل، کلکـا خیل، میر واش خیل، متي خیل، ترکي خیل، ګلی شا هي، بابا خیل، منګي خیل، ککهای، شعیبي، بختي خیل، ببریخیـــل، ایدل خیل، حسن خیل، میرا خیل، ساري خیل، عیسی خیل، علي خیل، کیمل خیل، لنډي خیل، خلیل خیـــل، بیـــدی وای، سکندر خیل، جعفر خیل، منسري، مینا خیل، میر ګل خیل، میر واش خیل، اوساک خیل، شوه وان، عذرخیل، دتـــوړي، رحمن خیل، میټا خیل، منزري خیل، میر ویس خیل، ووچیک خیل ، ذکري خیل، جندي خیل، سلیمکی، شاه خیل، ســر ماشی، سور ماشی، تور سر ماشی، اکاخیل، هیبت خیل، شیر خیل، ګیګا خیل، سر مست خیل، شـیر دري خیــل،مــومن خیل، عبدالرحمن خیل، پیر داد خیل، میر داد خیل، سرداري خیل، رحیمداد خیل، بټک خیل، اندک خیـــل، دوړ خیـــل، هیوازخیل، لاډی خیل، شیر علي خیل، خواص خیل، عباس خیل، قادر خیل، رستم خیل، عمر خیل، دورمړ خیل، ناصر خیل، بختي خیل، شیرین خیل، قاسم خیل، نانا خیل، عبدالرحمن خیل، رحیمداد خیل، شاه بیګ خیل، شو بــک خیـــل، شومر خیل، راجي خیل، لا لي خیل، شا ه میر خیل، تاګل خیل، عبد الرحمن خیل، میرداد خیل، سوداخیل، ولــي خیـــل، کریمداد خیل، خواجه خیل، پیر داد خیل، ملک داد خیل، نازک خیل، شیر بیګ خیل، جلال خیل، شیراز خیل، بابا خیـــل، کولي خیل، شمي خیل میراب خیل، زمر خیل، میرا خیل، شمن خیل، سندرا خیل، خوازیخیل، تره خیل، کیکاری، چهـار خیل، ممراز خیل، میر خاني، مونډا خیل، ککهاړي خیل، علي خا ني، کراچه خیل، بهلــول زي، عبـدالله، پنځــه پلاره، عباس خیل، غوزیګي، قیمت خیل، نصري خیل، سلیمکی، شمک خیل، آزدي خیل، ګونا خیل، ظریف خیل، لالــي خیـــل، ولیداد خیل، بادار خیل، ګلا خیل، کټه خیل، مانیر خیل، تورنګ خیل، ملنګ خیل، ایمل خیل، نظر خیل، عزیز خیـــل، مو من خیل، شبي خیل، پاټ خیل، میرخان خیل، خر مچ خیل، بنګا خیل، خان خیل، حسن خیل، تورخیل، خوی خیـــل، زرګر خیل، ممیا خیل، تا جي خیل، زرکي خیل، ملک شا هي، خویدادي، لنګر خیل، بابر خیل، پیا میر خیل، المار خیل، خدرخیل، کټي خیل، انډي خیل، میر خان خیل، بیزودای، بهلول خیل، میان خیل، پنجي خیل،شـــهباز خیـــل، ازبکـــي، بکشای، اسماعیل خیل، کمال خیل، لوئیس خیل، ممدای، کارون خیل، کارون، کهاني خیل، شابیا خیل، بوی خیل، بلبـــا خیل، مستي خیل، شا کهال خیل، آشناګی، بوجیا خیل، شوی خیل، سلطان خیل، کر مچ خیل، هیبچ خیل، بوبالي، موســـی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیل، سنځر خیل، جلال خیل، عمرا خیل، ممیا خیل، ولي خیل، وجي خیل، ملای، کر مچ خیل، کمر خیل، شابک خیل، شابیاخیل، بیبلی، ووچ خیل، بیجي خیل، عمر خیل، حکیم خیل، نورنګ خیل، بند خیل، نصري خیل، شاکي خیل، ټیټي خیل، عثمان خیل، آیکام خیل، سلطاني، ماروبي، صورت خیل، جنګي خیل، میرزا خیل، احمد خیل، بی بي زي، مغول خیل، دریا خیل، پیس خیل، پو ټیا خیل، تر کي خیل، عثمان خیل، شابي خیل، کمال خیل، با چا خیل، بریام خیل، شیر خیل، مغول خیل، مقبل خیل، حیدر خیل، خوص خیل، بارومي، بابا خیل، میر کا خیل، خیدي خیل، آستاني، بنګش خیل، دودي خیل، ابراهیم خیل، سیني خیل، تا جل خیل، کهای خیل، زریا خیل، کایدار خیل، عمر خیل، لیکي خیل، خان خیل، خوجکي، پالي خیل، شومي خیل، دهاني خیل، بهادر خیل، خون خیل، پري خیل، ګریرای، خان خیل، مرسیل، مرسای، موګي خیل، شهاب الدین خیل، شیخای، شوبا کای، ماچي خیل، علم خان خیل، میسید، ممیت خیل، محمود خیل، الیزی، منځی، پوتیا خیل، پالي خیل، دچي خیل، خنجری، درګای، ګوري خیل، بلند خیل، دهني خیل، کریم خیل، کرمي خیل، سبات خیل، سلیم خیل، کسادي خیل، ګجي خیل، مده خیل، ناور خیل، مل خیل، ولید خیل، راجي خیل، شمیرای، ګوري خیل، حسن خیل، کر ماچ خیل، بای خیل، کجرای، ګیدي خیل، خویداد خیل، باروميِ، دولت خیل، شاه محمد خیل، علي محمد خیل، شیخ برید خیل، عمر خیل، کاهي خیل، چوند، نکراب خیل، زرګر خیل، لنګر خیل، عبدل خیل، کوټار خیل، عیسی ګي خیل، ګیدي خیل، کر ماچ خیل، فریدي، امزل خیل، بټي خیل، وزیرګي، مکهي خیل، زماني خیل، بټکی، تارګړی، پریدی، کای خیل، لنګر خیل، نکاراب خیل، عبدل خیل، سلیمونی، شمیرای، ترکیا، خوجری، عبدل، یدانی، مون خیل، ملک دینی، اکزي کچکی، شیتکی، تغی ګی او کیرا خیل .[457]

## 140.1 د مسیدو قبیلې د استوګنې سیمې او کلي

دمسیدو دقبیلې زیاتره خلک دپښتونخوا په جنوبي وزیرستان کې استو ګنه لري او ددوی دکلیو او سیمو نومونه دادي :

مکین، خیسور، لاړها، دره، نیدون، کاڼي ګروم، بدر، ځلویښتي و شکتوی، وانه، دشرکي سیمه، شهرنه، شم، رزمک، شکی، شوال او نور[458] یو شمیر مسید دافغانستان د لوګر، وردګو، غزنی، کندز او تخار په ولا یتونو کې هم استوګنه لري .یو شمیر مسید په کراچۍ او پېښور کې هم اوسیږي.ددوی دسیمې رواجونه، نرخونه او ځلي کټ مټ دوزیرو دقبیلې دخلکو په څیر دي .

## 140.2 د مسیدو د قبیلې مشهور سیندونه

ګومل، ټا ک زوم، خیسور، شکتوی، سپلی توی، وانه توی، شوزه، شنګي، شاهور، بدرتوی، توده چینه .

457 http://pti-fata.blogspot.com.au/2012/12/mehsud-tribe-of-south-waziristan-agency.htm

458 پښتو نستان، داستاد عبدالروف بینوا تالیف .۲۱۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونډۍ غر، توروام، تنګي پرخې، اسپاس، کارامه او نور...

## 140.3 د مسیدو د قبیلې درې

لادها، بدر، الګا دره، مستنګ، شکتو، شیرانه، ټاک زم او رزمک.

## 140.4 د مسیدو د قبیلې غرونه

کونډۍ غر، سپین غر، پرې غر، سپین کمر.

## 140.5 د مسیدو د سیمې آب او هوا او د کرنې حاصلات

جنوبی وزیرستان چې مسید پکې استوګنه لریدژمي په موسم کې سړهاو په دوبي کې توده هوالري. دمســـیدو دسیمې دکرنې محصولات غنم.اوربشي، جوار، وریجې، مې، باجرې، ږدن او پټاټې دي.

## 140.6 د مسیدو د قبیلې مشهور کسان

دمسیدو دقبیلې خینې مشهور کسان دادی:

1. دانګریزانو پر خلاف ستر ملی مبارزملا پیونده.
2. دملا پیونده زوی شاه فضل الدین .
3. ملي مبارز نظم خان مسعود
4. غازی نواب ملک همدان خان مسید.
5. د داودخان په کابینه کې دافغانستان دکورنیو چارو وزیر فیض محمد .
6. دمسعودو دقبیلی ستر شاعرزیب منتظر مسید

## 140.7 د مسیدو جګړه ایزه پیاوړتیا

که چیرې دمسیدو پښتنو په اړوند دتاریخ پاڼې راواړوو نو دوی ډیر پیاوړي اوجنګیالی خلـــک دي .دډیـــرو پخوا زمانو راهیسې دوی وسلې لري او دهر دښمن په وړاندې په نره جنګیدلي دي.یوه انګریزتــاریخپوه‌پـــه خپـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور اثر (وزیرستان)کې دمسیدو دجګړه ایزې پیاوړتیا په اړوند داسې لیکلي دي :

مسید خورا پیاوړي او جنګیالي خلک دي .دوی دزغم خاوندان ا و ډیر سخت سري دي. ددوی هر یو تن وسله وال دی.دوی دخپلو ټوپکو په استعمالولو کې داسې مهارت لري چې دخپل دښمن د لږې تیروتنې نه هملــویه ګټــه او چتوي. په جګړې کې ټولو شیانو ته داسې پاملرنه کوي چې نه یې څوک کلابند ( محاصره) کولای شي اونـــهیـــې هـم دښمن تر اړخه تیریدلای شي. دوی دجګړې په مخکنیو او شاتنیو لیکو کې دومره مهارت لري او په جګړې کې دومــره دصبر او حو صلې خاوندان دي چې انسان ورته حیران پاتې شي .په ډیرو جګړو کې ډیر بې وسلې کسان چې یـــوازې تورې ورسره وي له وسله والو کسانو سره ملګرتوب کوي او که چیرې دلاس او یا تن په تن جګړې ته اړتیا پیښنه شي نودوی دخپلو تورو سره ددښمن سره جګړه کوي.[459]

مسید دانګریزانو سره دخپلواکۍ په جګړوکـې ډیــرې قربــانۍ ورکــړي دي . دوی دانګریزلـنـو ســره د ۱۸۵۰زیږدیزه راواخله بیا دهند نیمې وچې نه دانګریزانو تر وتلو پورې (۱۹۴۷ زیږدیزه ) پورې لس ځله جنګیدلي دي او هر ځل یې دوی ته په خپله سیمه کې ماتې ورکړې ده.انګریزی مورخ سر ویلیم بارټن پــه هفــه وخــتکــې ددوی دجنګیالیو شمیر (۱۸۰۰۰) تنه ښودلي وواو هم ددغې قبیلې شمیر د ۱۹۶۱ کال دسر شمیر نې له مخې (۱۸۷۳۲۳) تنه ښودلي وو چې ښایې اوس به یې شمیر ډیر زیات وي.

# 141 مروت

مروت له آره په لودي پښتنو ورګډیږي او دلواڼي(لوحاڼي) پښتنو یوه څـــانګه ده .دمروتـــودقـــبیلې خلــک دپښتونخوادډیره اسماعیل خان دلکي مروت په ډیسټریکټ( ولسوالی)، ټانک، پنیاله او بنو کې استوګنه لري. همداراز یو شمیر مروت پدافغا نستان دغزني او پکتیکا په ولا یتونو کې هم استو ګنه لري.دلواڼي نوم دهند دمنځنیو پیړیوپــه تاریخو نو کې دنوحاني، لوحاني او لو هاني په بڼو هم راغلی دی.

په تاریخ حیات افغاني کې دمروتو دقبیلې په اړوند داسې راغلي دي:

جوته ده چې ددغې قبیلې لوی نیکه دلواڼي یا نوحاني زوی او دلودي دزوی سیاڼي لمسی دی .لواڼي(نوحاني) دوې میر منې درلودلې چې یوه یې توری نو میدله چې دپنځو زامنو موروه، دویمه یې شیرۍ نو میدله چې دهغې نه دمروتو دقبیلې لوی نیکه پیداشوی دی او ددغې قبیلې نوم هم دهغه نامه په وجه په مروت باندې مشهور شوی دی.[460]

مروت په سپینو لواڼیو سره هم شهرت لري.په پیل کې دوی داوسنۍ پکتیکا دکټواز په سیمه کــې چــې اوس دسلیمانخیلو غلجیو پښتنو په ولکه کې ده استوګنه درلودله.که څه هم ددوی اصلی ټاټوبی کټواز و، خو دتودوخۍ پــه

459 نوموړی اثر، ۲۴۶ مخ.

460 حیات افغاني، ۵۹۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسم کې به يې دکو چيانو په څير خپل مالونه او رمې دوانه په غره کې څرول. دوی يوازې دکتواز په سهيلي برخه کې په کر کيله بوخت ول چې اوس هم هلته يوه وړه سيمه دمروتو په نامه سره يادېږي.

دکتواز له سيمې نه دمروتو دقبيلې دليږديدلو لا ملونه:

دکتواز له سيمې نه دمروتو دقبيلې دليږديدلو په اړوند داسې ويل کيږي چې په هغه وخت کې دغلجيو دسترې قبيلې دسليمان خيلو دښاخ سلطان خيلود ځانګې د لوی ملک آزادخان ميرمن چې وسيلې نوميدله دخپل يوه مريي له خوا وتښتول شوه او هغه مريي دمروتو قبيلې ته په ننواتي لاړاو هلته يې پناه واخيستله.غلجيو يولښکر جوړکړاو د مروتو نه يې دخپل مجرم دورسپارلو غو ښتنه وکړه، خو مروتو دپښتني اصولو پر بنسټ دغه پناه اخيستونکی دوی ته ورنکړ.همداو چې دغلجيو نورې قبيلې لکه تره کي او اندړاو نورو دسليمانخيلو په ننګ دمروتو او ميا خيلو دقبيلو سره جنګ ته ملا وتړله او ددوی تر مينځ خونړۍ جګړې وشوې چې په دغو جنګ جګړوپه پايله کې ډير شمير مروت ووژل شول او غلجيو برياليتوب ترلاسه کړ، نو همدا وجه وه چې مروت مجبورشول چې دکتواز سيمه پريږدی چې غالبا به دکتواز نه ددامان سيمې ته به دمروتو دقبيلې ليږد په ۱۵۰۰ زيږديز کال کې شوی وي.

دتاريخي سر چينو پر بنسټ په هغه وخت کې ددېره اسماعيل خان ددامان په سيمه‌کې بلوڅانو استو ګنه درلودله او دټانک په سيمه کې هم دپښتنو يوه بله قبيله چې پړانګيان نو ميدل اوسيدل چې پر هغو بلندې دپښتنو لوانيو له خوا بريد شوی واو هغه سيمه يې په خپله ولکه کې راوستلې وه.په دغه وخت کې چې مروت دې سيمې ته راغلل نودځمکو يو ويش ترسره شو او ددغه لومړي ويش په وخت کې دمروتو قبيلې ته هم څلورمه برخه ورکړل شوه چې وروسته بيا په مروتو کې هم يو ويش رواج درلود چې دخولې ويش يې ورته وايه او دهغه ويش مطابق‌په يې ځمکې په خپلو مينځو کې سره ويشلې .تر يوې مودې پورې دا ځای دمروتو په لاس کې و او دتودوخۍ په موسم کې به دوانه دغره ختيزو برخو ته تلل او ديخنۍ په موسم کې به بيرته دټانک سيمې ته راتلل څو په پای کې ددوی او د مسيدو دقبيلې تر مينځ د ښځو دپټ له کبله شخړې رامينځ ته شوې.څرنګه چې وزير ددوی دتلو راتلوپه پورتنيو او ښکتنيو لارو باندې پراته وو نو ددښمنۍ له کبله ددوی دتلو راتلو لارې بيخي وتړلې شولې. په همدې وخت کې دټانک دسيمې دلانجو له کبله دلوانيې داولادې تر مينځ دښمنۍ رامينځ ته شوې، ددولت خيلو ځواک پياوړی شو اوتريوې جګړې وروسته يې مروت دټانک له سيمې نه وشړل او ددغې قبيلې خلک دبين ددرې نه نيولې دپيزو تر درې پورې په غرنيو سيمو کې ميشته شول.په دويم کال بيا دولت خيلو دسيمو دنيولو له کبله يرغل وکړ او دټلنک سيمه‌يې ونيوله، خو کټی خيلو دګنډاپور دقبيلې دخلکو نه مرسته وغو ښتله او دوی يې بيرته بر شا تمبولو ته مجبور کړل.دلکی مروت نوم ځکه دمروتو اوسنۍ سيمې ته ورکړل شوی دی چې مروتو په خپلو جګړو کې‌يو لک (سل زره ) پو ځونه درلودل نو ځکه ددوی سيمه هم دلکی مروت په نامه سره يادېږي.بله نظريه داده چې دلکی مروت نوم ديوه هندو لکهی رام دنوم په وجه په لکهي مروت سره مشهورشوی دی.

بايد زياته کړو چې په ۱۸۳۶ زيږديز کال لکی مروت دسکهانو لاسته ورغی، خو د ۱۸۴۹ کال دجنورۍ دمياشتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۱ د انګریزانو تر ولکې لاندې راغی.

مروت غښتلي، پیاوړي، لوړې او دنګې ونې، پراخه ټنډې، ګردې څیرې او بادامي سترګې لري. دوی زیارکښه، دزغم اوصبر خاوندان، قانع او دښه استعداد درلودونکي خلک دي .په پخوانیو وختونو کې دمروتو سپرو توري، لیندۍ او ډالونه استعمالول او پلیو بې توري، سپرونه، غشي او لیندۍ کارولې .

دوی په پخوانیو زمانو کې په پوونده ډول ژوند کاوه اوددې تر څنګ به په سوداګریو هم اخته وو، خو کله چې په اوسنۍ سیمه کې میشته شول نو دځمکو او کر کیلو په چارو اخته شول او دوی دکرکیلې په چارو کې ډیر مهارت لري.

تاریخ حیات افغانی لیکي: که څه هم دمروتو په سیمه کې دخوراک لپاره غله پریمانه ده، خو دڅښاک داوبو لپاره دهغهو کلیو نه پرته چې دګمبیله، کورمې یا دلنګر درودونوپه غاړه پراته دي په پاتې مروتو کې د اوبو تنګسه ډیره ده.

# 141.1 دمروتو دقبیلې ښاخونه

دمروتود قبیله په لاندنیو ښاخونو ویشل شوي دي :

کاکاخیل: چې داباخیلو.تاجزیو او ماتوره په څانګو ویشل شوي دی.

خدرخیل: چې دخواجي خیلو، حاجي خیلو او نظر خیلوپه څانګو ویشل شوي دی.

بهرام خیل: چې دتاتار خیلو، غزني خیلو، عمر خان خیلو، توتازیو، تاجزیو، دلخوزیو، لنډیوه اوتپي‌پر څانګو ویشل شوي دي.

مینا خیل : چې دحکیم خانخیلو او محمد خان خیلو په څانګو ویشل شوي دي .

موسی خیل: چې دتختی خیلو، جانوزیو او پاسني په څانګوویشل شوي دي.

اچو خیل : چې دبیګو خیلو، عیسی خیلو او احمد خیلو په څانګو ویشل شوي دي .

خوداخیل: چې دسکندر خیلو او ماماخیلو په څانګو ویشل شوي دي.[461]

# 141.2 دمروتو دقبیلې مشهور کسان

دولت لو انې چې دپښتو ژبې مشهور شاعر او ددیوان خاوند و او دپیر روښان دمریدانو نه و، سرفرازخان،

461 http://www.nps.edu/programs/ccs/Docs/Tribal%20Trees/Marwat_Tribe.pdf

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجنیر نادرخان دټانک دملازایې مخور مشر، ډاکټر عبدالعزیزخان، انجنیر شیردل خان، ډاکټر فضل رحیم مروت دپیښور پو هنتون استاد، ډاکټر باری عبدالرشیدخان، برسټیر محمد اسلم خان، محبت خان، خان حبیب الله خان، فیض الله خان، سیف الله خان، انور کما خان، انور سیف الله خان، سلیم سیف الله خان، عصمت الله خان، سهیل عصمت خان، وقار عصمت خان، طیب عصمت خان، مطیع الله خان، عرفان ا لله خان، میرنوازخان، شاهنوازخان، دل جان خان، ډاکټر شیر بهادرخان، عبیدالله جان خان، ډاکټر گل امین، عنایت الله خان، سردار بهادر، غلام قاسم خان، میر نواز خان، شیرین جان خان، عبدالرحیم مجذوب، خان مشال خان، شیر افضل خان، کلیم داد خان سلیم داد خان، اختر منیر خان، عبدالمجید خان، زین العابدین، جاوید سیف الله خان، احمد جان احمد، خورشید مروت، رحمت الله درد.[462]

# 142 مشواڼي

که چیرې دمشواڼیو دقبیلې شجره په غور سره تر څیړنې لاندې ونیسو نو جوته به شي چې مشواڼي له آره غرغښتي پښتانه دي، خو دوی کله ځانونوته سیدان وایې او کله هم ځانونه په کاکړو پښتنو ورګډوي او عقیده لري چې لوی ستانه او پیر سیدمحمد ګیسودرازدیوې کاکړې میرمنې سره واده وکړ اومشواڼي دهغه له نسله دي . مشواڼي په افغانستان، پښتونخوا ، سهیلي پښتونخوا ،اوسني پاکستان او ان هندوستان کې هم استوګنه لري .

ویل کیږي چې ددوی د استو ګنې اصلي ځای دسلیمان غر و چې وروسته په بیلا بیلو وختونوکې له خپل اصلي ځایه لیږدیدلي او دافغانستان په بیلا بیلو برخو او هم دپښتونخوا دهریپور په سریکوټ .ګند ګهر، پیښور ،دمردان په صوابۍ ،مومندو ایجنسۍ . دیر، دیره اسماعیلخان او دجنوبي پښتونخوا په کوئټه کې میشته شوي دي .

## 142.1 په افغانستان کې میشته مشواڼي

د کونړ ولایت مشواني د ناړۍ ، دانګام او اسمارپه ولسوالیو کې استوګنه لري. دکونړ په ولایت کې ددوی شمیر ۱۰۱۴۷ تنه ښودل شوي دی چې ښایې په دې شمیر کې به اوس ډیر زیاتوالی راغلی وي. دکونړ ولایت کې میشته مشواڼي دساپیانو دکلتور او دودونو تر اغیزې لاندې راغلي دي . همدارا ز یو شمیرمشواڼي دننګرهار ولایت دبټي کوټ په ولسوالۍ کې هم ژوند کوي چې ډیر کلونه وړاندې ددوی شمیر ۲۳۸۸ تنه ښودل شوي دي[463]. دحیات افغاني دلیکنې پر بنسټ دمشواڼیو څلورسوه کورنۍ په کوهدامن کې هم استوګنه لري چې دکابل شمال ته په پنځه ویشت میلۍ کې پروت دی ،خو د(حالات مشواڼي) دکتاب مولف یې شمیر ۵۰۰ کورنۍ ښودلي دي. دکوهدامن مشواڼي په کرکیله او ځینې یې هم په سوداګریزو چارو بوخت دي او دوی دخپلو اوښانو په مرسته تجارتي او سود اګریز مالونه او توکي

462 ویکیپیډیا، دمروتو قبیله.

463 معلو مات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدي کشور،۲۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر بخارا پورې لیږدوي اودوی دهوسا ژوند ښبتنتان دي . حیات افغاني لیکي چې دمشوانیو څوکورنۍ په کندهار کې شته خو دحالات مشواني دکتاب مولف دکندهار سنګ حصار هم دمشوانیو داستوګنې ځای بللی دی او لیکلي یې دي چې دهیلمند په ګرم سیر کې هم مشواڼي اوسیږي چې شمیر یې ۶۰ کورنیو ته رسیږي.همداراز دغلجیو په سیمه په تیره بیا زابل ولایت دقلات په شا او خوا کې هم مشواڼي شته چې ددوی یوه قبیله لودین نومیږي چې په خواره واره ډول سره ژوند کوي . .یو شمیر مشواڼي دافغانستان دکندز په ولایت او یو شمیر مشواڼي دخو ستپه ولایتکېهم شته .یوشمیر مشواڼي په نیمروز او سیستان کې هم میشته دي.

## 142.2 پښتونخوا په هزاره، هریپور، ګندګهر اوسریکوټ کې میشته مشواڼي

د پښتونخوا دهزاره په سریکوټ کې هم ډیر شمیر مشواڼي استوګنه لري .سید یو سف شاه عرف شاه جي په خپل کتاب ( حالات مشواڼې) کې چې په ۱۹۳۰ زیږدیز کال یې په اردو ژبه لیکلی دی په هزاره ، ګند ګهر او سریکوټ کې دمشواڼیو ټول شمیر ۱۲۰۰۰ تنه ښودلي دي چې اوس له هغه وخته ۸۳ کلونه تیر شوي دی اوس یې شمیر پنځوسو زرو تنومشواڼیو ته رسیږي .. نو موږی لیکوال له نن نه ۸۳ کلونه وړاندې دسریکوټ دسیمې لاندیني کلي او بلنډې دمشواڼیو داستوګنې سیمې بللي دي:

ګهي ، دوړها، دمړها،عثمان ملړین ،وړوکې دره ،لویه دره، چونترۍ ، شنۍ ،هلکه چونترۍ ،ګړنګ ،باغونه ، سیرۍ ،بیلها ،چونترو ، نوروخاک،شی بټي،چنارکوټ ،سنګر ،نیم، پیپل ،تهپلو، کنډرو ،میره ، عبد دیکا،سرای ، تنګي ، باسوو، نارګاه ،کهیروچ، کره ، کنډاونه،سمبل ، بوکتیر،وړوکی بوکتیر،پلوسو سر ،تاتروټکوټکی ، وړوکی کوټکی،شکنړوغار ، چمیا ر انو کورونه ،شیرشاه کور ، میداو ، ټانګدره ،رام دره ، بکروشو ډهنډ ،بو ټیګرام ،وړوکي شتالو ، ډمبرو ،سو پلي، پورې سو پلي ،پورې ګړنګ ،ماهولیکورونه ،غازیپټي ، ډهکني سر ، پهلواړي،اسیکوټ ،سامکوټ.همداراز دوی په ګنډي ،امرخانه کې چې دوه لوی کلي دي ددې کلیو په لاندنیو بلنډوکې استوګنه لري،ګهړي میره ، صوبړ او،شیره دل کنډاو ،بازی سر، جولا ګانو کورونه ،فیروز بانډه او خوډر کورونه کې استوګنه لري[464].

خو په اوسني وخت کې مشواڼي دسریکوټ په آرام دره ، ګدوالیان ، بسومیره ،شتالو شریف ،سریکوټ کلي ، با ټیګرام ،ګلی ،غونډ ډهیرۍ، سرای ،بیلاه ،چونترۍ ،شانۍ .چنارکوټ ،شایپاټي.کیهروچ،بګهونا،دورلهه، دمړاها،کوټکي ،پلهاري ،ډمکی ،بګنیا ،کوکر چاها،بیل ،ګرهاناو ډهیرۍ ، سنګیر،جبه ، چوای اوکیهاړي کې اوسیږي .

هغه شمیر مشواڼي چې په سریکوټ کې میشته دي نو ددوی زیاتره کسان دانګریزانو په پو ځونو کې هم برتهی

---

464 سیدیوسف شاه عرف شاه جي، حالات مشواڼی،۱۵-۱۴ او ۱۶ مخونه . دلاهور چاپ ،۱۹۳۰ زیږدیزکال

(c) ketabton.com: The Digital Library



( استخدام ) شوي ووخکه مشواني ډير تکړه سرتيري او ښه پو ځيان دي . همداراز دوی دسکهانواو په تيره بيا په ۱۸۱۹ زيږديزکا ل کې په ګندګهر کې درنجيت سنګ دراليږل شوي پوځ سره چې مشري يې ديوان رام ديال ته ورپه غاړه وه او بيا بل ځل په سريکوټ کې دسکهانو دمشهور پوځي سردار هري سينګ سره چې دهريپور ښار هم دده دنامه له کبله په هريپور سره مشهور دی ډيرې جګړې کړي دي او په دغو جګړو کې دمشوانيو ملی اتل سليم شاه مشـــوانړي و چـــې دسکهانو له لا سه شهيد شوی و.

## 142.3 په سريکوټ کې د مشوانيو د قبيلې خيلونه، ښاخونه او څانګې

دپښتونخوا په سريکوټ کې دمشو انيو دقبيلې ښاخونه دادي : ماني خيل ، جلال خيل ، صاحب خيل ،سين خيل ، دوراخيل ،حسين خيل ،وارث خيل ،وحدت خيل ، راجي خيل ، باجي خيل ،لودين ،ادم خيـــل ،موســـی خيـــل ، يوســـف خيل ،.متکانړي، روغاني ،ګنجيان،مورجان خيل ،جاني خيل ،اماني خيل ، راحت خيل،بهاټل،سکهار او سين خيل .

## 142.4 د يوسفزيو په سيمه کې ميشته مشوانړي

دحالات مشواني دکتاب دمولف په قول مشوانړي ديو سفزيو په سيمه کې په اسماعيليه ،مرغـــزاو يارحسـين‌تـــه نږدې دشوه او توتالۍ په کلو کې اوسيږي.همداراز په مردان، صوابۍ او کاټلنګ کې هم مشوانړي استو ګنـــه‌لـــري‌يـــو شمير مشوانړي په ديره اسماعيل خان او وزيرستان کې هم اوسيږي.

## 142.5 په دير او جندول کې ميشته مشوانړي

په ښکتني دير کې مشوانړي په مسکيني دره ،صدبر کلي ، مايار او ثمر باغ کې استوګنه لري .ددير او جنـــدول دمشوانړيو په اړوند دپښتنو ټولنيز –اقتصادي جوړښت کتاب کې راغلي دي :دمشوانيو اکثريت چې ددير او جندول په سيمو کې ميشته دي لومړی ددوی خيلونو دځړ ځايونو په هڅه خپلې رمې د ( ښشي کنډو ) له لارې له دانګام نه شـــمالي غرونو ته راوستلې او يو سلو پنځوس کلونه وړاندې يې ددرې په ختيز او شمالي غرونو کې دځړځايونو شاوخوايې باندې جوړې کړې . دپسرلي تر پايه به هغوي په باندو کې اوسيدل او بيا به درمو ســـره دجنـــدول درو ته ورښـــکته کيدل .سل کال مخکې دمشوانړو ځينو خيلونو په پای کې خپلې رمې دجندول پرځای قاسم خان او زوړ براول ته را ښکته کړې . په دغه وخت کې دغه دواړه کلي نه وو، بلکې دلته ځينو شپنودلته کورونه جوړ کړل او په ژمي کې په کورونو کې اوسيد ل او ورپسې يې دکورونو شاوخوا نا آبادې ځمکې آبادې کړې . کارينونه ( مينې ) يې پکـــې جـــوړې کړې او تقريبا دلسو کلونو په موده کې څو کورونه په کلو بدل شول. دسلو کلونو راهيسې دوی دشمالي غرونـــوپـــه لمنو کې په شاړو ځمکو باندې باندې جوړولې چې اوس دقاسم خان او زوړ براول سربيره دمشوانيو کورونه او کلـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغره په لمنو کې ددرې تر خولې اسمار ته نږدې رارسيدلي دي .

دغه مشواني دځينو کورونو نه پرته په عمومي ډول غريب او بيوزله ولس دی. ځينې شتمنې کورنۍ يې دځمکو سره يو ځای مالداري ،سوداگري او سرکاري ملازمتونه هم لري . ددوی غريب او بيوسه خلک دسالارزو او ماموندو شپانه او بزگر دي .ځينې يې دغنمو او اوربشو دکرلونه وروسته دتلې(ميزان) ( سپټمبر – اکټوبر) په مياشتو کې دکار او غريبۍ لپاره جندول، باجوړ او دکونړ بيلا بيلو سيمو ته ځي. دلته دوی دجوماتونو لرگبانه( دژمي په سړو کې ولس دجومات دتودولو لپاره لرگبه ( جمع لرگبانه ) نيسي . لرگبه له غره نه لرگي راوړي او دکلي خلک ورته دير ش منه غله او داوسيدو کوټه ورکوي) او يا په کليو کې گاونډي( همسايه ) کيږي. همسايه مشواني په کلي کې داوسيدو کوټه پيداکوي، ددوی نارينه دغرونو نه لرگي راوړي چې يو ه گيډۍ ( دشا بار)په يوه من جوار واو يا دهغه معادل په څلويښت افغانيو خرڅوي. دنورو قبيلو په تناسب په مشوانو کې دلېږديدنې عمليه ډيره ده .ددوی نيستمن خلک دمني په پای کې دکور لږسامان او دخوراک توکي په خرو باروي او ښځې او نارينه يو ځای دجندول،باجوړ او کونړ په لور روان وي او دپسرلي په مياشت کې بيرته درې ته راستنيږي[465] .

په دير او جندول کې دمشوانو دقبيلې ښاخونه او څانگې دادي :

نورتکيان، گل بابا،گل زري ، علي خيل ، شنو خيل ، صالح خيل ،جونه خيل ، اکا خيل ،رستم خيل ، ظفر خيل ،اتوخيل ، عثمان خيل ،مغلگي ،ميرو خيل .

## 142.6 په سهيلي پښتونخوا کې ميشته مشواني

يو شمير مشواني دسهيلي پښتو نخوا دکوئيټې په مضافاتو کې دکاسي په سيمه کې هم استوگنه لري.

په هندوستان کې يو شمير مشواني د جنوبي هندوستان ددکن په گلبرگه کې هم استوگنه لري اوويل کيږي چې دوی هلته دډهلی سلطنت په وخت کې ميشته شوي دي .

دحيات افغانی په کتاب کې دمشوانو دخيلونو نو مونه داسې راغلي دي :

باجي خيل ،لودين ،متکاني ،سملهاني ،روغاني ،تفض، کزيوني ، غريب ، خرباړي ، ياغن،کپوړ ، مومند،يدور ترک،يوسف خيل ،موسی ،آدم خيل ،منجر[466] .

په سند کې ميشته مشواني : دحالات مشواني دکتاب مولف په ۱۹۳۰ زيږديز کال کې په لاړکانه کې دمشوانيو شمير ۸۰ کورنۍ ښودلي دي چې زياتره دمشوانيو دحسن خيلو دښاخ پورې اړه لري .

---

465 د پښتنو ټولنيز اقتصادي جوړښت ،-۲۲۶ ۲۲۷ مخونه

466 تاريخ حيات افغاني،۴۵۳ مخ . دپيښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 142.7 د مشوانو د قبیلې مشهوراو نامتو کسان

1. د(حالات مشوانی ) دکتاب مولف سید یوسف شاه چې په شاه جي سره مشهور دی[467].
2. دسکهانو سره په جګړه کې دمشوانو ملی اتل سلیم شاه مشواني
3. افغان لیکوال او څیړونکی عبدالقیوم زاهد مشواني .
4. دکونړ او جندول دمشوانیو مشر اروابناد ملک زرین
5. افتخار علي مشواني
6. عمر خطاب مشوانی
7. جمعه خان مشواني
8. حسن خان مشواني

# 143 مقبل

مقبل له آ ره کرلاني پښتانه دي چې دافغانستان دپکتیا ولایت د دنډ پټان په ولسوالۍ کې استوګنه لري .جنوب ته یې ځاځي میدان او سبري ،لویدیز ته یې دمنګلو قبیله ، شمال ته یې څمکني ، شمال ختیز ته یې ځاځي او ختیز ته دپښتونخوا دکورمې ایجنسۍ سره ګډه پوله لري چې دپولې نه پورې خوا هم په ستر غوزک ، میته ، سنګر او کمکي غوزک کې هم مقبل میشته دي او دافغانستان په دننه کې دمقبلو سره قبیلوي اړیکې او خپلوۍ لري.

لکه چې دمخه مو وویل چې مقبل دافغانستان په دننه کې دډنډ پټان په ولسوالۍ کې ژوندکوي چې هلته دوی په دووو درو کې چې دوچ زیګاړ او لوند زیګاړ په نامه سره یادیږي اوسیږي . دډنډ پتان په ولسوالۍ کې دمقبلو پښتنو نه پرته منګل او ځاځي هم استوګنه لري[468]. دمقبلو ځینې خلک دخوست دلکن په سیمه کې هم میشته دي[469].

مقبل زیاتره دکرنې ، مالدارۍ او سوداګرۍ له لارې خپله ګوزاره کوي . دغه خلک دلرګیو او چارتراشو دخرڅولو له لارې هم خپلې ورځنۍ اړتیاوې پوره کوي .

مقبل په لاندنیو ښاخونو او څانګو ویشل شوي دي :

---

467 دمشوانیو دقبیلې دنامتو اومشهورو کسانو په اړوند زما ( لطیف یاد ) یادداشتونه

468 معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدي کشور، ۵۷ مخ

469 حیات افغاني ، ۳۲۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسی خیل ، حسن خیل ، وړوکی ، احمدخیل ، توري خیل ، مري خیل ، سلتک او بوبکي .

موسی خیل ، مري خیل ، توري خیل او سلتک دلوند زیګاړ په دره کې استوګنه لري او حسن خیل او وړوکي دوچ زیګاړ ددرې په سکومان کڅ ، چینې کلي ، کوټ کلي ،سټو کلي ،نري کلي ، تیاره لګد او وچ لګد کې استوګنه لري .

# 144 ملا خیل

ملا خیل له آره غلجي پښتانه دي چې زیاتره خلک یې کو چیان دي او دافغانستان په بیلا بیلو ولایتونو کې استو ګنه لري .ملاخیل دغزني ولایت په اجرستان ، دکابل په شیوه کیو ، لوګر ، ننګرهار او لغمان کې هم شته دي .ملا خیل کوچیان او پوونده په اتلسمې ، نولسمې او شلمې پیړۍ کې سوداګریز کارونه هم کول چې دهند او افغانستان ، مشهد او بخارا تر مینځ تر سره کیدل او دخپلو او ښانو او کاروانونو سره به تلل او سوداګریز مالونه لکه ټوکران اونور ډول ډول توکي به یې له ځانه سره په او ښانو وړل .ویل کیږي چې په نولسمې بیړۍکې دملا خیلو قبیلې ۴۰۰۰ اوښان درلودل .

د ملاخیلو دقبیلې ځینې څانګې دادی : شاران پیره خیل ،عثمان خیل ، قادرخیل ، خواګاخیل ، شاهزاد خیل ، خواجه خیل او الیا س خیل[470].

دغزني داجرستان دملاخیلو دخیلونو او څانګو نومونه په لاندې ډول دي :

لنګرخیل ،ادن خیل ، عباس خیل خوزه خیل ، رضا خیل ، سید خیل ، عثمان خیل ، قلندر خیل پیرو خیل او چکمک. ددوی شمیر پنځه ویشت کلونه وړاندې ۱۵۹۹۶ تنه ښودل شوي و چې ښایې چې اوس په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې ددوی په شمیر کې نور زیاتوالی هم راغلي وي. یو شمیر ملا خیل دافغانستان په شمالي ولایتونوکېهم استوګنه لري[471].

# 145 ملکزی

ملکزي له آره غلجي پښتانه دي چې دافغانستان د کونړ ، ننګرهار او لغمان په ولایتونو ( صوبو ) کې استوګنه لري . دکونړ په ولایت کې دوی دکوز کونړ په ولسوالۍ کې میشته دي ، خو شمیر یې لږدی. د ملکزي په قبیله کې ډیر لیکوال او شاعران هم شته . دوی دعلم او پو هې سره ډیره مینه او لیوالتیا لری اوزیاتره یې په سرکاري او شخصي

---

470 معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایات سرحدي کشور ، ۸۴۰ مخ

471 دملاخیلو دقبیلې په اړوند دلطیف یاد یاداشتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دندو بوخت دي .دکونړ په ولایت کې ددوی شمیرله نن نه دیرش کلونه وړاندې ۲۰۰ تنه ښودل شوی دي.[472]

# 146 ملاګوري

ملاګوري په اصل کې سړبني پښتانه دي چې په غوري یا غوریاخیلوپښتنو ورګډیږي او بیا په غوریاخیلوکې دومندو په سترې قبیلې پورې اړه لري.[473] ملاګوري په عمومي توګه د پښتونخوا په خیبر ایجنسۍ او دفاټا په قبایلي سیمه کې استوګنه لري .په خیبر ایجنسۍ کې د وی په دووسیمو کې اوسیږي چې یو یې اواره سیمه ده چې ښکته مینه ورته وایی او بله یې لوړه سیمه ده چې لوړه مینه یې بولي . همداراز یو شمیر ملا ګوري په مونډا کې چې شبقدر ته نږدې پروت دي هم استوګنه لري . دملکنډ ایجنسۍ په بدرګه نومي ځای کې هم ملاګوری اوسیږي . په هرڅنګ، زییم او شکور کلیو کې چې چارسدې ته نږدې پراته دی هم یو شمیر ملا ګوري میشته دي . دمردان دپیرسادوپه کلي او دپېښور په شاه قبول او ډبګرۍ کې چې ددلازاک روډ پرغاړه پراته دي هم ملاګوري میشته دي یو شمیرملاګوري دافغانستان دننګرهار ولایت د لالپورې په ولسوالۍ او دوربابا دولسوالۍ په څڅوبي او دهیلمندپه ولایت کې هم استوګنه لري . دملا ګورو سیمه داپریدیو نه دتاترې دغرونو او دومندو دایجنسۍ نه دکابل دسیند په واسطه بیله شوې ده.

دملاګورو په اړوند ځینې روایتونه هم شته چې ګنې دوی دشهاب الدین محمد غوري( مړ ۱۲۰۶ زیږ دیز کال) اولاده ده او کله چې شهاب الدین محمد غوري دخپلو دښمنانو له خوا ووژل شونو ددوی دکورنۍ ځینې غړي د پښتونخوا تاترې غرونو ته چې په خیبر ایجنسي کې پروت دي راغلل او هلته یې دیو کلي بنسټ کیښود چې بره دره نومیږي، خو دا روایت بې بنسټه ښکاري ، ځکه ملاګوري په مومندو ورګډیږي اوله افغانستانه اوسنۍ سیمې ته دغوریاخیلو او په تیره بیا دومندو مهاجرت اولیږد دسلطان شهاب الدین غوري ترمړینې ډیرې پیړۍ وروسته ترسره شوی دي.

د پښتو ژ بې ستر شاعر او لیکوال اروانباد استاد امیر حمزه شینواری د(پښتانه) دکتاب په لومړی ټوک کې په خپلې یوې مقالې او لیکنه کې دملا ګورودقبیلې په اړه داسي لیکلي دي : ((ملاګوري دژبې، لهجې او کړو وړو له پلوه دومندو دسترې قبیلې سره تړاو لري ، دوی دکمکي شلمان نه دلمر خاته په لور دډبر غر نه لاندې پراته دي او دتاترې د مشهورغره په لمنو کې استو ګنه لري او دسیمو نو مونه یې مراد ډنډ ، شهید مینه او لوړه مینه دي .دلته دمرمرو دډبرو یو کان هم شته او ابرک هم پکې پیداکیږي.[474]

---

472 معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل ولایا ت سرحدي کشور ، ۸۲ مخ ، دقومونو او قبایلو چارو وزارت ، کابل.

473 ډاکټر لطیف یاد ، پښتنې قبیلې ، ۲۵۳- ۲۵۴ مخونه ،دپېښور چاپ

474 استاد امیر حمزه شینواری، پښتانه ، لومړی ټوک ، ۱۸۲ مخ ، ۱۳۴۹ زیږدیز کال ، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 146.1 قبيلوی ويش

لکه چې دمخه مووويل ملاګوري سړ بني پښتانه دي او دمومندودسترې قبيلې سرهـتـړاولــري پــه پښــتنو مورخينو کې ددې خبرې تصديق دپښتونخوا ستر مورخ اروابناد سيدبهادرشاه ظفر کاکا خيل په خپل کتـــاب( پښـــتانه دتاريخ په رڼا کې) هم کړی دی او ملاګوري يې مومند بللی دی.[475] دحيات افغاني دتاريخ ليکوال ډپټي محمد حيات خـــان هم دملا ګورو په اړوند ورته نظر لري او هغوی يې دمومندو يوڅانګه بللې ده.[476] دغهقــبيلهپــه لانــدنيو څــانګو او بناخونو ويشلې شوې ده: احمد خيل ، دولت خيل ، پار خيل ، تار خيل چې بيا په احمد خيلو کې شاه خان خيل او بيکهـــن خيل هم وړې څانګې دي.

همداراز ددوی ديو شميرنوو څانګو نومونه دادي :ميان خيل، چميار خيل په شکور کې ، اره خيل او علي خـــان خيل په پير سادو کې او بيا ن خيل په افغانستان کې .

په ملاګورو کې تار خيل پنځوس په سلو کې وګړی لری چې په دپښتونخوا په خيبر ايجنسی کې اوسيږي ،پـــه داسې حال کې چې ددغې قبيلې دمشرۍ چارې بيا پار خيل پر مخ بيايی.

په اوسني وخت کې دملاګورو مشهور کلي او ځايونه دادي :

1. شهيد مينه
2. لوړه مينه
3. شير برج
4. مرا ډنډ
5. تاتره
6. نهر غاړه
7. پيرسادو
8. مونده
9. پينډې للمه

## 146.2 مشهورکسان

دملاګوريو دقبيلې مشهور شخصيتونه دادي :

1. حاجی شير ا فضل ملاګوری
2. خان بهادر آدم خيل
3. ملک فضل مولا

475 اروابناد سيد بهادرشاه ظفر کاکا خيل ، پښتانه دتاريخ په رڼا کې ، دپيښور چاپ

476 تاريخ حيات افغانی ، دډپټي محمد حيات خان ليکنه ، دډاکټر لطيف ياد ژباړه ،۲۴۴- ۲۴۵ مخونه ، دپيښور چاپ ، ۲۰۰۷ زيږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. حاجي عبدالمنان ملاگوری
5. ملک امداد میر
6. د ملاگورومشهور شاعر او لیکوال منظر فریادي جې د ملا گورو دادبي جرگې مشر هم دي
7. محمد علم شوگیر
8. فضل شاه وقار ملاگوری
9. د تاترې ښایسته شاه کاکا ملاگوری چې د خدایی خدمتگار غورځنګ (تحریک) غړی او د باچاخان بابا دملگرو نه و.
10. مشهور جرنالیسټ (ژورنالیست) صفی الله ملاگوری
11. حاجی اختر محمد
12. افضل خاموش
13. آفتاب ملاگوری
14. ابرار احمد ملاگوری[477]

ملاگوري میلمه پالونکي ، په علم او پوهې مین او په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک دی.دمغولو او انگریزانو پر خلاف یې تورې وهلي دي . ددوی دیرې او حجرې تل دمیلمنو پر مخ پرانیستلې وي .ددوی په سیمه کــې دمیلــو لپاره ډیر ښه ځایونه شته چې مشهورمیله ځایونه یې دحضرت معصوم بابا زیارت ، دورسک ډیم او شــهید مینــه چــې دکابل سیند پر غاړه پرته ده .

دملاگورو سیمه وچه او غرنۍ ده او اوبه پکې لږې دي . ددوی سیمه دمرمرو دتیږو کانونه لري اوویل کیږی چې دوی په سیمه کې دمرمرو ۲۵۰ کارخانې شته . ددوی په غرونو کې دگورگوری ونې پیداکیږي . دملاگوریو ټــول شمیر پنځوس زره تنه ښودل شوي دي .

# 147 مندړ

د پښتنو دنسب دشجرو پر بنسټ دمندړو دقبیلې مشر نیکه (مند بابا) نومیده چې دخښي یا خشي زوی و .مند نیکه دوه زامن درلودل چې دیوه نوم یو سف و چې اولاده یې نن ورځ دیوسفزیو په نامه یادیږي اود بل زوی نوم یې عمرو.عمر یوزوی درلود چې مندړ نومیده چې اولاده یې د مندړوپه نامه یادیږي.

---

477 http://www.nps.edu/programs/ccs/Docs/Pakistan/Tribes/Mullagori2.pdf

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتاريخي رواياتونو پر بنسټ دمندړ پلار عمر ډير باديانته او ديندار انسان و. ده هند ته هم سفر کړی و اوداسې ويل کيږي چې هماغلته وفات شوی دی . دده ترمړينې وروسته دده ورور يوسف هند ته لاړ او خپل وريرونه او خپله وريندار ه ( دورور ميرمن ) يې بيرته خپلې سيمې ته راوستل او کله چې مندړ ځوان شو نو يوسف خپله لور ده ته په نکاح کړه .

مندړ دوه ز امن درلودل .ديوه نوم عثمان او دبل نوم اتمان و .عثمان هم دوه زامن درلودل چې ديوه نوم کمال او دبل امان و. دکمال اولادې ته کمالزي وايې چې په دووڅانگو ويشل شوي دي چې يوه څانگه يې مشران زي او بله يې دکشران زي په نامه ياديږي.

د اتمان اولاده هم په په دووښاخونو ويشله شوې ده چې ديوه ښاخ څانگې لکـازي ، کنـازي او علـي زي دي او داباسين په غاړه دمهابڼ په جنوب کې ميشته دي .

مندړ دپښتونخوا ايالت په چمله ،کهلا بټ ، مانيری ، بونير ،هنډ ، شاه منصور ، پنجتار ،يارحسين ،مردان او صوابۍ کې استوگنه لري .دچملې ختيز ته اباسين ، لويديز ته يې يوسفزي ، شمال ته يې بونير او جنوب ته يې مهابڼ مو قعيت لري . بونير ديوې درې په بڼه ده ځمکه يې نا اواره او غرنۍ ده .په ۱۸۶۳ زيږديز کال کې دلمبيله مشهوره جگړه دانگريزانو اويو سفزيو او مندړو پښتنو تر مينځ هم همدلته پيښه شوې وه . داسيمه دمندړو پښتنو مرکز و.[478]

## 147.1 د مندړو د قبيلې ښاخونه او د دوی د استوگنې سيمې

لکه چې دمخه مو وويل مندړ دپښتونخوا په چمله ، مردان ، صوابۍ او بونير کې استوگنه لري .دوی داباسين سيند په شمالي برخه کې په اوارو ميداني سيمو کې اوسيږي.

تاريخ حيات افغاني چې له نن ورځې نه يوسلو پنځوس کلونه وړاندې ليکل شوي دي دمندړودښاخونو ، څانگو او ددوي داستوگنې دسيمو په اړوند داسې ليکي :

((مندړ اووه لوي ښاخونه لري چې له ټولو نه يې عثمان زي او اتمانزي لوی ښاخونه دي .دکمالزي هم په دوڅانگو ويشل شوی دی چې دطورو اوسيدونکي مشران زي او دهوتي اوسيدونکي کشران زي دي .دکشران زيو ځينې نورې څانگې سکندرخيل، ديگان خيل، سادي خيل، بار ه خان خيل، محمود خيل، بهايي خيل( بای خيل)،اورستم خيل دي . دمندړوبل ښاخ امازي دي چې دوه څانگې لري چې دولتزي او اسماعيل زي دي چې له دغو امازيو نه يوه څانگه دمهابڼ په غرونو دچمله وادي په ختيزو غاړو کې استوگنه لري او چارغولی دامازيو يو لوي کلی دي))[479]

د مندړو ددولتزيوڅانگه په کپور گړهي کې استوگنه لري .اتمانزي بياپه څلورو ښاخونو ويشل شوي دي. علي

---

478 لطيف ياد ، پښتنې قبيلې ۲۵۴-۲۵۵ مخونه، دپيښنورچاپ ، ۲۰۰۷ کال

479 حيات افغاني ، دډاکټر لطيف ياد ژباړه، پيښور ، ۲۰۹-۲۱۰ مخونه ، دپيښور چاپ ، ۲۰۰۷ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



زي : چې ددوی له نسله طاهرخيلي څانګه په ګند ګهر کې استوګنه لري او نور ښاخونه يې کنازي ، اکازي او علي زي دي .بل دسدازي ښاخ دي چې په پنځو څانګو ويشل شوی دي چې په دوي کې عمر خيل ، مير احمد خيل او بهزاد خيل په هنډ ، صوابۍ ، مرغوز او کهلابټ کې اوسيږي همداراز دمندړو نور ښاخونه په لاندنيو ځايونو کې استوګنه لري[480]

1. اباخيل: په ګنډّ ، زبده ، هنډ، صوابۍ او شاه منصور کې اوسيږي
2. عمرخيل: په کالا دره ، صوابۍ او مانيری کې اوسيږي .
3. بهزادخيل : په کهلابټ کې استوګنه لري .
4. خدوخيل :په پنجتار ، براکي ، توتابي وباجا او بام خيلو کې استوګنه لري .
5. رځړ: په پنځو څانګوويش لشوې ده ، ماني زي ، ملک زي ، اکوزي ، خضرزي آو محمود زي ( ماموزي )
6. ماني زي : په يار حسين ، شيردره او يعقوبي کې استوګنه لري .
7. اکوزي : په دوبيانو ، سړه چينه او اسماعيليه کې استوګنه لري.
8. خضرزي : په شيوه، کالوخان اوشيره غونډۍ کې ميشته دي.
9. محمودزي ( ماموزي) په نوي کلي ، شيخ جانا ، اسوټا او نارنجي کې اوسيږي .

په مندړو کې ستر تاريخي شخصيتونه او اتلان تير شوي دي چې مشهوريې خان ګجو بابا دی چې دمندړو او يوسفزيو مشرو .همداراز دهند مشهوررو هيله سردار نواب نجيب الدوله نجيب خان چې دهند دنجيب آباد سيمه دده دنامه له کبله مشهوره ده او دپاني پت په تاريخي جګړه کې داحمدشاه بابا ملګری و هم مندړپښتون و.[481]

دمندړو دود اودستور کټ مټ يوسفزيو پښتنو ته ورته دی او ويلای شو چې دا دواړه قبيلی سره له دی چې سره نږدې خپلوان دي ټول رواجونه يې هم سره يو دي.

ويل کيږي چې په ټوله پښتونخوا کې دمندړو پښتنو ټول شميرد دوه مليونو تنو په شاو خواکې دي.

# 148 مندوخيل

که چيرې دمندوخيلو دنسب شجره په غورسره تر څيړنې لاندې ونيسو نو جوته به شي چې دوی په غر غښتي پښتنو ورګډ يږي. مندوخيل دژوب دوادۍ په ختيز و برخو کې دګومل اوکندر ددريابونو په ختيزه برخه کې دژوب دښار او دهغه ترشاو خواسيمو پورې پراته دي . دژوب سيند له هندو باغ ( اوسنی مسلم باغ) نه پيل اوشمال

480 http://historyofpashtuns.blogspot.com.au/2015/04/history-of-yousafzai-tribe.html

481 دمندړو پښتنو په اړوند زما ( لطيف ياد ) يادداشتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختيزې خواته غزيدلی دی او دسرماغې تر ثنګ دګومل د سيند سره يوځای شوی او دجنوب خواته يې مخه کـــړې ده .ويل کيږي چې دژوب دسيند اوبه دکر کيلې لپاره خوراګټورې اوبه دي چې له ځانه سره داسې مواد لري چې دکرنـــې لپاره ډيربنه او ګټوردي.[482]

تاريخ حيات افغاني دژوب دسيند او دمندو خيلو پښتنودسيمو په اړوند داسې ليکي:

هغه وياله چې دژوب له سينده بيله شوې ده نو ميداني سيمو ته بهيږي چې هلته غنم او نورې غلې دانې کرلـــې کيږي .همداراز دغه ميداني سيمه ښه څړ ځايونه لري او درمو او څارويو دپوولو او څرولو لپاره هم ترې کار اخيستل کيږي . ددغې ويالې په دواړو غاړو دمندو خيلو کلي پراته دي. دژوب دوادي شمالي برخه دسيوناداغ دجنوبي برخې دغرنيو سيمو سره پوله لري او دګومل ددرې جنوبي غره کې هغه ځای چې دژوب ، بورې او سليمان غره په منځ کـــې پروت دی دبابړو او هريفال( هرېپال) دښاخونو ځمکې دي. دژوب په ختيزه او سويلي برخه کې يوه شاړه او غير آباده سيمه پرته ده چې دايسوټ او موسی خيلو ښاخونه پکې خپلې رمـــي څـــروي . دژوب ســـيمه حاصـــلخيزه او زيـــاتره دنهرونو په ذريعه خړوبيږي.[483]

د ژوب سيند( ۴۱۰) کيلو متره اوږدوالی لري چې په کجوري کڅ کې دګومل له سيند سره يوځای کيږي.

دژوب وادي يوه تاريخي سيمه ده چې مشهور چينايي سياح هيون تسنګ هم په ديارلسمې زيږديزې پيړۍکـــې له دې ځايه ليدنه کتنه کړې ده او په خپل يونليک کې يې دژوب دتاريخي وادۍ يادونه کړې ده .همداراز دګورګاني امير تيمور(مړ ۱۴۰۵ زيږديز) لښکرې هم دلته راغلي دي او دژوب ميړنيو پښتنو دژوب ددفاع اوســـاتنې لپـــاره ورســـره جګړې کړي دي . ايرانی نادرشاه (۱۷۳۶-۱۷۴۷ زيږديز)هم پردې سيمې يرغلونه کړي دي او ددې ځای پښتنو دايرلنـــي غليمانو سره هم په نره جنګيدلي دي.

ددرانی احمد شاه بابا (۱۷۴۷-۱۷۷۲ زيږديز)په وخت کې داسيمه دهغه په پاچاهی کې شامله وه او بيکر نيکه چـــې جو ګی زی پښتون و ديوه فرمان له مخې داحمد شاه بابا له خوا دژوب واکمن ټاکل شوی و.[484]

دژوب ديسټريکټ( ولسوالی) بنسټ په ۱۸۹۰ زيږديز کال کې دانګريز رابرټ سنډيمن له خوا ايښـــودل شـــوی دي .دژوب لرغونی نوم هم اپوزي و، خو کله چې انګريزان په ۱۸۸۹ زيږيديز کال دې سيمې ته راغلل ددغه ځای نـــوم يې بدل کړ او فورټ سنډيمن نوم يې پرې کيښود. په ژوب کې زياتره منـــدوخيل ،کـــاکړ، شـــيرانی، ناصـــر ،داوي ، خوستي، لهون، ساپيان، بابړ او هريفال( هرېپال) اوسيږي ، خو دمندو خيلو شمير پکې تر نورو پښتنو زيات دی.

دمندو خيلو قبيله په لاندنيوښاخونو ويشلې شوې ده:

کاريزي ، ايرب زی،اپوزي ،سون خيل ،ممي زي او شيخان، خوپه مندو خيلو کې دکاريزي ښاخ ددغـــې قـــبيلې

482 ډاکټر لطيف ياد ، پښتنې قبيلې ،۲۵۶-۲۵۷مخونه. دپيښور چاپ .، ۲۰۰۷ کال

483 حيات افغاني، دمحمد حيات خان تاليف، داردونه پښتو ته ژباړه دلطيف ياد. ۲۶۱ مخ ، د پيښور چاپ ، ۲۰۰۷ زيږديز کال

484 ويکيپيډيا ، دژوب ډيسټريکټ ( ولسوالي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشران پاتې شوي دي.په ژوب کې نن ورځ تقريبا پنځوس زره خلک استو گنه لري.

مندوخيل سپين زږي ، سپيڅلي ،ميلمه پال، دښو کړو وړو خاوندان او په پښتو او پښتونواله ټينګ خلـــک دي .ددوی زياتره دودونه او رواجونه کاکړو ته ورته دي .زياتره خلک يې دکرنې اومالدارۍ په چارو بوخت دي ، خـــوله نيکه مرغه نن ورځ پکې دعلم او پوهې سره تړلي کسانهم پکې شته.

مندو خيلو دانګريزي تيري کوونکو پر خلاف له وياړه ډکې مبار زې کړي دي او تاريخي شخصيتونه يې پـــه خپله غيږه کې روزلي دي چې کولای شو ددغې قبيلې دکاريزي دښاخ دسيدال خيلو له څانګېنــه دلانـــدنيوتـــاريخي شخصيتونو نومونه و اخلو:

سيدرحمت، ظريف خان ، خانان، اختر خان ، اکرم خان ، شيرخان او ازمير خان ـپــه دغـو پورتنيـوتـــاريخي شخصيتونو کې يو هم غازي ازمير خان و چې دمندوخيلو دسيدال خيلو څانګې ته منسوب و.نوموړی په ۱۸۹۳ زيږديز کال کې داخترخان په کور کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستلې .د ازمير خان پلار ته دخان لقب دافغانستان دهغه وخـــت د واکمن سرا ج الملة والدين امير حبيب الله خان له خوا ورکړل شوی و. هغه وخت و چې ده په کابل کې دامير حـــبيب الله خان سره وليدل نو هغه ده ته يو جرمنی ټوپک هم دسوغات په توګه ورکړ او ده ته يې دخان خطاب وکړ.

سردار اختر خان بو زړور او بهادر انسان و. ده دانګريزي ښکيلاکګرو نه ژوره کرکه درلودله.دامير حبيب الله خان تر مړينې وروسته هغه د غا زي امان الله خان دليدلو لپاره کابل ته لاړ څو دامير امان الله خان سره دانګريزانو پـــر خلاف مشورې وکړي ، خو دبيرته راتګ په وخت کې دمکاوير په سيمه کې دخپل آســـه راولويـــد او وفـــات شـو. دده داتلوالۍ کيسې نه يوازې په ژوب کې مشهورې وې ، بلکې دده داتلواليو او ميړنتوب دکيسو نه د افغانستان پښتونخوا پښتنۍ قومونه لکه سليمان خيل ، خروټي ، مسيد او وزير هم خبر وو.

خان اختر خان اوپه تيره بيا دده زوی ازمير خان دانګريزانو پر خلاف دوياړه ډکې مبارزې وکړې ، خوازمير خان د ۱۹۱۹ زيږديز کال داکتوبر دمياشتې په يوولسمه نيټه دخپلو نورودريو ورونو هريو ه شاه مرادخان ، وزير خان او سردار خان په ګډون دانګريزانو سره په جګړه کې دشهادت جامونه وښبنل. همداراز ددوی سره په دغه جګــړه‌کـــې دده دولس تنه نور خپلوان هم شهيدان شول.[485]

همداراز دژوب دسيمې په چاکوند نومي سيمې کې دافغان –انګريز پـــه دريمـــه جګـــړه ک ې چـــې دافغانســـتان دخپلواکۍ داتل غازي امان الله خان په وخت کې وشوه دژوب ډير شميرنور پښتانه هم شهيدان شـــول چـــې‌قـــبرونه او اديره يې اوس هم هلته شته دي.

په اوسني وخت کې دمندو خيلو دقبيلې مشهور کسان په لاندې ډول دي :

1. عبدالرحيم مندوخيل

485 ګمنام مجاهد شهيد وطن غازي ازمير خان مندو خيل وشهيد برادران، دمنورخان مندوخيل مقاله په اردوژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. نقیب الله مندو خیل
3. صالح محمد خان مندوخیل
4. شیخ جعفر خان مندو خیل
5. ملک شیخ محمد یار خان مندو خیل
6. صوبدار خیل مندوخیل
7. ډاکټر ایاز مندو خیل

# 149 مندوزي

که چیرې دمندوزیو دنسب شجره په غور سره ولولو نو جوته به شي چې دوی په خوړیاڼیو ورګډیږي اوله آره کرلاڼي پښتانه دي . مندوزي په پخوا وختونو کې دخپلې اصلي قبیلې نه جلاشوي دي ، دخوست سیمې ته تللي دي او هلته استوګنه لري .

مندوزي دخوست دولایت په لویدیزه برخه کې استوګنه لري. ددغې قبیلې لویدیزې خواته دځدراڼوقبیله، جنوب ته یې دشمل سیند پروت دی چې اسماعیل خیل او مندوزي یې سره جلا کړي دي، ختیزخواته داسماعیل خیلو سره ګډه پوله لري او دشمال خواته هم دځدراڼو دقبیلې سره نښتی دی.[486]

دمندوزیو دقبیلې زیاتره خلک دکرکیلې په چارو بوخت دي ، خو به دوی کې یو زیات شمیر خلک دولتی او سرکاري دندې هم لري.

مندوزي زړور، میلمه پالونکي او په پښتني ننګ او غیرت ټینګ او ولاړ خلک دي.

دمندوزیو دقبیلې ځینې نورې څانګې او ښاخونه په لاندې ډول دي:

حسن زي ، درې نومي ، شیابي خیل، اسماعیل زي او درې کوټي .[487]

# 150 منګل

که چیرې دمنګلو دقبیلې دنسب شجره په غورسره ولولو نودوی په اصل کې کرلاڼي پښتانه دي . د پښتنو

486 معلومات مختصر دربارّ اقوام وقبایل ولایات سرحدي کشور ،۶۲ مخ . دقومونو او قبایلو چاروزارت ،د کا بل چاپ

487 ډاکټر لطیف یاد ، پښتنې قبیلې ، ۲۵۷ مخ ، دپیښور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوديزو شجروپر بنسټ منګل دکرلاڼ دزوی کودي ددويمې ميرمنې دويم زوی دی.

منګل دا ففانستان دپکتيا او خوست په ولايتونو او همداراز دپښتونخوا د قبايلي سيمې په کورمې ايجنسی،داورکزيو په ايجنسی او دهنګو په ولسوالۍ کې ژوند کوي .

هغه شمير منګل چې دپکتيا په ولايت کې ژوند کوی نو دوی ددغه ولايت په لاندنيو ولسواليو کې اوسيږي :

1. دجاني خيلو په ولسوالۍ کې
2. دډنډ او پټان به ولسوالۍ کې
3. د سيد کرم په ولسوالۍ کې
4. دځاځيو په ولسوالۍ کې
5. دڅمکنيو په ولسوالۍ کې

هغه شمير منګل چې دخوست په ولايت کې ژوند کوي ددغه ولايت په لاندنيو ولسواليو کې ميشته دي :

1. دموسی خيلو په ولسوالۍ کې
2. دقلندر په ولسوالۍ کې
3. دځاځي ميدان په ولسوالۍ کې
4. دخوست په ښار کې

## 150.1 دپښتونخوا دکورمې په ايجنسۍ کې ميشته منګل:

هغه شمبر منګل چې دپښتونخوا د کورمې ايجنسۍ په قبايلي سيمه کې ژوند کوي نو دوی ددغې ايجنسۍ په لاندنيو برخو کې اوسيږي :

1. تري منګل ، کورتري منګل، ګوبرانه ، حقداره ، ګيدو، سور سورنګ، تنګي ، پيواړ او شلوزان.
2. د هنګو دولسوالۍ په ټل کې .
3. د اورکزيو په ايحنسی کې .

سربيره پر دې ډير شمير منګل په کابل کې هم ميشته دي اويو شميريې دسعودي عرب او دخليج په نورو هيوادونو کې په غريبيو او مزدوريو اخته دي.

منګل د پکتياا و خوست ولايتونو دسترو پښتني قبيلو په ډله کې راځي . دمنګلو شمال ته ځاځي ، شمال ختيز ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې څمکني او مقبل او لويديزته يې توتاخيل او احمدزي او جنوب ته يې ځدران او دخوست نورې پښتني قبيلې او ختيز ته يې سبري او مقبل پراته دي[488]

تاريخ حيات افغاني چې له نن نه ۱۵۰ کلونه دمخه ليکل شوى دى دمنګلو دقبيلې په اړوند داسې ليکي :

دځينو روايتونو پر بنسټ منګل تقريبا شپږسوه کلونه دمخه دهني دقبيلې سره يوځاى دبنو په سيمه کې اوسيدل ، خو دشيتکو دقبيلې دغلبې په وجه يې دبنو سيمه پريښودله او دخوست او او دکورمې غرنيو سيمو ته راغلل او هلته ميشته شول چې تر اوسه پورې هم هلته ميشته دي.[489]

منګل زياتره دکر کيلې په چارو بوخت دي ،خودکرنې ځمکې پکې لږې دي ..نو ځکه دوى دځنګلونو دونو دسوداګرۍ اودچارتراشو دلرګيودخرڅولو له لارې چې په ودانيزواو تعميراتي کارونو کې ترې ګټه اخيستل کيږي خپله ګوزاره پر مخ بيايي.

منګل په پښتني ننګ او غيرت کې تکړه ، ميلمه پالونکي ، زړور او جنګيالي خلک دي. دافغانستان دخپلواکۍ په درې ګونو جګړو کې يې توري وهلي او ډيره ميړانه يې ښودلې ده .

دمنګلو خلک دعلم او پوهې سره هم زياته مينه لري . له همدې کبله ده چې نن ورځ په دوى کې تکړه محققين ، تاريخپوهان، دطب ډاکټران ، انجنيران، دولتى لوړ پوړي چارواکي او پوځي افسران شتون لري .دمنګلو دقبيلې په محققينواو علمي شخصيتونو کې دافغانستان دعلو مو اکيډيمۍ دنامتو غړو چې دافغانستان دتاريخ او دپښتو ادبياتو په اړوند يې زياتې علمي څيړنې کړې دي دښاغلي سر محقق نصرالله سوبمن منګل او ښاغلي سر محقق علي محمد منګل نومونه دیادونې وړ دي .

## 150.2 دمنګلو دقبيلې ښاخونه او څانګې

منګل په دوو لويو ښاخونو ويشل شوى دي چې يوېې موسى خيل او بل يې جاني خيل نوميږي .

## 150.3 دموسى خيلو منګلوښا خونه او څانګې

ميرال خيل ، خجوړي ، وړه دړه ، ايکم، کونډي ، مرخزن، دارک، ايلم، سبوګى ، سلطان ، غوزک،بتي ، ورياخون، موګى ، کمال خيل.اني خيل ، ايب خيل،

---

488 معلومات مختصر دربار ه اقوام وقبايل ولايات سرحدي کشور، ۴۷ مخ ، دقومونو اوقبايلو چاروزارت، ۱۳۶۳ ليږديزکا ل ، کابل

489 حيات افغاني ، دډپټى محمد حيات خان ليکنه ، دلطيف ياد ژباړه ، ۳۲۶ مخ ، دپيښنور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 150.4 دجاني خيلو منګلو ښاخونه او ځانګې

سپيرګی دړه ، غوړه دړه، وړه سپيرګی ، لويه سپيرګی ، ستن خيل، المر خيل، ياري خيل، شخل خيل، فضل خيل ، اګر خيل، اتمر خيل ، بابر خيل ، بوزي خيل ، ميا خيل، بلزی ، منزي ، بل خيل، خسی خيل ، قيمت خيل ، بګي خيل، خدوخيل، دودي خيل، باړي ، خوشال خيل، خوبي خيل ، براهيم خيل.[490]

دهغه رپوټ له مخې چې په ۱۳۵۴ ليږديز کال کې دپکتيا دهغه وخت د والي له خوا دافغانستان دپلان وزارت ته ورکړل شوی و په دغه ولايت کې دمنګلو دقبيلې شمير ( ۱۱۹۲۱۴) تنه ښودل شوی و .اوس چې دهغې مودې نه دځلويښت کلونو په شا اوخوا کې موده تيره شوې ده ښايی ددوی په شمير کې ډير زياتوالی راغلی وي .

# 151 موسی خيل

موسی خيل په اصل کې کاکړپښتانه دي چې د غرغښتو پښتنو په ټولنيز ګروپ او ټبر پورې اړه لري .موسی خيل دکاکړو يو مشهورښاخ دي چې دغه ښاخ دسويلي پښتونخوا دبوري دتاريخي ناوې دموسی خيلو په تحصيل کې استوګنه لري . په ژوب ، لورلايی اوسيوۍ کې هم موسی خيل کاکړ ميشته دي .[491]

يو شمير موسی خيل په کندهار ، زابل او دغزني ولايت په شلګر کې هم استوګنه لري .[492]

دسويلي پښتونخوا دموسی خيلو دتحصيل موسی خيل ۶۱ کلي لري چې د ۱۹۸۸ زيږديز کال دسر شميرنې له مخې يې شمير (۱۳۴۰۵۶) تنو ته رسيداوپه دغه تحصيل کې موسی خيل په لاندنيو ځانګو ويشل شوي دي :لهيرزی ، بيل خيل او مرغزاني. دموسی خيلو دودونه او رواجونه کټ مټ دنورو کاکړوپه څيردي .[493]

# 152 مومند

مومند د پښتنو دسړبن په ټولنيز ګروپ کې يوه ډيره ستره قبيله ده اوپه غورياخيلو پښتنو ورګډيږي .دغورياخيلو لوی نيکه غری يا غوريا نوميد. دپښتني ددوديزو شجرو پر بنسټ غوريا ځلورزامن درلودل چې دولت يار ، خليل ، څمکنی( ځوکنی) او زيړانی نوميدل. دولت يار دوه زامن درلودل چې يويې مومند اوبل يې داود

490 ډاکټر لطيف ياد ، پښتنې قبيلې ، ۲۵۸ مخ، دپېښور چاپ

491 ډاکټر لطيف ياد ، پښتني قبيلې ، ۲۶۰ مخ ، دپيښورچاپ

492 پروفيسر ولی محمد خان سيال کاکړ، پښتو اوپښتانه په سهيلي پښتونخوا کې،۷۷-۷۸ مخونه

493 دموسی خيلو کاکړو په اړوند زما ( لطيف ياد) ياد داشتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو مید.[494]

مشهور ګرامرپوه او دسنسکربت دژبې عالم پانینی هم دعیسی مسیح علیه السلام ترزیږیدو پنځه پیړۍ وړاندې دهمدغې قبیلې یادونه کړې ده او هغه یې دمدهومنت په بڼه لیکلی دی چې مقصد او مراد ترې هم دا مومند دي.

دتاریخي روایتونو پر بنسټ دمومندو لومړنی استو ګنځی غوره مرغه و چې وروسته له هغه ځـایه دغزنـي لویدیزپه مقر او قره باغ او اوسني زابل کې دترنک دسین غاړو ته ولیږدیدل .

بابر په خپل مشهور تاریخي کتاب توزک بابري کې چې په ۱۴۵۰ زیږدیز کال یې لیکلی و دمومندو

دقبیلې ذکر او یادونه کړې ده او لیکلي یې دي چې مومند دغزني په جنوب کې اوسیدل.کله چې بیا

ددوی په شمیر کې زیاتوالی راغی نو دوی له غزني نه کابل ته او بیا له هغه ځایه ننګرهار ته و خوځیـــدل او د خیبر دتاریخي درې پر لارې پیښور او ددوي داستوګنې په اوسنۍ سیمه کې میشته شول .

دمومندو هغه شمیر خلک چې په میداني او اوارو سیمو کې میشته دي هغوی ته کوز مومند او هغه مومند چې په غرنیو سیمو کې میشته دي هغوی ته بر مومند وایی ، خو په اصل کې دواړه یو مومند دي .شـمال‌تـه‌یـې‌بـاجوړ و لویدیز ته یې دکونړ سیند ، جنوب لویدیز ته یې دخیبر تاریخي دره او ختیز ته یې پیښور پروت دی.[495]

ویل کیږي چې داسلام دسپیڅلي دین تر خپریدو دمخه لوی کنیشکا هم ددوی داستوګنې داوسنۍ دسیمې په شاو خوا کې یوه موده اوسیدلی او یو شمیر بودایي راهبانو هم دلته ژوند تیر کړی دی.

## 152.1 په افغانستان کې میشته مومند

1. دننګرهار په ولایت کې

مومند دننګرهار ولایت په مومنددرې ، لال پورې (لعلپورې )، کامې ، باریکاب، لاچه پور ، غازي اباد، ګوشتې ، کوز کونړ ،د چپرهار ولسوالۍ د دولت زیو ، للمه ، تریلي ، غزوکلي او غور آباد په کلیواو همداراز په هـډې ، باسول ، هزارناو .،ګردي ، ډکه ، شګې ، اړخي ، سورډاګ بټي کوټ، روداتو،بهسودو، شینواراواو دننګرهار په مرکز دجلال اباد‌په ښارکې کې استوګنه لري .

2. دکونړ‌په ولایت کې :

دکونړدولایت مومند ددغه ولایت په مرکز اسعدآباد،پشد، خاص کونړ، سرکانیو ، نورګل او نرنګ کې میشـــته دي .

494 ډاکټر لطیف یاد ، پښتني قبیلې ، ۲۶۰ مخ ، دپیښنور‌چاپ

495 حیات افغاني ،د محمد حیات خان لیکنه ، دډاکټر لطیف یاد ژباړه ، ۲۴۰ مخ ، دپیښنور چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. **دلغمان په ولايت کې :**

**دلغمان په ولايت کې هم سرخکانو ته نږدې اتمرخيل مومند استوګنه لري.**

**همداراز دافغانستان په نورو ولايتونو لکه : بلخ ، سمنګان ، لوګر ، کندز ، هرات ، زابل، غزني او دکابل په شاو خوا سيمو کې هم مومند ميشته دي .يو شمير مومند په افغانستان کې دکوچيتوب ژوند هم تيروي .**

# 152.2 په پښتونخوا کې ميشته مومند

**په پښتونخوا کې ميشته مومند په لاندنيو سيمو کې ميشته دي :**

**دمومندو په ايجنسۍ کې :**

**دپښتونخوا دمومندوپه ايجنسۍ کې ډېرشمير مومند استوګنه لري چې ددغې ايجنسۍ مرکز يا هيډ کوارټر غلنۍ ده .دمومندو دايجنسۍ لويديز ته افغانستان ، جنوب ته يې دخيبر ايجنسي ختيز ته يې پيښور او دير او شمال ته دباجوړ دايجنسۍ سره پوله لري .**

**دغه ايجنسي په فاټا کې شامله ده او شپږلکه خلک پکې اوسيږي چې زياتره يې مومند دي .**

**همداراز دخيبر او باجوړ په ايجنسيو کې هم مومند ميشته دي . دپښتونخوا په مرکز پيښور کې هم زيات شمير مومند استوګنه لري.**

# 152.3 دپښتنو په شجرو کې دمومندو دښاخونو نومونه

**کالا، يعقوب ، حسن ، مهلي ، عمر، مندو ، کوکو ، ميار ، موسی زي ، ترل، شجاع ، سليمان خيل ،مند رزي، غبازي ، امازي ، موسی زي ، ابراهيم، ابا خيل ، غازي ،متي زي ، احمد ، منډو، ايوب ، شابو خيل ، ساک ، تور ، بائيک زي ، لکا خيل ، پايخيل ، بهلول خيل ، داودزي ، مريم زي ، خواجه زي ، تاجوزي ، عمرزي ، باقي زي ، حا جي خيل ، عثمان خيل ، سدوخيل ، ابوزي ، اتمانزي ، اکازي حليم زي ، موسی خيل ، خوګاخيل ، ماما خيل ، نظر خيل ، باره خيل ، اتمر خيل ، عيسی خيل ، متاخيل ، بوتو خيل ، مدوخيل ، ضرب علی خيل ، بران خيل ، عيسی خيل ، شاه منصور خيل ، مورچه خيل ، سلطان خيل ، اټوخيل ، دريا خيل او نور...**

# 152.4 په اوسني وخت کې دمومندو مشهور خيلونه

**خويزي ، حليم زي ( اليم زي ) ، اتمانزي ، بايزي ، کوډاخيل ، کاچي ، اتمر خيل ، ترکزي ، نظر خيل ، عيسی خيل ، برهان خيل ، باره خيل ، موسی خيل ، خوګا خيل ، ميرو خيل ، بابازي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 152.5 دمومندو دځينو مشهورو خيلونو داستوګنې ځايونه

1. خويزي

خويزي دمومندو يومشهور خيل دی چې ختيز ته يې ګنداب . لويديز ته يې کوډاخيل او بابا زي او جنوب تـــه يې دکونړ سيند بهيږي .دخويزو ځمکې للمې دي ،دخويزو مشهور کلي دادي : محمد کور ، کنګ ، سم غابنـــی ، وچه ژوره ، ملافهيم کلی ، زناور چينه ، سور ابيلن او شين ورسک.

2. حليمزي (اليمزي)

دوی دبايزو په شمال ختيزه برخه په کمالي دره او ګنداو کې استوګنه لري او په مومندو کې دډير نفوذ او واک خاوندان شميرل کيږي.

3. اتمانزي

ددغې قبيلې ختيز ته دانشکول ، لويديز ته يې کندهاري ، شمال ته يې ددويزو غرونه او جنوب ته يې کمـــالي دره مو قعيت لري .داتمانزو ځمکه اواره ، خاورينه او للمي ده.خلک يې اکثره دکرکيلې له لارې خپله ګـــوزاره کوي او ددوی لوی کلي يخ ډنډ او هاشم کور دي چې ددوی ټول کلی ديخ ډنډ په نامه يادېږي .

4. بايزي

دا ځانګه دمومندو په قبيله کې ډيره مشهوره ده چې دمومندو دلمر پريواته خواته غرونو کې ميشته دي .

5. کوډاخيل

ددې ځانګې ختيز ته خويزي ، لويديز ته يې داتمرخيلودلبنکر کلی او جنـــوب تـــه يـــې بـــره دره مـــوقعيت لري،ددغه ښاخ خلکو دانګريزي ښکيلاکګرو سره ډيرې مبارزې هم کړي دي .

6. کاچي

دا دمومندو يوه ځانګه ده چې خلک يې زياتره دکابل او پيښور تر مينځ دسوداګرۍ دمالونو دوړلو راوړلو له لارې خپل ژوند تامينوي.

7. اتمرخيل

اتمرخيل دجړوبي درې په سهيل کې استوګنه لري .لويديزه څنډه يې د دوړخيلو سره نښتې ده .ختيز ته يـــې بابازي او کوډاخيل او شمال ته يې هم بابا زي پراته دي .ددوی مشهورکلي تورخيل، خنجرکلی، وتکـــی ، تنـــی، حاتم کلی، لبنکر کلی، قاسم کور، مته ، هرلي او مزرۍ چينه دي .

8. ترکزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکزي دتورګړي نه تر دانشکوله پورې دالیزیو او ترکزیو پوله ده او بیا ددانشکول نه تر متي پورې په برابره لیکه پراته دي .

9. خواجه زي

دمندوجوړ او الکي کوهي نه چې الیمزو ( حلیمزو ) او ترکزو پوله ده تر خا ښن او اتمر خیلو پورې پراته دي .

10. نظرخیل

داتمرخیلو په جنوب کې دنظرخیلو قبیله میشته ده،ددوی سیمه غرنۍ ده او خلک یې په مالدارۍ خپله ګوزاره کوي .دد وی د کلیو نومونه په لاندې ډول دي : کوزکلی، برکلی،او دملا خیلو کلی.

11. بابا زي

بابا زي دبیدمنۍ او شمشاد په درو کې میشته دي .ددوی د سیمې ځمکي للمي دي او غنم ، اوربشې یې دکرنې پیداوار جوړوي.ډیر شمیر خلک یې دسوداګرۍ چارې هم پر مخ بیایي .

همداراز برانخیل ، عثمان خیل او مساخیل هم دمومندو مشهورې ښانګې دي .

# 152.6 د مومندو مشهورې درې او ډاګونه

1. دګنداب دره

دګنداب په دره کې حلیمزي اوسیږي .ددې درې ختیز ته دکړپې دغونډیو لړۍ پرته ده .لویدیز ته یې دخاپښن غر پروت دی او جنوب ته یې دکونړسیند بهیږي. ددې درې زیاتره ځمکې للمي دي . ددې درېلوی کلي دادي:

توره تیږه ، شاتي کور، سور ډاګ ، ظفر غونډۍ او کټه سنګ.

2. دپنډیالۍ دره

په دې دره کې دترکزي دښاخ دعیسی خیلو او برهان خیلو ښانګې استوګنه لري . دادره لکنډي ته وتلې ده په دې دره کې للمي او آبي ځمکې هم شته او لوی کلي یې یخ ډنډ او هاشم کوردی.

3. کمال دره

په دې دره کې دحلیمزي دښاخ دپو شاخیلو او ابراهیم خیلو ښانګې استوګنه لري . خلک یې زیاتره دبزګرۍ په کارونو بوخت دي او مشهور کلي یې اتو خیل ، غازي بیګ کور او کجشاه دي . په دې دره کې میټاخیل استوګنه لري چې په خوګا خیلو ورګډیږي .په دې دره کې دکرنې ځمکې لږې دي او خلک یې په مالدارۍ ګوزاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ځای خلک دخپلو غرونو لرګي په کامه او کونړ کې خرڅوي . ددوی کلي سپین جومات ، نرۍ اوبه ، سپین تنګی ، باره خان ، څپري ، سربند او بیله دي. همداراز شونکړی دره ، جړوبی دره ، شالي هولي دره او ســـلالا دره هم دمومندو دلویو او مشهورو درو نه شمیرل کیږي.

4. د دانشکول او یخدړنډ ډاګ

په دې ډاګ کې اتمانزي او ترکزي عیسی خیل مومند استوګنه لري چې ځمکې یې بنې او للمي دي.

5. بهي ډاګ

داډاګ (۲۴) میله اوږدوالی او بنځلس میله پلنوالی لري چې په دې ډاګ کې کوډاخیل ، خویزي او بایزي پراتـــه دي.[496]

6. دسرکو ډاګ

دا ډاګ دخوګا خیلو او اتمر خیلو دغرونو دلمنو نه را غزیدلې اوپه دیرش میله اوږدوالي او شل میله پلنوالي د ګوشتې او خویزو سیمې ته ورغزیدلی پروت دی. په دې ډاګ کې خوګا خیل ، ماما خیل ، دوړ خیـــل او لـــر شمیر اتمر خیل میشته دي .

## 152.7 د مومندو مشهور شخصیتونه او نومیالي

1. ایمل خان مومند چې دمغولو پر خلاف ستر مبارزو.
2. دپښتو ژبې نامتو شاعر رحمان بابا
3. دپښتو ژبې نازک خیال شاعر حمید مومند بابا
4. دپښتو ژبې لیکوال او ستر ملي شخصیت اروابناد وزیر صیب محمد ګل خان مومند بابا
5. دپښتو ژبې مشهور لیکوا ل او شاعر اروابناد قلندر مومند
6. ملي مبارز کاکا جي صنوبر حسین مومند
7. دهیواد دخپلواکۍ دلارې لوی مبارز غازي ماسل خان مومند( محصل خان)
8. د خپلواکۍ دلارې مبارز او دمومندو دقبیلې نامتو مشر سعادت خان مومند
9. مشهور روحانی مشر اودهیواد دخپلواکۍ دلارې سترمبارز مولانا امیر محمد چې دچکنـــورپـــه ملا صاحب سره یې شهرت درلود.

496 پښتنانه دتاریخ په رڼا کې ،۱۲۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



10. دپښتونخوا مشهور لیکوال اروابناد دوست محمد خان کامل مومند
11. دپښتو ژبې لیکوال او دمومندو ملي مشر اروابناد میراجان سیال.
12. د پښتو ژبې نامتو لیکوال اروابناد استاد قیا م الدین خادم
13. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه دواکمنۍ په وخت کې صدرا عظم اروابناد محمد موسی شفیق
14. افغان فضانورد ښاغلي عبدالاحد مومند[497]

# 153 مهمن زي (ممن زي- محمدزي)

مهمنزیو ته ممنزي او محمدزي هم ویل کیږي ، خو باید دوی دهغو محمدزیو سره یو ونه ګڼل شي چې بارکزي درانیان وو او په افغانستان کې یې حکومت کاوه .مهمنزي یا محمد زي دپښتنو دسړبن په ټولنیز ګروبکې رلځي او دخرشبون نیکه دزوي ځمند اولاده ګڼل کیږي چې بیا د ځمند په اولاده کې دممنزیو یا محمد زیو ښاخ دشمیر له مخې دځمند پر نورو ښاخونو زیات دی. مهمنزي( محمدزي ) دځمند له پاتې ښاخونو تر وتلو او لیرد وړاندې دیوسفزیو دقبیلې سره یوځای د کندهار دارغستان له سیمې نه په ګډه سره ولیږدیدل او دیو سفزیو سره یوځای دکابل په پیښنو او واقعاتو کې شریک ول، خوله بده مرغه کله چې دوی دکابل نه دننګرهار خواته وکوچیدل نو ددوی او یو سفزیوتر مینځ دیوې لانجې پر سر جګړه ونښته چې په دغې جګړې کې یو سفزي پردوی بریالي شول.مهمنزي تر یوې مودې پورې په ننګرهار کې اوسیدل .کله چې دیو سفزیو مشهور مشر ملک احمد خان غوښتل چې له دلازاکو سره وجنګیږي نو مهمنزیو ته دننواتې په توګه ورغی او دهغو نه یې ددلازاکو په وړاندې په جګړه کې مرسته وغوښتله. مهمنزي هم په دې شرط له یوسفزیو سره یوځای شول چې داشنغر سیمه به دوی ته ورکوي چې مهمنزي تر اوسه پورې په چارسدې ، تنګي ، نوښار او پړانګ کې اوسیږي.[498]

مهمنزي په عمومي ډول دعلم او پوهې په وړانګو منور او متمدن خلک دي . دپښتنو ستر مشر فخر افغان خان عبدالغفارخان دمهمنزیو ( محمد زیو ) دقبیلې د اتمانزیو دڅانګې نه و.[499]

دمهمنزیو مشهور ښاخونه دادي : الیاس زي ، بهوزي ، عمرزي ، باره زي ، نصرت زي ،اتمانزي ، تنګي ، رځړ او شیرپاو.[500]

دتاریخ حیات افغاني مولف محمد حیات خان یوسلو پنځوس کلونه وړاندې ددوي شمیر (۸۰۰۰) کورنۍ ښودلی

497 دمومندو دمشهورو شخصیتونو او نومیالیو په اړوند زما ( لطیف یاد ) یادداښتونه
498 پښتني قبیلې ، ۲۶۶ مخ
499 د مهمنزیو ( محمد زیو ) په اړوند د( ډاکټر لطیف یاد ) یادداشتونه
500 پښتانه دتاریخ په رڼا کې ، د ۱۲۹۳ مخ شجره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دپښتونخوا د چارسدې په ولسوالۍ یا ډیسټریکټ کې استو ګنه لري.[501]

501 حیات افغاني ، ۲۴۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**